# د فکر تال

## (د سړیتوب فلسفه)

www.sikaraam.com





لیکوال

ډاکټر باقي دُراني












# د فکر تال

## (دسړيتوب فلسفه)

ډاکټر باقي دُرانی

صحاف نشرياتي مؤسسه کوټه

Published by
Sahaf  Publishers Quetta
2013

د دې کتاب ټول حقوق د ليکوال دي
ترې په ګټه اخسنه کې د اخځ ښونه لازمي ده

د کتاب نوم : دفکر تال

ليکوال : پروفېسرډاکټرعبدالباقي درانے
durraniab@yahoo.cm
drbaqidurrani@gmail.com
Mobile +923003868618
+٩٢٣٠٠٣٨٦٨٦١٨

لومړے چاپ
د چاپ کال : ٢٠١٣ زېږده
د چاپ ځاى : الحق پريس لاهور
د چاپ شمېر : زر(١٠٠٠) ټوکه
د پښتيانځور: مرجان
بيه : درې سوه روپئى

چاپوونکے او خپروونکے صحاف نشرياتي مؤسسه کوټه
کاسي روډ نورمسجد ته مخامخ
فون ۰۸۱۲۶۶۴۲۳۶

# تړون

داروانښاد علامه جمال الدين افغاني پرنامهٔ

دچا دفکر په رڼا چي لا تراوسه د سړيتوب

لاره روښانهٔ ده



پروفېسر ډاکټر عبدالباقي دُرانی

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| دپېل خبري | ۷ |
| ۱- د فکر ټال | ۲۳ |
| ۲- خلګ | ۵۷ |
| ۳- ځان پېژندنه | ۸۵ |
| ۴- ویښتیا | ۱۰۰ |
| ۵- قام ژغورنه | ۱۱۳ |
| ۶ - بهرني مداخلتونه او د بقاهلي ځلي | ۱۴۱ |
| ۷ - دین دوستي | ۱۶۱ |
| ۸- د اورپُوکې مخنیوے | ۱۷۹ |
| ۹- انسان او انسانیت | ۱۹۵ |
| ۱۰- جدیدیت او مغربیت | ۲۲۵ |
| ۱۱- دخدای خدائي | ۲۴۵ |
| ۱۲- سمه لار | ۲۶۵ |
| ۱۳- سرېتوب | ۲۹۱ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# د پیل خبرې

د ژمي سړه شپه وه، زۀ دخپل کاکا سېف الله په کورکي مېلمه وم کله چي مي د شوروي اتحاد له خوا په افغانستان کي د مداخلې خبرترغوږ شو- خلک خواشیني وو چي د منځنۍ آسیا د نورو قامونو په شان ښایي چي پښتانۀ هم د روس تر قدرت لاندي شي- زۀ د ساینس کالج یو طالبعلم وم- په دغه شپه مي خوب رانۀ شو ځکه چي دا ناوړه پېښه مي ځغمے نه شوه- اندېښني مي اوږدې شوې او د تاریخ جبر ته په سوچ شوم- د یونانیانو، مغلو او انګرېزانو تر پېوسته مداخلتونو وروسته د روس تېرے دردناکه غمیزه راته ښکاره شوه- دا وېره خو پر خپل ځای چي ملت یوځل بیا له اوږده جنګ سره مخامخ شو، دا سوال د ساېې په شان راسره مل شو چي آخر د دې پېوسته مداخلتونو وجه څۀ ده؟

سوړ ژمے ۇ خو بدن مي نرمه خوله کوله او زما ناقراري ورو ورو زياتېده لګياوه- دا دکال ۱۹۷۹ د دسمبر مياشت وه کله چي روسي فوجيان افغانستان ته را داخل شول- له دغي شپې يوه سودا را ولوېده او پېوسته څېړنه مي په برخه شوه- د دې سيمي پخو ليکوالو چي به د دغي شخړي په حقله کوم څه ليکل، تر نظر به مي تېرَول- دعالمي ميډيا له لاري به مي هم په دې لړ کي د بدو ورځو شپو او خواشينو افغانانو خبرونه اورېدل- اکثره به مي داسي تحريرونه لوستل چي د څۀ خاصو موخو دپاره به ليکل شوي وو او د افغاني معاشرې دجوړښت او د افغاناني سياست د تاريخي پېچ او ول څخه به ډېرلري وو ځکه به په خوږ هم شوم- کله کله به مي د اوسني افغانستان د سياسي بدلون په حواله سنجيده او علمي جاجونه هم تر نظر تېرشول خو څۀ نه څۀ بُنيادي حقيقتونه به يې بيا هم له سترګو هوډر پاته وو- سياست پوهانو به ويل چي په افغانستان کي د شوروي مداخله يوه لويه تاريخي تېروتنه ده او په دې لړ کي چي به يې کوم دليلونه ورکول زما تر علم ټول بهر وو- خو دغي پېښي لکه چي زۀ تر ګرېوان ونيوم، وئې څنډلم، ويښ يې کړم او د "سړيتوب" په سفر يې روان کړم- دغي پېښي نه يوازي د پښتنو ټولنيز نظام ورختم کړ بلکي د دوی انساني کردار او ايمان يې هم تر خطرناکه حده ولړزاوۀ- زموږ اخلاقي زندګي ډېره بدله شوه، يو شے حتمي او يقيني نه ښکاري- زموږ خيالات او اعمال

هغه نه دي چي تردغه جنګ له مخه ؤ- یوبېل غوندي منظر دے او عجب شانتي بدلون دے چي د خلګو په روایتي فکر قامي ولوله اومذهبي عقیده کي لیدل کیږي- دغه بدلون فکر را واچاؤ چي څهٔ وکړم؟ چونکي دا تاریخي پېښه وه ځکه مي اوّل د تاریخ د مطالعې قصد وکړ- ماتي ګوډي مطالعې مي د تاریخ سره مینه زیاته کړه ولي چي په دې مي ځان خبرول غوښت چي افغانان څنګه کولای شي چي د وطن د بقا په هلو ځلو کي دي د نړې د یوهٔ لوی طاقت سره مقابله وکړي؟ د ځان تسل به مي په دې کاوهٔ چي افغانستان خو د نړۍ هغه یوازینے هېواد دے چي له ډېر پخوا نه یې لوی لوي ګذارونه سَهلي دي ځکه به دا وخت هم تېرشي- وخت واقعي تېر شو خو مالره یې یوه داسي سودا پرې ښووه چي تر اوسه لا راسره مله ده- د "سرېتوب" سودا، د ځان پېژندني سودا، دقام ژغورني سودا، د تاریخ پوهني او تاریخ لیکني سودا، د ښهٔ او بد سودا، د قومیت مذهب او انسانیت سودا، د پرون نن او سبا سودا- د دنیا او آخرت سودا- فکر راولوېد چي په مورنۍ ژبه شاعري ډېره شوې ده، قِصې او نکلونه لیکل شوي دي، پر سیاست او تاریخ هم ډېر څهٔ شته خو د فکر بلنه قام ته تر اوسه نه ده ورکړل شوې- کوشش مي وکړ چي په دغه اړه څهٔ نه څهٔ ولیکم چي د قام د زلمیانو د پاملرني وړ وګرځي- په دې کتاب کي د ژوندانهٔ پر مسئلو د فکر کولو دعوت ورکړل شوے دے چي لوستونکي د غور او فکر ابتدائي اصولونو په

آسانه توګه تر نظر تېر کړي نو به د ژوندانۀ فلسفه دومره ګرانه نۀ ورته ښکاري لکه چي د دوی ترې وېره ده-

زما مور چي ډېره ضعيفه شوه نو به زۀ د هري يکشمبې په غرمه د دې زيارت ته ورتلم او ګپي به مي ورسره کولې خو بحث به مي د تېر مهال په اړه ورسره کاوۀ ولي چي نوے يادانښت يې ټيك نه ۇ او خبري به ترې ګډي وډي شوې- کله کله به مي په ګپه ګپه کي زړې خبري ځکه وريادولي چي پام يې بدل شي او ساعت يې ښه تېر شي- يوه روځ مي ترې تپوس وکړ چي د خوږو خوږو قِصو سره سره به کله کله تا په کچنيوالي د دېبانو، پريانانو او ښامارانو نکلونه هم راته کول، خو کله مو ونه ليدل چي دغه دېبان او پېريانان چيري دي؟ دې وَمسل او و يې ويَل چي" د بابا ګانو په کنډوالو کښي"- فکر کوم چي په دغه ساده غوندي ځواب کي څومره لوی داستان ۇ، څومره لويه فلسفه وه او څومره سوالونه ترې پورته کيږي- د افغانستان زوړ تاريخ د دې سيمي د افسانوي باچهانو[1] او دېبانو تر منځ د بېلا بېلو جګړو د نکلونو ګواهي ورکوي- دغښتلو اسلافو د زړورتيا سره سره د جنګونو د تباهۍ او بربادۍ لوی شمېر قِصې هم رانکل شوي دي- په تاريخي توګه دا وطن په وارو وارو د بربادیو سره مخامخ شوے دے او غونډي ابادۍ يې ګنډوالې شوي دي- ظاهره خبره ده چي دغه شان لويي بربادۍ د خلګو پر اعصابو ګڼ اثرات پرېږدي او نفسياتي بدلون ته يې هم ټړي- پښتني ټولنه د روس سره تر جنګ وروسته همدغه شان برباد شوه لکه چي ئې وطن

کنډوالې شو- د خلګو ذهنونه اوس هماغه شان منتشر دي لکه چې د کلي ماشومان تر بمبار وروسته په کوڅو او شېلو کي دوري دلي پرېشان حاله ګرځي- دنوري نړۍ خلک د امنیت او تعلیم په برکت پر ساینسي کرښو مخته ولاړل او ترقي یې وکړه خو پښتانهٔ د جنګ او جهالت له کبله د نړېدلي وطن په کنډوالو کي د پېریانانو او دېبانو تر سایو لاندي ژوند کوي لګیادي- لکه رحمان بابا[2] چې وایي:

لکه مړے د ژوندیو ترمیان پروت وي
هسي بېــل یم له عالمه، په عالم کې

د باباګانو وطن واقعي هم له عالمه بېل دے- په نني تاریخ کي یې هم لوی شمېر ناورینونه وځغمل او لویي لویي غمیزي یې برداشت کړې- هغه هغه ترخهٔ وختونه یې تېرکړل چي په هېرولو هم نه شي هېرېدای- هغه طوفانونه ورباندي تېر شول چي نور خلک یې ګمان هم نشي کولای- پښتني ټولني چي کومي څپې برداشت کړې دا په حقیقت کي دېبان او پریانان هم نه شي ځغملای- دا دُنیا شاطرانو لره مشغله ده او حساسو خلګو لره دفکرټال- په دغو غمیزو کي یوازي دبهرَنیو شاطرانو لاس نه وي بلکي داخلي لوبغاړي هم ورسره مله وي- خو سوال دا دے چي داسي ولي کیږي، آخر تر کومه به یوازي د مېړاني په داستانونو ماشومان مشغوله ساتو؟- موږ د دې وطن له خاوري پېدا شوي یو، پر دغه خاوره مو

خاپوړي کړي دي او همدغه مو مور ده چي موږ ډول ورسره مینه لرو- موږ دا وطن پستیـ ته نهٔ شو ورکولای، ولي چي دي وطن سره مو د رحمان بابا[2] غوندي عشق دے:

په رحمان باندي بې یاره خوب حرام دی
کهٔ یې سل بالښتهٔ لاندي تر پهلو کړې

اوس به دسکندر او چنګېز د ظلمونو نکلونه، د بابر او ګوډ تېمور تېر داستانونه، د انګرېز او شوروي د تېري قیصې هېروو او د احمدشاه بابا د "جدید افغانستان" آئین به خپلوو- که بهرني قوتونو تر پېوسته تخریبونو او دسیسو وروسته هم افغاني تاریخ په خپل رنګ کي ونهٔ رنګاوه او افغانان یې اېل نهٔ کړل نو دا وېره بېځایه ده چي اوس به یې تر اثر لاندي راوړي او قامي شناخت به یې ور ورك کړي، ولي چي اوس زمانه بدله شوه- پر هر ژوندي قام داسي زمانه راځي چي پخواني دودونه، رواجونه اوعادتونه دنوي وخت ضرورتونه نهٔ شي پوره کولای، نو زوړ نظام او د ژوندانه زړې طریقې چي د فطرت، ماحول او تاریخ تر جبر لاندي له پېړیو راروانې وي د مخکښو د نظر په سمه زاویه بدلون ته غاړه کښېږدي- خلګ د عقل او شعور په رڼا د پرمختګ لاره خپله کړي- حقیقت دادے چي عقل د تجربې پر بنسټ وده کوي او شعور دمشاهدے په ګڼون ورسره پختیا مومي-

په افغانستان کي د شوروي اتحاد مداخله واقعي يوه داسي پېښه وه چي د ټولي نړۍ سياسي فضا يې خړه پړه کړه- ډېر نور هېوادونه يې هم د خپل پايښت په تشويش کړل- افغانانو د خپل وطن د پالني تاريخي هلي ځلي وکړې او د نړۍ نور هېوادونه يې هم په خپله مرسته راضي کړل- د وطن دبقا د پاره د افغانانو پېوسته هلوځلو شوروي اتحاد نه يوازي له افغانستان څخه وَتلو ته اړ کړ بلکي خپل اتحاد يې هم له خطره سره مخامخ شو او په کال ۱۹۹۲ کي داسي مات شو چي ازبکستان، تاجکستان، کرغزستان، قازکستان، آذربائيجان، يوکرېن، بېلاروس اوجارجيا ټول ترې جلا شول- په نتيجه کي يې د کمونيزم او سوشليزم نظريې هم له منځه ولاړې او په افغانانو کښې يې تر ډېرو ستونزو وروسته فکري او عملي تحريکونه را پېدا کړل- زاړۀ وختونه خو تېر شول او داستانونه يې له بېلا بېلو سيمو په بېلابېل انداز نکل کيږي ځکه يې بحث د دې کتاب تر دايره بهر ګڼم- زۀ د مستقبل د حالاتو معلومولو په لټون هم نۀ يم او نۀ يې څۀ علم لرم- زما "دفکرټال" خو تش د نن تر څو مهمو فکري مسئلو محدود دے له کومو سره چي قام دا وخت مخامخ دے- په اوسني تاريخي پېر کښي پښتني سيمه د بهرنو مداخلتونو له کبله د عالمي دېبانو د جنګ مېدان ده- دا ځکه چي د دې سيمي خلګ د نوي پېر له چالونو، منافقتونو او دامونو ناخبره دي- په علمي او هنري توګه د نړۍ په ګام روان نۀ

دي- په مالي توګه هم ډېرناتوانه اوکمزوري دي ځکه ونورو قامونو ته په هرڅۀ اړتيا لري-

پښتنو بېله څۀ شکه په نوي پېرکښې هم د خپل هېواد، خپل واك، خپل دين، خپل کلتور او خپل ناموس بشپړه ساتنه وکړه خو د روسي فوځونو تر وتني وروسته يې په هېواد کښې د اقتدار را پېدا شوې خلا ډکه نۀ کړه- مجاهدينو څه غوره قيادت رامخته نۀ کړ او د پرلپسې خپلمنځي جګړو له کبله يې ګاونډيانو ته دلاس وهني موقعه په لاس ورکړه- ځکه نو طالبان را مخته کړل شول خو د هغوی ځينو پاليسيو د يوۀ بل عالمي طاقت مداخلې ته بلنه ورکړه- پېښه دا وشوه چي په کال ۲۰۰۱ زېږده کي د ستمبر د مياشتي په يوولسمه نېټه د نيويارك ښار تجارتي غبرګولي مينارونه او د امريکا د پنټاګان عمارت په جهازونو وَويشتل شول- دا پېښه پر افغانانو د يوۀ آفت غوندي را پرېوته- امريکايانو اُسامه بن لادن، څوك چي دروسانوخلاف په جهاد کي دافغانانومرستيال ؤ او له هماغه وخته په افغانستان کي اوسېد، په دغه تور ونيو- اسامه چونکي د افغانانو له خاوري پر امريکا حمله کړې وه ځکه امريکا په افغانستان کي دمداخلې جواز وموند او د طالبانو واك يې ور ختم کړ- دغي پېښي مي سودا نوره هم را زياته کړه- څۀ ماتوګوډ چي مي ليکلي ؤ ببرته مي له سره ترتيب ورکړ او په خپل اوّل کتاب[3] "پښتانۀ د تهذيب په څپوکي" مي خوندي کړل- د امريکا مداخلې هم د نورو بهرَنيو مداخلتونو په شان پښتنو لره نوي

ستونزي راوړي- په هېواد کي د توغندَیو د باران او د بمونو د چاودنو سره سره د سرتېرو دبریدونو څخه هم نه د هېواد ماشومان په امان وو او نه ښځي- ترڅو چي د کال ۲۰۱۱ د مې په دویمه نېټه اسامه بن لادن د پاکستان په ابېټ آبادښارکي دامریکایانو په یوۀ برید کښي له منځه ولاړ- دا څه کیږي؟ ولي کیږي؟ ترڅوبه وي؟ څه کول پکاردي؟ دا ټول داسي سوالونه وو چي ځوابونه یې غوښتل- داسي ښکارېدو چي د ژوندي قام په حېث د پښتنو وجود لره لوی لوی خطرونه لا دوام لري- چونکي د نوي پېر عسکري، سیاسي، سماجي او معاشي او علمي منظرنامه د افغانانو بقا لره پېچومے شوه ځکه یې نو دغه اړخ هم په خصوصي توګه څېړنه غوښته-

په افغانستان کي د پېوستۀ باندینیو مداخلتونو او دسیسو یوازینی منطقي نتیجه په دې سیمه کښي د اورپُوکی یا نظریاتي انتهاپسندی په شکل کي ښکاره شوه چي اوّل د کمونیسټانو په رَویه کي لیدل کېده، بیا د مُجاهدینو ترمنځ او وروسته د طالبانو په طرزِ عمل ثابته شوه- دغه اورپُوکي د افغاني فکري مکتب سره هیڅ سمون هم نه لري بلکي د پردو د تېري په ردِعمل کي را پېدا شوې ده ځکه نو دا وخت دلیکوالو یوه لویه موخه د عظیم فکري مکتب نوے تشکیل دے- افغاني مکتب یعني "سرېتوب" د هغه کتاب په مصداق دے چي د اسلافو له وختونو څخه پاڼي پاڼي دپښتونخوا په غرونو، رېګونو او دښتونو کښي په خاشو، خرابو او ځنګلوکي د وخت د طوفانونو، سېلابونو او بادونو تر اثر لاندي

پاشلے پروت دے- دغه ورَقي راټولول، له نوې سره ترتيب ورکول، په مسقبل کي دپرمختګ لاره ټاکل او بيا يې په اصلي شکل کي دنيا ته پرانستل د نوي نسل موخه ده- دا آبا پرستي نۀ ده بلکي په نوي وخت کي پر خپل بنسټ د نوي تعمير يو سنجيده کوشش دے- د زړګونو ويښو زلمو سره سره زه هم د دغو پاشلو پاڼو په لټون يم- نۀ پوهيږم چي څو پاڼي به ترې راجمع کړم او که نۀ، خو دا مي کامل يقين دے چي دغه کتاب به بېرته بشپړکيږي او د دې ټولني د نوي آئين برخه به وي- د نوو اضافو سره به دقام دجوړښت او پرمختګ ضرورتونه په پوره کيږي- مطلب مي هيڅکله دانۀ دے چي قام دي شاته روان شي او يا دي آبا پرستي شروع کړي، بلکي په صفا نيّت او د زړۀ له کومي د سپېڅلي قام د پرمختګ هلي ځلي کول غواړم- د خلګو په وينه کښي د اورپُوکۍ او وروروژني ورګډ شوي زهر ددوی له رګونو د ايستلو لاري لټوم- دانساني ارزښتونو، اسلامي اصولونو او پښتني دودونو په ترڅ کښي د نړۍ په ګام د تګ خواهش لرم او لوستونکو ته د فکر دعوت ورکوم چي د نظر زاويه سمه کړي، د استدلال پرلار روان شي او حق وپېژني- همدغه خواهش دے چي مالره يې د څۀ نۀ څۀ ليکلو همت راکړ او تر خپل ړومبي کتاب "پښتانۀ د تهذيب په څپوکي" وروسته اوس دغه دويم کتاب "دفکرټال" چي د "سړيتوب" د فلسفې يو ابتدايې شکل دے، تاسو ته وړاندي کوم-

سړيتوب زما په نظر يوازي د شخصيت تعمير نۀ دے بلکي

یو اوږد سفر دے چي پېل یې له ځان پېژندني څخه کیږي او بیا د انسانیت تر معراجه د رسېدو پوري دوام لري- په دې کتاب کي د بشر د ذات، فطرت، تاریخ، ماحول، او بیا د عقل، علم، تجربې او پوهې په برکت د انسان تر حده د رسېدو د اوږدۀ مزل داستان دے، چي نتیجه یې په ټولنه کي د انسانیت، مذهب او قومیت پر اهمیت مرکوزه شوې ده- له همدغه اړخه دپښتني مکتب جاج اخست شوے دے او په جدید پېر کي په افغاني ټولنه کي د اعتدال پر ضرورت هم بحث شوے دے، چي په نتیجه کي یې د ځلاند سبا دپاره د یوې واضح نظریې د عملي کولو خواست دے - زۀ نۀ خو د خلګو پر تېر تاریخ شرمنده یم او نۀ یې د اوسنۍ ترقۍ له تیزي منهې څخه وېره لرم بلکي د خلګو د ځلاند سبا په ځار یم- چونکي د نړۍ د نورو قامونو په ګام د پښتنو د تګ په هلو ځلو یم ځکه په اسانه توګه، په پښتو ژبه پردغه ګران موضوع څۀ نۀ څۀ لیکل غواړم- زۀ د ژوندانۀ د بېلا بېلو امکاناتو قایل یم او دا یقین لرم چي ښۀ او بد، حق او باطل، خېر او شر، امن او جنګ واړه له ازله راروان دي او تر ابده به وي- خو غوره لار د دغو ترمنځ توازن دے- اعتدال د قامونو د پایښت لارده- د اوسنۍ اوربُوکۍ دوې وجهي دي- اوله وجه یې پېوستۀ باندیني مداخلتونه دي او بله د دغو پر ضد را پاڅېدلے قبائلي مذهبیت - په دغو دواړو کي د اعتدال عنصر

نشته - له پردو خو ګله نشته ولي چي هغوی په خپلو ګټو پسې راغلي دي ځکه دخېر توقع ترې نشي کېدای- د دين قبائلي تصور هم د اعتدال لاره تړلې ده- په نوي وخت کي هيڅ داسي اِجتهاد هم مخته رانۀ غے چي د ژوندانۀ نظام په غوره توګه په وچليږي- ددين قبائلي تصور دغېرمتوازن مغربيت پر ضد د انتقامي نفسياتو په تلکه کښېووت- د علم او اخلاق پر اساس ولاړ د ژوندانۀ مذهبي طرز اوس په انتقامي رنګ کي ورنګېد- مخکي به په ټولنه کي لوی سړے هغه ؤ چي علم، اخلاق او تقوا به يې لرل، اوس د طاقت دولت او انتقامي جذبې پر اساس پېژندل کيږي-

که څۀ هم حقيقت دادے چي هرشے د فطرت حصه دے، هيڅ يو څيزله فطرته بېل نه دے خو فطرت يوازي د جبريت نوم نه دے بلکي د جبروقدر پر تصور ولاړدے- د دواړو ترمنځ توازن ضروري دے، همدغه انصاف دے، همدغه رشتيا دي- همدغه حقيقت دے چي انسانان ټوله د انسانيت په فطري رشته سره تړلي دي ځکه يې اعتدال او رواداري ترمنځ د امنيت ضامنان ګڼل کيږي- سُقراط[4] ويَلي ؤ چي:

If you take my advice you will think little of socrates and a great deal more of truth

يعني " که ته زما نصيحت اخلې نو به د سقراط په باره کي کم سوچ وهې، د ريشتا په حقله به دي فکر ډېر زيات وي" او ريشتيا دادي چي ځلاند سبا د خلګو په اتفاق، مينه او اخلاص پوري اړه

لري- خوشحالي په امن، تعليم، تجارت او سخت محنت پوري تړلې ده- د انسانيت غوره ارزښتونه هماغه دي کوم چي د پښتونوالی او اسلام دي- همدغه سپين رشتيادي او رشتيا د انسانيت ګډميراث دے-

دنړۍ پر مخ دحالاتو پېوسته بدلون د ټولني فکري تناظر هم ور بدلوي او ورو ورو د عامو خلګو د سوچ پکښې ځای پېدا کوي- اجمل خټك[5] وايي چي:

ملګــرو زندګي د اِرتقــا يــو مــرحلـه ده
خوړو ترخو وختونو ته په ډاګه غاړه وځو

همدغه عام خلګ چي د عوام په نامهٔ پېژندل کيږي، د طاقت سرچينهٔ او په ټولنه کښي د بدلون اصل موجب دي- هغه دانشوران چي په ټولنه کي د غوره بدلون په لټون دي عامو خلګو ته بايد خپل پېغام په عام انداز و رسوي- ولي چي پېچيده فلسفيانه علمي بحثونه تر يوې خاص داېرې دباندي خپل اثر بائلي- ځکه نو دا کتاب "دفکرټال" هم د عامو خلګو په نظر په دې هيله ليکل شوے دے چي ځيني اړي خبري هم په آسانه لفظونو تر لوستونکو پوري ورسيږي-

ډاکټر باقي دُرانے کوټه

# اخځلیك

1 - غوث خېبري، 'پښتانهٔ د آریانه په کیسو کې' اسد دانش مطبعه ، کلوله پُشته ملي مارکېټ ، کابل، ۲۰۰۹

2- عبدالرحمان بابا 'د رحمان بابا کلیات' ، دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور ، سریزه حنیف خلیل ۲۰۰۵،

3- ډاکټر باقي درانی، 'پښتانهٔ د تهذیب په څپو کې' صحاف نشریاتي موسسه کاسي روډ کوټه، ۲۰۰۸

4- برائن مېګي ، ( The Story of philosophy ) ډارلنګ کائنډسټلې Darling Kindstley Book، لندن، ۲۰۰۱

5 - اجمل خټك ، ' ګُلونه تکلونه ' یونیورسټی بُك ایجنسی خېبر بازار پېښور، ۱۹۸۳

❊❊❊

# ۱

# دفکرټال

# دفکرټال

د فکرټال پر هغو بُنیادي سوالونو بحث دے د کومو د ځوابونو چي خلګ په لټون دي- د مثال په توګه خلګ سوال کوي چي بشر څۀ دے؟ سرېتوب يې په کومو عواملو پوري اړه لري؟ قام څۀ ته ويل کيږي؟ د قوميت په جوړښت کښې کوم مهم عناصر شامل دي؟ مذهب څۀ دے؟ دا دشخصيت په تعمير کښې څۀ حېثيت لري؟ انسان څۀ دے؟ انسانيت يې څۀ ته وئَيل کيږي؟ حق څۀ دے؟ د فرض سرۀ يې څۀ تعلق جوړيږي؟ نظريه څۀ ده؟ د علم طاقت او يقين سره د نظريې کومي اړيکي دي؟ علم څۀ دے؟ سائنس څۀ معنا لري؟ فلسفه څۀ ده ؟ حواس څۀ دي؟ عقل ترکومه حده تلای شي؟ جنون له کومه ځايه پېل کوي؟ مينه څۀ ده؟ داشان ډېرنور سوالونه هم دي چي په بېلا بېلو ټولنو کي بېل بېل ځوابونه لري- په نورو ژبو کښې پر دغو سوالونو اوږده بحثونه شوي دي خو په پښتو کي ډېر کم ليک

وربانديي شوے دۀ- چونکي پښتو زما مورنۍ ژبه ده او مور غوندي راباندي ګرانه هم ده ځکه پر دغو اړو سوالونو په همدغه مورنۍ ژبه بحث کول غواړم، او د حمزه بابا[1] په قول دعا کوم چي:

خدايه زيات کړې يو په لسه د پښتو د لېلا حسن
بيا زما مينه هم زياته يو په سله تر مجنون کړه

د دغو سوالونو په اړه ليك لوست پخپله يوه بېله ذمه داري ده چي يوې خوا ته د خلګو د سوچ او عمل د حدونو احاطه کوي او بلې خوا ته د بشري فطرت، ټولنيزو قدرونو او عوامي روَيو مطالعه هم کوي- "دفکرټال" په پښتو ژبه، په پښتني ټولنه کښې، د دغه شان ډېرو سوالونو د جوابونو هلي ځلي کوي- د ځان پېژندني، قام ژغورني، دين دوستۍ، انسانيت او دکائنات سره د انسان د اړيکو جائزه اخلي- د انسان او فطرت د تعلق معقوله تشريح کول غواړي- ځکه نو دا د ژوندانۀ د يوې خاص فلسفې "سړيتوب" د نوي تشکيل د هلو ځلو نوم دے-

"دفکرټال" د خپل ماحول په دائره کښې دننه د خلګو د ترقۍ او خوشحالۍ په حقله په عقلي توګه د بهترو اصولونو انتخاب کوي چي په پسِ منظر کښي يې تړاو د ځان پېژندني، قوميت، تاريخ، آزادۍ،

مذهب او انسانيت سره سره د فطرت، ماحول وحدانيت او خدايي سره هم دے- دا د انسان او فطرت تر منځ د ازلي جبري تړون جايزه اخلي او د زمانې په اوږدو کښې پر خلکو د بېلا بېلو بدلونونو اثرات ګوري- په دې لړ کښې د جبريت، عقليت او ماديت غوندي فلسفو تر جاج اخستو وروسته په جديد دور کښې د سائنس او جمهوريت پر افاديت هم بحث کوي-

فطرت، ټولنه او پخپله انسان له پېړيو د سوچ او فکر لوی موضوعات پاته شوي دي ځکه به يې په راتلونکو پاڼو کي تفصيلي جائزه واخلو- فلسفه د ژوندانۀ او حقيقت د يوۀ ستر تناظر نوم دے چي د غوره بدلون په خوا د مثبت طرزِ عمل ښوونه کوي او تاريخ د زاړۀ پېر د واقعاتو په رڼا کښې د دغه فلسفيانه تناظر جوړښت کوي- ځکه نو فلسفه او تاريخ يو له بله سره تړلي دي- د فلسفې تاريخ او د تاريخ فلسفه داسي ماضوعات دي چي زياتره تر ليك لوست لاندي راځي- فلسفه او تاريخ دواړه د دغسي سوالونو ځوابونه لټوي چي انسان پخپله څۀ دے؟ او انسانيت يې په کومو خصلتونو پوري اړه لري؟ ځکه نو په دې کتاب کي ځای ځای د فلسفې او تاريخ امتزاج مخته راځي-

د زيات شمېر خلکو په ذهنونو کي د انسان او انسانيت په اړه د سوالونو ځوابونه واضح نۀ دي ځکه په دغه اړه معلومات راټولول او اصولونه ترتيب کول ضروري ګڼم- دا څۀ آسانه کار نه

دے او نه یوازي زما په کوشش تر سره کېدای شي خو بیا هم پېل غواړي- ترسره کوي خوبه یې د فلسفې ماهران، ولي چي د دې دپاره همه وخت د حقیقت او نظریې ترمنځ، د سائنس او آرټس تر منځ، د فطرت او ماحول ترمنځ د فکرټال وي چي ځنګیږي- ددغه شان سوالونو ځوابونه هله امکان لري چي د تاریخ، مذهب، حیاتیاتو، معاشیاتو، سیاسیاتو، ادبیاتو او نورو سائنسي علومو پر بُنیادي اصولونو باندي هم نظر وساتل شي- که څهٔ هم لیکوال د دغو ټولو علومو ماهران نهٔ وي خو دخپلو سوالونو د معقوله ځوابونو په تلاش د دغو علومو بُنیادي زدکړي ته اړتیا لري- دمثال په توګه آنتروپولوژي (Anthropology) د انسان د تخلیق، ساخت، خصلت، ماحول او یو له بله سره د انساني اړیکو علم ته ویل کیږي چي د مغرب په سائنسي فکر ځان لره یوه بېله شعبه ده خو مشرقي پوهانو لا تر اوسه دومره اهمیت ورکړے نهٔ دے څومره چي یې ضرورت دے- که څهٔ هم په روایتي ټولنه کي کار ورباندي کول آسانه نهٔ دے خو د خپلو سوالونو د ځوابونو تر حده یې زدکړه دپوهانو ذمه داري ده- د انسان د تخلیق معامله د مغربي قامونو د سوچ او عقیدې په لحاظ له مشرقي قامونو څخه بېله ده ځکه پردغه شان اختلافي مسئلو هله بحث کېدای شي چي پوهان د دواړو ډلو په نقطهِ نظر پوهـ وي- همدغه رنګ تِیولوجي (Thiology) خدائي علم ته ویَل کیږي په کوم کي چي د بنده تعلق د خدای سره او د خدای تعلق د بندګانو سره څرګندیږي- دلته بیا

مغربي فکر له مونږه بېل دے او په ټولنه کښې اختلاف پېدا کوای شي ځکه یې ژوره مطالعه ضروري ده- دغه مسئله د ځینونورو علومو سره هم ده لکه مایتولوجي (Mythology) چي یو خاص یقین یا مفروضې ته ویل کیږي چي خلګ یې له بلاګانو، دېبانو، پېرانانو، ښاغلو، یا باچهانو سره تړي- روایت دادے چي پر دغه شان موضوعاتو اکثره تحریرونه د پېشَورو لیکوالو دي چي د څه خاصو ذهینو کسانو علاوه د چا په کار نه ورځي- که څۀ هم د نورو علومو په شان په فلسفه کښې داسي تېکنیکي مسئلے ډېري دي چي حل یې په تېکنیکي توګه یوازي فلسفیان لټولای شي خو داسي هیڅ دلیل نشته چي موږ په ساده، آسانه او په لنډه توګه د دغو پېچیده سوالونو د ځوابونه هلي ځلي ونۀ کړو او تر عامو خلګو یې په عام فهم انداز ونۀ رسوو- ولي چي په تېر ټول تاریخ کي د خلګو په کردار او ایمان کي دومره خطرناك بدلونونه نۀ ؤلیدل شوي لکه چي یوازي اوس په یویشتمه پېړۍ کي لیدل کیږي- پر هره ټولنه داسي وختونه راځي چي د ژوندانۀ پخوانۍ طریقې او ارزښتونه په نوو حالاتو کي ژوند کولو لره کافي نۀ وي ځکه نو له نوې سره د فکر ونظر ضرورت پکښې پېداشي- همدغه اوس د روایتي پښتني ټولني حال دے-

خلګ که شرقیان وي که غربیان، تعلیم یافته وي او که بې تعلیمه، د یوۀ نۀ یوۀ خاص فکر سره تړون ضرور لري- په دې سیمه

کښې رسمونه، رواجونه، دودونه اوکليوال مرَوتونه دومره مزي دي چې دلته زوکړے هر وګړے هماغه فکر او هماغه مذهب خپلوي کوم چې دلته له پيړيو رائج دے- خو د تاريخ جبر او قامي شخړي کله کله په روايتي او مذهبي ټولنو کښې هم د غوره بدلون ځاى پيدا کړي- د پښتنو حال اوس دا دے چې هرڅۀ ترې ګډ وډ شوي دي او دا وخت وغوره بدلون ته تيار دي- دوى د تاريخ تر بېلا بېلو ناورينونو لاندي د غوره بدلون په هيله په حسرت خپلو مخکښو ته ګوري- په نوي پېر کي نړى د نوو نوو فکري مسئلو سره مخامخ ده، په زياته بيا پښتونخوا، چيري چې له دېرشو کالو څخه نۀ ختمېدونکي تباه کن جنګونه دوام لري- عام خلک چې کوم څۀويني يا يې بيا د ميډيا له لاري ګوري، د خپل خپل سوچ په رڼا اثر ترې اخلي لګيا دي- په جديد دور کي که څۀ هم يوې خواته ډېري اسانى پېدا شوې خو بلي خواته هرکس د ذهني پرېشانيو سره مخامخ دے- د نړى په کومه څنډه کي چې موږ اوسو، د دې پيړى تر ټولو د انتشاره ډکه سيمه ده ولي چې له ډېره وخته د پېوسته بهرنيو مداخلتونو له کبله د يوۀ نۀ ختمېدونکي عالمي جنګ مېدان ده- د دغه جنګ د دې سيمي پر خلګو د سماجي او معاشي اثراتو سره سره نفسياتي اثرات هم وشو- انساني تاريخ ګواه دے چې د خلګو په کردار کي په دومره لږه موده کي دومره لوى بدلون کله هم نه ؤ ليدل شوے لکه چې اوس ليدل کيږي- زموږ زاړۀ ټولنيز قدرونه

ورو ورو ختميږي لګيا دي- قتل، غلا، اغوا، فراډ، اورپُوکي او نوري ډېري بدۍ چي له پېړيو څخه په پښتني ټولنه کي غندل کېدې، اوس هره روځ په هره خوا په کثرت سره ليدل کيږي مګر څوك يې خلاف جهاد ته تيار نۀ دي- حالانکي اصل جهاد د دغو ناوړه کارونو د مخنيوي خلاف پکاردے- د خلګو ايمانونه روځ په روځ کمزوري کيږي، هره خواته دروغ او فرېب ليدل کيږي، تر دې حده چي يوه خبره هم يقيني نه ښکاري- ټولنه مو د يوۀ بېل شانتي ذهني انتشار سره مخامخ ده، اخلاقي بدۍ دومره زياتي شوې چي د ښۀ او بد تميز پکښې ورك شو- ځکه نو په دغو کړکېچنو حالاتو کي د سوچ په زاويه کي د غوره بدلون هلي ځلي لازمي دي-

فلسفه[2] د نظر يوې مربوطي زاويې ته ويَل کيږي، چيري چي ذِهن پر ژوندانۀ باندي محيط وي او په بدنظمي کي ترتيب او وحدت پېداکوي- ځکه نو فلسفه د فکري لحاظه "کُل" ګڼل کيږي يا بيا د کل سره د"جُز" د تعلق وضاحت کوي- په حقيقت کي خو د سوچ او فکر تاريخ ډېر اوږد دے او د بېلا بېلو فلسفيانه نظامونو شهادت ورکوي، خو هر نظام په خپل خاص وخت کښې اهميت لري او بيا ورو ورو د زمانې په تېرېدو په بل نظام بدل شي- کله کله داسي هم وشي چي يو مهم نظام د وخت په ګرزو پټ شي او د تاريخ په څپو کښي وبَهېږي- هرفلسفي دحقيقت په تلاش کي وي خو د 'حقيقت'

حقيقت ورته پېچومے وي- د مشهورجرمن فلسفي فرېډرك هيګل[3] په فکر:

"The real is the rational, and the rational is the real"

يعني "حقيقت معقوليت دے او معقوليت حقيقت"

چونکي معقوليت هر عمل لره جواز غواړي ځکه د انصاف او اعتدال تقاضا کوي-

په دې سيمه کښې په ظاهره د فلسفې روايت د آريانا د مذهبي پېشوا زرا تښترا څخه راروان دے چاچي د حق او باطل تصور ورکړ او د دواړو تر منځ يې په نه ختمېدونکې مبارزه کي د حق او ريشتيا د مرستې پېغام ورکړ- هماغه مبارزه په څۀ نه څۀ رنګ کښې لاتر اوسه دوام لري- د آرياوو اولنۍ ژبه " اريك" (آرياني) وه او کتاب يې " اَوېستا" ۀ چي وروسته د تاريخ په وړدو کي تر ډېره وخته ورك ۀ- بيا پته ولګېده چې يوه خطي نسخه يې د کوپنهېګن (ډينمارك) په ميوزيم کي اوس هم خوندي ده- دا نسخه په دينِ دبيره رسم الخط کي ده- د زرا تشترا په فلسفه کي د خېر او شر، جنت او دوزخ، جزا او سزا تصور ۀ- ورسره ورسره د ميزان، حساب او سمي لاري فلسفيانه څرګندنه هم شوې وه- د زراتشترا په آريايي فلسفه کښې د ښۀ او بد تميز د ټولني د پايښت ضامن ګڼل کېدۀ- دروغ پکښې بد ګڼل کېدل، غلا پکښې جُرم وه او قاتل لره هيڅ بخښنه نۀ وه- ښايي چي همدغه وجه وه چي" آريانا" په هغه وخت کښې هم ډېر پرمخ تګ کړے ۀ-

که څهٔ هم دنړۍ دځينو موريخينو په خيال دکال ۱۲۰۰ مخزېږدي په خواوشا کي آرياوو د نړۍ اوّلنے شاهي نظام د "يمه" تر مشرۍ لاندي پېل کړے ؤ او د دنيا اوّلنے ښار بخدي يې هم جوړ کړے ؤ، خو د نوي سائنسي تحقيق له رويه په کال ۶۲۸ مخزېږده کي په افغانستان او ايران کي د زراتشترا فلسفه عملي شوې وه او تر اثر لاندي يې په انساني تاريخ کښې اوّل ځل د بشري حقوقو د احترام پېل هم شوے ؤ- په زرتښتيزم کښې چي د خېر او شر تر منځ کومه ووړده تاريخي مبارزه ښکاري همدغه اوّلنۍ کړۍ ده چي د فکرتړال ورباندي ځنګيږي- ځکه نو وروسته بيا په يورپ کښې جرمن فلسفي نطشې د زرا تشترا ودغي فلسفي ته بېرته ژوند ورکړ او په نوي وخت کښي يې هم دغه فلسفه د خلګو رهبرۍ لره کافي وګڼله- په مغرب کښي د فلسفې تاريخ د ستر يوناني مُفکر افلاطون له کتاب "دي ريپبليك" څخه شروع کيږي، چاچي ويلي ؤ:

"Philosoophy begins in wonder"[3]

"فلسفه له حېرته شروع کيږي"

د افلاطون د فلسفې موخه نهٔ يوازي د ښېګړي او ريښتيا وضاحت کول ؤ بلکي پکښې خلګو او قامونو لره د ښېګړي لارښونه هم وه- دغه فلسفه د خپل وخت دفکري رَوَيو عکاسي کوي خو د اوسنۍ دنيا مسئلې نه په حل کيږي- په نوي پېر کښې د ښهٔ او بد مسئله

حقیقتاً هم یو پېچومے دهٔ ولي چي د هر قام، هري سیمي او هر فکر د خلګو د ښهٔ او بد معیار بېل بېل دے- ځکه د پوهانو ذمه داري دا ده چي د خلګو د ښېګړي په حقله د نظر زاویه سمه کړي او د قام رهنمایي وکړي- دا رنګه خلګ وغوره بدلون ته تیارېدای شي-

ارسطو چي د خپل وخت منلے فلسفي ؤ، یو ځل دا ویَلي ؤ چي "دانسته یا غېر دانسته موږ ټول پر یوې یا بلي فلسفې یقین لرو"- خلګ ټول د ژوندانهٔ یوه نهٔ یوه عمومي طریقه لري چي د هغوی په قومیت، کلتور، مذهب او ټولنیزو قدرونو پوري اړه لري- که څهٔ هم د زیات شمېر خلګو په ذهنونو کښي دا واضح نهٔ وي چي د دوی کومه نظریه ده؟ خو بیا هم دخلګو په ژوند کښي د رهنما اصولونو دغه نمونه د دوی نظریه ګڼل کیږي او د دوی په اعمالوکي له ورا ښکاري- چونکي فلسفه د نظر هغي مربوطي زاویې ته ویَل کیږي کومه چي په خلګو کي د بدنظمۍ په وخت نظم پېداکوي او قامي وحدت د ساتلو هلي ځلي کوي ځکه نو " کُل" ګڼل کیږي یا بیا د کل سره د " جُز" تعلق پېداکوي- "د فکرټال" نه خو د لویو لویو فلسفیانو او شخصیتونو پر پېچیده او زړو فلسفو بحث کوي او نه د هغوی قصې او اقوال سره را غونډوي- دا په پښتني ټولنه کي په آسانه ژبه د ژوندانهٔ د اوسنیو مسئلو جاج ځکه اخلي چي خلګ د خپل ذات او ماحول تر منځ توازن ته اهمیت ورکړي او له ځان ځانۍ څخه رابېل یو ټولنیز فکرته مخه کړي-

پښتانهٔ له پېړیو راهسي د ژوندانهٔ یو ځانګړے فکري نظام لري چي په ټولنه کې د "پښتونوالی" په نامهٔ یادیږي- پېوسته بهرنیو مداخلتونو او دسیسو دغه فکر ته زیان ورساؤ- چا کمونیزم ته دځای ورکولو په موخه تخریب پکښې وکړ او چا د مذهب پر مقدس نامهٔ د وروروژني جواز هم پکې کښېښوو- اوس په دغو کړکېچنو حالاتو کې د نظر په زاویه کي د غوره بدلون ضرورت دے چي قام ببرته پر متحد او متفق شي- دا لازم نه دے چي نوے فکر دي سراسر بېل وي او له زاړه ټولنیز سوچ سره دې هیڅ سمون نهٔ وي، ولي چي هر قام خپل کلاسیك لري او فخر په کوي- دا هم ضروري نهٔ ده چي خلک یوازي د اسلافو کارنامې ستایي او نور هیڅ کولو ته تیار نهٔ وي- موږ د خوشحال خان او احمد شاه بابا[4] په تُورو یقیناً فخر کوو لکه چي بابا وایي:

اې احمده ! دنیــا تېــره پــر هــرچـا ده
ستا په توره به بل وخت فخر پښتون که

خو ویښ قامونه دنوَښتونو لاري هرکله خلاصي ساتي، چي د زمانې په قدم تګ وربانديي وکړي- پښتون یو ویښ کام دے ځکه په زاړهٔ دودیز نظام کي خپلي ریښې باقي ساتي خو ورسره ورسره د نوي پېر ضرورتونه هم محسوَسوي او د نورو قامونو په ګام تګ ته بشپړه تیاري کوي-

ځرګندون نمبر1 د نظريې د تشکيل په اړه هغه ساده افغاني فکر ځرګندوي چې پښتانهٔ له پېړيو ورباندي متفق دي او د سرېتوب د فلسفې بنسټ يې ګڼي- په افغاني ټولنه کي ترځان پېژندنه




ځرګندون نمبر 1 **دسرېتوب دفلسفې** بنسټ (د ژوندانهٔ ساده افغاني تصّور)

وروسته قام ژغورنه، دين دوستي او بيا د انسانيت ګډ قدرونه خپلول د هر آزاد وګړي دسوچ جوهرګڼل کيږي- خو تر دغو ټولو بالا د مابعد الطبيعات تصور يعني ايمان دے چي پر ټول کائينات د واحد خداى قدرت او حاکميت تسليموي- همدغه حق پېژندنه ده

چي فلسفيانه اظهار يې په هر دور کي فلسفيانو په خپل خپل انداز کړے دے- د "سړيتوب" فلسفه ترډېره حده همدغه ده چي هرکس اوّل ځان وپېژني، په خپله ګټه او تاوان ځان پوهـ کړي او په ځان کښې د ښۀ او بد د تميز صلاحيت ومومي- بيا تر هري فېصلې لمخه دخپل قام د ګټو او تاوانونو جاج واخلي- په ټولنه کي امنيت خپله قامي فريضه وګڼي- تعليم عام کړي، تجارت ته وده ورکړي او په جمهوري توګه دخلګو دګډو فېصلو احترام وکړي- دمذهب په اړه پر خپله عقيده ټينګار وکړي او د نورو خلګو دعقيدو احترام هم په خيال کي وساتي- خدای وپېژني او د خدايي خدمتګارۍ په جذبه د دۀ د مخلوق خدمت د ژوند موخه وګڼي-

فلسفه د خلګو، قامونو او تهذيبونو و ژوند ته معنا ورکوي- دا د انسان د بُنيادي مسئلو دفکر او حتمي ترجيحاتو سره د وفادارۍ د پېوسته هلوځلو ضابطه ده- د خپلو ستونزو د حل په خوا د دغو هلوځلو موخه د يوۀ داسي صفا او مستحکم مېکېنيزم تلاش دے چي اعتماد ورباندي وکړل شي- د فلسفې تربيت دادے چي خلګ دي هماغه څۀ وايي کوم چي دوی ويَل غواړي او کوم څۀ چي وايي هماغه دي ئې موخه وي- فلسفه د انساني ستونزو، مسئلو، خيالونو، سوچونو، عَملونو او منصوبو تجزيه او وضاحت کوي- دا دخلګو شعوري تلاش ته د دليل په قوت اهميت او استحکام ورکوي او د جنګ سره سره د امن امکانات هم لټوي- فلسفه د خلګو د اخلاقي، معاشرتي، معاشي، مذهبي او سياسي

معاملو سره قريبي تړاو لري-

نظريه د فلسفې هغه ښاخ دۀ چي په ټولنه کي د بدلون په اړه عِلمي او عَملي اړخونه دواړۀ تر بحث لاندي راوړي- دا معاشره سازه انساني خود شعوري ده چي د علم د وسعت سره سره د ځمکي پر مخ انسان د خپلي ټولني د ښېګړي په هلو ځلو اماده ساتي- دآئيډيالوژي لفظ چي اوس د نظريې په معنا اخستل کيږي، په تاريخ کي اوّل ځل په فرانسيسي ژبه د فرانس د انقلاب په ورځو کي اورېدل شوے ؤ- د دغه لفظ خالق فرانسيسي فلسفي دستوت دي ټرېسي (Destutt de Tracy) ؤ چاچي فرانس ته ديوۀ ستر تعليمي نظام تصوّر ورکړ چي وروسته يې فرانسيسي ټولنه په يوه ويښه، علمي او سائنسي معاشره بدله کړه- دا د اتلسمي پيړۍ په وروستۍ او د نونسمي پيړۍ په وړومبۍ برخه کي د هغه فرانسيسي فلسفيانه تحريك نوم هم ؤ چي د قام د نفسياتي، روحاني، اخلاقي، سياسي او ټولنيز ژوند احاطه يې کوله- ځکه خو نونسمه پيړۍ عالمي دانشورانو د آئيډيالوژي پيړۍ هم بللې ده- د نظريې په تشکيل کي ځيني داخلي او خاريجي عوامل ډېر مهم وي- دغه عوامل د نړۍ د پوهانو په نظر بېلا بېل ښوول شوي دي- زياترو مخکښو پوهانو د نظريې د تشکيل په وخت او بيا تر عملي کوولو لمخه درې څيزونه ډېر مهم ګڼلي دي لکه يقين، علم او طاقت- په څرګندون نمبر٢ کي د يقين حېثيت له علم او طاقت څخه ځکه بېل




عکس نمبر۲ د نظريې اجزا

ښکاره شوے دے چي دا دنظريې هغه عنصر دے چي تر نورو عناصرو ډېر دروند دے- د دې عنصر سره نۀ علم او نۀ طاقت مقابله کولاى شي- يقين وېره تښتوي، عزم ځوانوي، وينه ايشوي، فکر فعالوي او مينه خوځوي- دا هر وخت خلګ وهغي قربانۍ ته تيار ساتي چي هيڅ يو څيز يې هم مخه نۀ شي نيوے - علم او طاقت که څۀ هم خپل خپل ښېل اثرات لري خو يقين تر ټولو مهم ګڼل کيږي ولي چي دا خلګو ته ترحد زيات اعتماد او داخلي قوت ورکوي- يقين، ايمان يا عقيده په خلګو کي د سختو فېصلو کولو همت راپاڅوي، په کم قوت د لوى شمېر دښمنانو د مقابلې حوصله ورکوي-

په پښتني ټولنه کي هم يقين علم او طاقت د نظريې د تشکيل په اړه درې مزي عوامل ګڼل کيږي ځکه خو احمدشاه بابا[4] وايي چي:

د يقـين پـــه لاره  درومې
پـه ګمـــان ولـي دَرېـــږې؟
ددغـۀ دريـاب مـاهے يې
پـــه يقـين بـــه وَرَسېـــږې
د درياب اصل به مومې
پـه يقـين کـه وپـوهېـږې

د احمد شاه بابا دغه وينا د سرېتوب په فلسفه کي د يقين اهميت څرګندَوي- د ماهي او د اوبو تعلق دپايښت او فنا تعلق دے- که اوبه وي نو د ماهي پايښت شته او که نۀ وي نو فنا دے- په اوبو کي د ننه نو بيا ماهي لره په خپل طاقت پلټنه او د درياب د پټو خزانو په حقله معلومات (علم) را غونډول ممکن دي- په اصل کي د سرېتوب د فلسفې بنسټ احمد شاه بابا په همدغه وړه غوندي وينا کي ښوولے دے- دلته له ماهي څخه مراد " کس " دے او درياب د "يقين" په معنا اخست شوے دے- دا ښوول شوي دي چي که يقين محکم وي نو بيا د طاقت په زور او علم په پوهه د سمي لاري تعين کېداى شي چي دکامراني ضمانت پکي ممکن وي-

پښتنو د انګرېزانو او روسانو خلاف لوی جنګونه په همدغه یقین وګټل، کنې په طاقت او علم خو دوی ترپښتنو ډېر مزي وو- دخوشحال خان خټك او احمد شاه بابا دواړو یوه نظریه وه چي دقام د بقا په هلوځلو کي د عقیدې سره سره د تُوري (طاقت) او قلم (علم) اهمیت مسلمه دے او دا دوی په عمل هم ثابته کړې وه-

طاقت د سرېتوب په فلسفه کي د نظریې دویم مزے عنصر دے چي له ډېرپخوا څخه په پښتني ټولنه کي ستایل شوے دے- پښتنو هرجنګ په خپل مُټهٔ ګټلے دے خو په ګټه یې نور قامونه هم ورګډ کړي دي- اتفاق ددوی اصل طاقت دے او نفاق یې هر کله ملا ورماته کړې ده- طاقت خوشحال بابا، رحمان بابا، احمد شاه بابا، غني خان، رشادبابا، ملنګ جان، الفت، دروېش او سایل ټولو ستایلے دے ځکه یې د نظریې د تشکیل په اړه حېثیت مُسلمه دے-

علم د فرد د خاریجي دنیا په حقله معلومات ښندي او هغه دریچه ګڼل کیږي تر کومه چي فلسفه و دنیا ته ګوري، خو له بده مرغه د پښتنو ورته شا ده- علم تربیت یافته افرادي قوت جوړوي چي په ساینسي، عسکري، ټېکنیکي، معاشي او معاشرتي توګه قام پرمختګ په کولای شي- لکه چي یې بالا وضاحت وشو، یوې خوا ته علم خلګو لره د خاریجي دنیا څخه معلومات راجمع کوي، بلي خوا ته یقین هغه داخلي کیفیت دے چي د فرد وفکر اونظر ته غېبي اعتماد او قوت وربخښي او درېیم ځیز طاقت دے چي پر

نظريه دعمل کولو دپاره ضروري ګڼل کيږي- طاقت معاشي هم کېدای شي او جسماني هم ځکه نو خاريجي او داخلي دواړۀ اړخونه لري- د قام اصل طاقت په آزاد وطن، ژبه، نسل، کلتور او معاش کي ښکاري- دغه طاقت که په عقل استعمال نۀ شي نو جنګ او ورانۍ راوړي، او که د امن دپاره پکار راوست شي نو ټولنه په جوړيږي- نتيجه دا چي د نظريې د عملي کولو دپاره دليل او ذهانت بهترين اوزار دي-

که څۀ هم "يقين "د نظريې د تشکيل په اړه تر ټولو مزے څيز دے خو په ټولنه کي بېلا بېل مسلکونه اکثره د قامونو په نقصان تمام شي- د مثال په توګه ځيني مسلکونه د عقليت خلاف دي او د استدلال لاري نيسي چي نتيجه يې وروسته د قامونو د پستۍ په شکل مخته راځي- د علم، طاقت او يقين په موجودګي کي عقل هم تر ډېره حده خپل رول لوبوي خو د ايمان په اړه داسي بربښي چي "عقل" په نوو نوو تجربو کښې بوخت شو- د زړو جبلتونو اولنۍ سادګي او د اسلافو په واړو کړو آمادګي اوس په شعوري هدايتونو بدلوي لګيا دے- د اخلاقو لرغونے نظام او د ژوندانۀ هغه پاخۀ اصولونه د مصنوعيت او افاديت په اوبو منځي- تر دې حده چي د مصنوعيت په دې نوي دور کي مېندي دا فېصله هم نۀ شي کولای چي ماشومانو ته خپلي پيۓ (شودې) ورکړي او که د عقليت او افاديت تر سايه لاندي ترتيب شوي د حياتينو په نامۀ خرڅېدونکي بېلا بېلي فارمولې-

داسي برېښي چي عقل څومره وده کوي هغومره ځالاکي، مفاد پرستي او فراډ ورسره زیاتیږي- ځکه فکر یوازي د عقل نوم نه دے او نه عقل یوازي "عقلِ کل" ګڼل کېدای شي- فکر مثبت هم کېدای شي او منفي هم- مثبت فکر د تدبُر په ملګرتیا غوره بدلون ته لار خلاصوي- ورنه عقل ، علم او طاقت درې واړه هم په یقین سره د خپلو قدرونو او موخو ساتنه نۀ شي کولای- دلته "یقین" د ژوندانۀ اصل عنصرښکاري، چي له بده مرغه په جدید دور کي پر ځوړه روان دے- د جِدت سره سره له خلګو څخه د یقین جوهر ورو ورو ورکیږي- معنا دا چي زموږ د نظر زاویه به هله سمه ګڼل کیږي چي یوازي پر عقلیت اکتفا ونۀ کړو بلکي د عقل او یقین تر منځ اعتدال ته اهمیت ورکړو ولي چي یقین د نظریې یو لازمي جُزدے- ګل باچا الفت[5] د پښتني ټولني یوۀ عیب ته، په یوه غوره نثرپاره "ښۀ او بد" کي په دې ډوَل اشاره کوي چي" که یوحاکم غل دمَلك په خوله خوشي کړي نو دا کار دوی ته بد ښکاري، مګر که د اخوندزاده په سفارش یې پرېږدي نوبیا په ښۀ سړیتوب او دیانتداري کي حسابیږي" دلته هغۀ دخلګو نظر دعقل او یقین ترمنځ وَهمدغه اعتدال ته را ګرځوي د کوم چي ټولني ته اشد ضرورت دے-

په تېر مهال کي بېلابېلي نظریې مخ ته راغلې لکه سوشلیزم، کمونیزم، فاشزم، انارکیزم، فنډامنټلیزم، کنزروېټزم او نېشنلزم- د دغو ټولو نظریو بنسټ پرځو سیاسي او عمراني

اصولونو ولاړ ؤ او هره یوه په ټولنه کي د څه خاص بدلون په اړه رامنځ ته شوې وه- تر هر بدلون وروسته چي به کله د ټولني ضرورتونه بدل شول نو بیابه نظریه پخپله شاته شوه او خلک به پر نوو نووکرښو پرمختګ ته تیار شول- د مثال په توګه فرانسیسي فلاسفر دستوت دي ټربسي (Destutt de Tracy) خو د آئیډیالوژي په برکت په فرانس کي د غوره بدلون لاره خلاصه کړه مګر هټلر د نېشنلیزم تر نظریه لاندي جرمني ته زیان ورساوۀ- خو د دغه نېشنلزم پر اصول وروسته د برلن دېوال بېرته مات هم شو او جرمن قام سره یوځای شو- دلته خبره دنظریې په اړه دطاقت داستعمال ده- هټلر طاقت په عقل استعمال نۀ کړځکه یې وطن وران کړ- همدغه شان د سوشلزم او کمونیزم نظریو په روس کي یو لوی بدلون راووست مګر دطاقت بېځایه استعمال آخر دوخت په تېرېدو سره په ټولنه کي د سوشلیزم او کمونیزم اثرات کم کړل، تر دې حده چي وروسته د شوروي اتحاد دماتېدو سوب هم په افغانستان کي ددوی تېرے او د طاقت بېځایه استعمال ؤ-دا ځکه چي نظریه بېل بېل اړخونه لري او د علمي او عملي هلو ځلو تر منځ د توازن غوښتنه کوي- چونکي نظریه د قام د نفسیاتي، روحاني، اخلاقي، سیاسي او ټولنیز ژوند احاطه کوي ځکه د دغو اړغونو تر منځ د اعتدال تقاضا هم کوي- نظریه لازمي عَملي اقداماتو ته عِلمي جواز ورکوي خو د هر اِنتهایي اقدام د کولو اجازت هیڅکله نه شي ورکولای-

افغاني ټولنه له لويه سره يوه روايتي ټولنه ده- پښتانهٔ او هغه ټول واړه واړه قامونه چي دافغان ملت برخي دي له اوّله سره ترخپلو قبايلي او ټولنيزو اقدارو لاندي ژوند کوي لګيا دي- ژوند يې ډېرخي ساده او خلک يې خواري کښ دي ځکه په لږ څهٔ هم خوښ ښکاري- همدغه حال د هغو ټولو مشرقي قامونو دے کوم چي د جديد دورله تهذيبي، ساينسي، سماجي او په زياته بيا له فکري انقلابونو څخه لري پاته شوي دي- دافغاني ټولني لويه مسئله داده چي يوطرف ته دمغرب ترمعاشي، تهذيبي، فکري او سماجي اثراتو لاندي د انتشار ښکار ده او بل طرف ته يې د عامو خلګو او تعليميافته کسانو تر منځ د ابلاغو کمے او نظرِيو اختلاف دے- په داسي حال کي امن او تعليم دوه لازمي عوامل دي چي عامو خلګو ته ورو ورو د دغه شان مسئلو فهم ورکولای شي او غوره بدلون ته ئې تيارَولای شي ـ خو شرط يې دا دے چي ددې سيمي پوهان يوه صفا نظريه ولري، د سوچ زاويه ئې سمه شي او مثبت طرزِعمل ښکاره کړي-

که موږ د نړۍ د سماجي بدلونونو تاريخ ته لږ په غور وګورو نو دا حقيقت بلکل واضح دے چي قامونه له دغسي مسئلو سره هغه وخت مخامخ شوي دي کله چي يې ټولني له يوهٔ حاله و بل ته د بدلون په حال کي وي- کله خلک بدلون ته تيار شي او هرکلے ورته ووايي، خو کله داسي وشي چي خلک له لويه سره نظام رد کړي او د بدلون لاره ونيسي- کله کله داسي هم وشي چي بدلون

د ټینګېدو نهٔ وي نو بیا دانشوران رامخي ته شي او د بدلون سره سره د ټولني د اجتماعي ضمیر په رڼا کښي د خپلو سماجي او مذهبي قدرونو ساتنه په داسي انداز وکړي چي طوفان هم تېر شي او بدلون هم په غوره توګه راشي- چي ورسره ورسره د نظام په بدلېدوکي دخلګو د قامي تشخص او مذهبي عقیدې د ساتني ضمانت ورکړ شي- د پوهانو زمه واري وي چي د عامو خلګو حالت دومره خو د بدلېدو هلي ځلي وکړي چي ژوند یې د انسانیت تر حدونو کوز نهٔ وي- ضرورت د یوۀ داسي ټولنیز فکر دے چي بنسټ یې نهٔ خو د مغرب پر تقلید ایښوول شوے وي او نهٔ یوازي پر هغو روایتونو ولاړ وي چي قام یې د سماجي او معاشي بدبختیو ترمنځ شکیل ساتلے وي-

په تاریخي[6] توګه دقامونو ترقئ له غوره بدلونو سره تړلي ښکاري او بدلون هغه وخت غوره بلل کېدای شي چي تر یوې صفا نظریې لاندي راشي- خبره چونکي د آئیډیالوژي ده ځکه د دانشورانو د نظر په زاویه پوري اړه لري، نه چي په مذهب، قام یا دولت پوري- نظر هغه بنیادي ټکے دے چي که غلط شو نو د قام بربادي راوړي او که سم ؤ بیا د ترقۍ او خوشحالۍ ضمانت ورکوي- افغاني تاریخ ګواه دے چي احمد شاه بابا ځکه افغانان د نړۍ د نورو ژوندوقامونو په ګام روان کړل چي د هغه وخت په لحاظ یې د نظر زاویه سمه وه- همدغه د نظرسمه زاویه وه چي ګاندهي

هندوستان په آزاد کړ، نېلسن منډېلا افریکایان د اورروپایانو له غلامۍ په خلاص کړل او د آزادو قامونو په صف کي یې ودرول- که لږ نور شاته وګورو نو تاریخ داهم راښئ چي په منځني دور کي اورروپایان هم تر زرو کلونو د بدترین جهالت او جمود تر اثرلاندي وو- خو کله چي د یورپ د دانشورانو د نظر زاویه بدله شوه او دوی د کلیسا د مذهبي اجارَدارۍ نه د آزادۍ پخوا سفرپېل کړنو د غوره بدلون زېرے وشو- ځکه په کال ۱۶۴۸ کي د "وېسټ فېلیا" تر لاسلیك وروسته په یورپ کي ښکاره بدلون راغے- مقدس رومن سلطنت مات شو او د کلیسا قبضه ختمه شوه- قامي ریاستونه جوړ شول او خلګو ته په خپلو خپلو ژبو کي د لیك او لوست آزادي هم ورکړل شوه- د فرانس انقلاب راغے او د ساینسي فکر تر اثر لاندي د ترقۍ دور پېل شو-

په مغربي هېوادونو کي بدلون څنګه راغے؟ کوموحالاتو ورو ورو د هغه انقلابي غورځنګ شکل اختیار کړ چي وروسته یې د ساینسي، فني، معاشرتي او معاشي علومو د پرمختګ لاره خلاصه کړه؟ ددغو سوالونو یوځواب دے او هغه دا چي د مغرب د دانشورانو د سوچ زاویه بدله شوه- د دغه بدلون جاج اخستل ځکه ضروري ګڼم چي د یورپ د ترقۍ اصل راز په همدغه ټکي پوري اړه لري- په منځني تاریخي دورکي زرکاله د کلیسامذهبي فکر او نظام په ډېر شدت سره پر یورپ مسلط ؤ او په معاشي توګه مغرب

ترجاګیردارانه نظام لاندي ؤ- دغه دواړه عوامل د دوی د پیوستهٔ جمود سببونه ګڼل کیږي چي مغرب یې تر زرو کالو په عِلمي او عَملي توګه شاته وساتهٔ- کله چي په ۱۴۵۳ کي قسطنطنیه تُرکانو ونیوه نو یې پوهان اټلي ته وتښتېدو- دغه شکست د مغرب پوهان ویښ کړل او د نظر زاویه یې بدله شوه- هلته یې بېرته د لېونتوب تر حده د ارسطو وَ زړه فلسفه او زاړهٔ یوناني سېکولریزم ته مخه کړه- همدغه یې "نشاطِ ثانیه" یا احیأالعلوم وه- خلګ ولي چي زرکاله دکلیسا ترمذهبي جبر لاندي پاته شوي وو، کله چي د دغه سېکولر فکر هوا ورباندي ولګېده نو دلېونو په شان ورباندي رامات شول- د ارسطو دسېکولر فکر زېې د دغو پوهانو په زیار راشنهٔ شول او همدغه په یورپ کي د بدلون سبب شو- کله چي د سېکولریزم ریښې پر خورېدو شوې او د یورپ د بېلا بېلو قامونو مذهبي تړون سست شو نو یوروپي قامونه هم یو له بله په بېلېدو شول- داسي د هرقام خپلي ژبي ته پام شو- کله چي یې په خپلو ژبو کي لیکل پېل کړل نو علم ورته اسانه شو ولي چي مخکي علم یوازي په لاطیني ژبه کي ؤ چي د کلیسا تر اجاره داری لاندي وه- په دا نو علمي ترقي هم په تېزېدو شوه- د مغرب خلګو له مذهبي اجارَداری نه تر آزادی وروسته د سائنسي فکر په ترڅ کي د ترقی نوي نوي لاري ولټولې- په سیاسي، معاشي، معاشرتي او دفاعي توګه یې یورپ مضبوط کړ-

غرض دا چي تر عَملي بدلون لمخه په عِلمي توګه د بدلون هلي ځلي لازمي دي او دعِلمي هلو ځلو بنسټ بايد پر نظريه وي- دا لازمي ګڼل کيږي چي له سره د خپلي ټولني له هري زاويې څخه جاج واخستل شي او بيا پکښې د نظريې د عَملي کولو هلي ځلي وشي- دغه جاج اخستل او سمه طريقه لټول هغه نقطه ده چي د ترقۍ او خوشحالۍ ضمانت پکښي ښکاري او قامونه په جوړيږي- د پښتني ټولني ساخت چونکي له مغربه بېخي بېل دے او د بدلون مغربي طريقه ښايي چي په عَملي توګه په دې ټولنه کښي امکان ونه لري، ځکه دلته د حمزه بابا[1] ساده نسخه دا ده چي:

آئينــــه د ننني تهذيب دي ښــــۀ ده
خوجوهر پرې دساده پرون پکاردے

په دې سيمه کي به د بدلون طرز لازماً د خپلو خلګو په دوديزه اومذهبي ټولنه کښي د قبولو وړ وي ولي چي که دا په جبر راشي نو پايښت به ونۀ لري بلکي نوري ستونزي به لاهم راوړي- که بدلون ورو ورو راشي او دخلګو د دين او دود سره متصادم نۀ وي نو به يې خلګ د وخت په تېرېدو سره قبول کړي- د قام ګټه يقيني هم له دغه شان بدلون سره تړلې ده-

دلته دا سوال پورته کيږي چي د بدلون طرز به څله په دې

ټولنه کښې له مغربه بېل وي؟ واضح ځواب يې دا دے چې افغاني ټولنه د مذهبي قدرونو سره سره يوه قبايلي او روايتي ټولنه هم ده- تعليم پکښې کم دے، معاشي حالت يې ښۀ نۀ دے او په سياسي توګه د لويو طاقتونو د غاښو ترمنځ ده- په وارو وارو د بهرنيو مداخلتونوله کبله يې پر مغربي او ساينسي طريقو اعتماد نشته- ځکه به دلته د فرانس د انقلاب پر طرز د بدلون سوچ له سوشليسټ انقلاب څخه بېل نۀ وي چې په افغانستان کي نه يوازي له ماتي سره مخامخ شو بلکي ګردسره له منځه ولاړ-

د "سرېتوب" فلسفه دمغرب د" انسان[7] دوستۍ" له فلسفې څخه ځکه بېله ده چې په سرېتوب کي د آخرت او مابعد الطبيعات تصور شته او پر ټول کائينات د واحد خدای قدرت او حاکميت تسليموي مګر دانسان دوستۍ فلسفه دا دنيا هرڅۀ او حتمي ګڼي، دخدای او آخرت هيڅ تصور پکښې نشته- همدغه خدای پېژندنه ده چې فلسفيانه اظهاريې "سرېتوب" ته له انسان دوستۍ څخه بېل حېثيت ورکوي- موږ د قامي او انساني قدرونو سره سره مذهبي اقدار هم منو- د انسان دوستانو په شان دا هم منو چې ژوندون يوازي نه شي تېرېدای بلکي يو په بله ښايسته دے- موږ د ژوندانۀ په ډېرو معاملو کي يو او بل ته اړتيا لرو او هر وخت په خپلو کي و مرستي ته سره اړ ښکارو- بقا مو په رواداری او عدم تشدد اړه لري- تخريب د فنا لار ګڼو چې د هيڅ قِسم دنياوي يا اخروي ګټې هيله تري نه شي کېدای-

" اول ځان بیا جهان" د پښتو یو ډېر لرغونے متل دے- انسان له ازله ځان غوښنه او خود غرضه دے- ځان خوښي ددهٔ یو جبلت دے او دا یې فطرتي مجبوري هم ده- دے له دغي مجبوری په ځان پېژندنه او ویښتیا آزادي ترلاسه کولای شي- ځان پېژندنه یو احساس دے چي د خاريجي عواملو تر اثر لاندي د انسان په داخل کي راپاځېدلای شي- دا یوازي د پوهانو او ډګري لرونکي تعلیم یافته ځوانانو خاصیت نهٔ دے بلکي په هر هغه کس کښې لیدل کیږي چي ځان یې پېژندلے دے او دقام خواخوږي، پایښت، ښېګړې، او پر مختګ یې خپله موخه ګڼلې ده- دفکر پېل په اصل کي له ځانه کیږي- کله چي په انسان کي دا احساس را پېدا شي چي زهٔ څهٔ یم، همدغه احساس یې ځان پېژندنه او ویښوالے دے - همدغه احساس یې د قام د دود، ژبې، کلتور او تهذیب سره سره د ملت دماشومانو، ښځو او اقلیّتونو د حقوقو خیال ساتني ته همه وخت چمتو ساتي- ځان پېژندنه تر خاص احساس لاندي د فرد د نظر د زاویې غوره بدلون ته ویَل کیږي چي په بله معنا په نظریه پوري اړه لري- هرهغه کس چي شعور یې د خپلي سماجي ذمه واری احساس ورکوي په حقیقت کي ویښ زلمے دے او ویښتیا د ځان پېژندني سره جفت ده چي مخته به په تفصیل سره بحث ورباندي وشي-

زموږ په ټولنه کي کهول د وګړو تر منځ د نسلي خپلوی پر رشتو ولاړ دے- ټبر د بېلا بېلو کهولونو تر منځ پر ښو مرستو قایم

ښکاري او قام د همدغو ټېرونو په خپلو کي د ګډ نسل، ژبي، کلتور، او وطن پر تمبو ولا ړ دے- د قامونو ډلبندي د مذهب پراساس هم کېدای شي او د انسانيت پر ګډو قدرونو هم- اسلامي نړۍ د مذهب پر اساس مسلم اُمه يا " اُمت" بلل کيږي- همدغه شان عيسايي دنيا ځان لره د قامونو يوه بېله ډله ده چي ګڼي يې هم سره ورته دي- په اوس وخت کي يو قام هم په يوازي توګه غوره ژوند نه شي کولای ـ قامونه په ډېرو مسئلو يو له بله سره ګډ دي ـ پښتانۀ په يويشتمه پېړۍ کي د کسې په دنګو غرونو کي يوازي ژوند نه شي کولای، ولي چي په ډېرو مسئلو کي ونورو قامونو ته اړتيا لري- ډېر پښتانه په اسلامي نړۍ کي د روزګار په اړه ځله پاشلي دي او لوی شمېر په يورپ او امريکا کي هم آباد دي- د نړۍ بېلا بېل هېوادونه روځ په روځ سره رانژدې کيږي او د اليکټراني مواصلاتو په ذريعه د قامونو ترمنځ اړيکي هم په تېزي سره زياتيږي لګيا دي- په دغو حالاتو کي د قامونو ګډ انساني قدرونه رامخته کيږي او په عقلي توګه يو له بله سره د اړيکو د زياتېدو امکان ډېر دے- ځکه د يوې دغسي نظريې د عملي کولو ضرورت دے چي په اوسني دور کي د قام د بقا او پرمختګ ضمانت ورکړي-

نظريه په ځوانانو کښي تحريك پېدا کوي او په خصوصي توګه بيا په تعليميافته ځوانانو کي د ژوندانۀ د بېلا بېلو وسوسو او

اندېښنو تر منځ د غوره لارې په لټون کي- زموږ د زمانې ضرورتونه نور دي او په دې وخت کي د ژوندانۀ هر اړخ له پخوا څخه بېل ښکاري- نوې دنیا د علم، ساینس او ټېکنالوژۍ پر پایو روانه ده او د عقیدې سره سره وعقلیت او استدلال ته اړتیا لري- عقلیت په ټولنه کي اعتدال راپاخوي او اعتدال د قامونو د پایښت لازمي جُز ښکاري- ځکه هرکس نظریې ته اړتیا لري او نظریه د سرېتوب هغه بنیادي عنصر دے چي بشر د انسانیت تر معراجه رسوي- علم خو فقط د خارجي واقعیت په ترڅ کي معلومات ورکوي او فلسفه د هغو کُلیاتو سره اړه لري کوم چي د علم تر دایره دباندي وي- مګر نظریه د علم، اعتقاد او فلسفې ټولو پر بنیاد د قام یو ټولنیز سوچ ته ویَل کیږي- ځکه نظریه زموږ اجتماعي او فکري حدونه ټاکي- دنظریې پر بنیاد اول خو د خپلي ټولني پوره پوره علم او بیا د زمانې سره په ګام د تلو په حقله جهان بیني ضروري ده- د خپلو حالاتو او مسئلو په حقله د تقلید او تنقید آزادانه جاج اخستل او بیا تر هدفه د رسېدو په اړه د مسئلو د حل د لارې تعیئن کول دي- که د چا د فکر کولو مراندي د نظریې تر حد وتلي وي نو به پر" کتنه" د فکر کولو بغېر څۀ کتلای نه شي- دخپلي ژبي پر حرکت د سوچ کولو بغېر به څه ویلای نه شي- په لوبو کي به تر لوبو زیات د خپلو پښو او لاسونو پرحرکتونو سوچ کوي لګیا وي- د دغسي منطق د پېروکارانو څخه به نو بیا هرکار

پاته وي، د سړیتوب پر ځای به یې لېونتوب په برخه وي-

پښتانهٔ خو تر اوسه تش د خپلو مصیبتونو شکایتونه کوي لګیا دي- نه یې په ټینګ یقین سره ه د امنیت هلي ځلي کړي دي او نه د خپلو ماشومانو د تعلیم او تربیت په اړه سنجیده ښکاري- دوی نه خو خپل پاشلے قوت په شعوري توګه سره یوځای کړے دے چي د کُل مظهر وګرځي اونهٔ یې کله د خپلي معاشرې د نفسیاتي او معاشي رَوَیو په سائنسي توګه جاج اخستے دے چي غوره بدلون ته یې تیار کړي- کله کله خو داسي برېښي چي دوی نهٔ په صحي معنا دخپلي ټولني د نفسیاتي دړد اِحساس کولای شي او نه له دغي تودې وسپني څخه د مستقبل دپاره دځهٔ تعمیر اراده لري- دوی خو په دې اړه تر اوسه د پوهانو وتنقید ته هم تیار نه دي، د قام د دړد دوا خو ډېره بېله خبره ده- که چیري بیا څوك شعور لري او د ټولني په مرض پوهـ دي نو له ډاره څهٔ ویَلای نهٔ شي ولي چي دلته خو د هرچا په لاس کي توپك دے- همدغه نقطه ده چیري چي د نظریې ضرورت محسوسیږي او په سنجیدګۍ سره د ټولني د اصلاح او پرمختګ په هلو ځلو پیل کول دي- د معاشرتي اصلاح عَملي کار ترهغه وخته نه شي کېدای تر څو چي په عِلمي توګه دا فېصله ونه شي چي هدف څه دے او تر هغهٔ د رسېدو لاري کومي دي؟ ځکه خو حمیدبابا[8] وایي چي:

محبت په قېل و قال نه شي په حال شي
څوك به څو په رېا ځغلي د برېښنا

که هدف د نړۍ د نورو قامونو په ګام د ترقۍ سفر دے نو بيا پکار دا دهٔ چي خلګ خپل "يقين" محکم وساتي او پر خپله عقيده ټينګ اوسي- خپل داخلي او خاريجي "طاقت" د امن په هلو ځلو خرڅ کړي او دقام دبقا په هلو ځلوکي خپل معاش ته هغومره اهميت ورکړي کوم چي په اوس وخت کي ضروري دے- ورسره ورسره د "تعليم" رڼا تر هره کوره رسَول خپله قامي زمه واري وګڼي- دانشوران بايد يو داسي فکر رامخته کړي چي د قام د دود او مذهب دساتني سره سره دسائنسي علومو لاري هم خلاصي کړي- دفکرټال دسړيتوب دفلسفې کربني لټوي، او هرڅا لره په دې لړ کي دسوچ او فکر بلنه ورکوي- تاريخ ګوا دے چي ليکوالو د نړۍ په لويو لويو سياسي تحريکونو او سماجي انقلابونو کي خپل رول لوبولے دے، ولي چي لفظونه '**خلګ**' ويښَواى شي، لښکري ماتواى شي او قامونه جوړواى شي، خو شرط يې دا دے چي ليکوال يې ځلاند فکر او د نظر سمه زاويه ولري-

# اخځليك


1- امير حمزه شينوارى، 'دحمزه شينواري کليات' يونيورسټۍ بُك ايجنسۍ خيبر بازار پېښور، خيبر پښتونخوا ،۲۰۱۰

2- ول ډيورانټ ، ( The Story of philosophy: The lives and openions of the greater philosophers) اردو ترجمه سيد عابد علي عابد ، فکشن

هاؤس مزنګ روډ لاهور، ۲۰۱۰،

3- برائن مېګي ، ( The Story of philosophy ) ډارلنګ کائنډسټلي Darling Kindstley Book، لندن، ۲۰۰۱

4- احمد شاه بابا، 'دلوی احمد شاه بابا دېوان' (دېوانِ هرا) تر تيب د معصوم هوتك، صحاف نشرياتي موسسه ، کاسي روډ کوټه ، ۲۰۰۹

5 - استاد ګل باچا الفت، 'دالفت نثري کليات' د محمد اسماعيل بون په زيار، اسد دانش مطبعه ، کلوله پُشته ، ملي مارکېټ، کابل ، ۲۰۰۸

6 - مانفرېډ اېي ، (History and Civilization of the World) تاريخ و تهذيبِ عالم، ژباړن اميرالدين تقي حېدر، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶

7- کارلس لېمنټ، (The philosophy of Humanism) يعني د انسان دوستی فلسفه ، اردو ترجمه امجد علي بهټي، فکشن، مزنګ روډ لاهور، ۲۰۰۷،

8 - عبدالحميد مومند، 'دعبدالحميد مومند کليات' دانش خپرندويه ټولنه ، پېښور ، سريزه د محمد آصف صميم ، ۲۰۰۷

❊❊❊

# خلک

# خلک

"خلک"مطلب هغه ټول وګړي کوم چې د ټولنې په جوړښت کې برخه لري- یعنې عام خلک چې "عوام" هم بلل کیږي او د ټولنې اصل طاقت دي- په هره ټولنه کې د خلکوخاموش اکثریت تر ډېره حده د فطرت تر قانون لاندې ژوند کوي، د خپل ماحول نه اثرات اخلي او په خپل تاریخ فخر کوي- خلک ډېر برداشت لري او پر ډېر څۀ خاموشه وي خو دغه خاموشي یې د مړامو اوبو په شان د ډېرو ښاغلو د ډوبَولو پټ صلاحیت لري- د نړۍ ډېر باچهان په بېلا بېلو زمانو کښې د خلکو په مرسته د لوړو مرتبو خاوندان شول او بیا یې اولادونه د خلکو د استحصال په وجه د وخت په څپو کښې وبهېدل ورك شول- په نوي پېر کښې هم ډېر سیاسي ګوندونه د خلکو پرنامه جوړشول، اقتدار ته ورسېدل او بیا د خلکو په قوت

له منځه ولاړل- خلګ په اتفاق د هري بلا مخه نیوے شي خو نفاق یې المیه ده- تاریخ ګوا دے چي نفاق په هر پېر کي د پښتنو ملا ورماته کړې ده او همدغه یې لویه کمزوري ده ځکه خو درویش[1] وایي

په دې خلګو کي پخوا وه او اوس هم شته
د نفـــاق لـویـــه بـــلا وه او اوس هـــم شتـــه

له همدغو خلګو نه مخکښ راوزي چي له بشریته د انسانیت په خوا د "سرېتوب" په لوی سفر کي د دوی لارښوونه کوي- په قرآنِ حکیم کي د خلګو دپاره دوه بېل بېل لفظونه استعمال شوي دي، یو بشر او بل انسان- چیري چیري چي لفظ "بشر" استعمال شوے دے، هلته یې مطلب د نوع په حېث دے چي پر ځمکه د څلور پښو له حېوان څخه بېل پر دوو پښو ولاړ یو وجود دے- لفظ " انسان" هلته استعمال شوے دے چیري چي یې مطلب په مخلوقاتو کي یو بلند پایه او اعلیٰ مقام څیز دے- ځکه نو د خلګو د وجود دوې سطحي دي، بشر یې هغه طبیعي سطح ده چي "موجود" ده او انسان هغه معنوي سطح ده چي "مقصود" ده- هرکس چي کله ځان وپېژني او د ننګ مېدان ته راشي نو بیا سړے ګڼل کیږي او په ټولنه کي د شمېر شي- دقام پېژندني په هلو ځلو شي، د مذهب پالنه کوي او د

انسانیت ګڼ قدرونه خپلول ځان لره افتخار ګڼي- مرګ او ژوند د خدای په لاس بولي او پر ټول کائینات یې قدرت او حاکمیت تسلیموي- همدغه کس دسړیتوب په ګچه پوره دے کنې په ټولنه کي خو سرونه ډېر دي سړي کم شته، لکه چي خوشحال بابا وایي:

چي دستار تړي هزار دي د دستار سړي په شماردي

په ټولنه کي اصل اهمیت د همدغو خلګو وي چي په شمار کم لاکن په خپلو ذمه واریو آ ګاه وي- ویښ زلمي له همدغو خلګو راپاځي او ټولني ته د پرمختګ همت ورکوي- د خلګو څخه د علم او هنر په رڼا پوهان هم جوړیږي چي د دوی د نظر زاویه سموي او د ځلاند سبا زېرے هم ورکوي-

په روایتي مذهبي ټولنه کي زیاتره خلګ د کورنیو چارو او معاشي مسئلو سره مخامخ وي ځکه یې فکر هم تر دغو چارو پوري محدود وي- کله چي لږ اوزګار شي او یا څهٔ نه څه تعلیم وکړي نو بیا فکر کوي چي فطرت څهٔ دے؟ له څهٔ جوړ دے؟ چاجوړکړے دے؟ انسان څهٔ دے؟ ذهن یې له څهٔ جوړ دے؟ احساس څنګه پکښې پیدا کیږي؟ شعور څهٔ ته ویل کیږي؟ او دغه شان نور ډېر سوالونه هره ورځ دخلګو په ذهنونوکي راپاځي- دنوي دنیا ماده پرستان[2] د دغو ټولو سوالونو ځواب په "ماده" کيویني، انسان ورته بس یو مشین ښکاري، حالانکي داسي نهٔ ده- موږ چي د کومي خارجي دنیا

مشاهده کوو او کوم څیزونه چي پکښې وینو لګیا یو واقعي هم دا ټوله د مادې بېلا بېل شکلونه دي- لمر سپوږمۍ، ستوري، وربځ، غرونه، دښتونه، هوا او سمندر واړه د مادې نه جوړ دي او د مادې د زرو بېلا بېل ترتیبونه د دغو څیزونو د بېلا بېلو شکلونو موجب ګرځي- خو د انسان داخلي دنیا، ددهٔ شعور او احساس پخپله د مابعدالطبعیات تصور راپاڅوي- دې دنیا لره د یوهٔ خالق وجود تسلیم کوي اوغاړه ورته ایږدي- بلي خواته "دجبریت فلسفه" هم د ټولو خاریجي او دا خلي کېفیاتو بشپړ وضاحت نهٔ شي کولای- ماده پرستان باید چي له اوله سره لا ابدي ناکامي وَمني ولي چي عقلاً هم ذهن قادرنه دے چي دکائینات په هر څهٔ دي وپوهیږي- څومره څومره چي ذهن پوهیږي هغومره د خپلي لاعلمي احساس ورته کیږي- هره پوهه انسان په نوو نوو وسوسو او شکوکو بوخت کړي- زهٔ چي کله د مشین په توګه د خپل جسم جاج اخلم نو هر څیز راته منطقي ښکاري ولي چي جسم واقعي هم مادي څیزدے او د مادې واړه مېکانکي اصولونه ورباندي صادق ښکاري- خو کله چي د خپل غېر مادي روح، شعور او احساس په اړه فکر وکړم نو بیا مي یو مشیني او بې خدایه کائینات یقیناً تر برداشت ډېر بهر شي-

په منطقي توګه هم هرکس په اصل کي پر دوو برخو وېشلے ښکاري- یوه برخه یې بدن دے او بله روح- بدن یې مادي څیز دے چي مشاهده یې په آساني سره پر مشیني اصولونو کېدای شي- خو روح یې هغه لازمي داخلي اوغېرمادي جوهر دے چي دے نه یوازي په ژوندے دے بلکي عمل یې په همدغه برخه پوري اړه لري- بدن یې واقعي هم د یوهٔ پیچیده مشین په شان له بېلا بېلو اندامونو جوړ دے او د مشیني پرزو په شان یې د دغو اندامونو کار هم جدا جدا دے- د خوراك څنباك نظام یې بېل دے، د سا اخستلو جدا نظام لري، دګرځېدو او تلو راتلو نظام یې په ظاهره بلکل مشین غوندي ښکاري- بلي خوا ته د انسان یقین، آزاده اراده، تخلیقي قوت، هیله، خواهش، عزم، مینه، درد، احساس، احتیاط، انتخاب، اختیار او نور لوی شمېر، خصلتتونه، دهٔ ته له مشین څخه بېخي بېل حېثیت ورکوي- همدغه شان نور ډېر مثالونه شته چي د انسان د مادي او غېر مادي دواړو اړخونه بشپړ وضاحت په کیږي- لکه چي په څرګندون نمبر٣ کي د "پائي" په توګه څرګند شوے دے، بشر بېله څهٔ شکه پر دوو برخو تقسیم دے- د دهٔ بدن په ښکاره یومادي څیز دے چي پر مشیني اصولونو چلیږي او کار هماغسي کوي لکه یو مشین، خو د روح یې داسي نهٔ دے ځکه غېرمادي ګڼل کیږي-

"جـبريت" تر ټولو زړه فلسفه ده او ماده پرستي د دې دور نوے سوچ- روحانيت قديم ترين دين دے چي تر ډېره حده جبريت ته قريب ښکاري- نۀ ماده پرستي يوازينۍ عالمي فلسفه ده چي حتمي وګڼل شي او نۀ د عقيدې پر اساس د هري مادي ترقۍ څخه د انکار رويه د منلو وړده-




خرګندون نمبر۳ د بشر مادي او غېرمادي برخي

خلګ له ازله پرخپل ذات، ټولنه، ماحول او فطرت فکر کوي لګيا وي- بېلا بېل عوامل يې داسي کولو ته مجبوره ساتي-

بېلي غميزي يې د منفي او مثبت سوچ موجب ګرځي- چونکي کائينات ددوی تر سوچ او فکر اوچت ښکاري ځکه نو اکثره ورباندي غورکوي لګيا وي او دتخليق په اړه يې بېلي نظريئې وړاندي کوي- دمادې دهئيت او دکائينات دتخليق په اړه دنړۍ دخلګو او پوهانو د نظر زاويه يوه نۀ ده بلکي درې بېلي ډلي پکښې ليدل کيږي- يوه ډله کائينات د خالقِ حقيقي تخليق بولي او په عالم کښي د هر څۀ جوړولو اختيار هم د دغه پاك ذات ګڼي- بله ډله دا خيال کوي چي دکائينات نۀ خو ابتدا شته او نۀ يې انتها، ماده قديم ترين شے ده خالق چونکي د يوۀ خاص قانون په ذريعه ورته څه خاص شکل ورکړ ځکه يې د تخليق محرك ګڼل کيږي- دوی عقيده لري چي د کائينات واړه څيزونه د "علت ومعلول" ترقانون لاندي دي ځکه نوخالق ته دهر څيز په جوړولو کښې د دخل ورکولو ضرورت نشته- دريېمه ډله د ماده پرستانو ده چي د تخليق په اړه د څۀ محرك حاجت هم نۀ تسليمَوي- دوي دائمي حرکت په کائينات کښې د بېلا بېلو څيزونو د بېلا بېلو شکلونو موجب ګڼي- په دغه اړه په نړۍ کښې نوري ډلي هم شته چي بېلا بېلي نظريې لري او فلسفيانه بحثونه ورباندي کېدای شي، خو زموږ عقيده دا ده چي خدای د ځمکي تخليق وکړ، ژوند يې پکښې پېدا کړ او د خلګو د استوګي

دپاره يې د هوا، اوبو او نورو ضروري څيزونو انتظام هم پکښې وکړ- ورسره ورسره يې نور مخلوقات وزيږول ځکه نو انساني تاريخ د حياتياتو يوه وړه او ډېره مهمه برخه بلل کيږي-

د تېر تاريخ مطالعه دا څرګندوي چي کۀ څۀ هم خلګ په خپلو کړو کښې ځای پر ځای مجبوره ښکاري خو تر ډېره حده اختيار هم لري چي پخپله آزاده اراده او همت نوي نوي لاري ولټوي- نوي تخليقونه وکړي اوخپله ځمکه د ښه ژوندون او استوګي قابله کړي- خو تر دغه مرام لمخه خلګو ته د بقا مسئله ورپېښه وي- مجبوره وي چي د بقاهلي ځلي تر هر څۀ مُهمي وګڼي ولي چي د فطرت قانون دځان ژغورني پېوسته جدوجهد دے ځکه خلګ هم له ازله د نورو مخلوقاتو سره سم د بقا په هلو ځلو ښکاري- د زمانې په اوږدوکي خلګ کله د نورو بلاوو سره ښکر په ښکر پاته شوي دي او کله بيا په خپلو کي هم د خوراك او استوګي په لانجو سره اخته ليدل شوي دي- له ازله خلګ زياتره د يوې نه يوې وېري تر سايه لاندي اوسيږي او تر مړيني د بقا په پېوسته هلوځلو وي- که څه هم دا هلي ځلي د انسان له جبلتونو څخه دي خو دبقا جبلت د غلا اوجنسي خواهشونو په شان جُرم نۀ دے، بلکي يو اعلیٰ بشري خاصيت دے چي په تاريخ کي د انساني نسل د بقا ضامن پاته

شوے دے- د قام په حيث پښتانۀ له ازله د بقا په هلو ځلو دي- تېر تاريخ يې د قام ژغورني او وطن پالني يومسلسل جدوجهد دے- داسي برېښي چي د دوی په برخه نورڅۀ نشته چي په يويشتمه پېړۍ کښې لاهم د بقا په همدغو هلوځلو دي، ځکه خو جهاني[3] وايي:

دې وطن کي له نسيمـــه د ګلونو بستر هېر دے
دخزان وحشي بادونه چي راځي پرېږده چي راسي

بلي خواته په بشري تاريخ[4] کښې داسي بېحسابه داستانونه دي چي خلګو د خپل نوع نسلونه فنا کړي دي او د ځمکي پر سر يې په وارو وارو ترکلونو فساد ته دوام ورکړے دے - چونکي په خلګو کښې ډېر وحشيانه حېواني خاصيتونه له ازله موجود دي ځکه نو ځای او بېځايه خونرېزي هم ترې کيږي- تردې حده چي کله کله يو دبل وقتل ته د لېونو په شان چمتو ښکاري- فوځونه يې خطرناکي وسلې ځکه جوړوي چي د بشر وژني بازار ګرم په وساتي- کوم خلګ چي اوس د انسان دوستی او انساني حقوقو دعوېداره دي، د هغوی تاريخ د انسانيت د دُښمنۍ ډك دے- امريکا د جاپان پر هېروشيما او ناګاساکي ښارونو اېټمي بمونه وغورځول- په لکونو انسانان پکې ووژل شول او په زرګونو لا تر اوسه ددغي پېښې له

اثراتو محفوظ نه دي- اوس هم ځيني ماشومان د مېندو په شکم کي نه پايي او يا بيا ناروغه زيږي- روس او امريکا دواړو پرافغانانو د خپلو نوو نوو وسلو تجربې وکړې چي په نتيجه کي يې په لکونو انسانان له منځه ولاړل- خلګو په تېر تاريخ کي په وارو وارو د خپل نوع دومره کسان وژلي دي چي د ځمکي پر سر يې په هيڅ قسم درندګانو کي مثال نشته- د زيات شمېر ايجادونو موخه يې هم د خپل نسل د وژني اسباب جمع کول ښکاري- کله کله خوداسي برېښي چي دُښمني او خونرېزي له ازله د خلګو په برخه دي او د دغو جبلتونو د تسکين دپاره يو دبل ويني تويَوي لګيا دي- تاريخ د زور او زورَور ډېري دورې ليدلي دي خو هر زورَور تر بلندۍ وروسته د پستۍ سره هم مخامخ شوے دے، ځکه خو کاظم خان[5] شېدا وايي چي:

ما ليدلے دے نشېب په هر فراز کي
اعتماد به شېدا څۀ رنګ په فراز کړم


خلګ داسي ولي کوي؟ ولي د غوره بدلون په اړه د مثبت ردِعمل مظاهره نه کوي؟- د دغو سوالونو ځواب په څو خاصو عواملو پوري اړه لري کوم چي دوی په دغسي کولو مجبوره ساتي- د "جبروقدر" پر دغه مسئله هم د خلګو رايه يوه نه ده بلکي درې

واضح ډلي ليدل کيږي[6] - يوه ډله دا عقيده لري چي خلګ خپله هيڅ هم نۀ شي کولای، هر څۀ چي کيږي خدای يې کوي- بله ډله خلګ د خپلو کړو پخپله ذمه واره ګڼي او دا يقين لري چي انسان په خپلو هلوځلو د دنيا هرکار تر سره کولای شي- دريمه ډله هغه ده چي انسان مجبور او هم قادر ګڼي- د دوی عقيده دا ده چي هرکس ترڅۀ حده مجبور ضروردے خو پر ډېر څۀ قدرت هم لري- مجبورهلته ښکاري چيري چي د څۀ کولو اسباب ددۀ تر قدرت دباندي وي خو بياهم د اسبابو دتخليق ذمه واري ددۀ پرخپله غاړه ده- کوم عوامل چي خلګ مجبوره ساتي په هغو کښې فطرت، تاريخ، ماحول او د هر کس خپل ذات يا نفس داسي عوامل دي چي خلګ په پستئ کښي شکېل ساتي- کله کله خو عقليت او عېنيت هم خلګ په تشکك کي مبتلا کړي او عقل پخله هم يو نامکمل اوزار ثابت شي- هلته بيا څۀ کارونه په جبلت تر عقل په ښه توګه تر سره کېدای شي ځکه خو زياتره خلګ مينه تر ښۀ سوچ مقدمه ګڼي- جبلت چي کوم کس په وادۀ کولو مجبوره کاندي عقليت هماغه کس ته دطلاق ترغيب ورکوي ځکه خو په مغربي هېوادونو کي د طلاق شرح تر پښتني ټولنه ډېره زياته ده-

خلګ د غوره بدلون په اړه آزاد نۀ دي- لکه چي نوموړے

ایراني پوهاند علي شریعتي[7] د "چهار زندان" تر عنوان لاندي لیکي چي خلګ په څلورو زندانونو کي قېد دي- ولي چي دوی یوې خواته دخپل ځان یا خپل ذات یا نفس ترداخلي جبرلاندي ژوند کوي لګیا وي او بلي خوا ته د بېلا بېلو خاریجي عواملو تر اثر لاندي وي- کله د فطرت تر جبر لاندي وي ، کله د تاریخ جبر ورباندي توپل شوے وي او کله بیا دماحول ترجبر لاندي ژوند کوي لګیا وي، حالانکي د "جبروقدر" فلسفه دوی ته د مجبورۍ سره سره پر ډېر څۀ دقدرت لرلو درس هم ورکوي- د جبریت دغه فلسفه که څۀ هم تر ټولو زړه فلسفه ده خو په نړۍ کښي یې لاتر اوسه اثرات شته- لکه چي په څرګندون نمبر۴ کي ښوول شوي دي ؛ فطرت، ماحول، تاریخ او نفس غوندي جبري عوامل اوس هم د یو شمېر خلګو د ژوندانۀ ځینې اړخونه ګړزن ساتي او د ټولني د ښېګړي په لار کي خنډ دي- بلي خواته داسي خلګ شته چي بیا هم له بشریته دانسانیت په خوا د سړیتوب سفر جاري ساتي او د تهذیبي قدرونو دساتني هلوځلو ته دوام ورکوي- دوی له دغو منفي جبري بندیزونو څخه په هره توګه د شعور په رڼا د وتلو په هلو ځلو دي-

**فطرت** هرکله خلګو ته د سوچ او فکر دعوت ورکوي، د خلګو پر رَوَیو لوی شمېر اثرات پرېږدي او د وجود دکُلِیت احساس ورکوي-




خرګندون نمبر۲ د جبریت دفلسفي عوامل

آسمان، لمر، سپوږمۍ، ستوري، سمندر، غرونه، ځنګلونه کۀ څۀ هم ځیني خلګو ته دا احساس ورکوي چي د کائنات په وسعتونو کښي د بشرڅۀ خاص حېثیت نشته خو ځیني نورخلک ترې مثبت اثرات هم اخلي او له فطري ښائسته د ژوندانۀ بېلابېل رنګونه ټولوي، ادبي

تخليقونه تري کوي، آرټس او سائنس په ژوندي ساتي- ځوک فطرت ته د حېرت ګوته په غاښ ولاړ وي، ځوک غوروفکر ورباندي کوي او د انسان په ګټه يې د راوستو په هلو ځلو وي- غرض دا چي د فطرت په وسعتونوکښي د ژوندانۀ بې شمېره رنګونه دي چي خلګ ډَول ډَول اثرات ترې اخلي، ځوک منفي او ځوک مثبت- ځوک مصوري په کوي او ځوک شاعري، ځوک سائنسي تجربات ترې اخلي او ځوک عسکري ګټي- غوره به دا وي چي خلګ له فطرته مثبت اثرات واخلي او د انسانيت په ګټه يې راولي-

**تاريخ** هم د فطرت په شان د ژوندانۀ پر بېلا بېلو اړخونو مثبت او منفي اثرات پرېږدي- ويښ خلګ له تاريخه سبق اخلي او منفي اثرات يې په شعوري توګه د زائلېدو په هلو ځلو وي- مشهور تاريخ ليکونکے او فلسفي وِل ډيورانټ[8] ليکي چي" زۀ ځکه د تاريخ مطالعه کوم چي ځان په دې پوهـ کړم چي انسان څۀ دے؟ ولې چي د دغه سوال ځواب سائنس هم نۀ لري- چنانچي تاريخ د زمانې د واقعاتو د مطالعې په ترڅ کښې واضح فلسفيانه تناظر لري- ځکه نو زۀ اجازت غواړم  چي ځان ته يو تاريخ ليکونکے فلسفي ووايم"- څرګنده ده چي د تاريخ د فلسفې سره ټينګ تړون شته- پخواني جبلتونه کله کله واپس هم راګرځي ځکه نو ځينو تاريخ ليکونکو تاريخ د خلګو د خطاګانو او جرمونو ريکارډ بللے دے، خو حقيقت داسي نه دے- د تاريخ پر پاڼو د نبيانو، فلسفيانو، سائنسدانانو،

ادیبانو، شاعرانو او مخکښانو د بصیرت او ذهانت ګڼ شمېر ثبوتونه دي چي خلګ او ټولني ترې اثرات اخلي-

**ماحول** درېیم مُهم عنصر دے چي ګڼ شمېرخلګ اثر ترې اخلي- د ماحول جبر ته "عمراني جبر" هم ویل کیږي- د فکر یو لوی مکتب دا هم دے چي کس یا فرد پخپله هیڅ هم نه دے بلکي اساسي اهمیت یې د عمراني یا اجتماعي نظام دے- فرد خو فقط د دغه اجتماعي نظام عکس دے او د دۀ ټول خاصیتونه د اجتماعي ماحول نتیجه ده- په دغه نظر افغاني ټولنه یوه روایتي او مذهبي ټولنه ده چي وګړي یې له لویه سره ترخپلو قبایلي، مذهبي او ټولنیزو قدرونو لاندي ژوند کوي لګیا دي- د دوی د ښو او بدو خپل معیار دے ولي چي دوی په خپل ماحول کښې همدغه څۀ خپل کړي دي- په تېرو درېرشو کلونو کښي پېوسته بهرنیو مداخلتونو پر پښتني ټولنه ډېرمثبت او منفي اثرات وکړل- د دوی ماحول هغه پاته نۀ شو کوم چي له پخوا لیدل کېدۀ- پخوا خو د دوی ژوند بېخي ساده ؤ او وګړي یې ډېرخواري کښې وو ځکه یې ضرورتونه په لږ څۀ هم پوره کېدل- دوی د نړۍ له تهذیبي، ساینسي، سماجي او فکري بدلونونو څخه ناخبره په خپلو دنګو غرونو کښې آزاد اوسېدل- په دغه ماحول کښې دوی د آزادۍ له اهمیته خبر وو خو د تعلیم او ټېکنالوژۍ په اړه یې د څۀ بدلون په خوا هڅه نۀ وه کړې- تر پېوسته بهرنیو مداخلتونو وروسته اوس افغاني ټولني ته پېښه داده چي یوې خواته د مغرب تر معاشي، تهذیبي، فکري او سماجي اثر لاندي د انتشار ښکار ده او بلي خواته یې په خپلو کښې

هم د تعليميافته او غېر تعليميافته وګړو ترمنځ د نظريو توپير دے چي د غوره بدلون لار يې نيولې ده-

د قامونو په تاريخ کښې حوادث هم مهم رول لري- کله کله لويي غميزي د انقلابونو سبب شي او کله بيا لوی لوی قامونه د غميزو په څپو کښې وبهيږي- دکال ۱۹۷۹ د دسمبر په مياشت کښې روسي فوجيان افغانستان ته را داخل شول- دا د افغاني تاريخ تر ټولو غټه حادثه وه- پر افغاني ټولنه د دغي شخړي ګڼ شمېر سياسي، معاشي، سماجي، معاشرتي او نفسياتي اثرات وشول- افغانانو هر څه ته شاکړه او د وطن د بقا په جنګ کښي د نړې د يوۀ سترعسکري طاقت سره ښکر په ښکر شول- تعليم، صحت او تجارت هرڅۀ شاته پاته شول، يوازي د بقا جنګ ۇ چي د دوی ورته مخه شوه- د دوی هلي ځلي بېځايه نۀ وې ځکه يې په نتيجه کښې نۀ يوازي دافغانستان د خپلواکۍ پالنه وشوه بلکي په کال ۱۹۹۲ عيسوي کښې شوروي اتحاد پخپله هم مات شو- ازبکستان، تاجکستان، کرغزستان، قازکستان، آذربائيجان، يوکرېن، بېلاروس او جارجيا ټول ترې آزاد شول- د افغانانو جدوجهد د نړۍ نور قامونه هم د روس څخه آزاد کړل- خو له بده مرغه بيا په کال ۲۰۰۱ زېږده کي د ستمبر د مياشتي په يوولسمه نېټه د نيويارك ښار تجارتي غبرګولي ميناروته او د امريکا د پنټاګان عمارت د عرب جهادي تنظيم القاعده له خوا په جهازونو وَويشتل شول- دا پېښه د يوۀ بل ناګهاني آفت په توګه پر افغانانو را پرېوته- امريکايانو د القاعده مشراُسامه بن لادن په دغه تور ونيو- اسامه


بن لادن چونکي هغه وخت په افغانستان کښې ؤ ځکه امریکا پر افغانستان د حملې جواز وموند او د طالبانو واك يې په هېواد کښې ور ختم کړ- دغو حوادثو په هېواد کښې نوي نوي مسئلې را وزېږولې چې تر اوسه لا دوام لري-

د نړۍ يو شمېر دانشوران د دغو جبري عواملو له حصاره د وتلو په هلو ځلو نوي نوي فلسفې رامخته کوي لګيا دي، خو له بده مرغه په دې سيمه کښي زيات شمېر خلګ لا تر اوسه د دغو عواملو دمنفي بنديزونو تر اثرلاندي ژوند کوي لګيا دي- کۀ څۀ هم دغه جبري عوامل خارېجي دي چي خلګ د علم او شعور په ذريعه ترې ټولنه بچ ساتلای شي خو يو بل منفي څيز داسي هم شته چي دټولني په هر کس کي وجود لري او فرد په دې مجبوره ساتي چي د انسانيت له لاري يې چپ کړي- دغه جبر چي د "ذات" جبر بلل کيږي له مخيزو څلورو نه ځکه بېل ښکاري چي دا د بشر داخلي جبر دے او آزادي ترې په ځان پېژندنه، خلوص، ايثار، عشق او جنون ممکنه ده- ځيني پوهان د ذات جبر د فطرت تر جبر لاندي بولي ځکه يې د بېل بحث مستحق نه ګڼي- دجبريت دغه فلسفه يوه ډېره زړه فلسفه ده- دهندوايزم او عيسايي کېتهوليك عقيدې بنياد د فطرت پر همدغه جبري فلسفه ؤ- د دغي نظريې منونکي دا عقيده لري چي هرڅۀ د قدرت له خوا د انسان تر تخليق لمخه مُتعين شوي دي اوهمدغه يې په فطرت کښي دي[9]- د انسان اراده، انتخاب اوکوښښ د دۀ په څۀ کار نۀ ورځي- معنا دا چي انسان په هماغه

څه مجبور دے کوم چي د دۀ په سرښت کي دي- دغه نظریه د انسان د آزادي اِرادې، د انتخاب کولو د صلاحیت او د دۀ د سعي نفي کوي-

حق څۀ دے؟ آیا حواس، علم او عقل و ژوندانۀ ته څۀ معنا هم ورکوي او که محض د جبلت متضاد دي- د دغه سوال جواب هم دغومره لوی پېچومے دے لکه پخپله د انسانیت سوال- ډېر اوږده فلسفیانه بحثونه ورباندي شوي دي چي تفصیل یې د دې کتاب موخه نۀ ده ځکه به پر دې اکتفا وکړو چي جبلت که څۀ هم په قبایلي ژوند کي سودمند دے خو دا زمانه د علم، عقل اوحواسو زمانه ده- جبلت ځان لره یوحقیقت دے ولي چي که عقل د خواهش د تسکین په اړه منطقي جواز پېش نۀ کړي نو خواهش ته له عقله د بغاوت کولو حق شته- په بشر کي د انسانیت تر معنوي سطحي د رسېدو بې شمېره امکانات موجود دي چي عقل ورته عاجز دے- عقل کله کله د عزم غلام هم ښکاري ولي چي د عزم په اړه، دبقاپه لړ کي او دخدای د جود په مناسبت انساني عقل ناقص او بِلکل سطحي معلومیږي- خو له دې باید چي دا معنا وا نۀ خستۀ شي چي عقل د انسانیت په اړه هیڅ نۀ دے - عقلیت ځان لره یوه غوره فلسفه ضرور ده خو هیڅوك عقلِ کل نۀ دے اونۀ هره مسئله یوازي په عقل حل کېدای شي، ځکه خلګ عقیده یا یقین د نظریې ترټولو مزے غړے ګڼي- د جبریت د عواملو(فطرت، ماحول، تاریخ او نفس یاذات) له حِصاره د وتو تدبیر په عقیده، عقل، علم او حواسو

کېدای شي- همدغه د سړیتوب په حقله هغه غوره انساني ارزښتونه ګڼل کیږي چي "دجبروقدر فلسفه" ورباندي تشکیل شوي ده- په څرګندون نمبر۵ کي همدغه څلورعوامل څرګند شوي دي چي بشر د فطرت، ماحول، تاریخ او نفس تر جبر بهر را وباسي-




څرګندون نمبر ۵ د جبروقدر د فلسفي عوامل

لکه چي وړاندي یې ذکر وشو "عقل" په نوو نوو تجربو کښې د زړو جبلتونو اولني ساده‌ګي او د اسلافو په کړو آماده‌ګي په شعوري توګه د بدلېدو په هلو ځلو ښکاري- لرغونې اخلاقي نظام او دژوندانهٔ

پاخهٔ پاخهٔ اصولونه د مصنوعیت په اوبو مینځي لګیا دے- داسي بریښي چي علم څومره زیاتیږي او عقلیت وده کوي هغومره په ټولنه کي مفاد پرستي او فراډ زیاتیږي- که جبریت سمه لارنهٔ ده، په عقلیت د خلګو ټولي مسئلې نهٔ شي حل کېدای او علم یوازي د خاریجي وقوعیت پته ورکوي نو بیا څهٔ کول پکار دي؟ حقیقت څهٔ دے؟ "دفکرټال" په همدغه شان سوالونو فکردے- د دغو سوالونو د ځوابونو تلاش دے- فکر او تدبُر په ټولنه کي هله غوره بدلون راوستلای شي چي د انسان داخلي او خاریجي عوامل واړه په نظر کي وساتل شي-

د انسان داخلي قوت په اصل کي د دهٔ په "یقین" یا عقیده اړه لري- دغه یقین په اصل کي هغه احساس را پاڅوي چي د کَس په داخل کي د ډېر څهٔ کولو صلاحیت وده په کوي- که "یقین" نهٔ وي او د" احساس" توښه وجود ونهٔ لري نو بیا د عقل او علم په رڼا هم د سړیتوب اوږد سفر نهٔ شي تر سره کېدای- ځکه نو"حقیقت" یو مربوط ټولنیز احساس دے چي په عقیده، عقل او علم یو بشر د سړیتوب تر معنوي سطحي پوري رسولای شي-

اتلسمه پېړۍ دفطرت پرستۍ دور ؤ- فطرت پرستي انسان دنورو مادي څیزونو په شان د قدرت یو داسي مخلوق ګڼي چي د اِرتقایي عمل په نتیجه کي تر نورو ژوندو څیزونو زیات ترقي یافته دے- د دغه فکر خاوندان انسان د فطرت په مقرره دائره کښي قېد ساتي چي ژوند خو لري مګر د ځان پېژندني هیڅ ګنجایش پکښي

نشته- دا فلسفه په انسان کي د کوښښ او سعي ګنجايش نۀ پرېږدي ولي چي د دغه فکر په ترڅ کي انسان بس هماغه څۀ کولای شي د کوم چي په دۀ کښي فطرتي صلاحيت شته-

نولسمه پېړۍ بيا د ماده پرستۍ پېر ؤ- ماده پرستي هم انسان د نورو مادي څيزونو په شان د ماديت په دائره کي قېد ساتي- ماده پرستان انسان يو مادي وجود ګڼي او د روحاني ترقۍ هيڅ ګنجايش هم پکښي نۀ پرېږدي- ددوی په نظر انسان تر طبيعي سطح لوړ نه شي تلای ولي چي د انسان معنوي سطحي لره د مابعد الطبيعات عقيده ضروري ده او دغه عقيده په ماده پرستانو کي نشته- د بشپ بارکلې په فکر "عينيت" يوه مهمه فلسفه وه چي د ماده پرستۍ نفي يې کوله- د هغه په فکر چونکي د مادې خپل حقيقت په مشاهده پوري اړه لري او تر مشاهدې وروسته چي کوم احساس را پېداکيږي په هماغه د مادې پېژنګلونه کيږي ځکه نو بې له څۀ مشاهدې د مادې وجود نشي منل کېدای[10]- يعني که مشاهده نۀ وي نو ماده هم نشته- د دغه دور يو بل فلاسفر کانټ د احساس په اړه نور وضاحت وکړ چي په احساساتو کښې څۀ فطري ترتيب نۀ وي- د احساس په نتيجه کي د راپاڅېدلو خيالونو په ترتيب کي اصل جوهر ذهن دے چي يو خاص نظم پکښې پېدا کوي- معنا دا چي کوم څيز په سترګو ليدل کيږي هغه په اصل کي د ذهن تخليق دے-

وروسته بيا د وجوديت فلسفه د ماديت پرستۍ د ردِعمل په توګه مخ ته راغله- دغه فلسفه انسان د ماده پرستۍ او فطرت

پرستۍ له بندیزونو آزاد ساتي او له نورو مادي څیزونو یې ځکه مختلف ګڼي چې انسان د فطرت طابع نۀ دے بلکې پر فطرت تصرف او اقتدار لري- د دغې نظریې ځیني منونکي خدای مني لکه کیرکیګارډ- خو سارتر د مابعد الطبیعات قایل نۀ دے ځکه د خدای وجود هم نه مني- هغۀ انسان له نورو موجوداتو مختلف او متضاد ځکه ګڼي چې دے په انسان کښې "وجود" تر "ماهیئت" وړاندېویني او په نورو مخلوقاتو کښې "ماهیئت" تر "وجود" مخکې- د مثال په توګه یو هنرمند چې کله بېلچه جوړوي نو دا ورته څرګنده وي چې له دغې وسپنې به بېلچه جوړیږي، که څۀ هم د بېلچې وجود تر دغه وخته نۀ وي بلکې وروسته به ظاهریږي- بلې خوا ته چې کوم انسان تر زوکړې وروسته په وجود کې راشي د هغۀ د ماهیئت هیڅ پته هم نۀ وي چې څۀ به ترې جوړیږي؟ د دۀ ماهیئت به وروسته معلومیږي او په دغه اړه د دۀ خپله اراده، انتخاب اوکوښښ ډېر مُهم دي چې له دۀ نه عسکر، ډاکټر، انجنئیر او که څۀ بل څیز جوړوي-

په شلمه پېړۍ کې هم د جبریت زړې فلسفې وجود درلود خو د انساني شخصیت په اړه درې نوې فکري ډلې هم مخته راغلې- یوې ډلې د عمراني جبریت (Socialogism) نظریه لرله، بلې ډلې دتاریخي جبریت (Historicism) نظردرلود او درېیمې ډلې د حیاتیاتو(Biologicism) نظریه را وړاندې کړه- په دغه دور کې د انسانیت په اړه د فکر عمراني مکتب ډېر رامخته شو، چې زیاتره

مخکښان يې د پخوا په شان دجبريت قايل خو وو، مګر عمراني جبريت يې تر هر څۀ مهم ګاڼۀ- د دغه مکتب پوهان اوس هم فرد د اجتماعي نظام عکس ګڼي او دا نظريه لري چې څوك چيري اوسي په خوى به د هغوسي- په دغه فکري مکتب کې اساسي اهميت عمراني او اجتماعي نظام ته حاصل دے نۀ چې د انسان آزادي ارادې، د انتخاب قوت او تخليقي قوت ته- همدغه شان د تاريخي جبريت منونکي د انسان شخصيت د تاريخي جبريت تر سايه لاندي بولي- ددوى نظريه ده چې پېوسته تاريخي پېښې دانسان شخصيت جوړوي او ددغو پېښو آزانګۀ دانسان پر ټولو خاصيتونو او نسلونو خپل اثرات پرېږدي-

دمثال په توګه زۀ ځکه پښتون يم او پښتو وايم چې پر پښتني سيمه زوکړے وم- مذهب مي ځکه اسلام دے چې په تاريخي توګه پښتونخوا د اسلام تر اثر لاندي راغلې وه- خوراك، څښاك او پوښاك مي ځکه پښتني دي چې تاريخي حالاتو په همدغه سيمه کي ساتلے يم- که چيري دغه سيمه د اسلام تر اثر لاندي نۀ واى راغلې نو به مسلم نۀ واى او که چيري په کچنيوالي يورپ ته منتقل شوے واى نو به مي خوراك، څښاك او پوښاك هم دغه نۀ واى بلکي مغربي انداز به پکښي ليدل کېدۀ- د دې خو مطلب دا شو چې زما د خپلي ارادې، انتخاب او تخليقي قوت زما پر قوميت، مذهب، ژبه او د ژوندانۀ په چل و ول کي څۀ دخل نشته-

دا خو بس یو تاریخي جبر دے چي زهٔ پښتون یم، پښتو مي ژبه ده اوپښتونخوا مي وطن- په شلمه پیړۍ کي د حیاتیاتي جبر یا بیالوجیسیزم نظریه هم را وړاندي شوه چي بنیاد یې د دغي پیړۍ د دانشورانو پر دې خواهش باندي ولاړ ؤ چي انسان د مادیت او فطرت پرستۍ تر محدوده سطح لږ په لوړ شي- د دغي نظریې منونکي د انسان ټوله کیفیتونه او خصلتونه د دهٔ په جسماني او نفسیاتي جوړښت پوري تړي- د مثال په توګه دنرم جسامت خلګ جذباتي وي اوپنډان مینه کوونکي- دا نظریه هم د انسان د ځان پېژندني او آزادي ارادې نفي کوي ولي چي د دې مطلب خو دا کېدای شي چي که څوك مینه کوي نو دا د دهٔ خپله اراده نهٔ ده بلکي دے په حیاتیاتي توګه داسي کولوته تړلے او مجبور دے-

نتیجه دا چي خلګ له ازله د فکر په ټال دي او ځنګیږي- د حقیقت په تلاش دي سفر کوي- دغه سفر یې د "سړیتوب" سفر دے چي بشر د انسانیت پخوا روان دوان ساتي- د دغه سفر پیل له ځان پېژندني کیږي چي د انسانیت تر منزله یوه نهٔ ختمېدونکې سلسله ده- د پښتنو تاریخ پر حال ولاړ دے، د سبا فکر ورسره نشته، ځکه خو خوشحال بابا[11] ویلي ؤ چي:

لیونے خوشحال په نن دے، دیدن ورکـړه
د سبـــا فکــر هوشیـــــاروتــه ولاړ وي

اوس به پښتانهٔ د ځلاند سبا فکر ضرور کوي، دومره هوشياري به په هره توګه مومي چي د ژوندو قامونو په صف کي ودريږي- که څهٔ هم دا د خوشحال خان خټك يو شاعرانه استدلال دے خو د ځلاند سبا فکر د نوي پېر تقاضا ده- **'ځان پېژندنه'** ، قام ژغورنه، دين دوستي او انسانيت په ورورولۍ، انصاف، امن، تعليم، تجارت او جمهوريت پوري اړه لري او همدغه د نن د هوشيارو خلګو د ځلاند سبا فکر او ځار دے-

# اخځليك


1- درويش دراني، 'دابُوټي به لونګ شي' صحاف نشرياتي موسسه ، کاسي روډ کوټه ، ۲۰۰۹

2- کارلس لېمنټ، (The philosophy of Humanism) يعني د انسان دوستۍ فلسفه ، اردو ترجمه امجد علي بهټي، فکشن، مزنګ روډ لاهور، ۲۰۰۷،

3- عبدالباري جهاني، 'د سباوون په تمه' ، صحاف نشرياتي موسسه ، کاسي روډ کوټه ، ۲۰۰۰

4- ويليم مېك ګاګي، (Five epochs of civilization) دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه ، حسن عابدي ، مشعل لاهور،۲۰۰۵

5 - کا ظم خان شېدا، ' د کاظم خان شېدا دېوان ' تدوين د حنيف خليل، دانش خپرندويه ټولنه ، پېښور ۲۰۰۵

6 - ډيورانټ وِل ، ' نشاطِ فلسفه ' (The Pleasures of Philosophy) ژباړن محمد اجمل، فيکشن هاؤس مزنګ روډ، لاهور، ۲۰۱۰ -

7- ډاکټرعلي شريعتي، ' افکارِ شريعتي' ترتيب شيما مجيد، اداره منهاج الصالحين

جناح ټاؤن ټهوکر نیاز بېګ ، لاهور، ۲۰۰۱

8 - ډیورانټ وِل ، د تاریخ ښاغلي(Heroes of History) ژباړن یاسر جواد، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶ -

9 - مانفریډ اې ، (History and Civilization of the World) تاریخ و تهذیبِ عالم، ژباړن امیرالدین تقي حېدر، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶

10 - ول ډیورانټ ، ( The Story of philosophy: The lives and openions of the greater philosophers) اردو ترجمه سید عابد علي عابد ، فکشن هاؤس مزنګ روډ لاهور، ۲۰۱۰

11 - خوشحال خان خټك، ' دخوشحال خان خټك کلیات ' سمون د عبدالقیوم زاهد مشواڼي، دانش خپرندویه ټولنه ، ملي مارکېټ، کابل ۲۰۰۵

❊ ❊ ❊

# 3


# ځان پيژندنه

# ځان پېـژنـدنـه

د ټولني هرکس د فطرت اوبو راخستے نۀ معلوم کوم منزل ته ځي روان وي- دبهاندو اوبو مرضي وي چي چرته يې وړي هلته به ځي- دا ژوند دغه شان ورباندي تېرېږي لګيا وي- دے دفطرت جبر ته حېران وي او په همدغه حېراني کي دعمرورباندي مابنام شي- زياتره د يوۀ داسي جبر ښکار وي چي کوم ځۀ کول نۀ غواړي د هماغه په کولو مجبور وي- کله د غميزو سېلاب راخستے وي له يوۀ اوبل پاڼ سره يې وهي لګيا وي، کله د انتقام په اورکي سوځي او کله د بُغض په ګړزو پټ نۀ پېژندل کيږي- دے فطرت ته حېران وي او فطرت ودۀ ته- د دۀ حېراني خو د فطرت جبر ګڼل کيږي مګر فطرت ودۀ ته ځکه حېران وي چي پکښي دننه د دغو واړو شخړو دحل طاقت ويني مګردے کار ترې نۀ اخلي- ځان پېژندنه په خپل

وجود کي دننه د دغو شخړو د مقابلې د صلاحيَتونو پلټنه ده- چي د خاريجي او داخلي منفي عواملو مخنيوے په کيږي- د دۀ داخلي جبر کله د نفس جبر، کله د ذات جبر او کله د ځان جبر بلل کيږي او آزادي ترې يوازي په ځان پېژندنه ممکنه ده چي مؤثر ترينه وسله يې دليل او ذهانت دي-

دحق طلب، د ريشتيا طلب او دحقيقت طلب د ځان پېژندني په خوا وړومبي قدمونه دي- په خپل وجود کي دننه په انصاف سره د ښۀ او بد تلاش ځان پېژندنه ده، چي په رڼا کي يې دشخصيت او سيرت د جوړښت حقيقي هلي ځلي (سعي) کېداى شي- دا د فکر او نظر په زاويه کي د غوره بدلون سره تړلې ده- کوم کس چي تر يوې صفا نظريې لاندي و دغو هلو ځلو ته دوام ورکوي او د سيرت روغتيا هغومره ضروري ګڼي لکه جسماني صحت، حقيقتاً هم ځان پېژندلاى شي- په خپل داخل کي دناروغيو تلاش او د هغوي د علاج فکر د ځان پېژندني دپېوسته هلوځلو حصه ده- ځکه نو ځان پېژندنه لکه چي په څرګندون نمبر٦ کي څرګنده ده، د واضح نظريې په رڼا کي د حق او ريشتا طلب او پېوسته کوشش(سعي) ده- جسماني راحت تر يوۀ خاص حده ګټورګڼل کېداى شي خو تر هغه وروسته بيا د سيرت بېلا بېلي ناروغۍ ترې زېږي- ځکه نو د دغه شان ناروغيو مخنيوے په ځان پېژندنه ممکن دے- ځان پېژندنه په حقيقت کي يو احساس دے چي د خاريجي او داخلي عواملو تر اثر لاندي د انسان په داخل کي راپاڅېږي او شعور پېدا کوي- دا يوازي د پوهانو يا تعليم يافته ځوانانو خاصيت نۀ دے بلکي په هر




<u>څرګندون نمبر٦</u> ځان پېژندنې اجزا

هغه کس کښې لیدل کیږي چې د ځان احتساب کوي، د سرېتوب پر فلسفه روان وي او دقام خواخوږے وي- د وطن پایښت، ښېګړې، او پر مختګ د ویښو خلکو په هلوځلو پورې اړه لري او ویښتیا هغه احساس ده چې ترځان پېژندنه وروسته امکان لري-

که څۀ هم هرکس په هره ټولنه کې آزاد پیدا کیږي خو ورو ورو یې دغه آزادي ختمیږي لګیا وي، کله د خاریجي او کله د داخلي جبر سره ښکر په ښکر وي- د نامتو مغربي فلسفي ’روسو‘ په قول[1]:

"Man was born free and everywher he is in chains"

"بشر آزاد زوکړے ۇ، اوس هر چيري په زنجيرونو کي شکېل ښکاري"

د ټولني اکثريت د فطرت تر خاريجي جبر لاندي ژوند کوي- د خپل ماحول څخه بېلا بېل اثرات اخلي او په خپل تاريخ فخر کوي لګيا وي- داخلي جبر يې دځـان جبر يا د ذات جبر يا د نفس جبر بلل کيږي- دغه جبر يې بېلا بېل مثبت او منفي اړخونه لري ـ منفي اړخونه يې د مفاد پرستۍ، خودغرضۍ او مصلحت په نومو يادېږي- د مثبت اړخ يومثال يې عشق دے چي د منطق ترحد وتلے شے دے ـ همدغه شان کله د جنون کله د ميني او کله د خلوص په نامۀ بلل شوے دے ـ ترځان پېژندنه وروسته د ذات جبر د مفاد پرستۍ، خودغرضۍ او مصلحت تر دائرو دباندي څيز منل کيږي چي د قربانۍ او سرتېرۍ له لاري د انسانيت معراج لټوي- هسي خوکس تر هغه وخته د مادي څيز په لټون وي تر څو چي يې هغۀ ترلاسه کړے نۀ وي- کله چي خپل مادي احتياج په پوره کړي نو بيا د هغه څيز اهميت ورلره ختم شي او يوه نوې سودا يې په مخه شي- معنا دا چي دمادي څيزونو حرص او حوس چي څومره زياتيږي هغومره د انسان اطمينان تنبتي او تشويش يې زياتيږي- ځکه د انسانيت تر ټولو اوچت مقام هماغه ښکاري تر کومه پوري چي رسېدل دناممکن ترحده مشکل وي- تر هر څۀ غوره مقصد هماغه وي چي انسان يې ټول عمر په طلب وي- دغه پېوسته هلي ځلي او

لټون په ژوند کي تحريك را پاڅوي او د جمود لارنيوے کوي، همدغه عشق دے، جنون دے او يا بيا ايمان دے چي انسان لره تر ځان هم ور تېر شي-

تر ځـان پېژندنه وروسته، ويښ خلګ پرانساني قدرونو له خلګو سره مينه کوي، پرخپله عقيده ټينګ ايمان لري، د خپل قام او خپلي خاوري سره د جنون تر حده مينه لري- همدغه نظريه ده چي د انسان د ځان پېژندني او آزادي ارادې نفي نهٔ کوي ولي چي تر هر قسم مفاد پرستۍ، خودغرضۍ او مصلحت بالا تره ده- دلته دا سوال را پاڅيږي چي دغه فکر چيري د انتهاپسندۍ يا اورپُوکۍ جواز خو نه ښندي؟ د دغه سوال ځواب دے "نهٔ" ولي چي اورپُوکي خو د څهٔ خاصو مقاصدو په ترڅ کي په ډېره منظمه توګه د تشدد استعمال کوي نهٔ چي بېله څهٔ مقصد او مفاده- دا فکر چي له خلګو د کومي قربانۍ او ايثار غوښتنه کوي په هغه کي انسان تر خپل ځان و نورو خلګو ته ترجيع وركوي نهٔ چي د تشدد د منظم او پېوستهٔ ګذارونو په نتيجه کي په خلګو کي وېره را پېدا کړي او ټولنه د انتشار او بربادۍ سره مخامخ کړي-

د بشريت له سطحي مقام څخه دانسانيت تر مِعراجه د "سړيتوب" سفر له همدغي ځان پېژندني شروع کيږي- دا بشر له غفلته را ويښوي- ويښتيا هغه احساس دے چي دحق مرسته په کيږي او همېشه د ريشتيامل وي ـ ويښتيا خلګ د نفس، ماحول، تاريخ او فطرت له بنديزونو آزاد ساتي او د انسانيت په خوا د سړيتوب سفر ته دوام ورکوي- ويښ خلګ د سړيتوب په پسول درانهٔ

وي- د قام درد محسوسوي، د مذهب احترام کوي او د انسانیت تر معراجه د رسېدو په هلوځلو وي- په شلمه پېړی کي چي کومه د "انسان دوستۍ فلسفه" [2](Humanism) راوړاندي شوې وه هغه د سرېتوب له فلسفې څخه ځکه بېله ده چي د خدای تصور پکښې نشته او دمابعد الطبیعات د سوال ځواب نۀ ښندي- دا که څۀ هم د شلمي پېړۍ فکري تحریك بلل کیږي خو په یویشتمه پېړۍ کي یې ګڼ شمېر منونکي شته چي په عملي توګه د دغي نظریې نفاذ غواړي- دغه فکري ډله هره مافوق الفطرت رویه افسانه ګڼي او په دُنیا کي د هر څۀ وضاحت د فطرت پر بنسټ کوي - دوی د ساینسي مفروضې مطابق انسان د فطرت یو ارتقایي شکل ګڼي- نۀ خو دوی د جبریت قایل دي او نۀ د تقدیریت بلکي دا یقین لري چي په دلیل او ساینسي طریقه انسان پخپله د خپلو مسئلو حل لټولای شي- انسان دوستان د هغو انساني اخلاقیاتو تبلیغ کوي دکومو بنیاد چي پر ګډو انساني قدرونو ایښوو شوے دے، نۀ چي پر علاقایي، لساني یا مذهبي توپیرونو- دوی په نړۍ کښي د امن د هلو ځلو حمایت کوي او جمهوریت دحکومتي نظام په توګه د خلګو په ګټه ګڼي- دوی د انسان دوستۍ فلسفه تر ټولو نوې او ترقي یافته فلسفه ګڼي او په دې کښي د وخت او حالاتو په ترڅ کښي غوره بدلون ته هم تیار دي- پر جدید سائنس مبني دغه فلسفه هم د انسانیت په اړه څۀ واضح ځواب نۀ لري- که څۀ هم سائنس د انسان د پاره ډېري اسانتیاوي پیدا کړې او نوي نوي ایجادونه یې هم

وکړل خو خلګ يې د انسانيت په اړه ترطبيعي سطح څۀ ډېر اوچت نۀ کړل- يوې خوا ته يې که څۀ هم د خلګو د خوشحالۍ سامان پېدا کړ مګر بلي خواته يې د د تباهۍ د پارۀ توغندي اېټم بمونه او نور بېلابېل څيزونه هم جوړ کړل چي دځمکي پر سر هر ژوندي څيز لره خطردي- خدای تر هغه وخته قيامت نۀ راولي تر څوچي يې انسان پخپله ونۀ غواړي او په دومره ګڼ شمېر دغه خطرناکي وسلې د نړۍ بقا لره لوی خطر ښکاري او د ځمکي پر مخ د قيامت د سامان جمع کېدو مترادف ګڼل کيږي- جنګي جنون يو بشري خوی دے چي خلګ له انسانيته لري کوي او کله کله داسي هم وشي چي د حېوانيت ترحد يې لا هم کوزي اړتاو کړي- دجنګي ټکنالوژۍ روځ په روځ پرمختګ، د انسان د پاره يوه لويه فکرمندي راځرګندوي- اېټم بم، هائيډروجن بم، او ډول ډول نوري نوي وسلې د انسان په ګټه نۀ دي بلکي د ځمکي پر سر د ژوند دپاره د لوی خطر نخښي دي- زور بالا زور انساني نۀ بلکي بشري خصلت دے چي په نړۍ کي د ناقرارۍ او انسان دښمنۍ تخم پاشي- په زور د وسائلو وېش د برابرۍ او انصاف پر اصولونو نۀ شي کېدای بلکي د ناانصافۍ لاري خلاصوي او د انسان دوستۍ پر ضد د بېګناه خلګو د وژني امکان زياتوي- جنګ د انساني مسئلو حل نۀ دے بلکي اصل سبب يې دے، ځکه د انسانيت تقاضا خدايي خدمتګاري[3] ده- انسانيت په غېرمُتشدد انداز د امن دپاره پېوسته جدوجهد دے، د روغي دلارو لټول او د جنګونو مخنيوے دے- دماشومانو، ښځو، سپين ږيرو

او نوروځپلو خلګو مرسته کول دي-

په يوه روايتي معاشره کي د امن، تعليم او شعور په ذريعه له ډېرو بېلابېلو شخړو څخه نجات حاصلېدای شي- ورو ورو د دفکري آزادۍ د تر لاسه کېدو په نتيجه کي د ټولو خلګو د پر مختګ او تر اوچتو مقامونو پوري د رسېدو امکانات پيدا کيږي- لکه چي په څرګندون نمبر۷ کي ښکاري، امن د روايتي پښتني




څرګندون نمبر۷ دټولني دپرمختګ پنځه لازمي عناصر

معاشرې تر ټولو اوّلنۍ ضرورت دے- که امن نۀ وي نو د تعلیم، شعور، نجات او آزادۍ تصوّر نۀ شي کېدای- ځان پېژندنه چونکې د نظریې په موجودګي کې د طلب او سعي (کوشش) سره تعلق لري او د نظریې اړه په یقین، طاقت او علم پوري ده ځکه د یقین یا عقیدې تقاضا داده چې د نظرزاویه سمه شي، ورور وژنه بس کړه شي، خپل طاقت سره یو ځای کړشي او بېځایه استعمال یې ونۀ شي- د علم دروازې پر خپلو ماشومانو خلاصې کړل شي، چې د زمانې په ګام د تګ صلاحیت وموميِ- په عمومي توګه په خلګو کې ښه خویونه کم او بد پکې ډېر زیات وي ځکه خو ارسطو[4] ویلي ؤ چې:

"Men are good in one way, but bad in many "

"په خلګو کې که یو خوی ښۀ وي نو ډېر پکښې بدهم وي"

دا وخت په ټولنه کې دوه قِسمه خلګ لیدل کیږي- زیات شمېر د هغو عامو خلګو دے چې لا ویښ نۀ دي، ځانونه یې نۀ دي پېژندلي او دبشریت تر بُنیادي سطحي لانۀ دي اوچت شوي- بشریت د انساني وجود هغې طبیعي سطحې ته ویل کیږي چې په خلګو کې له ازله وجود لري- دغه خلګ د امن، تعلیم، شعور، نجات او ازادۍ په مطلب هم نۀ وي خبر- هرکس د بشر په حېث خپل وجود لري خو د سرېتوب اوچت قدرونه پکښې نۀ وي ولې چې دوی د فطرت د منفي بندیزونو تر اثرلاندي ژوند کوي لګیا وي- بلې خواته د انسانانو هغه دویم قسم هم په ټولنه کې خال خال لیدل کیږي

کومو چې ځانونه پېژندلي دي، ويښ دي او دسړيتوب په ګڅه پوره ښکاري- سړيتوب له انسانيت څخه بېل څيز دے ولي چې دا ترځان پېژندنه وروسته په ويښتيا او د امن، تعليم، شعور، نجات او آزادی په پېوسته هلوځلو ترلاسه کېدای شي، ځکه يې د حد تعيُن ممکن دے- مګر انسانيت د وجود هغه معنوي سطح ده چې خصوصيات يې له ازله موجود نۀ وي بلکي د نۀ ختمېدونکو هلوځلو سره سره غېر مادي روحاني اړخ هم لري- د دغه انسانيت هيڅ يوحد معين نۀ دے بلکي يو ارتقايي عمل دے چې د کمال سطح يې آخري حد نۀ لري- هر بشر تر ويښېدو وروسته په خپلو حقيقي هلو ځلو د سړيتوب سفر جاري ساتي او د انسانيت تر معنوي سطحي د رسېدو لامتناهي سلسله يې په مخه وي- د انسانيت روحاني اړخ په يوۀ مخفي قوت پوري اړه لري چې تعلق يې ددۀ د يقين، عقيدې يا ايمان سره وي او دے له خسارې څخه بچ ساتي- دغه مخفي قوت "حق" دے چې په ښه عمل او صبر پوري اړه لري- د حق په اړه د مسلمان فلسفيانو د فکر د زاويو جاج پروفېسرسعيد شېخ په خپل کتاب (Muslim Philosophy)[5] کي په ښه توګه اخستے دے اومطالعه يې ګټه وره ګڼم-

که څۀ هم انسانيت يوه لامتناهي سلسله ده چې هيڅ يوحد يې معين نۀ دے خو بيا هم په تاريخي او مذهبي حوالو د انسان معنوي سطح هغه ده چې دے تر نورو ټولو مخلوقاتو بهتر او افضل په ګڼل کيږي- دغه معنوي انسان په اصل کي د څو بېلابېلو ښو خويونو په وجه د انسانيت په ګڅه تلل کيږي- په دغو ښو خويونو کښې اول ځان پېژندنه دويم آزاده اراده درېيم د انتخاب قوت او

ځلورم د تخلیق صلاحیت دے چي بشر د انسانیت تر سترمقام پوري سفر په کوي- له بشره تر انسان پوري د سړیتوب سفر له لاندي څخه تر بره په همدغو ځلورو ښو خویونو اړه لري- دانسان عظمت او قدر د همدغو صلاحیتونو په وجه دے- فلسفه، مذهب، فن، ادب، ساینس اونورټول علوم دهمدغو دروخاصو صلاحیتونو په موجودګي کي مخ په وړاندي روان دي- دا صلاحیتونه په هرکس کښي یو رنګه نهٔ وي بلکي د دغو صلاحیتونو تناسب هغه څیز دے چي یو کس له بله بېل په ښکاري- په چا کښې یو صلاحیت زیات وي او په بل کښي بل ځکه خو په انسانانو کي د انسانیت سطح یوه نهٔ ده- د انسان د دغو واړو صلاحیّتونو تفیصیل به په راتلونکو پاڼو کي د" انسان او انسانیت" ترعنوان لاندي ګورو خو دلته دومره ضروري ګڼم چي په فطرتي توګه انسان له حېوانه ځکه بېل دے چي په ځان کي له ازله دغسي پټ قوت ویني چي دے له نورو ژوندو څیزونو ممتاز په ښکاري- دے له خپل سربښته بېخي خبردے او دکائنات سره د خپل تعلق په اړه څهٔ نهٔ څهٔ فطري آ ګاهي هم لري خو ځان پېژندنه او ویښتیا یې دغه پټ صلاحیت په کار راوړي- ترځان پېژندنه وروسته د دهٔ غوره کلام، عقل او دانش دکائنات له نورو څیزونو څخه د دهٔ مقام لوړ ساتي- دے ګائېدلای شي، فکرکولای شي، احساس کولای شي، اختلاف کولای شي او د بغاوت کولو تر حده تلای شي- د مثال په توګه دانشوران د ټولني په هغو ویښو خلګو کي شماردي چي ځانونه یې پېژندلي دي- دوی خپل خلګ د بشر ترسطحي لوړ دسړیتوب پربام لیدل غواړي- دوی دخلګو دشعور په اړه بېلابېلي نظریې وړاندي کوي چي له بشریته د انسانیت په خوا دسړیتوب

سفرجاري وساتي- دوی د سرېتوب په قافله کي مخکښان څاري چي په ټولنه کي دغوره بدلون په موخه نظريه عملي کوي- دوی دقام د پرمختګ په هيله د غوره بدلون بېلا بېلي لاري لټوي-

غرض دا چي په دې دنيا کښې د خلګو ترمنځ توپير فطري شے دے- هرکس له بله بېل شناخت لري، بېل يې شکل وي، بېل قد وقامت، او بېل يې مزاج وي- بېل قوميت لري، بېله ژبه او بېله يې عقيده وي- بېلي نغمې وايي او بېل سُرونه يې و سندرو ته ځانګړي رنګونه ورکوي- د خپلي سيمي د بېل موسم په حساب ځانګړے لباس اغوندي او بيا په هغه کښي هم ځان لره يو بېل انداز خوښوي- دا فرق به وي او بايد چي وي، ولي چي د ژوندانه خوند په همدغو بېلو رنګونو کي دے- ګلان په يوهٔ رنګ نهٔ دي، بوټي يوشان نهٔ ښکاري، غرونه خپل خپل شکلونه لري، سيندونه، رودونه، مندونه، او شَلې بېل بېل منظرونه وړاندي کوي- همدغه د دنيا ښائست دے، دغه يې ښکلا ده ، خوند دے- ځکه ټول خلګ په يوهٔ لړ کښي پېئلي نهٔ دي- ګډ انسانيت يو ځلاند فکر ضرور دے خو د مذهب، عقيدې، قوميت، علاقائيت او تشخص وجود له منځه نشي وړای- يو دين ستر تصور ضرور دے خو دبېلا بېلو عقيدو ځای پکښې شته- يوقام ډېر ښکلے خيال دے خو د اقليت د حق ساتنه پکښې لازمي ده- ګډ مملکت غوره فېصله ده خو په وسايلو کښې د قوميتونو د سمو برخو ضمانت ضروري دے- د دې سيمي سپېڅلي خلګ کله د انسانيت پر نامهٔ او کله بيا د مذهب پر نامهٔ د غېرو د

بېلا بېلو دسیسو ښکار پاته شوي دي- عالمي بازيګرو کله دوی د مذهب پر نامهٔ د کمونیزم خلاف په جنګ کښې استعمال کړي دي او کله يې بيا د خپلو ګټو دپاره ورور وژنه ورباندي توپلې ده-

دیوې سیمي د پرمختګ راز دخلګو په ځان پېژندنه او قامي مینه پوري اړه لري- ویښ خلګ د قومیت، مذهب او انسانیت په بېلا بېلو حېثیتونو پوهـ وي- د مذهبونو د احترام سره سره د انسانیت د ګډو قدرونو ادراك هم لري، ځکه نو د قام د بقا او پرمختګ لاري لټولای شي- دفکر ټال د ځان پېژندني او بېدارۍ لاري ښئي او همدغه د زمانې دچل و ول پوههٔ ښندي، ځکه خو رحمان بابا[6] وايي چي:

اندېښنــه سړے بېدار کاندي له خوبـه
کم اندیشه که بېدار دے بېدارنهٔ دے
د چشمانو په ځمبل کي تېر وبېر شي
اعتبـــار د زمـــانې اعتبـــار نهٔ دے

په همدغو متضادو حالاتو کښې د بقا هلي ځلي د ویښو خلګو په برخه وي[7]- ځکه مي موخه د خلګو ویښتیا ده ولي چي ویښ خلګ د دلیل او ذهانت په مؤثر ترینه وسله د جنګ، جهالت او لوږي مخنیوے کولای شي- چونکي د دې سیمي مسئلې همدغي دي ځکه تر هر څهٔ لمخه د خلګو ویښتیا لازمي ده چي د غوره بدلون

لار صفا شي او له ټولني څخه جنګ، جهالت او لوږه غوندي حېواني خصلتونه وتښتي- همدغه ' ويښتـــــا ' د ژوندانهٔ حاصل کېږل کيږي چي هرکَس ته د سړيتوب لار ښئ ، په ټولنه کي تهذيبي قدرونو ته وده ورکوي او د بشر او انسان تر منځ توپير څرګندوي-

# اخځليك


1 - ول ډيورانټ ، ( The Story of philosophy: The lives and openions of the greater philosophers) اردو ترجمه سيد عابد علي عابد ، فکشن هاؤس مزنگ روڈ لاهور، ۲۰۱۰

-2 کارلس لېمنټ، (The philosophy of Humanism) يعني د انسان دوستی فلسفه ، اردو ترجمه امجد علي بهټي، فکشن، مزنګ روډ لاهور، ۲۰۰۷،

3 - عبدالغفار خان، ' زماژوند او جدوجهد' کابل دولتي مطبعه، کابل، ۱۹۸۱

4 - برائن مېګي ، ( The Story of philosophy ) ډارلنګ کائنډسټلي Darling Kindstley Book، لندن، ۲۰۰۱

5 - ايم ايم شريف ' مسلم فلسفه' (Muslim philosophy) ، باب اوم، الفارابي، پاکستان فلاسفيکل کانګرېس، کلب روډ لاهور ۱۹٦۲

6 - عبدالرحمان بابا 'د رحمان بابا کليات' ، دانش خپرندويه ټولنه ، پېښور ، سريزه حنيف خليل ۲۰۰۵،

-7 اولډهام، جان ايم او لُوئيز بي موريس، ' نوې ځان پېژندنه' (The New Personality Self-Portrait: Why You Think, Work, Love and Act the Way You Do) ريوائزډ ايډيشن، بانتم ، ۱۹۹۵


***


# 4

# وینبتیـــا

# ویښـــــتیـا


زما دا عقیده چي ویښتیا په ټولنه کي د جنګ جهالت او لوړي مخنیوے کولای شي، یقیناً دخلګو په ذهنونو کي دا سوال راپاڅوي چي ویښتیا څۀ ده او ویښ خلګ څنګه په دې جنګ ځپلې ټولنه کي غوره بدلون راوستلای شي؟ په دې څپرکي کښې به د همدغه سوال ځواب لټوو- ویښتیا ترځان پېژندنه وروسته د سرېتوب په سفر کي د خاص پوهي اوبېدارۍ نوم دے چي دخلګو پېوسته "طلب" او "سعي" ته دوام بخښي - یو تسلسل دے چي د رڼا په شان په ژوندانۀ کي سمه لار په لیده کیږي- هغه شعور دے چي د ځان پېژندني د احساس په نتیجه کي را پاځي، د حق او باطل تمیز په کیږي، د علم او هنر په طلب وي، د جنګ مخنیوے کوي او د سولي په تلاش وي ـ ویښتیا د نفس، ماحول، تاریخ او فطرت له بندیزونو خلګ آزاد ساتي- ویښ خلګ د ړندو په شان د مغربیت او جدیدیت د جرس په ازانګه پسې نۀ ځي بلکي ویښتیا یې د فکرونظر په زاویه کي د بدلون سره تړلې ده نۀ چي یوازي د مغربیت او جِدیدیت سره-

یوې خواته د اوسني جدیدیت تر ټولو لویه کمزوري د دیانت کمي ګڼل کیږي خو بل طرف ته د وینبو خلګو اصل جوهر همدغه دیانت دے- هغه کس چي پر خپل ضمیر اعتماد ونۀ لري وینس نه شي ګڼل کېدای ولي چي بدیانتي او دروغ په ځالاکي نۀ شي پټېدای بلکي د حقیقت مخته آخر لڅېږي- وینبتیا په ځان پېژندنه پوري اړه لري او د سرپتوب په سفر کي د توښې په مثال ده- لکه چي له ځرګندون نمبر۸ څخه ظاهره ده، سرپتوب په کړکېچنوحالاتو




ځرګندون نمبر ۸ د سرپتوب سفر

کي د ژوندانه د اړو مسئلو په لړکي د ګرانو او درَنو فېصلو کولو هغه همت راپاځوي چي ترځان پېژندنه او وینبتیا وروسته فرد همه وخت د سم انتخاب په هلو ځلو ساتي-




خرګندون نمبر۹

وينبتيا د فکر چابك دستي نۀ ده بلکي د نظر پراختيا او د فکر پختيا ته ويل کيږي- دا په ژوند کي د خلګو سره په مينه او ديانتداري پوري اړه لري- په عملي توګه همدغه ديانت وينبو خلګو

ته دسم انتخاب ښوونه کوي- څرګندون نمبر۹ د سم او چپ انتخاب ګڼ شمېرمثالونه ښئ - په بالا جدول کي د سم او چپ انتخاب دغه مثالونه ځکه ورکړل شوي دي چي د ' اِنتخاب' وضاحت په وشي او بحث هم په مختصر شي- په سم انتخاب دسړیتوب سفر آسانه کیږي او دټولني اصلاح هم په ممکنه ده-

اوسنۍ پښتني ټولنه له بېلا بېلوخطرونو ډکه ده- هري خواته انتشاردے، بدعملئ دي، او طوائف الملوکي ده- خلګ يې تعليم نۀ لري او هنرمندان هم پکښې کم دي- سرونه ډېر دي سړي کم شته ځکه خو هري خواته ورور وژنه ده- دعامو خلګو او پوهانو ترمنځ اوږدې فاصلې دي چي په هيڅ توګه د خلګو په ګټه نۀ دي، ځکه په ټولنه کي د "سړيو" ضرورت دے چي د عامو خلګو او پوهانو تر منځ فاصلې کمي کړي- د شعور سازۍ يوه داسي سلسله را وړاندي کړي چي مراندي يې په خپل تهذيب، دود او کلتور پوري تړلي وي- انصاف، عدالت او اعتدال يې د ژونداۀ زرين اصولونه وي- دغه خلګ به څوك وي او څنګه به د پوهانو فکر تر خلګو رسوي؟ د دغه سوال ځواب که څۀ هم اسانه نۀ دے خو دومره مشکل هم نۀ دے لکه چي په ظاهره ښکاري-

ويښ زلمي څوك دي؟ ويښوالے يې څۀ دے؟ او د زلميتوب معيار به يې څۀ وي؟ دا هغه سوالونه دي چي خلګ يې تپوس کوي لګيا دي- ويښ زلمي نۀ خو پوهان دي او نۀ يوازي ډګري لرونکي ځوانان- دوی هغه ټول وګړي دي چي د قام خوا خوږي دي او ځانونه د قام د پايښت، ښېګړي، او پر مختګ د پاره وقف ګڼي- همدغه

يې ويښوالے دے، همدغه يې زلميتوب دے چې د قام د دود، ژبې، کلتور او تهذيب سره سره د ملت د ښځو، ماشومانو او اقليّتونو د حقوقو خيال ساتي-

که تعليميافته وي او که نۀ، که ځوان وي او که سپينږيرے، چې د قام دخدمت او د پرمختګ هلي ځلي عبادت ګڼي هماغه ويښ زلمے دے- هر هغه کس چې خپل شعور يې د خپلي سماجي ذمه دارۍ احساس ورکوي حقيقتاً يو ويښ زلمے دے- که تعليم لري نو کار به ورته اسانه وي، که يې نۀ لري نو هم په خپل محنت او بصيرت د خپلوخلکو راهنمايي کولاى شي- چونکي نظريه په ټولنه کي د بدلون په اړه تر هرڅۀ مهمه ده او د غوره بدلون په اړه علمي او عملي اړخونه دواړه تر بحث لاندي راوړي ځکه يې ويښ زلمي له پوهانو څخه په عملي توګه ترخلکو پوري رسوي- په تېر تاريخ کي ډېرو اميانو د خپل ويښوالي او شعور په رڼا په عملي توګه د قامونو قسمتونه بدل کړي دي- نبيان خو تعليميافته نه وو چې د قامونو د لار ښووني ذمه داري به يې تر سره کوله- د دوى اصل جوهر د خپلي ذمه دارۍ احساس ؤ چې دوى يې د نبووت تر منصبه رسَولي وو- داځکه چې د خداى هماغه کسان خوښ دي چې شعور لري، احساس لري، طلب لري او روڼا غواړي- همدغه راز د نړۍ په تاريخ کي په وارو وارو د غوره بدلون په اړه سپين ږيرو تر زلميانو هم لوى رول لوبَولے دے- د دوى ځوانو جذبو قامونو ته نوے ژوند بخښلے دے، ځکه يې څوك د ويښو زلمو له صفه په هيڅ توګه نۀ شي ايستلاى-

په روايتي او مذهبي پښتني ټولنه کي پر سمو کرښو د کار کولو يوه طريقه ده چي ويښ زلمي راوَپاڅي او د غوره بدلون په اړه کار پيل کړي- په خپلو شعوري هلوځلو او صلاحيتونو د ټولنيځو او طبقاتي جګړو مخنيوے وکړي- تر توپك پورتکولو لمخه سل ځله سوچ وکړي، ولي چي د تشدد لار د تباهئ لار ده- خلګ د وسلې په توګه استعمال نۀ کړي بلکي دټولني وسايل د خپلو ځپلوخلګو په کار راولي چي دوی په متحرك او متحد شي- د پوهانو او عوامو ترمنځ فاصلې کمي کړي چي د غوره بدلون لار خلاصه شي- د ټولني ښۀ قدرونه رامخته کړي او له بدو يې مخ ونيسي، ولي چي بد بددي بېرته خپلي غاړي ته راځي-

مونږ چي کچنيان وو نو به سپينسرو کله کله نکلونه راته کول- يو نکل لږ لږ را ته ياد دے خو دامي ياد ته نۀ راځي چي له چا مي اورېدلے ؤ- نکل دا ؤ چي "يوۀ ملنګ ښامار ساتلے ؤ چي خوراك يې د انسان غوښه وه، بل به يې څه نه خواړۀ- کله چي به وږے شو نو به ملنګ پر خپل يوۀ مخالف ور وشکارۀ- ورو ورو د ملنګ مخالفان کمېدل او خلګ هم ترې له ډاره لري کېدل- حال دا شو چي يوه روځ مار ډېر وږے ؤ، تر سترګو يې بڅري پاشل او ژبه يې تر خوله د لمبې په شان وته او ننوته- ملنګ چي د کوم مخالف په لټون ؤ هغه د کلي د نورو خلګو سره سم بلي سيمي ته هجرت کړے ؤ- د ملنګ پرېشاني زياته شوه- دلته هلته يې کتل خو څۀ يې په نظر نۀ ور تلۀ- وروسته يې پر يوۀ ګوڼ سپي سترګي

ونښتې او ښامار يې پر ور وشکارۀ خو ښامار پر سپي نۀ ورتلۀ ولي چي په دې اموخته نۀ ؤ- ملنګ د سپي په خوا ور ودانګل چي ګوندي ښامار هم ور سره مل شي- چي ښه ور نژدې شو نو يې ښامار بيا پر سپي ور وشکارۀ مګر مرام يې پوره نۀ شو- آخر يې له خښمه سپے په لغته و واهۀ- د ځان له وېري سپي ملنګ تر چپَنه ونيو او په کشېدو کشېدو يې ترې چپَنه وکښه- وړې ښامار ملنګ کله د چپَني بغېرنه ؤ ليدلے ځکه دے هم د مخالف غوندي ورته ښکاره شو، تار تار يې کړ او د نس اور يې پرې مړ کړ-" غرض دا چي ويښ زلمي د ملنګ په شان ښاماران نۀ ساتي بلکي د دغسي ملنګانو مخه نيسي، اغزي نۀ کري بلکي د ګلو کر کوي لګيا وي چي سيمه يې په ګلزار شي[1]- ويښ زلمي په ټولنه کي د نفاق اچوونکو ځای نۀ پرېږدي- نۀ کله خلګ د ږيري، لهجې او لباس په بحثونو کي اچوي او نۀ د بګړۍ او شملې خبري ورته پېچومے وي- ويښ زلمي د انسانيت تر معنوي سطحي د رسېدو بېلا بېل امکانات ګوري، لکه چي ګل باچا الفت[2] وايي:

ځۀ وايي څۀ کوي او څۀ غواړي د څۀ د پاره؟
ورته په ځيرځير له هرلوري هري خوا وګوره

ويښ خلګ قامي سوچ د مثبت بدلون په کار راوستل غواړي- دوی د نړۍ د نورو بدلون غوښتونکو په شان د ساينسي

سوچ د اجرا په طلب وي او د قامي آزادۍ غوښتنه کوي- انسان دوستي د ځپلو خلګو د مرستي په کار راولي نۀ چي د خلګو د استحصال د پاره- مذهب د ټولني د اخلاقي تر بيې او روحاني تسکين ذريعه ګڼي نۀ چي د اورپُوکو د لاسو وسله- دوی هر کله بس خپل مثبت کار کوي لګيا وي، په هغو کشالو کي خپل وخت نۀ ضائع کوي چي څۀ غوره نتيجه تري نۀ راوزي- دوی د ټولني د هري شخړي په حقيقت ښه خبر وي ځکه سم انتخاب کوي او د مثبت حل ذمه واري يې هم اخلي- همېشه د انصاف او عدالت تر اصولونو لاندي ژوند کوي- ځان تر قانون لوړ نۀ بولي بلکي قانون د ټولني محافظ ګڼي-

ويښ زلمي په روايتي او مذهبي پښتني ټولنه کي د جنسي آزادۍ غوښتنه نۀ کوي بلکي د خپلو رواياتو په دائره کي دننه د ليك او لوست حق خپلوښځو ته هم ورکول غواړي- دوی د تعليم روڼا خورَول او د هنر زده پاشل غواړي ولي چي په اوس وخت کي د قامونو د پرمختګ يوازينۍ لاره همدغه ده- کله کله په ټولنيځو مسئلو کي يوازي منطقي استدلال کافي نۀ وي بلکي د موقعې په مناسبت بحث کول وي- يوه سمه رايه هم که چيري پرځای نۀ وي څۀ معنا نۀ ښندي- همدا رنګه کله يو بې مغزه بحث هم په څۀ خاص ماحول کي ډېرمثبت اثر ولري- چونکي د ښځو د تعليم په اړه تر اوسه لا په پښتني ټولنه کي شکوك شته ځکه په سړه سينه بحث ورباندي کول دي چي خلګ يې قبول هم کړي- که څۀ هم د ليك،

لوست او هنرخلاف یوازي هغه خلګ وي چي په ناخواندګي کي خپله ګټه ویني خو د دغه سوچ خاوندان په ټولنه کي په شمار بېخي کم وي- ویښ زلمي د دغو خلګو په بده وینا هم شکېل نۀ وي بلکي تر منزله د رسېدو په هلوځلو وي-

ویښتیا خلګ له جهالته را باسي او د پوهي او پوهانو احترام پکښي پېدا کوي- ویښ خلګ امن لره هلي ځلي کړي او د جنګ پَرستانو لاري تړي- دوی هغه نظریاتي خلګ دي چي په اساني نۀ تېروزي، ځکه غربت مفلیسۍ او رحبانیت ته دروحانیت د علامتونو په توګه نۀ ګوري بلکي همېشه یې د مخنیوي په هلو ځلو وي- په خلګو کښې د تعلیم مینه پېدا کوي او د هر هنر د قدر کولو جذبه را پاڅوي- غرض دا چي ویښ خلګ د ژوندانه په مسئلو کي پوهي ته اهمیت ورکوي، جذباتو ته نۀ- ځکه خو نوموړي فلسفي بېنېډیکټ سپینوزا (Benedict Spinoza)[3] په اولسمه عیسوي پېړۍ کي ویلي ۇ چي:

"I have striven not to lough at human actions, not to weep at them, nor to hate them, but to understand them"

معنا دا چي "ما د انسان پرعمل د خندلو کوشش نۀ دے کړے، نۀ ورباندي ژاړم، نۀ نفرت ترې کوم، بلکي ځان پرې پوهـ کول غواړم" دغه خلګ د خپل احساس، ویښتیا او خپلي پوهي په برکت دسیاسي، سماجي او معاشي آزادۍ هلي ځلي کوي- همدغه ویښ

زلمي دي چي په روايتي او مذهبي ټولنه کي د نوي پاڅون امکاني پيلامګر ګڼل کيږي او د نوي فکر په قوت دنوي ژوند ابتدا کولای شي- دوی د نظريې په وسله په ټولنه کي حرکت پيدا کولای شي- د شعور په برکت د ورور وژني، جهالت او غربت مقابله کولای شي- د قامي غيرت او ايمان په زور د خپلواکۍ ساتنه کولای شي- د محنت او اتفاق په پسول د هيواد وجود ښايسته کولای شي او په خپل زيار د هيواد تعمير کولای شي-

نتيجه دا چي ويښتيا له ځان پيژندني شروع کيږي او ځان پيژندنه په درو عواملو پوري اړه لري- اوّل دا چي د خلګو د نظر زاويه سمه شي يعني دا شعور ولري چي منزل څۀ دے او تر هغۀ د رسيدلو موخه به څۀ رنګه ترلاسه کيږي- دويم دا چي ترمنزله د رسيدو طلب پکښې پيدا شي- په دې لړ کي بيلا بيلي لاري تر نظر لاندي راشي، د اسبابو جايزه واخستله شي او د هري لاري د خنډونو ادراك هم ولرل شي- دريیم څيز په عملي توګه دخپل کار د تر سره کولو د هلو ځلو تياري ده- ويښ خلګ د ژوندانه په اړُو مسئلو کښي د نظر په سمه زاويه او په سم انتخاب د' **قام ژغورني**' او انسانيت تر منزله د رسيدو په هيله د "سريتوب" سفر جاري ساتي- او "ښه فلسفه هماغه ده چي د ژوندانۀ اهميت واضح کړي"[4]

# اخځليك

1- عبدالرحمان بابا 'د رحمان بابا کليات' ، دانش خپرندويه ټولنه ، پېښور ، سريزه حنيف خليل ، ۲۰۰۵

2- استاد ګل باچا الفت، 'دالفت نثري کليات' د محمد اسماعيل بون په زيار، اسد دانش مطبعه ، کلوله پُشته ، ملي مارکېټ، کابل ، ۲۰۰۸

3- برائن مېګي ، ( The Story of philosophy ) ډارلنګ کائنډسټلي Darling Kindstley Book، لندن، ۲۰۰۱

4- ډيورانټ وِل ، ' نشاطِ فلسفه ' (The Pleasures of Philosophy) ژباړن محمد اجمل، فيکشن هاؤس مزنګ روډ، لاهور، ۲۰۱۰۱


❊ ❊ ❊

# 5

# قام ژغورنه

# قام ژغورنه

قام له پخوا څخه د ډېرونو ډولواکي ته ویل کیږي چي په نسل، ژبه، کلتور او وطن سره ګډ وي- په اوسني وخت کي قام د ملت په معنا هم اخست کیږي یعني د یوۀ خپلواک دولت اوسېدونکي خلګ چي تر یوۀ حکومت لاندي وي[1]- هر هغه کس چي د قام خوا خوږے وي، ځان د قام د پایښت، ښېګړي، او پر مخته‌ګ د پاره وقف ګڼي، د قام د دغو واړو اجزا د احترام سره سره د ښځو، ماشومانو او اقلیّتونو د حقوقو بشپړ خیال هم ساتي- اقلیّتونه که نسلي وي، که مذهبي او که لساني په ډولنه کي خپل خپل مقام لري- که قومیت یوازي دنسل پرستۍ نوم پاته شي او پردغه بنسټ د اقلیتونو او نورو قامونو استحصال ته جواز او دوام ورکړل شي نو بیا ورته شاونیزم (chauvinism) ویل کیږي- لکه چه په څرګندون نمبر۱۰ کي ښوول شوي دي، هغه فلسفه چي په کومه کي دوطن، نسل، ژبي او کلتور پالنه عبادت ګڼل کیږي، حقیقي نېشنلیزم (Nationalism)[2] دے-




ځرګندون نمبر ۱۰ د قومیت څلور مهم اجـزا

او هره هغه فلسفه چي په کومه کي د قام د ژبي، کلتور، روایاتو او حقوقو دپاره هلي ځلي عبادت ګڼل کیږي، د قام د ښېګړي ضمانت هم ورکولای شي- خو ټولني لره غوره نظریه هماغه وي چي بنسټ یې پرفلسفه او سائنس دواړو وي، ولي چي په اوسني وخت کي یوازي فلسفیانه اټکل یا جذباتي مذهبي رویه د قام لارښو وني لره بس نه ده بلکي سائنسي جواز هم ورلره لازمي ګڼل کیږي- د خپل قام، وطن او قامي ادارو سره مینه کولو ته پېژریاتېزم

(Patriotism)[1] ویل کیږي چي له ښه مرغه په پښتنو کي بېخي زیات شته- پښتون که تعلیمیافته دے او که بې تعلیمه پېتریاټ ضرور دے- د وطن مینه پښتانهٔ د دروندتیا مظهر ګڼي ځکه خو درویش[3] وایي:

دروند ؤ چي ستا غم یې په زړهٔ کي پروت ؤ
سپك شو چي ستا خیال یې له سره و ووت

د دې سیمي ځپلي قامونه که څه هم له ډېر پخوا څخه د اِستحصالي قوتونو د ظلم او جبر تر اثر لاندي وو خو افغانانو بیا هم د آسیا د نورو قامونو څخه بېل خپل قامي تشخُص ساتلے ؤ- دا ځکه چي دوی د خپل تاریخ په رڼا کي، دخپلي عقیدې پر بنیاد او د خپل متې په قوت ودغو لویو قوتونو ته کله هم سر ټیټ نه کړ- هرکله یې د پردو د تېري خلاف د خپلواکۍ هلي ځلي جاري ساتلې- دوی جنګ په خپل مُټ ګاټهٔ خو په ګټه یې نور نسلونه هم ور ګډ وو ځکه یې په تېر تاریخ کي هیڅ کله نسلي تناؤ نه ؤ لیدل شوے- د روس تر مداخلې وروسته د کمونیسټانو په وخت کي اول ځل د نسلي تناؤ پېداکولو کوششونه وشول- بیا تر هغوی وروسته هم د ځینو هېوادونو له خوا پېوسته استخباراتي او عسکري دسیسې ټولي ناکامه شوې- د پېوسته بهرني مداخلتونو او دسیسو په نتیجه

کي پښتانهٔ د تعليم او ترقۍ په منډه کي شاته پاته شول خو ورو ورو په خلکو کي د خپل افغاني تشخص احساس ژوندے شو چي يو مثال يې د صوبه سرحد د نامهٔ د بدلېدو هلي ځلي هم وې- که څهٔ هم د دغي صوبې د خلکو دغه زړه مطالبه وه چي د نورو صوبو په شان دي د صوبه سرحد نوم هم دالته د اوسېدونکي پښتون قام په نامهٔ پښتونخوا، پښتونستان يا افغانيه شي خو دغه غوښتنه چانه منله او د غدارۍ په معنا اخسته کېده- کله چي تر ډاکنو وروسته عوامي نېشنل پارټۍ په صوبه سرحد کي الېکشن وګاټهٔ اوخپل حکومت يې جوړ کړ نو يې له مرکزي حکومت نه په ټينګه صوبې لره دخپل نامه غوښتنه بيا وکړه- د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ د پوهاند سنېټر عبدالرحيم مندوخېل په مرسته يې په آئين کي د اتلسم ترميم په وخت په قامي اسمبلۍ او سېنټ دا ومنله چي د صوبه سرحد نوم به خېبر پښتونخوا وي- دغه غوښتنه او بيا دومره ورباندي ټينګار چي په کال ۲۰۱۰ کي د صوبې نوم خېبر پښتونخوا شو، د قام ژغورني يو ستر مثال دے او د خپل قامي تشخص د ساتني دعملي جدوجهد ثبوت هم دے- دئينو خلکو دا اعتراض چي خېبرپښتونخوا سم نوم نه دے بايد چي "پښتونخوا "يې نوم واى په اصل کي صحي نه دے ولي چي پښتونخوا خو د هغه ټول وطن نوم دے چيري چي پښتانهٔ آباد دي او دغه صوبه يې يوه وړه غوندي حصه ده- ځکه نو خېبر پښتونخوا د پښتونخوا وطن هغه برخه ده له

کومي چي د خيبر دلويي لاري سفر پيل کيږي- دغه سفر چي د قام پيژندني سفر دے، دپښتونوالي سفر دے، د ننګ او پت سفر دے، دحق او ريشتيا سفر دے، د پښتونخوا په نورو بيلا بيلو څنډو کښې دوام لري-

تاريخي توګه قوميت په قبايلي ټولنوکي له پخوا څخه د قبائيليت په معنا اخست کيدۀ ولي چي د وطن، نسل، ژبي اوکلتور په اړه د خلګو علم محدود ؤ او ګټي يې هم ښايي چي دخپل کښت او کر ترحد وتلي نۀ وې- بيا تر څۀ وخته خلګو يوازي نسل هم د قوميت په معنا اخست، ځکه به کله کله د شاونيزم ترحده هم ولاړل[4]- په پښتني ټولنه کي بُنيادي حيثيت د کهول دے او د کهول احترام د مشر او کشر په حساب منل شوے دے- وروسته بيا ټبر (قبيله) مهم دے چي په همدغه راز د قدرونو يو ځانګړے سيسټم لري- قبيلې ټولي بيا د قام په يوۀ ټينګ لړ سره پيودلي دي چي په نسل، ژبه، کلتور او وطن سره ګډي دي- لکه چي کس، کهول او ټبر د خپلوۍ تر احساس لاندي د تشخص معنا ښندي همدغه رنګ ژبه د قرابت يو خوږ احساس راپاڅوي چي له ټبرونه څخه يو قام جوړوي او د يو والي جذبه پکې پيدا کوي، ځکه خوملنګ جان[5] سوال کوي چي:

د پښتو ژبي به څوك وکړي روزنه
چا ته لاړشمه د چا وکړم پوښتنه

په نوې دنیا کې خو نسلونه، ژبې او کلتورونه ټول سره ګډ وډ شول، لکه چې اوس په امریکا او یورپ کې لیدل کیږي- داسې ډېر خلګ دي چې پلار یې له یوۀ نسله وي او مور یې له بله، یا یې د پلار ژبه یوه وي او دمور ژبه یې بله- دغه شان ګډ وډ خلګ هر چیري په نفسیاتي توګه، په ځان کې د تشخص کمے محسوسَوي- پخپله د امریکا دانشوران هم اوس د نېشنلیزم په اړه فکرمند دي او په جدید دور کې د نېشنلیزم د اصل شکل په اړه بېلا بېل دلایل ورکوي- ویبې او رابرټ ایچ (Wiebe, Robert H) په ' مورږ څوك یو' (Who We Are: A History of Popular Nationalism)[6] کې پر همدغه مسئله بحث کړے دے- ځکه د نسل او ژبې روزنه قامونه توانا ساتي او د نړۍ پر مخ ورته بقا ورکوي- په کومو ټولنو کې چې نسل له منځه لاړ شي هلته ژبه بیا هم قام ژوندے ساتي او کله چې ژبه هم پاته نه شي نو بیا ملت د قام په معنا اختسل د خلګو مجبوري شي- په امریکا او یورپ کې دغسې خلګ بېخي ډېر دي چې د مور او پلار نسلونه یې بېل بېل دي او قومیت یوازې د پلار په نسل پوري تړلے هم نۀ وي، ځکه نو د یوۀ وطن اوسېدونکي یو قام ګڼل کیږي- که څۀ هم ډېر دانشوران د عالمي جنګونو لوی سبب نېشنلیزم ګڼي خو ځیني داسې هم دي چې دا حقیقت په ډاګه

تسليموي چي نېشنليزم د نړۍ خلګ د ايمپېريليزم د بربريت څخه ساتلي ؤ- نېرن ټام (Nairn, Tom) په 'دنېشنليزم بېلابېل مخونه' (Faces of Nationalism: Janus Revisited)[7] کي پر دغه ټکي خپل دلايل ورکړي دي-

په اوسني دور کي علم عام شو او د ټولني تر ډېرو عامو خلګو پوري هم ورسېد- زيات شمېرخلګ اوس د ټبرونو او قبيلو تر سطح لوړ سوچ لري ځکه نو د قام او وطن فکر هم ورسره زيات وي- دغه فکر يې د ځان ځانۍ تر قفس د باندي راباسي او په آزاده فضا کي د الوتي بلنه ورکوي- په ژوند کي يې تحريك راپاڅوي او د قامي ګټو شعور ورکوي- ځکه نو په جديد دور کي د نېشنليزم اصطلاح يوازي د خاص نسل د باچهانو تر وفادارۍ پوري محدوده نۀ ده بلکي د قام د پاينښت، ښېګړي، او پر مختګ د حقيقي هلو ځلو نوم دے-

کلتور يا ثقافت د يوې سيمي د خلګو د فکر او رَويو علاقائي مظهر دے چي خلګ يې په ټولنه کي زدکوي، تخليقوي او يو له بله سره يې شريکوي[8] - ځکه نو د خلګو د علمي ، اخلاقي، معاشي، سياسي، روحاني او معاشرتي خاصيتونو هغه پنګه ګڼل کيږي چي يوه ټولنه ښه په ايسي، لکه "پښتني کلتور"- د قامونو رويې، عقيدې، کاريګري، لباس، د خوراك، څښاك او پوښاك طريقې ټولي د کلتور حصه دي- د اخترونو، وَدونو، زيارتونو او مېلو سره

سره د خلګو شاعري، سازګري، فن او تعمير هم د دوی د کلتور برخي دي- ځکه نو دا قام ته له نورو خلګو څخه جلا خپل تشخص ورکوي- د مثال په توګه دپښتنو ' اتڼ ' د نړی له نورو قامونو څخه بېخي بېل دے، او 'د اتڼ غاړي' يې يو ځانګړے انداز لري چي قام له نورو قامونو څخه بېل په ښکاري- د بېلګي په توګه د سيدخېرمحمدعارف[9] دکتاب "داتڼ نارې" څخه دا غاړه رانقل کوم:

ستا ترکلا زما کلا يَکړه،

هيچا نه درکولم

زۀ وَهلي قلم دروړم برابره

په دغه غاړه کي يوخاص علاقايې رنګ دے- ديکړي ' کلا ' تصور، د 'ورکړي' رواج ، د 'وادۀ ' په حقله دپښتنو د ' وهلي قلم' عقيده او ځانګړي عروض واړه خاص د پښتني کلتور مظهر دي او مثال يې په بله يوه ژبه کي هم نشته- ځکه دکلتور روزنه قامونه ژوندي ساتي او ثقافتي ورثه د قامونو د لرغونو تهذيبي اقدارو هينداره هم ده- کلتور د زمانې سره سره بدلېدونکے هم دے، ځکه د قامونو په خوراك څښاك او پوښاك کي ورو وروبدلون ليدل کيږي- دوخته سره يې په موسيقي او آرټس کي هم بدلون راځي، ځکه نو پر پښتني کلتور هم ځای ځای دعربو، ايرانيانو او هنديانو اثرات ښکاري-

تهذیب یو عالمي یا بېن المللي مظهر دے چي د لوَړو کلتوري خاصیتونو او تاریخي ورثې[10] پر بنیاد دقام پېژندنه او ارزښت اړه پوري لري- تهذیب د یوې معاشرې دجوړښت بنیاد او هغه پنګه ده چي په څه خاص وخت کي دڅه خاصو مدنیتونو آثار لري- دغه آثار که د تعمیراتو په شکل کي وي او که بیا دڅۀ بېلو لیکلو نسخو، کتبو او کتابونو په صورت محفوظ وي د قام د افتخار وړ ګڼل کیږي- دمثال په توګه "ګندهارا تهذیب" پرد ې خاوره دتېر مهال دخلګو دهنر پته ورکوي ځکه نو د یوې مهمي قامي اثاثې حېثیت لري- تهذیب چونکي د ثقافتي موجودیت اقرار ګڼل کېږي ځکه دقام پېژندنه او ارزښت هم اړه پوري لري- تهذیب د یوې معاشرې دجوړښت بنیاد دے چي دېښت واړه قدرونه سره را یو ځای کوي او د قام په حېث یې ژوندے ساتي- دقام د تهذیب اصل عناصر دهغه تاریخ، ثقافت، عقیده، نظریه، ادب، موسیقي، او مصّوري دي چي قام په پېژندل کیږي- لنډه دا چي تهذیب د قام د اجتماعي ضمیر اظهار دے ځکه د نظرئې په تشکیل کي مهم رول لري-

د پښتون قام معلوم تاریخ پنځه زره کالۀ یادیږي او د انسانیت د فلسفې تاریخ تر دې ډېر زوړ دے- حقیقت خو دا دے چي هرڅۀ مونږ اورو، وینو، سوچ کوو، او یا راباندي تېرېږي هغه ټول په څۀ نه څۀ رنګ پخوا هم پر خلګو تېر شوي دي- اولنو خلګو ښایي چي له بشریته د انسانیت په خوا د "سړیتوب" خپل اوږد سفر هماغه وخت

پېل کړے ؤ کله چي دوی په خپل خواؤشا کښي د بېلا بېلو پېښو سره مخامخ شوي وو- په ځينو حوالو ددغه سفر د پېل تاريخ زياتوکم تر پنځوزرو کلونو پوري غزېدلے دے[10]- "سرېتوب" په پښتني ټولنه کي د تهذيب په تاريخ کي د فطريت، تصوريت او ماديت سره سمه يوه ډېره مهمه او زړه فلسفه ګڼل کيږي- په وړمي او دويم عالمي جنګ کي پښتتنو د سرېتوب ثبوت ورکړ، غېر جانبدار پاته شول، قام يې د عالمي قوتونو په شخړو کي بوخت نۀ کړ او د نړۍ پر مخ يې د آزاد هېواد په توګه دخپلواك وطن د بقا موخه تر سره کړه[11]- په نوي پېر کي د دغي فلسفې اهميت ځکه نور هم زيات شو چي پښتانۀ د ډېرو نفسياتي، معاشرتي او معاشي مسئلو تر اثر لاندي راغلل- تر وړومبي عالمي جنګ وروسته زياترو ځېلو قامونو ته دا احساس وشو چي د انسانيت پر نامۀ د وړو او کم قوته قامونو استحصال کيږي ځکه د قوميت جذبه د آسيا او افريکا په وړو وړو قامونو کي په شدت سره را وپاڅېده- ځېلي قامونه ويښ شول او د خپلواکۍ هلي ځلي يې پېل کړې- بيا تر دويم جنګِ عظيم وروسته د انسانيت زړې فلسفې د" انسان دوستۍ" نوے شکل اختيار کړ[12]- که څۀ هم دغه فلسفه تر ډېره حده پر فطريت اوماديت ولاړه ده خو يو بېل اړخ يې دا هم دے چي په دغه فلسفه کښې د انسانانو د علاقايي او قامي مسئلو د فطري اهميت تحفظ نشته ځکه د قوميت يا نېشنليزم فلسفې لره ځای پرېږدي-

معنا دا چي د انسان دوستۍ فلسفه خلګو او قامونو ته هغه جبري یکسانیت ورکوي چي ګټه به یې د لویو قامونو وي او نقصان یې د شاته پاتو ځپلو وړو قامونو- ځکه دغه فلسفه هم د ځینو نورو فلسفو په شان د انسانیت په اړه څۀ بشپړه تصور نه دے بلکي په یویشتمه پېړۍ کښي پر ټوله نړۍ د ګلوبلایزېشن یا عالمګیریت خپرولو کوښښ ګڼل کېدای شي-

که د انسانیت پر بنسټ مورږ ټوله سره یَو یو، نو بیا پر عالمګیریت څله اتفاق نۀ شي کېدای؟- څله د ځلاند سبا په هیله د اتفاق، میني او اخلاص پوړي نۀ شي ټینګېدای؟ څله د خلګو د خوشحال ژوند په امید د امن، تعلیم او تجارت لاري نۀ شي خپلېدای؟ د دغو ټولو سوالونو ځواب دادے چي په عالمګیریت (ګلوبلایزېشن) کي د انسانانو د علاقایي او قامي مسئلو د فطري اهمیت تحفظ نشته- امریکا او مغربي هېوادونه چي اوس کوم پروګرامونه وړاندي کوي او کوم عالمي کلتور را مخته کوي د نړۍ د دې څنډې مشرقي قامونو ورته د شك په نظر ګوري او دا احساس کوي چي د دغو څخه به د دوی ژبې او ثقافتونه ورو ورو ختم شي او د مغربیت تر اثر لاندي به راشي[13]- ولې چي د الیکټراني میډیا له لاري وړاندي کېدونکي دغه پروګرامونه په هیڅ توګه د دې سیمي د خلګو خپل پروګرامونه نۀ دي ځکه یې خلګ نۀ خوښوي- دا وخت چي کوم موسیقي د راډیوګانو او ټیلیویژنونو څخه نشرکیږي هغه د

دې ځاى د خلګو د فطرتي ماحول سره سمون نۀ لري- کومې ډرامې او ناټکونه چې مونږ وينو ددغو ناټکونو اتلان هم د دې سيمې اتلان نۀ دي او نۀ له دې خلګو څخه ښکاري- د دې سيمې خلګ خو په خپلو ژبو د خپلو زرګونو کلونو د روايتونو په ترڅ کې خپل پروګرامونه کتل او اورېدل غواړي نۀ چې د غېرو تر جبر لاندې توپل شوے يو بېل نوے کلتور-

په مشرقي هېوادونو کښې د خلګو دا وېره هم روځ په روځ زياتيږي چې عالمي مالياتي ادارې او لويې لويې ملټينېشن عالمي کمپنياني ورو ورو د وړو قامونو مالي وسايل ترې اخلي لګيا دي- د دوی دغه وېره ښايي چې په شاته پاته اسلامي نړۍ کښې د اوسنۍ اورپکۍ د وَدې اصل سبب هم وي- ولې چې تاريخ دا ښئي چې مذهبي انتها خوښوونکي تر دې لمخه په دغو سيمو کې نۀ وو- ځکه نو يوازې د انسان دوستۍ فلسفه عملي کول په نړې کښې د امن ضمانت نۀ شي ورکولاى- په مشرقي هېوادونو کښې د خلګو د دود او عقيدې پر اساس د داسې فلسفې د عملي کولو ضرورت دے چې د قوميت او مذهب د تحفظ ضمانت هم پکښې وي او په پښتني ټولنه کې همدغه فلسفه ”سړيتوب بلل کيږي- ترڅو چې د دې سيمې خلګو ته په عملي توګه دا باور ورکړ نۀ شي چې دنورو قامونو په شان ددوی شناخت، دود ، ژبه او خپلواکي محفوظ دي اوله هيڅ يوۀ خطره سره مخامخ نۀ دي، ترهغه وخته نۀ څوک د

انسان دوستۍ فلسفه عملي کولای شي او نۀ د نظرياتي انتها پسندۍ مخنيوے کېدای شي- له دې څخه مې دا مطلب هيڅکله نۀ دے چې د انسانيت پر اصولونو باندې عالمي ورورولي د اورپکۍ مخنيوے نۀ شي کولای بلکې دا لازمي ګڼم چې پرعالمي سطح فېصلې په انصاف وشي او په نړۍ کې دپائېدونکي امن باور ورکړ شي چې دغه وېره د خلګو له مغزو اووزي چې د دوی و شناخت، دود، ژبه او مذهب ته څۀ خطره شته-

که موږ هرڅومره د انسانيت پر اساس د خلګو، قامونو، او هېوادونو د برابرۍ دعوې وکړو او د نسلي، مذهبي او علاقايي تعصبونو څخه بالاتر شو خوبيا هم د انسانيت په اړه بېلې بېلې سطحې ښکاري- که هر څومره د مذهب پر بنياد د يوۀ لوړ قوميت يا اُمت تصور ورکړ شي بيا هم د ژبې، نسل، کلتور اوجغرافيه اهميت نۀ شي ختمېدای- بلې خواته که هرڅومره مذهب تر داخلي او روحاني جستجو پورې محدود وګڼل شي بيا هم دا حقيقت نۀ شي پټېدای چې مذهب دباندينے سفر جاري ساتي او د داخلي نفسياتي سفر سره سره يې زياتره مخکښان دنياوي سياسي، معاشرتي او معاشي هلو ځلو ته هم دوام ورکوي- ځکه نو دا څرګنده ده چې انسانيت قوميت او مذهب د ټولني درې لازمي برخې دي پر کومو چې د جديد رياست بنسټ اېښوولکېدای شي- انسانيت د نړۍ د ټولوقامونو ترمنځ د يوۀ آفاقي آئين حېثيت لري،

اسلام د الله تعالی آخري مکمل دین دے چي خپلو منونکو لره هدایت او د اسلامي ورور ولی بنیاد دے اوپښتونوالی د پښتني تشخص مظهر ګڼل کیږي ـ

په دې دنیا کښې د خلګو ترمنځ توپیر فطري شے دے- هرکس له بله بېل شناخت لري، بېل یې شکل وي، بېل قد وقامت، او بېل یې مزاج وي- بېل قومیت لري، بېله ژبه او بېله یې عقیده وي- بېلي نغمې وایي او بېل سُرونه یې و سندرو ته ځانګړي رنګونه ورکوي- د خپلي سیمي د بېل موسم په حساب ځانګړے لباس اغوندي او بیا په هغه کښي هم ځان لره یو بېل انداز خوښوي- دا فرق به وي او باید چي وي ولي چي د ژوندانهٔ خوند په همدغو بېلو رنګونو کي دے- ګلان په یوهٔ رنګ نهٔ دي، بوټی یوشان نهٔ ښکاري، غرونه خپل خپل شکلونه لري، سیندونه، رودونه، مندونه، او شَلې بېل بېل منظرونه وړاندي کوي- همدغه د دنیا ښائست دے، دغه یې ښکلا ده ، خوند دے- ځکه ټول خلګ په یوهٔ لړ کښي پېئلي نهٔ دي- ګډ انسانیت یو ځلاند فکر ضرور دے خو د مذهب، عقیدې، قومیت، علاقائیت او تشخص وجود له منځه نشي وړای- یو دین ستر تصور ضرور دے خو دبېلا بېلو عقیدو ځای پکښې شته- یوقام ډېر ښکلے خیال دے خو د اقلیت د حق ساتنه پکښې لازمي ده- ګډ

مملکت غوره فېصله ده خو په وسايلو کښې د قوميتونو د سمو برخو ضمانت ورسره ضروري دے- د دې سيمي سپېڅلي خلګ کله د انسانيت پر نامهٔ او کله بيا د مذهب پر نامهٔ د غېرو د بېلا بېلو دسيسو ښکار پاته شوي دي- عالمي بازيګرو کله دوی د مذهب پر نامهٔ د کمونيزم خلاف په جنګ کښي استعمال کړي دي او کله يې بيا دخپلو ګټُو دپاره ورور وژنه وربانديي توپلې ده- د يوې سيمي د پرمختګ راز د خلګو په ځان پېژندنه، ويښتيا او قامي مينه پوري اړه لري- حقيقي قوم پرستان هغه ويښ خلګ وي چي د قوميت، مذهب او انسانيت په بېلا بېلو حېثيتونو پوهـ وي- د مذهبونو د احترام سره سره د انسانيت د ګډو قدرونو ادراك لري، ځکه نو د قام د بقا او پرمختګ لاري لټولای شي- دوی يوې خواته د قام په تېر تاريخ خبر وي او فخر په کوي، بلي خوا ته يې نظر د نړي پر نوو نوو بدلونونو هم وي- د ساينسي ترقۍ له تيزي منډي څخه وېره نهٔ لري بلکي په ګام يې د تګ هلي ځلي کوي- دوی همه وخت د قام د ځلاند سبا په څار وي[14]- د ژوندانهٔ د بېلا بېلو امکاناتو قايل وي او په هر حال کي د قام د بقا هلي ځلي کوي-

د ټولني د بنسټ خښته کَس(فرد) دے او کله چي څو کسان خپلوان سره يو ځای شي نو کهول ترې جوړ شي- ټبر يا قبيل له

همدغو کهولونو جوړېږي چي پر لوړه سطح بیا قام ترې جوړشي- ځکه هرکس په خپل نامهٔ پېژندل کیږي، خپل کهول تر هرڅا ورتېروي، خپل ټبر تر نورو ورباندي ګران وي او په خپل قام فخر کوي- همدغه فطرت دے چي بدلېداى نهٔ شي- ځکه قومیت یو حقیقت دے چي د انسانیت یامذهب په نامهٔ نهٔ شي ختمېداى- قومیت مذهب او انسانیت درې واړه د "سریتوب" په فلسفه کي د پښتني ټولني جلا جلا اولازمي برخي دي چي په اوسني دور کښې د یوهٔ پائېدونکي جدید ریاست بنسټ ورباندي ایښوو کېداى شي- زهٔ پښتون یم مسلمان یم او انسان یم، همدغه حقیت دے، همدغه د بقالارده چي د ځلاند سبا په هیله سفر ورباېدي کېداى شي-

پښتونوالی د ټولنیزو قدرونو هغه پنګه ده پر کومو چي له زرګونو کلونو راهسي د پښتني معاشرې سماجي تنظیم شوے دے- د پښتانهٔ د شخصیت جوړښت د ټولنیزو قدرونو په همدغه پنګه پوري اړه لري چي دے له نور خلګو نه بېخي بېل په ښکاري- دغه قدرونه د پښتني سیمي په هره څنډه کښي یورنګه دي او که بیا چیري ځاى پر ځاى څهٔ نه څهٔ توپیر پکښي لیدل کیږي نو هغه ښکاره خبره ده چي د پرَدو ترسماجي اثر لاندي امکان لري- دغه قدرونه څهٔ دي؟ ددے سوال غوره جواب لره دیوهٔ بېل کتاب د لیکلو ضرورت شته خو د نېك مرغۍ خبره دا ده چي هر پښنون نهٔ یوازي

په پښتونوالي پوهـ دے بلکي په عملي توګه يې پابندي هم کوي ځکه يې نور تفصيل ته اړتيا نۀ لرم- ننګ، مينه، مېلمستيا، ننواتې، بدل، تور، وېش، مَرَکه، جرګه او لښکر خو د پښتونوالي زړې برخې دي مګر د اسلام د راتلو سره د پښتنو زړه عقيده بدله شوه او اسلام يې په ګده د قام د يوازيني مذهب په توګه خپل کړ- له دغه وخته حجرې او جمات د پښتنو د ټولنيزو مسئلو د اوارَولو زمه واري پر غاړه واخسته چي تر اوسه لاهم د پښتنو د دوو مهمو ادارو په حېث په ټولنه کښې ژوندۍ دي- له بده مرغه د پېوسته بهرَنيو مداخلتونو[11] له کبله د دغو دوو مهمو اِدارو ترمنځ هغه اعتماد پاته نۀ شو کوم چي له پېړيو راروان ؤ- ځکه دا ټولنه د انتشار ښکار شوه او اورپُوکو پکښې د تخريب کولو ځای ومونډ- دجمات سره تړلي مذهبي قوتونه دمغربيت له ډاره د جديديت څخه هم کرکه کوي لګيا دي اوجديد تعليم ورته په خپله لارکي خنډ ښکاري- مغربي قوتونه د دغي کرکي څخه دا اثر اخلي چي پښتانۀ خصوصاً او مسلمانان عموماً له دوی څخه نفرت کوي او ددوی مفاداتو لره خطر دي حالانکي داحقيقت نۀ دے- پښتانۀ جنګ پرستان نۀ دي بلکي د نورو قامونو په شان د بقا هلي ځلي خپل قامي فرض ګڼي- پښتنو خصوصاً او نورومسلمانانو په عمومي

توګه دمغربي قامونو دپېوسته مداخلتونو خلاف مقاومت کړے دے
چي په هره توګه فطري عمل دے نۀ چي بنيادپرستي-

له بده مرغه د نړۍ څو ناپوهو ' اورپُوکو' د جهانګيرۍ خوب وليد او سپېڅلي خلک يې د بلا په خوله ورکړل- دوی نه خو د جهانګيرۍ پوهه لرله او نه وسايل ورسره وو، يوازي يې د خلګو له سادګۍ ګټه اخسته چي نتيجه يې د مسلسل ورور وژني په شکل وخته- نورو هېوادونو هم د دوی دناپوهۍ څخه ګټي واخستې او ډول ډول پروپيګنډې ورپسې پېل کړې- ددغه دور د روسي ليکوالو د افغانانو په اړه خپل نظر دے چي تر ډېره حده د دوی د مداخلې دفاع پکښي شوې ده- هندي ليکوال په افغانستان کي هره شخړه د دوی د دُښمن ګاونډي هېواد له لاسه بولي- د مغربي ميډيا دا تاثر چي پښتانۀ تش په جنګ غښتلي دي د روس تر شکست وروسته د دوی دويم نظر دے حالانکي تر دې لمخه افغانان د دوی تر نظر هم ښۀ وو- ځکه نو دا حقيقت دے چي د نورو ژوندو قامونو په شان پښتنو هم همېشه دخپل شناخت او دود د ساتني فطري هلو ځلو ته دوام ورکړے دے- کله چي جنګ ورباندي توپل شوے دے او دوی ورته تړل شوي دي نو بيا يې په نره مقابله کړې ده- پښتنو په وارو وارو د رواداری ثبوت ورکړے دے او له پېړيو څخه د انسانيت پر

ګڼو قدرونو د نورو قامونو او نورو مذهبونو د منونکو سره ژوند کوي لګیا دي- تاریخ ګواه دے چي په خپل هېواد کښې پښتنو هر کله د عدل او انصاف پر اساس د وړو وړو قامونو خیال ساتلے دے او د نورو مذهبونو منونکو ته یې تحفظ هم ورکړے دے- البته دوی د تاریخ په اوږدو کي د قام ژغورني هلي ځلي هر کله تر تېښته غوره ګڼلي دي- دوی له لویه سره په خپل هېواد کي د وړو وړو قامونو د حقوقو او ښېګړي خیال ساتلے دے او د لویو قامونو سره یې د غېرجانبدارۍ او برابرۍ پر اساس ټینګي اړیکي ساتلي دي- خو پېوسته بهرَنیو مداخلتونو په وار وارو دوی وَجنګونو ته اړ کړي دي ځکه جنګ همېشه د دوی مجبوري شوې ده خوښه یې کله هم نه ده پاته شوې-

ګڼ شمېر ځوانان دا تپوس کوي لګیا وي چي که د پښتني معاشرې سماجي تنظیم او د سرېتوب فلسفه د پائېدونکي ریاست ضرورتونه پوره کولای شي نوپښتانهٔ بیا څله شاته پاته شول؟ زما جواب دا وي چي نفاق، پېوسته بهرني مداخلتونه او د دغو په نتیجه کي را پاڅېدلې اوسنۍ اورپُوکي- حقیقت هم دادے چي په لاندي جدول نمبر۱۱ کي دقام دپستۍ همدغه وجوهات څرګند شوي دي چي د لوستونکو دپاملرني وړ وګرځي -حقیقت دادے چي نفاق

زموږ الميه ده- دُښمنانو هرکله زموږ د دغي کمزورۍ څخه ګټې اخستي دي ولي چي همدغه په تېر تاريخ کي د پښتنو ددرانۀ بار يوازينے کوږ لرګے پاته شوے دے- لکه مخکي چي يې ذکر وشو او .




څرګندون نمبر ۱۱ د قام د پستۍ خا ص وجوهات


په راتلونکي څپرکي"سمه لار" کښي به هم ورباندي بحث کوو، د ځلاند سبا په هيله همدغه د"نفاق" ټکے د سمبړو دے چي زمونږ دپستۍ يولوی سبب ګڼل کيږي- بيا پېوسته بهرني مداخلتونو افغانستان په وارو وارو وران کړ ځکه هم د نړۍ تر نورو قامونو شاته پاته شو- افغانانو خو د فطرت د قانون عين مطابق د قام ژغورني تاريخي هلي ځلي وکړي او د دغو مداخلتونو مقاومت يې په نره وکړ چي تفصيل به يې په راتلونکي څپروکي کښي راشي-

د نوي پېرځيني څېړونکي[15] دانسته يا بيا غېردانسته پښتانهٔ د اورپُوکې سره تړي او دوی د جديديت او عالمګيريت په لار کي خنډ ګڼي، حالانکي داسي نهٔ ده- حقيقت دادے چي د پيوسته بهرنيو مداخلتو په نتيجه کي د نړی ببلا ببل اورپوکي هم له بهره راغلو اودلته وکرل شول، کنې مخکي د پښتنو پر سيمه دغسي ناوړه پېښي کله هم نهٔ وې شوي- پښتانهٔ له پخوا څخه د نړی د نورو قامونو سره سم را روان دي- مغربي قامونه چونکي پخپله هم نسلاً آريئن دي او تر شپاړسمي پېړی لمخه په خپلو کي په همدغه شان لويو لويو جګړو سره بوخت وو، ځکه د "مارشل ريس" په خطاب بايد چي پښتانهٔ وجنګ ته نور نه وتړي- پښتونوالی که څهٔ هم پر زړو دودونو او قدرونو ولاړ قامي دستور دے خو جنګ پکې د مسئلې د حل وروستی مجبوري ګڼل کيږي[16]-

لکه مخکي چي يې ذکر وشو په مشرقي هېوادونو کښي د خلګو دا وېره چي عالمي مالياتي کمپنياني د وړو قامونو مالي وسايل ترې اخلي لګيادي او پيوسته بهرَني مداخلتونه په همدغه لړ کي کيږي، ښايي چي د اوسنی اورپکی د وَدي اصل سبب وي- ولي چي مذهبي انتها خوښوونکي خو له همدغو مداخلتونو سره را وخوځېدل- تر دې لمخه په افغانستان کښې مذهبي خلګو او علماوو هرکله د رَواداری او امنيت بلنه ورکوله او په هيڅ يوه بدي کي يې هم لاسوهنه نهٔ کوله- مغربيت که څهٔ هم د پښتنو د قامي

مزاج سره سمون نۀ لري خو دوی د جدید دور د آزادۍ او ایجادونو څخه ګټه اخستل لازمي ګڼي- که یورپ ته له زاړۀ روایتي زرعي نظام څخه وجدید نظام ته په را وښتو درې سوه کالۀ ولګېدل نو روایتي پښتانۀ دغه نظام دومره ژر څنګه خپلولای شي- پښتانۀ نۀ خو دمغربي قامونو څخه نفرت کوي او نۀ د جدیدیت لارنیوے د دوی مرام دے، البته د پرَدو دتېري لارنیوے او د قام ژغورني هلي ځلي د نړۍ د نورو آزادو قامونو په شان د پښتنو هم بنیادي حق دے- ترځان پېژندنه وروسته قومیت، مذهب او انسانیت په پښتني ټولنه کي د سرېتوب د سفر درې لازمي پړاوونه دي- په اوسني دور کښې د بقا او پر مختګ لار همدغه ده چي پښتانۀ د انسانیت په اړه د نورو قامونو او هېوادونو سره اړیکي ټینګي وساتي ولي چي انسانیت د نړۍ د ټولو قامونو ترمنځ د یوۀ آفاقي آئین حېثیت لري- پښتانۀ باید د مسلمانانو سره د اسلامي ورور ولی پر اساس نوري هم اړیکي ټینګي کړي او د پښتونوالی پر اساس د خپلي پښتني وروروليۍ او قامي تشخص ساتنه هم وکړي ـ

په نوي پېرکي قام ته څۀ کول پکاردي؟ دا یو بل عام سوال دے چي طالب علمان یې زیاتره پوښتي- د دغه سوال یو ساده غوندي جواب دا ورکول کیږي چي امن، تعلیم، تجارت او جمهوریت دي د قام ترجیحات ومنل شي- په دا لاندي څرګندون نمبر ۱۲ کي د جدول په توګه همدغه څلور ترجیحات څرګندشوي دي- امن په




څرګندون نمبر۱۲ د قام څلور ترجیحات

جنګ ځپلي هېواد کي اولنۍ ترجيح ده چي د خوشحالۍ ضمانت ورکولای شي- ترڅو چي خلګ امنيت ته غاړه کښېږي نه بړدي تر هغه وخته د ځلاند سبا تصور هم نه شي کېدای[16]- د پښتنو بقا په دې پوري اړه لري چي دوی په خپلو کي سره وبخښي، خپله ټولنه مُتفقه او مُنظمه کړي او په هر قيمت امن قايم کړي- نفرتونه کم کړي او د ملي يووالي ټولو هلو ځلو ته دوام ورکړي- په ټولنه کي تعليم عام کړي او خلګو ته د افغاني دود سره سم د ليك لوست آزادي هم ورکړي- د قام د ښېګړي په کارونو کي د دولتي افسرانو مرستي وکړي او د هغوی سره د حساب کولو همت هم ولري- د ملي مشرانو احترام لازم وګڼي او ورسره ورسره د هغوی د اِحتساب غوره لار هم ولټوي- چونکي اديبانو او ليکوالو هرکله وعامو خلګو ته

دبقا د هلوځلو او دبهرَنيو قوتونو دمداخلې دلارنيوي حوصله ورکړې ده ځکه د دوی قدر وکړي، ولي چي ادب د سماجي ژوند هينداره او سياست يې محوردے- د عالمي تجارت لاري خلاصي کړي ولي چي تجارت لره زموږ جغرافيايي موزونيت د معاشي ګټو يوازينی منطقي لار ده- جمهوريت چونکي دحکومت کوولو هغه سيستم ته ويل کيږي چي د خلګو د اکثريت په مرسته، د ووټ له لاري، دخلګو دپاره د دوی په خپله خوښه جوړ شوے وي، ځکه نو په دې پېر کي تر ټولو بهترحکومتي نظام ګڼل کيږي- د حکومت کولو دغه جمهوري نظام د څۀ نه څۀ بدلون سره د نړی هر هېواد لره ځکه غوره نظام بلل کيدای شي چي بنسټ يې د خلګو پر اجتماعي رايه ولاړدے- په دې سيمه کي به د جمهوريت شکل يقيناً له مغربه بېل وي، ولي چي افغانان خپل بېل شناخت او بېل سيمه ايز حالات لري، خو په دې کي څۀ شك نشته چي همدغه يوازينے غوره حکومتي نظام دے- چونکي د افغانانو ټولنيز ضرورتونه داسي دي چي دبېل او ځانګړي جمهوري نظام تقاضا کوي ځکه به افغاني حکومتي نظام يو مختلف انداز ضرور ولري خو په عملي توګه د جمهوريت سېوا بله هيڅ چاره نشته- پرخپل قوت د اعتماد کولو پښتني روايت قايم ساتل د قام بقا لره لازمي دے ولي چي د بل تلتك تر نيمي شپې وي- حقيقت خو دا دے چي امن، تعليم، تجارت او جمهوريت واړه هله په ټولنه کي وده کولای شي چي **'بهرَني مداخلتونه'** ختم شي -

# اخځلیك

1- او لیري سیسلا الزیبیتهـ ، ’د چا لپاره مرم ‘ (To Die For) د امریکن
پیټریاټیزم ازانګه ، پرنسټن یونیورسیټۍ پرېس امریکا ۱۹۹۸

2 - هوچیسن، جان او آنتوني سمیتهـ، ’ نېشنلیزم‘ (Nationalism) ، آکسفورډ
یونیورسیټي پرېس، لندن، ۱۹۹۵- ( د ۴۹ مهیمو مُصنیفا نو مضا مین )

3- درویش درانی، ’دابُوټي به لونګ شي‘ صحاف نشریاتي موسسه ،
کاسي روډ کوټه ، ۲۰۰۹

4- اګنا تیف میچل، ’ وینه او خپلوي ‘ (Blood and Belonging) د نوي
نېشنلیزم سفر، نون ډې، امریکا ۱۹۹۵

5- ملنګ جان، ’د ملنګ جان خوږې نغمې‘ د لال باچا ازمون په زیار،
د علامه جمال الدین افغاني فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۷ زمری

6- و یبې ، روبرټ ایچ او ملګري، ’ موږ څوک یو‘ (Who we are)
پرنسټن یونیورسټۍ پرېس ۲۰۰۱

7- نېرن ټام ، ’ د نېشنلیزم بېلا بېل مخونه ‘ (Faces of Nationalism)
ورسُو ، ۱۹۹۸ -

8 - آرچر مارګرېټ، کلتور او اېجنسۍ: کلتور د نظر په سماجي زاویه
(Culture and Agency: The Place of Culture in Social theory ) ریوائزډ
ایډیشن کېمریج یونیورسټۍ پرېس ، ۱۹۹۶

9- سید خېر محمد عارف، ’داتې نارې‘ قلات پرېس، پښتو اېکېډمي
کوټه ۲۰۰۵

10- مانفرېډ اې ، (History and Civilization of the World) تاریخ و

تهذیبِ عالم، ژباړن امیرالدین تقي حېدر، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶

11 - امین سېکل، Modern Afghansistan: a history of struggle and survival، یعني " نوے افغانستان" ، آیي بي ټارس لندن او نیویارک، ۲۰۰۴

12 - کارلس لېمنټ، (The philosophy of Humanism) یعني د انسان دوستی فلسفه ، اردو ترجمه امجد علي بهټي، فکشن، مزنګ روډ لاهور، ۲۰۰۷،

13 - سېموئیل پي هنټینګټن ، دتهذیبونو ټکراؤاودعالمي نظام نوے جوړښت (The clash of civilizationz and the new world order) اوکسفورډ، ۱۹۹۷ -

14 - ډاکټر باقي درانی، 'پښتانهٔ د تهذیب په څپو کي' صحاف نشریاتي موسسه کاسي روډ کوټه، ۲۰۰۸

-15 بارنېټ روبین ، (Search for Peace in Afghanista) د امن تلاش په افغانستان کي، امینه سید، آکسفورډ یونیورسیټي پرېس، پلاټ نمبر ۳۸، سېکټر۱۵ کورنګي انډستریل ایریا کراچي ، ۲۰۰۳

16 - موکولیکا بینرجي، (The Pathan Unarmed) غېر متشدد پښتون، جېمز کیور ي، آکسفورډ یونیورسیټي پرېس، پلاټ نمبر ۳۸، سېکټر ۱۵ کورنګي انډستریل ایریا کراچي،۲۰۰۴ ،

❊❊❊

# 6

# بهرني مداخلتونه او دبقاهلي ځلي

# بهرني مداخلتونه او دبقاهلي ځلي

لکه مخکي چي يې په دويم څپروکي کښې ذکر وشو، د فطرت قانون د ځان ژغورني پېوسته جدوجهد دے، بشر له ازله د نورو مخلوقاتو سره سم د بقا په هلوځلو دے- اولنيو انسانانو به د ځان ژغورني د پاره په دنګو غرونو کي سمڅې کيندلې او استوګه به يې ځکه پکښې کوله چي بقا يې خپله فطري ذمه واري ګڼله- دوی به کله ډبري تراشلې او د ځان ژغورني اوزار به يې ترې جوړول او کله به يې له هډونو څخه د دښمنانو خلاف غشي جوړول[1]- اولنے انسان به زياتره د بقا په هلو ځلو ؤ- کله به د خپل نوع د انسانانو سره د خوراك، څښاك، پوښاك او استوګي په لانجو کي بوخت ؤ او کله به بيا دنورو بلاګانو سره ښکر په ښکر ؤ- دارنګه به اکثره د يوې نه يوې وېري تر سايه لاندي اوسېدۀ خو تر مړيني به دبقا په هلوځلو ؤ-

د بقا دغه جبلت چونکي په تاریخ کي د انساني نسل د بقا ضامن پاته شوے دے ځکه یو سترفطري عمل دے چي انسان په شرمنده نه دے- پښتنو هم د نړی دنورو قامونو په شان له پیړیو دخپل شناخت، دود اوخپلواکۍ دساتني فطري هلو ځلو ته دوام ورکړے دے- د بقا دغي هلي ځلي د تاریخ جبر او د دوی مجبوري شوې ده کنې جنګ د پښتنو خوښ نه دے- مګر کله چي جنګ ورباندي توپل شوے دے او دوی ورته تړل شوي دي نو یې بیاپه مېړانۀ مقاومت هم کړے دے- تېر تاریخ ګواه دے چي پښتنو په وارو وارو د رواداری ثبوت ورکړے دے خو د قام ژغورني هلي ځلي یې همېشه تر تېښته غوره ګڼلي دي- پخوا وخت د ننګ وخت ؤ، دغېرت او ځـوانمردۍ وخت ؤ خو اوس زمانه بدله شوه- اوس د قامونو د بقا اړه یوازي په سر ښندلو نه ده بلکي "سر پرځای ښندل" یې شرط دے- د سپېڅلو پښتنو غمیزه داده چي دوی زیاتره په خپل اخلاص کي تېروَزي- د دنیا منافقان یې په ځالاکي او مکاري تر ټاك تېر کړي- زۀ وېره لرم چي دغه تېروَته یې بقا لره خطره نۀ شي، ولي چي د تعلیم او پوهي بغېر د بقا هلي ځلي نۀ شي ترسره کېدای- سپېڅلي خلګ خو پرېږده، د یوۀ قام یا د یوې ډلي لاربښود هم که څۀ پوهه ونۀ لري نو د قام رهبري به څنګه کوي ځکه خو درویش[2] وایي:

پــه حــال پوره نــه دے خبــر، څوك يې راوګــرځوئ
ځي او بېځــايــه ښنــدي ســر څوك يې راوګــرځوئ
دغه لاربښود خوبه دوی هم ډوب کړي له ځانه سره
پــه لمــر پسې شول ماځيګــر څوك يې راوګــرځوئ

تاريخ او فلسفه يو له بل سره په ډېرو حوالو تړلي ښکاري- که فلسفيان تاريخ ليکنه پېل کړي او فلسفه موريخينو ته په لاس ورشي نو څۀ عجبه خبره به نۀ وي ولي چي "دتاريخ فلسفه" د عزت او عظمت فلسفه ده- د تاريخ جغرافيايي تاويل، نسلي تاويل، مذهبي تاويل، نفسياتي تاويل او معاشي تاويل واړه فلسفيانه تاويلونه دي- چونکي د پښتنو تاريخ د سرېتوب د فلسفې مغز دے، ځکه د بقا د هلو ځلو په اړه څۀ نۀ څۀ ترې اخځ کول ضروري ګڼم- ترعيسائيت ډېر لمخه افغانانو په آريانا کي د زرتښتيزم تر اثر لاندي د "حق او باطل" يوه صفا او ځانګړې فلسفه لرله او يو مستحکم او تقريباً جمهوري نظام يې هم درلود- د فطرت جبر، د ماحول جبر او په زياته بيا د تاريخ جبر داسي عوامل ؤ چي دا وطن يې د فنا او بقا په شخړو بوخت کړ- وګړي ئې پېوسته د بقا په هلو ځلو ؤ ځکه يې فکري سفر ورو ورو ډېرسست پاته شو- پښتانۀ يو ستر آريايي قام دے چي ترعيسیٰ عليه السلام دونيم درې زره کلونه وړاندي په" آريانا " کي اوسيدل- آريانا د افغانستان پخوانے نوم دے او پښتانۀ دآرياوو د"پکت"يا "پکتوېس" پښې څخه دي ځکه په

وېدي سرودونو کي پکتايان[3]هم بلل شوي دي- د دوی د استوګني ټاټوبے په تاريخ کي دپکتيکا (پښتونخوا ) په نامه ياد شوے دے او پښتانۀ تر اوسه لا د همدغه زاړه وطن " آريانا " په بېلا بېلو څنډو کي آباد دي- د هخامنشيانو په وخت کي د پښتنو اسلافو د"سکايانو" په نامه خپل قوّت درلود او د "ساکستان" په نامۀ يې وروسته خپل دولت هم ساتلے ؤ- د" افغان" نوم د ساساني باچا شاپوراوّل په حکم په يوۀ ډبر ليك کي په پارتي او يوناني ژبو ليکلے دتاريخ حصه ده او چيني ګرځندوی چانګ يې هم په خپله سفرنامه کي ذکرکړے دے[4]- دغه نوم وروسته په اسلامي پېرکي د پښتنو سره ډېر ټينګ پېوند شوے دۀ- د افغانانو تاريخ دبقا دهلو ځلو تاريخ دے- دوی له اوله سره له همدغي مسئلې سره مخامخ پاته شوي دي ځکه دبقا هلي ځلي تر هرڅۀ مهمي ګڼي- پښتانۀ آريانا د بشر مور ګڼي او افغان د اسلافو پر زړه مېنه پاته يوازينے قديم آريايي نسل- د پښتنو ژبه "پښتو" يوازي د دوی ژبه نۀ ده بلکي عدالت يې هم دے چي په تاريخي توګه يو آريايي روايت دے - وطن يې هماغه زوړ آريايي ټاټوبے دے له کومه چي ډېر پخوا د اوسني يورپ د خلګو اسلاف هم پرکېدلي وو، ځکه نوله ډېر پخوا نه د پښتونخوا تاريخي او جغرافيايي اهميت څرګند دے- آريانا له ډېر پخوا څخه د لويو لويو غښتلو په لار کي پرته ده او د عالمي قوتونو تر منځ د لويوجنګونو مېدان ده- مشرقي اړخ ته يې چين اوهندوستان دي چي له پخوا نه د تجارت په اړه خپل خپل اهميت لري او مغربي اړخ يې يورپ ته څرمه دے چي ځان لره يوه مهمه

خِطه ګڼل کیږي- ځکه پښتونخوا له پخوا نه د عالمي قوتونو تر منځ د لویو جنګونو مېدان پاته شوې ده- وجه یې دا ښکاري چې د تجارت مهمه پخوانۍ د "ورېښمولار" تر دغه سیمه تېرېده- له چین او هند څخه ټولي قافلې پخوا پر دغه لرغونۍ لار یورپ ته پاځېدې، ځکه به کله نۀ کله د دغې لاري کنټرول دلویو قوتونو تر منځ پېچومے شو-

هخامنشي حکمران سایرس اعظم د کال ۵۰۴ مخزېږدي په خواوشا د اوسني افغانستان په حدونو کي مداخلت وکړ او یوه څنډه یې له ساکانو (افغانانو) څخه ونیوه- بیا یې د دوی سره د "واك په ګډه" تر اصول لاندي یو کنفېډرېشن جوړ کړچي په زاړه تاریخ کي د هخامنشي سلطنت په نامه یاد شوے دے- دوی د سایرس په مرسته ورو ورو د" ګندهارا تهذیب" په جوړېدو پېل وکړ- تر دۀ وروسته د دارا (داریوش) باچا په دور کي د ساکانو اړیکي د هخامنشیانو سره ماتي شوې- ورو ورو چي دارا کله د دوی بقا لره خطر شو نو ساکانو هم د خپلواکۍ هلي ځلي پېل کړې، ترڅو چي له دوی سره د ټینګو نښتو په سبب هخامنشي سلطنت له منځه لاړ- مارټن ایوانز په دې لړ کي لیکي چي[5]:

"The establishment of the eastern Achaemanid empire involved hard fighting and persian rule was only maintained with difficulty. Greak colonists were broght in to help consolidate it, but by the fourth century BC, the satrapies to the south and east of the Hindu Kush seem to have regained their indepenence."

معنا دا چي ''مشرقي هخامنشي سلطنت تر سختو نښتو وروسته جوړ شو او پارسيانو په مشکل حکومت ساتلے ؤ- د واك ساتني د پاره يې يونانيان هم مدد ته راغوښتي وو خو تر ځلورمي مخزېږدي پېړۍ پوري د هندوکش دجنوب اومشرق ايالتونو بيا هم خپلواکي ترې واخسته''-

دغه بالا ليکنه په صفا ټکو دا ثابتَوي چي د پښتنو اسلافو ساکانو آغه وخت هم د هخامنشي سلطنت خلاف د بقا هلو ځلو ته تر هغو دوام ورکړے ؤ تر څو چي يې خپلواکي حاصلَوله- د افغانانو دا اټکل چي کوم کس چي پر ځمکه د خدائي دعوه کوي او يا کوم قام د عالمي طاقت جوړېدو هڅه کوي نو اوّل د افغانو سره سيالي پېل کړي' له حقيقت څخه ډېر لري هم نۀ ښکاري، ولي چي تاريخ هم د دې خبري تصديق کوي- پخوا هم چي به کله چا دخپلو مفاداتو په ترڅ کي دجنګ مېدان ګرمول غوښت نو په څۀ نه څۀ بهانه به يې په افغانستان کي مداخلت وکړ- لکه چي بالايې ذکر وشو، معلوم تاريخ دا دے چي د۵۰۴ مخزېدي څخه افغانان د بهرنيو د تېري پر ضد د بقا په هلو ځلو دي کله چي اوّل ځل د ايران هخامنشيانو دساکانو په حدونو کي مداخلت وکړ- بيا تر عيسیٰ عليه السلام خواؤشا درې سوه کاله مخکي د يونان سکندر اعظم په افغاني سيمه راګډ شو او تر درو کالو پکښې نښتے ؤ- همدغه شان بيا ساسانيانو تر اسلامي دور لمخه افغانان د بقا د مسئلې سره مخامخ کړل- په ۶۵۲ عيسوي کال کي عرب هم په افغانستان راننوَتل- عربو هم په وارو وارو افغانان د بقا د مسئلې سره مخامخ

کړل خو د اسلام زرینو اصولونو آخر افغانان د دوی پلویان کړل او اسلام یې د دین په توګه خپل کړ- د منګولیا چنګېزخان[6]په دیارلسمه پېړۍ کي افغانستان ټول برباد کړ- بیا تېمورلنګ او بابر[7] په هماغه چنګیزي انداز افغانستان په وارو وارو د فنا او بقا د مسئلو سره مخامخ کړ خو افغانانو د خپلواکۍ له هلو ځلو څخه لاس وا نه خستل - همدغو پېوسته مداخلتونو ورو ورو افغانستان د زمانې له سېله پاته کړ- وروسته چي د هند له خوا مغلو او د پارس له خوا صفویانو په ګډه افغانان بېخي و پاڼ ته ودرول نو اوّل میروېس نیکۀ او بیا احمدشاه بابا[8]په افغاني مېړانه د بقا دغه جنګ تر سره ورساؤ، افغانستان یې نۀ یوازي آزاد کړ بلکي د نړۍ یو عطیم سلطنت یې ترې جوړ کړ -

د یورپ سره سم افغانانو په اتلسمه پېړۍکي د احمد شاه بابا تر مشرۍ لاندي په کال۱۷۴۷کي وړې وړې ټبرواکۍ سره رایوځای کړې او په ګډه یې د"جدید افغانستان" بنسټ کښېښوو او د مِلي بېدارۍ ترجذبې لاندي یې دملي یووالي پر اصول باندي ډېر ژر "لوی افغانستان" جوړکړ چي په هره توګه یو مستحکم سلطنت ؤ- دۀ د افغاني سیمي طبعي سرحدونه وټاکل او د مغربي قوتونو د اِمکاني تېري مخنیوے یې هم وکړ- دا سلطنت د دۀ د زوی تېمور شاه په وخت کي لاهم په دې سیمه کي د طاقت توازن ساتلے ؤ خو دلمسیانو تر منځ یې انګرېزانو د نفاق اچولو په غرض یو باقاعده استخباراتي نظام جوړکړ او دارنګه یې په افغانستان کي مداخلت

پېل کړ او دا هېواد یې یو ځل بیا د فنا او بقا په کشمکش اخته کړ- هغه مهال په نړۍ کې نوې کاروباري ادارې جوړې شوې وې، په کومو کې چې د انګلستان یا برطانیه ایسټ انډیا کمپنۍ ( East India Company) هم شامله وه- دغې کمپنۍ د هند پر حکومت قبضه کړې وه او د افغانستان ځینې حصې یې هم لاندې کړې- کمپنۍ د هندوستان، افغانستان او ایران په سیاست کې تر ډېره وخته لوبې کولې- د پېسو په لالچ ځینو وطن فروشانو هغه وخت هم په پټه د انګرېزانو د پاره مخبري کوله او د وطن ریښې یې کښلې- دغه شان خلګو ته حمید بابا[9] وایي چې:

واړه مشق د خونرېزۍ کړې درپوهېږم
داچې ناست یې پټې سترګې لکه باز
دا زما په سرکوزۍ نۀ یې نو څۀ یې
چې رقیب دې په دشنام کړ سرفراز

برطانوي حکومت داغوښت چې په افغانستان کې هیڅ یو قوت داسې وجود ونۀ لري چې افغانان ورباندې راټول شي ولې چې دوی د نورو وړو قامونو په شان افغانان هم تر خپل واک لاندې ساتل غوښت- خو پښتانۀ بیا هم انګرېزانو اېل نۀ کړل او آخر یې خپلواکي ترلاسه کړه-

په نولسمه پېړۍ کي هم افغانستان د برطانيه او روس د مداخلتونو مرکز ؤ- دغو دواړو عالمي قوتونو هغه وخت په دې سيمه کي واك تر لاسه کول غوښت- د هغه وخت ددغوعالمي قوّتونو ترمنځ د"ګرېټ ګېم" يعني لويي لوبي په نامه تر ډېري مودې افغانستان د جنګ مېدان ؤ- بيا په اوّل او دويم جنګِ عظيم کي هم د قام د بقا په خاطر افغانان غېر جانبدار پاته شول خو وروسته د روس او امريکا ترمنځ سوړ جنګ له بده مرغه د افغانانو پر ځمکه تود شو چي په نتيجه کي يې روس پر افغانستان قبضه وکړه- د هېواد واك يې د خلق او پرچم ګوندونو وکمونيستانو ته ورکړ چي د افغانانو په دود پوهـ نهٔ وو ځکه يې د هېواد خلګ و نظرياتي انتهاپسندي ته وتړل- افغانانو د خدای په مرسته او د شلو لکو شهيدانو په قُربانيو روسيان له خپلي خاوري وَشړل او د کمونيستانو حکومت يې هم ور ړنګ کړ- روس افغانانو په خپل لوړ همت له هېواده وشاړهٔ، نه چي يوازي د مغرب په مرسته، ځکه خو محترم اولف کېرو[10] د خپل کتاب "The Pathan" په ضميمه کي ليکي چي:

The resistance of west, even of the muslim world, has been mainly verbal and the Pathan and Afghan guerillas have enjoyed little practical support in their struggle against the invaders.

يعني "د مغرب او اسلامي نړۍ مزاحمت خو زياتره زباني کلامي ؤ، پښتنو او افغانانوجنګيالو ته يې د مداخلت کوونکو خلاف په هلوځلو کي ببخي لږ عملي ګټه رسېده"

په افغانستان کي د شوروي اتحاد ترماتېدو وروسته امريکا د نړۍ يوازينے لوی طاقت پاته شو- د منځنۍ آسيا رياستونه ټول آزاد شول ځکه امريکا د دوی له قدرتي وسايلو څخه د تجارتي ګټو اخستو هلي ځلي پيل کړې- د امريکا دمداخلت[11] يوازي تجارتي وجه نۀ وه بلکي سياسي عُذريې هم درلود ولي چي امريکايانو پر چين او ايران هم نظر ساتل غوښت- کله چي په کال ۲۰۰۱ زېږده کي د ستمبر په يوولسمه نېټه د نيويارك د تجارتي عمارت "غبرګولي مينارونه" او د دفاع لوی عمارت "پنټاګان" په جهازونو وَويشتل شول نو امريکايانو د دغي پېښي تور د اُسامه بن لادن پر تنظيم " القاعده" ولګاوۀ کوم چي د روسانو خلاف په جهاد کي د افغانانو مرستيال ؤ- په ظاهره امريکا ځکه پر افغانستان حمله وکړه چي القاعده او طالبانو ته سزا ورکړي خو اصل مرام يې ښايي چي په منځنۍ آسيا کي خپلي سياسي، تجارتي او دفاعي ګټي تر لاسه کول ؤ- ځکه په افغانستان کي د دې عالمي طاقت مداخلت هم د پخواپه شان افغانانولره څه نوې خبره نۀ ده- که څه هم د نړۍ په هيڅ يوه پېښه کي پښتون د ټېروريسټ په توګه نۀ دے ليدل شوے خو د دهشتګردۍ خلاف جنګ بيا هم د پښتنو پر ځمکه دوام لري- په اوسني نوي پېر کي هم انګرېزانو، روسيانو او امريکايانو ټولو پرخپل خپل وار، دخپلو خپلو مقصدونو په ترڅ کي، په افغانستان کي پېوسته مداخلتونو ته دوام ورکړ چي منطقي نتيجه يې د نظرياتي انتهاپسندۍ سېوا بل څه نه شوه کېدای- لوی قوتونه په

افغانستان کي جنګ په خپله مرضي پېل کولای شي خو امن په خپله خوښه نهٔ شي راوستلای- د امن دپاره به پښتانه پخپله د جرګو له لارو هلي ځلي کوي-

دپخوا په شان اوس هم منځنۍ آسیا ته ټولي لاري تر پښتني سیمه تېرېږي- په راتلونکي وخت کي د تیلو پایپ لاینونه ښایي چي په همدغه سیمه کي به کیندل کېږي- اوس هم د چین او روس د بحرِعرب او خلیج ګرمي اوبه پکاردي او د مغرب د عالمي تجارتي کمپنیانو له روسه څخه په بېل شوو منځني آسیایي ریاستونوکي مفاد شته- ځکه دپخوا په شان نن هم دعالمي قوتونو ترمنځ د لویو جنګونو مېدان افغانستان دے- امریکا په افغانستان کي نن هم خپل فوجونه ایښي دي چي یوې خواته د ګاونډیانو په سترګو کي خیره دي او بلي خواته د دغه باندیني مداخلت منطقي نتیجه اورپُوکي یا نظریاتي انتها پسندي شوه، چي ذمه واره یې په هر حال مداخلت کوونکي دي نهٔ چي سپېڅلي پښتانهٔ-

دا رنګه عالمي تاریخ ګواه دے چي له شپږمي مخزېزدي پېړۍ څخه افغانستان د بهرَنیو مداخلت کونکو مقابله کوي لګیادے- د افغاني تاریخ آریایي پېر، سکایي پېر، کوشاني پېر، یپتالي پېر، اسلامي پېر او بیا اوسني دور د بقا د هلو ځلو په زرګونو داستانونه رقم کړي دي- دغو بېلا بېلو بهرنیو مداخلتونو او د هغوی خلاف د افغانانو پېوسته د بقا هلوځلو دا قام په پستۍ کي شکېل وساتهٔ او دشاته پاتیکېدو وجه یې ښایي چي همدغه بهرني مداخلتونه دي-

دبهرنیو قوتونو په مورږ څۀ اړه ده؟ ولي مداخلتونه کوي؟ مورږ له دغه شان مداخلتونو څخه ولي قام نۀ شو ژغورلای؟ دغه سوالونه هره روځ له مورږ څخه کیږي- په جواب کي یې دلیلونه ورکول کیږي چي د نړی ټول انسانان یو رنګه نۀ دي، بېل قامونه پکښې شته، بېل بېل مذهبونه لري، بېل تهذیبونه یې دي او د علاقې په حساب هر قام ځانګړے کلتور لري- همدغه توپیر د جنګونو سبب دے- د انساني تاریخ لوی جنګونه زیاتره د تهذیبونو تر منځ د توپیر په وجه شوي دي- د تهذیبي برتری احساس پخپله د جنګ یو لوی سبب ګڼل کیږي او معاشي ګټي یې یوه بله وجه هم ده-

تاریخي، تهذیبي، عمراني او فلسفیانه مطالعه آخر د انسان پام د انسانیت و بېلا بېلو مسئلو ته را اړَوي- د مغربي قامونو تاریخ د سپین او تور تاریخ دے، د مالك او د مرَیي تاریخ دے ، د امیر او د غریب تاریخ دے- د پښتانۀ په تاریخ کي د دغسي توپیر نۀ څۀ مثال شته او نه ګنجایش ولي چي پښتانۀ د نسلي امتیاز قایل نۀ دي- خان او بزګر یې دواړۀ پر یوۀ نغري ناست وي- له بده مرغه په تېره نیمه پېړی کي د باندینو مداخلتونو له کبله په ټولنه کي د اورپکی زهر وپاشل شول چي منطقي نتیجه یې د سیاسي، معاشي او سماجي پستی په شکل مخته راغله- بهرنیو اورپُوکو او د هغوی بادارانو د ټولني لوړ قدرونه ژوبل کړل او ډېر خلګ یې په خپل رنګ ولړل- د پرېشانی سوال همدا دے چي پښتني ټولنه د دغو ناوړو اثراتو څخه څنګه منځل کېدای شي؟ د غور او فکر

ټکے اوس همدغه دے چي دخلګو هغه اعتماد بېرته بحال کړشي چي په تېره نیمه پېړۍ کي د بېلا بېلو مداخلتونو تر اثر لاندي د هره لحاظه تباه شو-

په افغانستان کي د نظریاتي انتهاپسندۍ د مخنیوي هلي ځلي د وطن بقا لره همدومره ضروري دي لکه د مداخلت کوونکو لار نیول[12] - چونکي افغانان په هره پېړۍ کي د یوۀ نۀ یوۀ عالمي قوت سره **د** بقا په جنګ پاته شوي دي ځکه یې دغه نظریاتي انتهاپسندي په برخه شوې ده او همدغه یې د تعلیم په مېدان کي د شاته پاتېدو اصل سوب ګڼل کېږي- د اوسنۍ افغاني شخړي لویه وجه همدغه نظریاتي انتهاپسندي ده چي وطن یې له تېرو څلوېښتو کلونو څخه د عالمي قوّتونو ترمنځ دجنګ مېدان جوړ کړ او زیاتو کم شل لکه کسان پکښې شهیدان شول- په دې دور کي اعتدال د قام د بقا ضمانت ورکولای شي چي له بده مرغه تر اوسه د بهرنیو مداخلتونو له کبله د افغانانوپه برخه نۀ دے-

تاریخ د دې هم ګوا دے چي افغانان له اوّله سره د بقا په هلو ځلو دي، جنګ یې خوښ نۀ دے بلکي مجبوري یې ده- په زرګونو مبارزې یې د جهانګیرۍ دپاره نۀ دي کړي بلکي د خپلواکۍ د ساتني مورَنے حق یې پر ځای کړے دے- تعلیم او ترقي د نورو قامونو په شان د پښتنو هم خوښ دي، خو که یې څوك ورپرېږدي- په نوي وخت کي پر نوو کرښو ترقي د افغان قام تر ټولو لوی ضرورت دے او د ترقۍ زینه یې اعلیٰ تعلیم دے- د انتهاپسندۍ

الزام لګول آسانه دے خو عالمي ادارو ته د دې د مخنیوي حقیقي هلې ځلې هم کول دي- که دوی پښتانهٔ په راتلونکو وختونوکي د یوهٔ لِبرل دوست قام په حېث لیدل غواړي نو به یې د آزادۍ او خپلواکۍ احترام هم کوي- پښتانه په تاریخ کي کله هم چا په زور نهٔ دي اېل کړي او نهٔ یې اوس څوك اېل کولای شي، البته د دوی د اېل کولولار دمیني او برابرۍ لار ده- دوی دترقۍ پرلار ترنورو قامونو ځکه شاته پاته شول چي پېوسته مداخلتونو یې اقتصاد برباد کړ، له تعلیمه یې لري وساتل او د نوي نړۍ په ګام یې سفر ونه کړ-

افغانستان د نړۍ زړه دے او افغاني سیمه واقعي هم له جهانه بېله سیمه ده- غني خان یې دبازانو ځاله ځکه بولي چي سرتېرو یې په ټینګه او په وارو وارو دفاع کړې ده او د بقا په جنګونو کي یې نهٔ د سرونو پروا ساتلې ده او نهٔ د مالونو، خو د وطن حق یوازي په ښکلوشاعرانه خیالونو نهٔ ادا کیږي او نهٔ د پښتونخوا پر دنګو غرونو د جنګونو په خوږو خوږو نغمو- دا د منطق ږغ غواړي او د ساینسي ساز لے هم- دپرون خوږې قِصې او د نن د ویرسندري چیري زموږ سبا غمجن نهٔ کړي، ځکه د وخت په دې سفر کي دا ریشتیا ریشتیا ویَل دي چي "اورپُوکي" له بهرنیو مداخلتونو زوکړې ده او د افغانانو د بربادۍ لاره ده- د بقا لار "اعتدال" دے چي یوازي دامن او تعلیم په رڼا خپلَول کیږي-

افغانانو له اوّله سره یو ډېر ښه ټولنیز حکومتي نظام درلود

په کوم کي چي فېصلې په قبایلي "تېره او پاته" کېدې نۀ چي په نظریاتي انتهاپسندی- دافغاني ټولني اجتماعي جوړښت پر پښتونوالي ولاړ ؤ چي د جرګې او مرکې له لارو یې خپلي شخړي په ښه توګه هوارولې او د اورپُوکو پکې څه ځای نۀ ؤ- د زمانې د بدلون سره سره د قامونو ضرورتونه هم د وختونو په شان بدلېږي- په اوس وخت کي د تعلیم، ساینس او ټېکنالوژۍ ضرورتونه هم پوره کول دي- پښتون والے که څه هم د خپلي زمانې یو غوره نظام ؤ او د اسلامي اصولونو تر اثر لاندي یې افغاني معاشره تر ډېره حده په امان ساتلې وه خو په اوسني وخت کي د قام د بقا او د اورپُوکو د لاس نیوي د پاره د نور اِعتدال ګنجایش هم پکي پېدا کول لازمي دي-

که څۀ هم پښتانۀ د تاریخ په اوږدو کښي له زرګونو کلونو راهسي د بقا په هلو ځلو دي او د پردو د تېري مقابله کوي لګیا دي خو له تېرو ۲۰۰ کلونو څخه د مغربي قوتونو پېوسته مداخلتونه د دوی بقا لره واقعي هم حقیقي خطر شو- په دې زمانه کي جنګ یوازي په تُوره او مېړانه نه ګټل کیږي بلکي هنر او پوهه ورلره زیات ضروري دي، ولي چي مکاره دُنیا د مخبرانو په چل و ول او دسیسو ورور په ورور وهي ځکه خو درویش[2] وایي:

ښایي د پوهي په زور تا کوهي ته پوري وهي
د تُوري څوکه خو یې وېــره ستــا له هډه کوي

د هېواد بدخواهانو د سپېڅلو خلکو له ناپوهي ډېره فايده واخسته، په زياته بيا له تېرو دېرشو(۳۰) کلونو راهيسي، چيري چي پښتانهٔ د نهٔ ختمېدونکي عالمي جنګ له کبله تر يوهٔ داسي فشار لاندي ژوند کوي لګيا دي چي تاريخ تر دې لمخه کله هم نهٔ وُ ليدلے- دغه جنګ پښتنو د جهانګيرئ دپاره پخپله خوښه نهٔ دے پېل کړے او نهٔ يې د معاشي ګټو دپاره دوام ورکړے دے بلکي جبراً ورته وتړل شول، ځکه نو د رفيقي په قول دبقا هلي ځلي وربانديلازمي شوې[13]:

دا په زړهٔ د آسيا کي چي برپا ده
هنګامه نهٔ ده دا پېښــه د بقا ده

د دغه جنګ به څهٔ نتيجه وي؟ دا خو به راتلونکے وخت فېصله کوي، مګر دا ښکاره خبره ده چي افغانان د امنيت په هيله هېواد له "نظرياتي انتهاپسندئ" ژغورل غواړي او دا بې پوهي ممکنه نهٔ ده ځکه د دانشمندانه فېصلو ورته اشد ضرورت دے-

د پېوسته بهرنيو مداخلتونو مقاومت پښتنو د خپلي نظريې پر اساس وکړ- لکه چي په اوّل څپرکي کښې څرګنده شوې وه نظريه پر درو پښو ولاړه ده او هغه دي يقين طاقت او علم- پښتانهٔ پر خپله عقيده ټينګ ولاړ وُ ځکه يې د لويو لويو عالمي قوتونو مقابله هم په همت او حوصله وکړه- که څهٔ هم په خپلو کي سره ښکر په ښکر وي خو د لوی دښمن خلاف پښتانهٔ همېشه متحد

اوسېدلي دي- هم دغه يې د نظريې پر اساس اصل طاقت دے چي دوی ته د نړۍ د هر لوی مداخلت کوونکي خلاف د مقاومت حوصله ورکوي- کمزوري يې داده چي و تعليم ته يې شاده- چونکي علم د نظريې درېيمه مهمه برخه ده ځکه دا يو تريخ حقيقت دے چي د پښتنو د نظريې دغه کمزورے اړخ دے- په اوسني پېر کي افغانانو لره په هېواد کي د تعليم رڼا خپرَول تر هرڅه مهم دي- د بشري حقوقو او فکري آزادۍ د پاره ږغ کول د دې پېرغوښتنه ده- هېواد والوته د تعليم او تحقيق اهميت په ګوته کول اوپر نوو کرښو د معاش لاري لټول دي- افغانان په جهان کي يو ځلاند تاريخ لري خو کوم قامونه چي يوازي په ښه لرغوني تاريخ نازيږي او د زمانې سره سم پر مختګ نه کوي هغوی ورو ورو د تېرمهال حِصه شي- ځکه په نوي پېرکي يقين مُحکم ساتل، د تعليم رڼا خپرول، د اتفاق پوړے ټينګول او نوي ټېکنالوژي خپلول په هېواد کي د امن او خپلواکۍ ضمانتونه ورکولای شي- همدغه دقام ژغورني، '**دين دوستۍ**' او د بقالار ده-

# اخځلیك

1- مانفریډ اې ، (History and Civilization of the World) تاریخ و تهذیبِ عالم، ژباړن امیرالدین تقي حیدر، نگارشات، لاهور، ۲۰۰۶

2- درویش درانی، 'دابُوټي به لونګ شي' صحاف نشریاتي موسسه ، کاسي روډ کوټه ، ۲۰۰۹

3- احمد علي کهزاد، 'دافغانستان پخوانے تاریخ' ، ۱۳۳۴ کال

4- ډاکټر باقي درانی، 'پښتانهٔ د تهذیب په ځپو کي' صحاف نشریاتي موسسه کاسي روډ کوټه، ۲۰۰۸

5- مارټن ایوانز، 'دافغانستان نوے تاریخ ' (Afghanistan:a new history) لوکل پرنټ ، وان گوارډز بوکس، دي مال لاهور، ۲۰۰۱

6 - هرالډ لیمب ، چنګیز خان (Genghis Khan) ، اورینټل پبلیشرز لاهور، ۱۹۷۸

7- ظهیر الدین بابر، 'بابر نامه' ، ترجمه اینتهے سوسانا ، دهلي، ۱۹۷۰

8 - ګنډا سینګ ، احمد شاه ابدالي ، تصحیح محمد بابرجاوید، لاهور ، ۲۰۰۴

9- عبدالحمید مومند، 'دعبدالحمید مومند کلیات' دانش خپرندویه ټولنه ، پیښور ، سریزه د محمد آصف صمیم ، ۲۰۰۷

10- اولف کیرو، پښتانه (The Pathans) میکمیلن کمپني لندن، نیویارك ایسټي مارټن پریس ،۱۹۶۵

11- نیك بي میلنز،' کرزے' Karzai:The failing American intervention جان ویلې انډ سنز، هوبوکن نیوجرسي ، امریکا، ۲۰۰۷ -

12- بارنیټ روبین ، (Search for Peace in Afghanistan ) د امن تلاش په افغانستان کي، امینه سید، آکسفورډ یونیورسیټي پریس، پلاټ نمبر ۳۸، سیکټر ۱۵ کورنګي انډستریل ایریا کراچي ، ۲۰۰۳

13- عبدالرؤف رفیقي ، 'دځرك په ځار' ، حبیبي اکیډمي، چمن، ۱۹۹۷ -

# 7

# دین دوستي

# دين دوستي


پښتانۀ له لويه سره دين دوسته خلګ دي- دوی د قام ژغورني د پېوسته جدوجهد سره سره د دين دحفاظت زمه واري هم پوره کړے ده- پښتانۀ هر کله د روحاني تسکين د پاره د خپل دين د پوهي په هلو ځلو وي- ماشومان جمات ته لېږي، ديني احکام په زده کوي او د ښه عمل کولو په هيله د قرآن او سنت تعليم ورکوي- ځوك د نفس د تزکيې په خاطر په تبليغ کي ځي، سه روزې او چيلې لګوي- ځوك بيا همه وخت د خپل رب په ذکر او فکر کي مطمئن وي لکه رحمان بابا[1] چي وايي:

زه رحمان چي ستا د حسن ثنا خوان يم
ستـا له رويـه درست جهان زما ثنـا کا

لکه چي په وارو وارو بحث ورباندي وشو، یقین یا عقیده د نظریې مهم ترین جز دے او دا تر ډېره حده د دین سره تړلے دے- او زیاتره خلګ د دین په برکت په سختو حالاتو کي هم د نا امیدۍ څخه ځان بچ ساتي او د ابدي ګټو په هیله د دنیائي شخړو مقابلې کوي لګیا وي- پښتانهٔ چونکي د ژوندانهٔ د بېلا بېلو امکاناتو قایل دي ځکه یې په کړکېچنو حالاتو کي هم د صبر لمن نیولې وي او پر لږ څهٔ هم شکر کوي- دین یې اسلام دے چي د ښهٔ او بد، حق او باطل، خېر او شر، امن او جنګ تر منځ د توپیر ښوونه کوي او دا په ګوته کوي چي دغه متضاد څیزونه له ازله راروان دي او تر ابده به یو له بله سره تړلي وي- دین په صفا ټکو د دغو متضادو څیزونو تر منځ د توازن ساتلو تلقین کوي او د همدغه توازن پر اساس په آخرت کي د حساب کولو تقاضا کوي- په دین کې د اعتدال پر اصولونو د فرد د مقام تعین کیږي او د قامونو د پایښت ضمانت هم ورکول کیږي- د پښتنو دین " اسلام" د سلامتۍ او امنیت پر زرینو اصولونو ولاړ دے- دا د امن دین دے او د تاریخ په اوږدو کي د دعوت له لاري د نړۍ په لوی شمېر هېوادونو کي ورو ورو خپور شوے دے-

د زمانې[2] په حقله دیني فکر بلکل واضح دے- یقین، عقیده یا " ایمان" هغه اوّلنے څیز دے چي انسان له خسارے بچ ساتي-

دویم څیز "ښه عمل" دے په کوم پوري چي د انسان ګټه او تاوان اړه لري - که ښهٔ عمل کوي نو به له خسارې بچ وي او که بد عمل کوي نو بیایې خساره یقیني ده- دین د ورور وژني اجازت نهٔ ورکوي بلکي د"حق" او "صبر" په تلقین پخپله د انتقامي قبایلي مذهبیت نفي کوي، لکه چي په څرګندون نمبر۱۳ کي ښول شوې ده- په دین




عکس نمبر۱۳ هغه څلورڅیزونه چي انسان له خسارې بچ ساتي

کي د اعتدال او سولي فکر د انسانیت د بقا غوره لار ګڼل کیږي- لکه چي په وړومبي څپرکي کښې تربحث لاندي راغلے یقین یا ایمان په جدید دور کي هم د نظریې تر ټولو مزے غړے دے- دا د فرد هغه داخلي کیفیت دے چي ودۀ ته غیبي اعتماد او قوت ورکوي- علم د نظریې دویم مهم عنصر دے چي د فرد د خاریجي دنیا په حقله غوره معلومات را یوځای کوي- دریم عنصر طاقت دے چي پر نظریه دعمل کولو دپاره ضروري ګڼل کیږي- احمد شاه[3] بابا خپله نظریه په ښځي ساده توګه په صوفیانه انداز کي داسي وړاندي کړې ده:

کې دا نـورخلګ له نـــورو څخـه غواړي
احمد شاه خو د خپل یار ولاس ته ګوري

په دغه شعر کي یوې خوا ته د بهرَنیو قوتونو څخه د څۀ هیلي او غوښتني مخالفت شوے دے او پر "خپل قوت" د اعتماد کولو درس پکي دے- بلي خواته د هغه "یقین" اظهاردے کوم چي دۀ پر خپل خدای لارۀ- ځکه تر خپل هِمت وروسته د خدای مدد ته ګوري، او همدغه لا تر اوسه د پښتنو نظریه ده-

د اوسنۍ اورپُوکۍ وجه اسلام نۀ دے بلکي ښکاره دوه سببونه یې دي- وړومبے سبب یې دپیوسته باندیني مداخلتونو په نتیجه کي د خلګو دا 'ډار' دے چي د پښتنو په سیمه کي له ډیري

مودې دوام لرونکي دغه مداخلتونه چيري د دوی خپلواکي ترې وانۀ خلي- او دويم سبب يې ددغو مداخلتونو پرضد را پاڅېدلے قبائلي 'نفرت' دے چي په ځيني شاته پاته علاقو کي يې د قبايلي مذهبيت رنګ اخستے دے- د پښتنو اوسنی غميزه ځکه ډېره اوږده شوه چي په دغو دواړو عواملوکي داعتدال عنصرنۀ ښکاري - د پردو تېرے خو پېښه ده او له پېښي تېښته نشته مګر دتشويش خبره دا بله ده- پښتانۀ د عقيدے په لحاظ صفا خلګ وو- دوی د دين په حقله کله هم د اورپُوکی حاميان نه وو- د عيسايانو، هيندوانو، سيکانو، پارسيانو او نورو مذهبونو د منونکو سره د دوی رويه د رواداری وه- د دين قبائلي تصور په دوی کښې نه وو او د اعتدال لاره ئې له پېړيوخپله کړې وه- د بهرنيو مداخلتونو په وجه ځينو خلګو د اغيارو پر ضد د اورپُوکی لارخپله کړه- علماوو هم په نوي پېر کي هيڅ داسي اِجتهاد ونۀ کړ چي په دغه مشکل وخت کي د خلګو د لار ښوني فريضه په ادا شي او د ژوندانۀ نظام په غوره توګه په وچليږي- د دين قبائلي تصور که څۀ هم د غېرو د تېري او غېر متوازن مغربيت پر ضد د انتقامي جذبې په توګه راوپاڅېد خو زيان يې پښتني ټولني ته ورسېد نۀ چي بهرنيو مداخلت کوونکو ته- په دين کي برتره سړے هماغه دے کوم چي تقوادار دے، علم او اخلاق لري- مګر د ژوندانۀ دغه مذهبي طرز اوس په انتقامي رنګ کي داسي ورنګېد چي اوس هرهغه سړے لوی سړے دے چي نۀ

سرېدونکې انتقامي جذبه لري- حالانکي د سرېتوب فلسفه "دين" د ژوندانۀ هغه لازمي جُز ګڼي چي انساني ضمير مطمئن ساتي-

پښتونوالی يوازي د قام پرستۍ نوم نۀ دے بلکي دا د مسلمانۍ او انسانيت پر زرينو اصولونو هم ولاړ دے- تر څو چي خلګ دځان پېژندني، قام ژغورني، دين دوستۍ او خدای پرستۍ پر اصولونو د سرېتوب سفر جاري ونۀ ساتي، نجات نۀ شي موندلای- له بده مرغه ځيني خلګ پښتونوالی هم د نور قامونه په نظر زياتره د قوميت په محدوده معنا اخلي- کله کله خو يې د افغانيت له معنوي سطحې څخه هم کوزي اړتاؤ کړي- ځکه نو د سرېتوب فلسفه تر پښتونوالي يو ګام مخته ده ولي چي دا د ګډو افغاني قدرونو تحفظ هم کوي- په اوسني پېر کښې د راپاڅېدلو نوو سوالونو ځوابونه ټول د سرېتوب په فلسفه کي لټول کېدای شي- په ټولنه کښې د حجرې اوجمات غوندي مهمو اِدارو ترمنځ د اعتماد د بحالۍ هلي ځلي اصل سرېتوب دے- که څۀ هم د مذهبي روايتونو خاريجي تاريخ زياتره د عقيدے د تخليق له موخې څخه بېل وي خو د سرېتوب په اړه د حجرې او جمات تر منځ هيڅ يو توپير نه ښکاري- لکه مخکي چي يې ذکر وشو، بشر پر دوو برخو وېشلے ښکاري- مادي برخه يې جسم دے او غېر مادي حصه يې روح ده- که څۀ هم روحاني جستجود بشر داخلي سفر دے خو

مذهب یوازي تر دغه داخلي روحاني هلو ځلو محدود نه وي بلکي واضح دباندینے سفر هم لري- په پښتني ټولنه کي مذهبي خلک د خپل مادي جسم د ښایست او پاکیزګۍ خیال ساتي، د قام دښېګړي فکر ورسره وي او دُنیاداري هم کوي- د دُنیادارۍ یو مربوط شرعي نظام لري- البته درویشان او صوفیان کله کله ترکِ دنیا هم وکړي چي په ظاهره یې مقصد روحاني سکون وي- شریعت او طریقت په همدغه ټکي یو له بله بېل ښکاري ولي چي صوفي ایزم داخلي روحاني هلو ځلو ته تر خارجي سفر زیات اهمیت ورکوي-

ځیني خلک[4] د پښتني سیمي دټولو شخړو ذمه واره مذهبي مخکښان ګڼي- د اورپُوکۍ او وروروژني تور هم درباندي لګوي- دوی ښایي چي د ظاهرشاه او داوودخان خلاف راپاځېدلي کمونیسټان او سوشلیسټان هېر کړل، له کوموچي دا فتنې پیل شوي وې- ویښ قامونه چي کله له دومرو لویو لویو شخړو سره مخامخ شي نو یې بیا وګړي یو پر بل تور نۀ سره لګوي بلکي د ځلاند سبا په هیله لاس سره ورکړي چي غمیزي درباندي اسانه شي- لویي تاریخي غمیزي زیاتره غټ غټ روحاني او دُنیاوي پاڅونونه زېږوي، ځکه نو د سړیتوب په اوږدۀ سفر کي قومیت او مذهب دواړه سره څنګ پر څنګ ځي-

لکه چي مخکي بیان شو په منځني پېړکي مغربي قامونه هم تر زرو کالو په تیاره کي ؤ[5]- هره خوا ته نا امیدي وه، جهالت

ؤ، ورور وژنه وه او زوربالازور ؤ- چا يې عيسائي مذهبي اجاره داري سبب ګڼله او چا يوناني فلسفيانه تقليد- د مسلمانانو سره د صليبي جنګونو له کبله د يورپ ټول معاشرتي او معاشي نظام سره ګډ وډ ؤ- په همدغو حالاتو کي د دانشورانو په فکري هلو ځلو يو مهم بدلون دا راغے چي خلګو د استدلال لار خپله کړه- عيسائي مذهبي اجاره داري پر ځوړه روانه شوه او د ارسطو د زړې فلسفې تقليد هم خلګو ورو ورو پرېښوو- دا رنګه په ټول يورپ کي مذهبي اِصلاحات پيل شول او خلګو ته يې د عقيدې آزادي ورکړل شوه- د تعليم رڼا خوره شوه، خلګو تحقيق او مطالعه مُهمه وګڼله او فکري آزادئ يې ومونده- ورسره ورسره د بشري حقوقو دپاره ږغ وشو چي وروسته د فرانس د عظيم انقلاب په شکل نمودار شو- ادب، فن، ساينس او عالمي تجارت هم تر دغه وروسته وده وکړه- په ډېره تېزي سره په مغربي معاشره کي لوی بدلون راغے- دا بدلون د مغرب د خلګو په سوچ کي، په نظرکي، او د جاج اخستلو په زاويه کي راغے او همدغه دسمي لاري په لټون کي مرکزي ټکے ؤ چي مغرب يې له تياري نه و رڼا ته راواړاؤ- هماغه وخت د يورپ په معاشي نظام کي ښکاره بدلون دا راغے چي زوړ جاګيردارانه نظام په نوي سرمايه دارانه نظام بدل شو- تجارت تر دغه وروسته ډېره وده وکړه- قامونو ته په خپلو خپلو ژبو د تعليم اجازت ورکړ شو او د دوی د تشخص خيال وساتل شو-

اوس سوال دادے چي د ترقۍ په ميدان کي ببخي ډېر شاته پاته پښتانۀ د مغرب د خلکو له بالا تجربې څخه کته اخستای شي او که نۀ؟ يا دا چي په پښتني معاشره کي د دغه شان بدلون څه ګنجائش شته هم اوکه نه؟ د دغه سوال ځواب اسانه نۀ دے خو د بدلون په اړۀ د مسئلې جاج اخستل د سم ځواب په لټون کي مرکزي ټکے دے- د ژوندو قامونو دا خاصيت وي چي هغوی پېوسته په يوۀ حالت کي نۀ شي اوسېدای بلکي د غورۀ بدلون په لټون وي- مغربي معاشره که څۀ هم اوس له پښتني ټولني په ډېرو حوالو بېله ده خو هغه وخت تر ډېرۀ حده و اوسنۍ مشرقي معاشرې ته ورته وه- ولي چي زړه انساني معاشره وه او بنيادي عناصر يې دود او مذهب ؤ- د پښتني ټولني اقدار يقيناً له هغي مغربي معاشرې څخه بېل دي او پکښې د بدلون هدف ترلاسه کول يوازي پر هغو کرښو مشکل ښکاري، خو امن، تعليم تجارت اوجمهوريت پکښې د غوره بدلون ځای پربېدي -

اوسنۍ مغربي معاشره خو له پښتني ټولني څخه نوره هم ډېره بېله ده ځکه به لاندي د خپلي ټولني موازنه له مغربي ټولني سره کوو چي د دې خبري وضاحت په وشي چي د دغو دوو معاشرو تر منځ فرق څۀ دے او مشترك انساني قدرونه يې څۀ دي - زۀ د کال ۲۰۱۰ د دسمبر په مياشت کي امريکا ته تللے وم - نيويارك فلوريډا او سېنس فرانسيسکو مي کتلي وو- بيا په کال ۲۰۱۱ کي


د مې په میاشت کې لندن ته هم لاړم- که څۀ هم د دغو هېوادونو د خلکو د ښۀ او بد معیار له مونږه بېل ؤ خو زیاتره قدرونه یې هماغه وو کوم چې د دې سیمې په ګښته خلګو کښې لیدل کیږي- زه تُرکي، مصر، سعودي عرب، عرب امارات، بنګله دېش، ملائیشیا، هانګ کانګ، بېنکاك او نورو ډېرو مشرقي سیمو ته هم په وارو وارو تللے یم او په دے نتیجه رسېدلے یم چې زموږ او د دوی ترمنځ اصل فرق دا دے چې دوی تعلیم لري، په ټېکنالوژي پوهـ دي، ویښ او آ ګاه دي او موږ هماغه شان بې عِلمه بې هنره او بې تنظیمه ژوند کوو لګیا یو- زموږ او د ددوی تر منځ هیڅ یو دیني یا مذهبي پېچومے نشته ولې چې دوی خوله خپله مذهبه هم بد زنه دي- حقیقت دادے چې په دې سیمه کې د بدلون هلې ځلې لازمي دي- که څۀ هم د دغه بدلون لاري لټول ګران کار دے او ډېر صبر غواړي خو په یویشتمه پېړۍ کې امن، تعلیم، تجارت، صنعتي ترقي او جمهوري نظام د قام د بقا په اړه د بدلون لازمي برخې دي-

دا وخت پښتانۀ د مغربي قامونو ماده پرستي غندي او مغرب د دوی له ماده بېزارۍ څخه خوښ نه ښکاري- په پښتني ټولنه کې د نا انصافۍ او اورېُوکۍ ریښې هم مغربي قامونه د دوی په غربت او ماده بېزارۍ کې لټوي، ولې چې دمالي زیان هیڅ خیال نۀ ساتل او په لږ قناعت کول هم مغرب د ماده بېزارۍ په معنا اخلي- دمغرب په سرمایه دارانه نظام (کېپیټلزم) کې هره خواته د

پېسې منډه ده، ځکه د دوی غټ کاروباریان نورو قامونو ته په هماغه مغربي اندازګوري- پښتني مذهبي او دوديزه ټولنه نه خو د "ماده پرستۍ" قایله ده او نه د"ماده بېزارۍ" الزام پرخپل سر اخلي- پښتانۀ د اعتدال لار خوښه وي[6] او په هېواد کي په انصاف د سرمايې تقسیم غواړي- خو دا هم یو تریخ حقیقت دے چي راتلونکے وخت یوازي په قناعت او قربانۍ نۀ شي تېرېدای- قام به تر څو په لوږو او دربدريو کي ژوند تېروي؟ ځکه د اعتدال معنا د خېر پر غونډۍ ناسته نۀ ده بلکي په خپل زیار او جایزه توګه اوّل ځان لره او بیا هېواد لره ګټې راوړل دي-

د نورو قامونو دا پروپیګنډه چي په پښتونخوا او خواوشا سیمو کي جاري د پښتنو د بقا هلي ځلي اسلامي بُنیاد پرستي ده حقیقت نۀ دے بلکي د پېوسته بهرنیو مداخلتونو ردِ عمل دے چي د مذهب سره یې هیڅ اړه هم نۀ نشته- د نورو اسلامي خوځښتونو سره پېوند څۀ کسان ښايي چي په دې سیمه کي هم وي خو بُنیاد پرستي یوه عالمي مسئله ده چي د جدیدیت پر ضد د اسلام سره سره د نړۍ په نورو مهمو مذهبونو کښې هم لیدل کیږي- دا یوازي اسلامي مظهر نۀ دے لکه چي په مغربي میډیا کښي د "اسلامي بنیاد پرستۍ" په نامۀ یادیږي، بلکي په هندویت، یهودیت، عیسائیت، او نورو مذهبونو کي هم لیدل شوې ده- دا د جدیدیت خلاف په هره روایتي ټولنه کي ورو ورو د ردِعمل په توګه راپېدا کیږي- پېل یې

زیاتره دکلو په ساده خلګو کي دښار دجدیدو آفتونو خلاف د رډعمل په توګه وشي، بیا سوکه سوکه د ښارونو په ځیلو خلګوکي ځای وموني او دښارونو مذهبي خلګ یې د مخکښو په توګه تنهاوونه په لاسوکي واخلي- دارنګه وده کوي او تر ډېره حده د یوۀ خوځښت شکل اختیار کړي- بنیاد پرستي په ټولنه کي د اورپُوکۍ یو سبب خو ګڼل کېدای شي لیکن مذهب د اورپُوکۍ سبب نه دے- اسلام خو د امن دین دے او د دعوت له لاري یې پرمختګ کړے دے او همدغه یې په ټولنه کي پیغام او مرام دے- د دین په اړه د پښتنو عقیده بلکل صفا ده- پښتانۀ د ټولو نبیانو پیغام پر حق ګڼي- لکه چي په ځرګندون نمبر۱۴ کي ښوول شوے دے، پښتانۀ دري واړه




ځرګندون نمبر۱۴ ابراهیمي دینونه

ابراهيمي مذهبونه د يوۀ دينِ ابراهيمي برخي بولي-
په مغربي هېوادونو کي حال دادے چي دوی د فرد حق تر هرڅه مقدم ګڼي ځکه نو چي هره بېلاري ته يې پام شي د بشري حق په نامۀ يې کولای شي- په دوی کي د کهول او ټبر هيڅ تصور هم نشته، يوازينے قدر يې ځان ځاني ده ځکه يې ماشومان او ځوانان د مشرانو په قول نۀ دي او زاړۀ يې څوك د مولی له نرخه هم نه پوښتي- لوی شمېر وګړي يې د خواهشونو غلامان دي او له اخلاقي قدرونو څخه بېخي لري دي- له دغو ناوړو خصلتونو څخه مغربي ټولنه اوس د ډېرو ستونزو سره مخامخ ده- خلګ يې که څۀ هم ماړۀ او آزاد دي خو له ژونده مُطمئن نه دي ولي چي دغه آزادي د ټولني سره څۀ اخلاقي تړون نۀ لري- عزت، ذلت، ښۀ او بد ټول په ټولنه پوري اړه لري او که يې له ټولني بېل کړې نو بيا څۀ معنا نۀ لري- په مغرب کي د صحافت د آزادۍ پر نامۀ که يوکس د ډېرو نورو خلګو خلاف نفرت پېداکوي او د هغوی حق وهي نو پبليشر يې ځان ذمه وار هم نۀ ګڼي ولي چي دۀ ته د تحرير هر قسم آزادي شته حالانکي په مُهذبه ټولنه کي د لاس غورځوني آزادي هلته ختمېږي چيري چي د بل د شملې حد شروع کيږي-

سامراجي قوتونو خو له اوّله سره د طاقت په ذريعه يا بيا د بې ضميرو په مرسته د وړو وړو قامونو خلګ تر خپل فشار لاندي راوستي دي ځکه ترې د خېر امید نشته- له تېرو دېرشو کلونو څخه

بهرني مداخلت کوونکي پښتنو ته دا تاثُر ورکوي لګیا دي چي دوی بنیاد پرستان دي او یوازي په جنګ غښتلي دي، حالانکي د پښتنو اقدار په هره توګه تر دغو قامونو مزي دي ځکه یې د ذهني غلامۍ طوق له غاړي کښلے دے[7] او د مغرب له هغو فعلونو یې قام ساتلے دے چي د مشرقي قدرونو سره سمون نۀ لري او په اخلاقي توګه ناوړه غوندي ښکاري۔

پښتني ټولنه که څۀ هم یوه مذهبي او دودیزه ټولنه ده خو د روایتي ارزښتونو یو بېل او ځانګړے سیسټم لري۔ یو دبل احترام د مشر او کشر په حساب منل شوے دے۔ پښتون قام د خپل دود ساتنه په ټینګه کوي، ولي چي د ټولني د قدرونو خیال پکي ساتل کیږي۔ د فرد حق د ټولني د ښېګړي په تول نۀ دے بلکي د ټولني د پاره د قُربانۍ قدر ترې زیات دے۔ ځکه فرد د خپل فرض په ادا کولو خوښ دے او د حق غوښتنه یې تر فرض اداکولو وروسته ده۔ دغه قدرونه د ټولني د ساتني ضمانت ورکوي او په کړکېچنو حالاتو کي یې هم قوي ساتي۔ په اجتماعي توګه د پښتنو حکومتي نظام شاهي نظام ؤ۔ دوی تر خلافت لاندي ډېر کم پاته شوي دي ولي چي خپلواکي دوی له اوّله سره تر هر څۀ مقدمه ګڼله - په شاهي نظام کښې هم د اسلامي شرعي قوانینو تر ډېره حده احترام کېدۀ۔ خو له بده مرغه د ثور انقلاب یوې خواته دغه نظام سره ګډ وډ کړ او بلي خوا ته یې څۀ نوے نظام هم ورننۀه کړ۔ په نتیجه کي یې هر څۀ له

منځه ولاړل او عالمي اورپُوکو ته دلاس وهني موقعه په لاس ورَغله- چونکي اوسنے **سیاست د** واك اخستني، **حکومت کوَني** او د حکومتي فېصلو د جواز ورکوني علم دے ځکه دا لازمي نهٔ ده چي پښتانهٔ دي په سیاست کي د مغربي قامونو تقلید وکړي، بلکي لازمي دا ده چي د خلکو د شېګړي او پرمختګ په اړه جمهوري حکومتي نظام ته اهمیت ورکړل شي او د هېواد د حکومتي نظام بنسټ د انصاف پر تمبو اوچت شي- دغه انصاف پخپله د امن لار خلاصوي او د' **اورپُوکی مخنیوے** ' کوي-

# خځلیك


1 - عبدالرحمان بابا 'د رحمان بابا کلیات' ، دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور ، سریزه حنیف خلیل ۲۰۰۵،

2- القُرآن ، سورة العصر

3- احمد شاه بابا، 'دلوی احمد شاه بابا دیوان' (دیوانِ هرا) تر تیب د معصوم هوتك، صحاف نشریاتي موسسه ، کاسي روډ کوټه ، ۲۰۰۹

4- بارنېټ روبین ، (Search for Peace in Afghanista ) د امن تلاش په افغانستان کي، امینه سید، آکسفورډ یونیورسیټي پرېس، پلاټ نمبر ۳۸، سېکټر ۱۵ کورنګي انډسټریل ایریا کراچي ، ۲۰۰۳

5- مانفریډ اي ، (History and Civilization of the World) تاریخ و

تهذیبِ عالم، ژباړن امیرالدین تقي حېدر، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶

6- موکولیکا بېنرجي، (The Pathan Unarmed) غېر متشدد پښتون، جېمز کیور ي، آکسفورډ یونیورسیټي پرېس، پلاټ نمبر ۳۸، سېکټر ۱۵ کورنګي انډسټریل اېریا کراچي،۲۰۰۴ ،

7- امین سېکل، Modern Afghansistan: a history of struggle and survival، یعني " نوے افغانستان" ، آیي بي ټارس لندن او نیویارك، ۲۰۰۳

❊❊❊

# 8

# د اورپُوکی مخنیوے

# د اورپُوکۍ مخنیوے

د ځۀ خاصو مقاصدو په ترڅ کي په منظمه توګه د تشدد و استعمال ته اورپُوکي يا ټېروريزم وېل کيږي- د تشدد د منظم او پېوسته ګذارونو په نتيجه کي چي په خلګو کي کومه وېره را پاڅيږي هغه د ټولني د انتشار سبب شي- ځکه نو کله يوه خاص ډله د حکومت خلاف د ځۀ خاصو موخو دپاره اورپُوکۍ ته دوام ورکوي چي حکومت تر فشار لاندي وساتي او کله بيا داسي هم وي چي حکومت د خپلو مخالفانو خلاف له ټېروريزمه کار اخلي[1]- د نړۍ په تاريخ کښې د ټېروريزم لوی شمېر مثالونه وجود لري چي د دين يا مذهب سره يې په هيڅ توګه هم تعلق نشته-

د اورپُوکۍ يا ټېروريزم تاريخ ډېر اوږد دے- ترعيسیٰ عليه السلام ډېر لمخه ( ۳۵۰ _۳۳۱ مخزېږده) نوميالي يوناني تاريخ ليکونکي زينوفون (Xenophon)[2] د ټېروريزم په اړه ليکلي ۀ چي


دا د نفسياتي جنګ يوه مهمه برخه ده چي د مخاليفانو ملا ورماتوي- همدغه د نفسياتي جنګ فلسفه ده چي تراوسه يې ټېروريزم ژوندے ساتلے دے - د روم باچاتبريس (Tiberius) په اولنۍ عيسوي پېړۍ (۱۴-۳۷ زېږده) کي ټېروريزم د خپلو داخلي مخاليفانو خلاف په منظمه توګه استعمال کړے ؤ[3]- تاريخ ګواه دے چي بيا يهوديانو پخپلو کي يو د بل خلاف هم کار ترې اخست چي تاريخي مثال يې د زيلوټ (Zealots) يا سيکاري (Sicarii) دے چي د هغو يهوديانو خلاف به يې ټېروريزم په کار راووست چاچي به له روميانو سره اړيکي ساتلې[4]-

په اسلامي تاريخ کي تر اوسنۍ اورپوکۍ لمخه د ټېروريزم څۀ واضح بېلګه نشته- که بيا چيري پر چا دا تور لګېدلے هم وي نو د هغۀ محرکات بېخي ښکاره او داسي وي چي بغاوت ورته ويَل به زيات بهتر وي نۀ چي ټېروريزم- نفرت او وېره ټېروريزم زېږوي او د اسامه بن لادن تحريك په حقيقت کي د فلسطينيانو خلاف دامريکا د اسرائيل سره دمرستي پرضد ؤ- دے چونکي پخپله هم فلسطينے ؤځکه يې د امريکا خلاف نفرت منطقي ښکارېدے، او نفرت د اورپوکۍ اصل بنياد دے[5]- د فرانس د انقلاب په وخت روبسپيري (Robespierre) هم د هغو خلګو خلاف په ډاګه له ټېروريزمه کار اخستے ؤ څوك چي يې خطر ګڼل[1]- پخپله په امريکا کي هم تر وروروژنه يا خانه جنګۍ (۱۸۱۶-۱۸۶۵) وروسته له ټېروريزمه کار اخست شوے ؤ- کله چي په کال ۱۸۸۹ کي د لوی جرمن فلاسفر

فرېډرك نطشې ذهني حالت خراب شو نو قدرت په همدغه کال اېډولف هټلر پېداکړ چي وروسته د دۀ د فلسفې د عملي کولو په هلوځلو تر انتها ورسېد او د یهودیانو خلاف د تېروریزم تر حده ولاړ- خو دغه تېروریزم یهودیان ختم نۀ کړل بلکي په نتیجه کي یې صېهونیت نوره هم وده وکړه او د یهودي ریاست " اسرائیل" دجوړېدو موجب شو- دا رنګه دنونسمي پېړۍ په وروستۍ برخه کي په روس، امریکا او یورپ کي هم د انارکیزم (anarchism) په وخت کي د لویو لویو افسرانو خلاف په دې هیله تېروریزم کېدۀ چي د سیاسي او سماجي بدلون لاري خلاصي شي- په دغه لړ کښې له کال ۱۸۶۵ څخه تر ۱۹۰۵ پوري د ډېرو هېوادونو مشران، وزیران او افسران په بمونو والوزول شول یا بیا د ګولیو نښانه شول- د اورپُوکۍ یا تېروریزم دغو ټولو تاریخي پېښو کله هم ګټه نۀ راوړه بلکي قامونه یې برباد کړل-

لکه مخکي چي یې ذکر وشو د مغربي میډیا دا تاثُر[6] چي په پښتني سیمو کي جاري د بقا هلي ځلي " اسلامي بُنیاد پرستي" ده، له حقیقته لري ښکاري- دغه شان پروپیګنډه دوی د روس خلاف او روس د دوی پرضد هم کوله- که څۀ هم په دې سیمه کي د بقا دغه هلي ځلي متشددانه دي او ځای پرځای د نورو اسلامي خوځښتونو سره پېوند هم ښکاري خو دا خپل پسِ منظر لري او د نوروعقیدو په منونکو کښې هم لیدل شوي دي- لکه وړاندي چي یې ذکر وشو " بُنیادپرستي" یوعالمي مظهر دے چي د جدیدیت پر ضد

د نړۍ په هرستر مذهب کښې ليدل شوے دۀ- دا يوازې اسلامي مظهر نۀ دے لکه چې په مغربي ميډيا کښې د "اسلامي بنياد پرستۍ" په نامۀ ياديږي، بلکې په نورو مذهبونو کې هم ليدل شوې ده- لکه چې په څرګندون نمبر۱۵ کې ښوول شوې ده، اورپُوکي له ډېره نفرته پيدا کيږي او نفرت له پيوسته ظلمونو، ناانصافيانو او د شناخته له محرومۍ څخه- په ښتنو کې د نفرت لويه وجه ددوی په سيمه کې پيوسته دباندينې مداخلتونه دي- له دغو مداخلتونو




څرګندون نمبر۱۵ اور پُوکي له نفرت او ډار څخه پيداکيږي

څخه چي کومه وژنه پېل شوې ده هغه د بدل تر احساس لاندي وده کوي لګیاده- په کال ۱۹۷۹ کي، د دسمبر دمیاشتي پر پنځویشتمه نېټه، روس خپل فوجونه افغانستان ته را ولېږل او دغي روسي مداخلې ' په افغانستان کي د اورپُوکۍ زهر وپاشل- بیا د روس ترماتي وروسته د نړیوالو شاګرځوَني او ډګاونډیانو لاس وهني هم د افغانانو د محرومۍ احساس زیات کړ چي منطقي نتیجه یې د اورپُوکۍ په شکل مخته راغله-

په دې کې څۀ شك نشته چي د روسانو خلاف په جنګ کي افغانانو د نړیوالو قوتونو په مرسته روس ته شکست ورکړ خو تر دغه وروسته د جنګ ځپلي افغانستان د جوړښت فکر هیچا هم ونۀ کړ- پښتنو د خپل هېواد دبربادی په بیه سوشلزم اوکمونیزم خو له منځه یووړل مګر پخپلو کښې یې ځله ونۀ بخښل او نه یې د هېواد د ساتني او تعمیر په اړه څۀ وکړل- دوی امریکا او نورو مغربي ایمپیریلیسټي قوتونو ته مېدان خو ور خالي کړ مګر هغوی هماغسي د ګاونډیانو ترمنځ ښکر په ښکر سره پرېښوول- د ژوبل قام دصحت، تعلیم، غربت اوبېکورۍ دمسئلو خیال یې ونۀ ساتۀ- په افغانستان کي دپایېدونکي حکومت د جوړښت، انصاف او ښاري دفاع په اړه ملګرو ملتونو هم څه ونۀ کړل ځکه نو مایوسي نوره هم زیاته شوه چي په نتیجه کښې یې عالمي ټېروریزم وده وکړه- د وسائلو کمے، د مداخلې خوف او بې تعلیمي داسي عوامل وو چي په دې سیمه کي د اورپُوکۍ د ودي منطقي سَببونه شول- دغو بېلابېلو مسئلو ترجنګ وروسته ونوو دباندیني مداخلتونوته هم لار

خلاصه کړه- عرب او عجم دواړو په افغانستان کي حکومتي ونډي لټولې او په هېواد کي يې خپل خپل ګروپونه روزل- د پرَدو د تېري ډار بيا افغانان په شك کي سره واچول او نفرتونو پکښې وده وکړه- ځالاکه دښمنانو د دوی له دغه نفاقه پوره پوره فايده واخسته چي درويش[7] يې په يوۀ شعر کي داسي بيانوي:

ځـــالاك دُښمـــن يې ننـــداره لـــه لـــري لـــري کـــوي
دوی په خپل منځ کي يو پر بل باندي لښکري کوي

وروسته د کال ۲۰۰۱ د ' نائن الېون' د پېښي په ترخ کي د امريکايانو له خوا دطالبانو دحکومت ړنګولو په بهانه د ډېرو بېګنا خلګو وژني د محرومۍ احساس نور هم زيات کړ- دغه امريکايي اقدام افغانانو بيا د مداخلې په معنا واخست او د نفرت اور ته نوره هوا ورکړله شوه- ځينو افغانانو داسي فکر وکړ چي د دغي نوې مداخلې مخنيوے هماغه شان پکاردے لکه چي د روسي مداخلې په وخت ۆ- چونکي افغانان يو ځلي بيا توپك پورته کولو ته مجبوره کړل شول ځکه نو په هېواد کي د ملکي او غېرملکي اورپُوکو د ودي ځای پېدا شو-

په نړۍ کي د ټېرريزم تر ورو ورو پېښو وروسته چي کله د 'نائن الېون' دغه لويه پېښه وشوه نو يې نړۍ له يوۀ بېل جنګ سره مخامخ کړه- دغه پېښه يوازي د امريکا پر تجارتي مرکز 'غبرګولي ميناررونو' او دفاعي مرکز 'پېنټاګان' يرغل نۀ وو بلکي د

امريکايانو پر اعصابو هم حمله وه چي په نتيجه کي يې د دوی اعتماد ولړزېد- د دوی دا يقين پاته نۀ شو چي امريکايي حکومتي نظام هېواد له هري بلا ژغورلے دے او دوی چي کوم څه غواړي نو په اساني يې کولای شي- د 'نائن الېون' پېښي امريکايانو ته دا احساس ورکړ چي د لويو لويو جنګونو ګټلو والا امريکا چي پخوا کله هم د چا تر يرغل لاندي نۀ وه راغلې اوس له هرڅۀ په امان نۀ ده- همدغه وجه وه چي امريکايي صدرجارج بُش په دې سيمه کښې يوه اوږدۀ جنګ ته دوام ورکړ- امريکايانو د افغانستان غوندي جنګ ځپلي هېواد له هغه بې وسه حکومت څخه دا غوښتنه کړې وه چي عرب جنګياليان دي له خپلي خاوري وشړي، کوم چي په هرڅۀ وهمدغو خلګو ته اړ ؤ- دا کار د طالبانو په وس کي نۀ ؤ ولي چي کوم حکومت پخپله د هېواد وماشومانو ته د بُنيادي تعليم او د ژوند اُميد هم نۀ شو ورکولای، د ټېروريزم مخنيوے به يې څنګه کاوۀ؟ پرَته له دې چي طالبانو دا عقيده لرله چي عرب جنګياليان پخپله هم په فلسطين او عراق کي د بېځايه مداخلتونو ښکار دي- په هرحال امريکايانو د ملي دفاع په موخه دغه جنګ ته تر ډېره دوام ورکړ، د نفرتونو اور ته يې نوره هوا ورکړه او ټېرريزم يې نور هم په زيات کړ-

ورو ورو امريکا او نورو مغربي اتحاديانو په دې سيمه کښې د عسکري موجودګۍ سره سره د لويو سياسي، او تجارتي ګټو تر لاسه کولو هلي ځلي پېل کړې- په دې غرض يې خپلي عالمي اِدارې ډيري فعاله کړې چي نړۍ په سياسي، معاشي او ثقافتي توګه

تر کنټرول لاندي وساتي- په دغو ابمپیریلیستي اِدارو کي عالمي بېنك، آيي ايم اېف او ځيني نوري ملټي نېشنل کمپنياني شاملي دي چي د نړۍ پر سياست، تجارت اومعيشت خپل اثر قايم ساتي- ورسره ورسره د نوي اليکټراني ميډيا په ذريعه د مغرب د عالمګيريت يا ګلوبلايزېشن انداز د مشرقي قامونو تهذيب او ثقافت لره هم خطره شو ځکه نو د مشرقي او مغربي تهذيبونو تر منځ نفرتونه پيدا شول-

لکه مخکي چي يې هم ذکر وشو، د نوي اليکټراني ميډيا په ذريعه چي اوس مغرب کوم پروګرامونه وړاندي کوي او کوم کلتور رامخته کوي هغه مشرقي قامونو ته دا احساس ورکوي چي د دوی ژبي او ثقافتونه ورو ورو د مغربيت تر اثر لاندي راځي- دغه پروګرامونه د دې سيمي د خلګو پروګرامونه نهٔ دي- خلګ په خپلو ژبو د خپلو زړګونو کلونو د کلتور او رِواياتو په ترځ کي خپل پروګرامونه کتل او اورېدل غواړي- دا تأثر عام دے چي عالمي مالياتي ادارې او لويي لويي عالمي کمپنياني د وړو وړو قامونو مالي وسايل هم ورو ورو د دوی له لاسه باسي- دغه پخپله هم اورپُوکۍ ته وده ورکوي او د عالمګيريت فلسفه شاته بيايي- تر څو چي خلګو ته په عملي توګه دا احساس ورنهٔ کړشي چي د نورو قامونو سره سم، ددوی شناخت، دود، ژبه او خپلواکي محفوظ دي او له هيڅ قِسم خطره سره مخامخ نهٔ دي، ترهغه وخته نظرياتي انتها پسندي نهٔ شي ختمېدای- ولي چي ژوندو قامونو لره خپلواکي تر هرڅهٔ ورتېره وي- دوی ژوند تر خوراك، څښاك او پوښاك پوري محدود نه ګڼي-

له دې څخه مې دا مطلب هیڅکله نهٔ دے چې عالمي وروولي د اوړپُوکۍ مخنیوے نهٔ شي کولای بلکې موخه مې داده چې عالمي فېصلې باید په انصاف وشي او په نړۍ کې پایېدونکے امن قایم کړ شي ولې چې د اوړپُوکۍ سرحدونه نشته- دا له یوهٔ هېواده بل ته او بیا له بله ودرېیم ته په اساني غزېدای شي- که څه هم د اوړپُوکۍ ځپلي خلګ د نړۍ په ډېرو نورو هېوادونو کې لیدل کېدای شي خو پښتانه یې له ټېرو دېرشو کالو په لمبو کې سوځي- څوك یوازې د شك پر بنیاد ووژل شول، څوك بې ګناه په جېلونو کې د جبر ښکار شول او څوك نن هم د بدل په اور کې ولاړ ښکاري- دا خالصه انساني مسئله ده چې د بهرنیو مداخلتونو په نتیجه کې له نفرته یا بیا له ډاره زوکړې ده ځکه یې په ګډه او په انصاف سره مخنیوے پکاردے، ولې چې لکه وړاندې یې ذکر وشو د اوړپُوکۍ سرحد نشته او نهٔ دا دیوهٔ قام یا یوهٔ دولت د وس کار دے چې یوازې یې مخنیوے وکړې-

انصاف، امن ، تعلیم او بهتر معاش د تېروریزم دمخنیوي اِمکاني لارې دي چې نفرت او ډار دواړه ترې تښتي- امریکا او ګاونډي هېوادونو چې کوم مصرف د افغانستان په جنګ وکړ، دبرنېټ رابن (Barnett Rubin) په قول که یې د هغهٔ پنځوسمه هم د دغه هېواد په جوړښت ګارکړې وای نو به نن دلته نهٔ جنګ وای او نهٔ اوړپُوکي- که یې د دغه رقم یوه درېیمه هم په امن او تعلیم خرڅه کړے وای نو به اوس نهٔ نفرت وای او نهٔ ډار- زهٔ فکر کوم چې خبره دومره ساده هم ښایي چې نهٔ وي- جنګ په اصل کې د کېپې

ټليسټانو او عالمي اورپُوکو تر منځ دے، پښتانۀ خو يې هسي له خپلي سادګۍ، محرومۍ او بېعلمۍ په زد کي راغلي دي- کېپيټليسټان د سرمايې په منډه کي لګيا دي او اورپُوکي کله له ډاره او کله د نفرت په اور کي هرڅه سوځي- دوی دخپل وطن د بربادۍ سامان له پردو څخه ترلاسه کوي او خپل تاټوبے په سوځۍ- دلته ځمکني حقايق داسي دي چي د دغي خاوري دُښمنان اورپُوکي ژوندي ساتل غواړي- پر دې سيمه نۀ معلوم چي ولي پردو له ډېره وخته اورپُوکي ژوندۍ ساتلې ده، کوم خوف يې په زړونو کي دے چي له دې خاوري څخه يې دومره نفرت کيږي-

دلته جنګ د نړۍ له نورو جنګونو بېخي بېل ښکاري- دا د ويتنام، فلسطين او کشمير له جنګونو سره نۀ شي پرتله کېدای ولي چي عرب خپل دښمن پېژني ورسره جنګېږي، کشميريانو ته خپل دښمن معلوم دے ځکه ورسره ښکر په ښکر دي، خو افغانان له پردو توپك را اخلي او خپل وطن پرې خرابوي- ددې جنګ اصل محرك چي څوك دي او پر دغه اور باندي تېل اچوي لګيا دي، هغوی هم يقيناً د څۀ نفرت او ډار له کبله داسي کوي- لنډه دا چي د عالمي نظام په نوي تشکيل کي دپښتنو د بقا ځای لټول څه اسانه کار نه معلوميږي ځکه به افغانان د خپلو مسئلو حل پخپله لټوي ولي چي دبل تلتك دنيمي شپې دے- چونکي اورپوکي ددباندينو مداخلتونو په وجه له نفرت او ډاره زوکړې ده ځکه يې علاج په انصاف دمسئلے دبېرته جاج اختستني سره تړلے دے-

نفرت او وېره په اعتماد ورکولو، انصاف کولو، تعليم خورَولو،

روزګار ورکولو او امن راوستلو پوري اړه لري چي تش په وعدو نۀ بلکي په عملي کولو تر سره کېداى شي- د امن دپاره د نړۍ والود مرستي لويه برخه افغانان بايد چي په انصاف اوپخپله مرضي د امن په هلوځلو او د عامو خلګو په تعليم او ښېګړه خرڅ کړي ولي چي د نړۍ په اوسني سياست قام خبرول په تعليم اړه لري او تعليم خلګو ته د نورو هېوادونو د بېلا بېلو اېجنډو پته هم ورکوي-

عالمي مرسته که د آيي ايم اېف (IMF) او عالمي بېنك د پور په شکل وي او د هغوى په شرائطو خرڅيږي نو به يې ګټه کمه زيان زيات وي- په تاريخي توګه آيي ايم اېف (IMF) تر دويم عالمي جنګ وروسته په دې غرض جوړ کړ شو چي د نړي په اقتصادي نظام کي غوره توازن وساتي- هغه وخت دغي اِدارې دجنګ ځپلو هېوادونو مرسته په ډېره ښه توګه وکړه او هغوى يې بېرته پرخپلو پښو ودرول- ورو ورو دغه اداره مغرب په خپلو تجارتي ګټو را وسته- په کال ۱۹۹۸ کي د آيي ايم اېف غوښتني د انډونېشيا د صدر سوهارتو د حکومت د ړنګېدلو سبب شوې- خو په ګاونډي هېواد ملايشياکي مهاتير محمد د آيي ايم اېف د غوښتنو او مشورو په پرته ځانګړي اقدامات وکړل ځکه يې هېواد له اقتصادي او سياسي شخړو څخه تر ډېره حده بچ وساتۀ- د دغو ادارو پور پخپله د مداخلې په معنا اخستل کيږي او مداخلت د نوري اورپُوکۍ سبب جوړېداى شي- ځکه افغانان د بلي مداخلې بار پر ماتو اوږو نه شي اخستاى- په اوسني وخت کي د آيي ايم اېف

يا د عالمي بېنك څخه د قرض غوښتنه او بيا په دغه پور د هېواد د امن او پرمختګ هيله، د لېوني خوب کېداى شي نۀ چي د ويښ زلمي سندره-

په جنګ ځپلي هېواد کي چيري چي امن نۀ وي، تعليم نۀ وي، انصاف نۀ وي، تجارت نۀ وي، ډېري نوري مسئلې کرلي وي او د خلګو د ژوند تېرولو معيار هم بېل بېل وي، هلته له بدامنۍ او فسادونو څخه د خلګو د ژغورني د پاره سياسي فېصلې په ډېر احتياط کول پکار وي- دانتظامي کارونو له سره جاج اخستل وي او کله کله سخت هدايات هم ورکول وي چي د دولت ملازمان بايد د خلګو د ښېګړي دپاره کار وکړي نۀ چي د ځانځانۍ دپاره- د هېواد د پرمختګ راز په دې کي وي چي د قبائلو تر منځ معاشرتي فرق کم کړشي او دا هغه وخت کېداى شي چي د خلګو نظر پر يوۀ ځلاند مستقبل وي- امن او تعليم دوه داسي څيزونه دي چي د قام د معاشي او معاشرتي ترقۍ ضمانت ورکولاى شي- که څۀ هم د زرګونو کلونو زړو رواياتو او ټينګ "يقين" پښتنو ته دومره قوت ورکړے دے چي څۀ نۀ څۀ خپلواکي يې لا تر اوسه ساتلې ده او بشري رشتې يې هم ټينګي نيولي دي، خو د تېرو دېرشو کلونو رنګا رنګ ناورينونو د افغان اولس "طاقت" ورکم کړ، د ډوډۍ او د بقا په فکر يې بوخت کړل، ځکه يې په هېواد کي څۀ نظام پاته نۀ شو- دغه ناورينونه که څۀ هم زياتره د دباندينيو قوتونو د مداخلتونو په وجه وو خو ورو ورو يې د اولس مزاج هم تر ډېره حده جنګجويانه کړ، ځکه خو جهاني[8] وايي:

نۀ د فلك زړه راسړېږي نه زه سترے شومه
لا د وختونو په ګوګل کي زلزلې پاته دي

قامي رهبرانو ته پکاردے چي هېواد والو ته يو داسي پروګرام ورکړي چي خلګ سره يو کړي، تر جنګ وَ امن ته ترجيح ورکړي، د خپلي ښېکړي دپاره يې را وپاڅوي، تعليم عام کړي او اعتماد پکښي را پېداکړي-

پښتونخوا چونکي دا وخت د عالمي او علاقايي طاقتونو د غاښو ترمنځ ده ځکه يې منطقي نتيجه اورپُوکي او نظرياتي انتها پسندی کېدای شي- نړيوال قوتونه که د پښتنو په سيمه کي د نوو مداخلتونو امکان تش د دوی ډار ګڼي نو بيا د اورپُوکی د چېلنج مقاومت دپښتنو په بشپړه مرسته او د دوی دهېواد په تعمير پوري اړه لري نۀ چي په جنګي تجرَبو پوري- ولي چي د دې سيمي د استحکام اړه په امن پوري ده او همدغه امن هېوادونو ته د نړی پر مخ د ټينګو دولتونو په توګه د پايښت ضمانت ورکولای شي- امن پخپله د نفرت او ډار خاتمه کوي او د قام د مذهب، ژبي، ثقافت او تعليمي اِداروحفاظت کولای شي- امن له يوې خوا حکومتونو ته دکار کولو ډاډ ورکوي او له بلي خوا ددوی دسماجي او سياسي شناخت د خوندي ساتلو ضمانت هم دے- او همدغه دامن هلي ځلي د اورپُوکی د مخنيوي يوازينی لار ده چي د ’ **انسانيت**‘ پر ګډو قدرونو د دُنيا د بقا په موخه په ګډه تګ ورباندي کېدای شي-

# اخځليك

1 - اینکارټا انسائیکلوپیډیا ، ' اورپُوکي' (Terrorism) مایکروسافټ
کارپوریشن امریکا ، ۲۰۰۷

2- مالتزر میلټن ، 'کومه روځ چي اسمان ونړید : د اورپوکی یا ټیریریزم تاریخ
(The Day the Sky Fell: A History of Terrorism).
دویم ایډیشن، ریندم هاؤس امریکا ۲۰۰۲ ، لومړے چاپ په ۱۹۸۳ کي ,

3- کیر کالیب ، ' د اورپُوکی ځخه سبق ؛ ولي دا ناکامه شو ه، ولي به ناکمه وي '
(The Lessons of Terror: A History of Warfare Against Civilians,
(Why It Has Always Failed and Why It Will Fail Again
ریندم هاؤس امریکا ۲۰۰۲.

4- بینجیمن ډیون او سټیون سیمن ، ' د مُقدسي اورپوکی زمانه ' ،
(The age of Secret Terror ) ، ریندم هاؤس امریکا ۲۰۰۲ ،

5- بر ګن پیټر، ' مقدس جنګ' ( Holy War: Inside the Secret World of
Osama bin Laden) فري پریس، امریکا ۲۰۰۱ -

6- رائټ جوني ، ټیروریسټ پروپیګنډا (Terrorist Propaganda)
ایس ټي مارټن، ۱۹۹۱ -

7- درویش درانی، 'دابُوټي به لونګ شي' صحاف نشریاتي موسسه ،
کاسي روډ کوټه ، ۲۰۰۹

8- عبدالباري جهاني، 'د سباوون په تمه' ، صحاف نشریاتي موسسه ،
کاسي روډ کوټه ، ۲۰۰۰

❊ ❊ ❊

# انسان او انسانیت

# انسان او انسانيت

د انسان او انسانيت په اړه دنړۍ د پوهانو نظر د هغوی د قوميت، تاريخ، ماحول او عقيدې په حساب بېل بېل ښکاري- که څۀ هم دکائنات دجوړښت او پرځمکه د انسان د تخليق عقيده د درو واړو ابراهيمي مذهبونو سره ورته ده خو تر ټولو مشکل سوال چي خلګ يې له ازله د ځواب په تلاش کي دي، پخپله د انسان وجود دے- يعني چي انسان پخپله څۀ دے او انسانيت يې په قومو قدرونو پوري اړه لري؟ د دغه سوال څۀ غوره او منطقي ځواب په اوسني عِلمي او سائنسي دورکي هم عملاًممکن نه دے ولي چي لوی شمېر خلګ منطق ته هم د شك په نظر ګوري- اوس خو داسي بربښي چي منطق په استدلال کي د پېچلو خواهشونو نوم دے- په ټوله نړۍ کي څالاکه خلګ او بالادسته قوتونه د منطق په ذريعه د ځاني او قامي خواهشونو تکميل کوي لګيا دي- د ځپلو قامونو وسايل په نوو نوو دليلونو د ځان کوي او لوټي يې- څومره چي

انسان پر فطرت ورو وروکنټرول حاصلوي لګیادے هغومره د دغه سوال په ځواب کي پېچومي زیاتیږي- موږ ځکه منطق ته د شك په نظر ګورو چي انسان او انسانیت تر هر رنګه دلیلونو وسیع ښکاري- منطق خو یوازي د ازلي حقیقتونو د یوې پنګي وضاحت کوي ځکه متحرك نۀ دے بلکي منجمد ښکاري- انسانیت همه وخت متحرك دے ، د بغاوت کولو صلاحیت لري او انقلاب آفرین ښکاري- د منظق په ګچه خو د عقل مقام هم نۀ شي ځرګندېدای کُجا د انسانیت د سوال ځواب، ځکه خو حمزه بابا[1] وایي:

لوَلم یې په دې چي یې عنوان انسانیت دے
خـدایــه د هستۍ چي تــا ویـلې افســانـه

اوسني تاریخ پوهان او د دوی نوي اکادمیك بشري تاریخ څېړني هم د انسان او انسانیت په اړه د سوال واضح ځواب نۀ لري- په تاریخي توګه د انسان اولنے شکل د انسانیت له معیاره بېخي لري ښوول کیږي او ژوند یې تر ډېره حده د حېواني خصلتونو ډك ښکاري- ځکه ځیني پوهان دغه اولني انسان ته د انسان په سترګه نۀ ګوري بلکي بشر ورته وَیل مناسب ګڼي[2]، خو ډېر نور پوهان د خلګو دغه تقسیم نۀ مني او دا په اصل کي د انسانیت بېلا بېلي سطحي ګڼي- په هرحال خلګو له لاندي څخه تر بَره د ترقۍ په دغه سفر کښې په زرګونو کلونه لګولي دي-

لکه چي مخکي يې ذکر وشو په قرآنِ حکيم کي هم د خلګو دپاره دوه بېل بېل لفظونه استعمال شوي دي، يو بشر او بل انسان- د لفظ "بشر" مطلب د نوع په حېث دے چي د څلور پښو له حېوانه بېخي بېل پر دوو پښو ولاړ يو وجود دے- د " انسان" مطلب په مخلوقاتو کي يو بلند مقام لرونکے څيز دے- موږ مسلمانان يو ځکه نو د خلګو د وجود دوې سطحي د زړه لکومي منو او دا تسليمَوو چي بشر د خلګو هغه طبيعي سطح ده چي "موجود" ده او انسان يې هغه معنوي سطح ده چي "مقصود" ده- بشر هر څوك دے خو د انسان په ګچه هغه کس پوره ګڼل کېداى شي چي په خپل کوشش او پېوسته هلو ځلو تر معنوي سطحي ځان ورسوي-

انسان دا فطرتي خصلت لري چي هر زدکړے هنر ونورو خلګو ته هم ورښول غواړي او په دغه ښوونه فخر کوي- دے شعوري کوشش کوي چي دارنګه په خلګو کښې خپل مقام جوړ کړي او په سماجي جوړښت کي برخه واخلي- په خپل تخليقي قوت انسان کله کله په خواوشا ماحول کي نوښتونه هم رامخته کوي- چونکي دا دے خپله فطري ذمه واري ګڼي ځکه نو ښايي چي دا رنګه ورو ورو د کلتور ابتدا شوې وي[3]- داسي بريښي چي خلګو د انسانيت د معنوي سطحي په خوا خپل اوږد سفر هماغه وخت پېل کړے ؤ کله چي دوى د فطرت او ماحول اثرات وليدل او د دغو په ترڅ کي يې د ځان ژغورني شعوري هلي ځلي پېل کړې- د بېلا بېلو پېښو سره مخامخ شول او د هغو تر اثر لاندي يې د درد او خوشحالۍ قصې او نغمې خپلو نسلونو ته منتقلي کړې- په بېلا بېلو وختونو کي يې

نکلونه او نظمونه جوړول او له یوۀ او بله یې ورو ورو زدکړي کولې- بیا یې ښایي چي د یاداښت د پاره د څۀ علامتونو په توګه د لیك اولوست پیل وکړ او دغه زدکړه یې هم تر خپلو نسلونو ورسوله- ورو ورو ئې دعملي او روحاني تجربو په ترخ کښې د علم دائره پراخېده او د فکر زاویه یې سمېده تر څو چي د ښه ذهانت له کبله تر نور مخلوق غوره او ستر (اشرف المخلوقات) مقام ته ورسېد چي اوس د انسانیت په معنا اخست کیږي- همدغه خبره عظیم فلاسفر فېثاغورث [4](Protagorus) کړې وه چي:

"Man is the measure of all things"

" انسان د ټولوڅیزونو په ګچه دے"

که موږ هرڅومره د خلګو د برابرۍ دعوې[5]وکړو او د نسلي، مذهبي او علاقایي تعصبونو څخه بالاتر شو خو بیا هم د انسانیت په اړه دوې بېلي سطحي ښکاري- یوه یې طبیعي سطح ده او بله معنوي- طبیعي سطح یې پرحیاتیاتي علم مبني ده او د بشر د بېلا بېلو اعضا د جوړښت او د هغوی د کار کولو په حواله بحث وربان‌دي کیږي- د هر بشر جسماني جوړښت او نفسیاتي ساخت تر ډېره حده یو رنګه دے- دغه د بشر نوعي خاصیتونه دي چي دطب، حیاتیاتو او نفسیاتو طالبعلمان یې تر لوست لاندي راوړي او بیا یوې خوا ته د بشر د ناروغیو د علاج کار ترې اخست کیږي او بلې خواته یې د نفسیاتو مطالعه د تجزیې په کار هم راوسته کیږي- د

بشر دغه درجه چونکي د ټولو خلګو سره مشترکه ده او هرکس هغه ټول خاصیتونه لري کوم چي وړاندي یې ذکر وشو ځکه طبیعي سطح بلل کیږي- د خلګو دویمه سطح له مخنی ځخه تر ډېره حده ښېله او اوچته ده ځکه معنوي سطح ګڼل کیږي- دا په ټولو خلګو کښي یو رنګه نهٔ ده بلکي د دانشورانو، فلسفیانو، شاعرانو، پوهانو او صوفیانو د فکر او دانش سره اړه لري- دا د خاصو خلګو د څهٔ خاصو هلوځلو سره تعلق لري او انسانیت په همدغه فکر او هلوځلو پوري اړه لري- له طبیعي سطحي څخه تر معنوي سطحي پوري لوی سفر خلګ په مدتونو پرې کوي- ځیني پوهان د خلګو تر منځ د دغسي توپیر قایل نهٔ دي او دا دلیل وړاندي کوي چي دا د مساواتو او برابرۍ د بُنیادي اصولونو خلاف ښکاري- په هرحال حقیقت دادے چي عمل یوازینے داسي جوهر ښکاري چي یو کس له بله بېخي بېل په ایسي او د بشر او انسان ترمنځ د واضح توپیر جواز هم ښندي-

د دې تاریخي پېر پوهان[6]د ساینسي پلټني په رڼا کي څرګندوي چي پنځوس زره کالهٔ مخکي خلګو په سمڅو کي ژوند کاوو او یوازینے خوراك یې د ښکار غوښه وه[7]- په افغانستان کي د دغه وخت ډیري نخښي موندل شوي دي چي په سائنسي توګه یې د کاربن له مخي ټاکل شوے عمر هم پنځوس زره کاله یادیږي- دغه نخښي د سمنګان له دادل درې، چخماخ درې ، زرسمڅې، د غزني له ناوره او د بدخشان له کوردرې څخه موندل شوي دي[8]- ساینسي پلټني دا هم څرګندوي چي په دوو میلینو کلونو کښې انسان په

طبيعي توګه هم ډېره ترقي کړې ده[9]- دلاسونو، پښو او دماغ ساخت يې هم له اولنيو خلګو بېل دے- د نيوټوني (Neoteny) جديد علم د انسان په ساخت کي پرهمدغو بدلونو بحث کوي- د زړو وختونو د خلګو کوپړۍ چي د ځمکيندني له امله ترلاسه شوي دي، داڅرګندوي چي د خلګو سرونه هغه وخت واړه وو او د مخ په خوا وتلي غوندي ښکارېدو- له دغو نخښو څخه دا ثابته ده چي پخوانيو خلګو ډېر ساده ژوند کاوو- د خوراك او پوښاك انداز يې هم ببخي ساده ؤ- د ځان ژغورني په غرض به يې د دنګو غرونو په لوړو ترڅو کي سمڅې کيندلې او استوګه به يې پکښي کوله- چونکي د غوروفکر دايره يې محدوده وه او د غټ دماغ ضرورت ورته نۀ ؤ ځکه نو قدرت سرونه او دماغونه هم واړه ورکړي وو- وروسته خاندانونه جوړ شول، ټبرونه را وړاندي شول او ورو ورو قبايلي ژوند روان دوان شو- د خلګو طبيعي ضرورتونه ډېر شول او د ژوند معنا يې هم ورو ورو بدلېده لګيا وه ترڅو چي يې د شعور او پوهي په برکت اوسنے مقام حاصل کړ او دانسانيت ترمعنوي سطحي د رسېدو په هيله مسلسل په تګ ودو دي-

په زړو وختونو کښي به ددغو قبيلوخوراك له قدرتي څيزونو څخه ؤ چي لويه برخه به يې له ښکار څخۀ ترلاسه کېدله- د ضرورت څيزونه به يې له پوستونو جوړول چي مثالونه يې اوسنۍ غَړکه، چاګله، بنۍ او ګوډے دي- دا ټوله هغه وخت هم له پوستونو جوړېدل- لباس به يې په زياته د ښکارکړل شووحېوانانو له پوستونو جوړاؤ چي اوس لاهم د پوستين په توګه په پښتني معاشره کي

وجود لري- د وخت په تېرېدو سره د نوو تجربو او مشاهدو په ترڅ کښې د انسانانو په دماغونو کښې نوي نوي ترکیبونه جوړېدل او په ذاتي او ټولنیزو روَیوکي یې هم روځ په روځ بدلون راتلے لګیا ؤ[9]- دغه بدلون څۀ نه څۀ خو په جینیاتي توګه په خلګو کښې ورو ورو راروان ؤ خو په زیاته د ماحولیاتي ضرورتونو په وجه د دوی د شعوري کوششونو له کبله ؤ- د مثال په توګه د نوو نوو ضرورتونو په ترڅ کي به اولنیو خلګو ډبري تراشلې او د خپل ضرورت اوزار به یې ترې جوړول- په دغو ډبَرینو څیزونو کي ریندې، چړې، چیټکان او د ضرورت نور ډېر څیزونه شامل وو چي یو شمېر لرغوني آثار یې په پښتونخوا کي له بېلا بېلو ځایونو څخه د ځمکیندني له امله ترلاسه شوي دي- همدغه شان به دوی د ځناورو له هډونو او درختو له لرګیو څخه غشي جوړول چي دښکار کولو او ځان ژغورني په کار به یې راوستل- په ډېرونورو هېوادونو کي همدغه شان څیزونه موندل شوي دي چي د بشر د ارتقایي درجو په اړه معلومات ورکوي خو د انسان او انسانیت په اړه د سوال ځواب نه ښندي- دا ټول آثار د بشر د فطرت سره تړلي شیان دي او کوم معلومات چي ورکوي هغه په ټولو خلګو کي یو رنګه دي- همدغه د بشر طبعي سطح ده چي له ډېر پخوا څخه تر اوسه په خلګو کي لیدل کیږي- خو په هره زمانه کښې څۀ خلګ له طبیعي سطحي څخه ترمعنوي سطحي پوري سفر کوي لګیا وي- دا سفر له مدتونو جاري دے - د بشر او بشریت په اړه په دوهم څپرکي کښې د"خلګ" ترعنوان لاندي څۀ نۀ څۀ بحث وشو خو د انسان او انسانیت په اړه د سوال څۀ

واضح څواب ترې راونۀ ووت ځکه نور وضاحت هم غواړي-

د انسان او انسانيت په اړه دسوال ځواب په پېوسته فکر او زدکړه پوري اړه لري- د زدکړي دغه سفر په زرګونو کلونه واخستل او د يوۀ ارتقائي عمل په توګه لا دوام لري- د انسان فطرت داسي دے چي څۀ نۀ څۀ کوي لګيا وي- د ضرورت د څيزونو تر جوړولو وروسته خلګو د وخت د تېرېدو سره سره کراوکښت هم پېل کړل او کروندې يې آبادي کړې- کله يې چي ضرورتونه زيات شول او کار وربانديي ډېر شو نو يې د خپلي آسانتيا په خاطر حېوانان هم په کار راوستل- اوښ، غويے، خر، مېښه او آس يې د ځان تابع کړل او کار يې ترې واخست- کله چي له کښت او کروندو نه د انسان د خوراك ضرورت پوره شو نو يې د ټولني ضرورت محسوس کړ- خاندانونه سره يوځاى شول، کلي ترې جوړشول او ځاى پر ځاى خلګو په لوى شمېر داسي استوګه پېل کړه چي واړه واړه ښارونه يې آباد کړل- له ختي څخه به يې لوښي جوړول، پخول به يې او د کوزې، منګي اوکُنجۍ په توګه به يې کار ترې اخست- ورو ورو يې مِس، ګيلټ او وسپنه هم په خپل استعمال کي راوستل- مِس خو دوى اوه زره کاله مخکي لاپه کار راوستي ؤ خو وسپنه يې تقريباً درې زره کاله وړاندي په استعمال کي راوسته- کله چي د خلګو قوت سره زيات شو او يو د بل په مرسته يې کار سره تقسيم شو نو لږ غونډي اوزګار شول او د فکر دايره يې پراخه شوه، فنونو ته يې هم پام شو- دا د انسانيت په خوا يو بل قدم ؤ چي بشر واخست- که څۀ هم ټول خلګ بشر دي خو هر بشر د انسان په تول پوره نۀ دے-

انساني خاصیتونه په هرچا کي یو رنګه نهٔ دي- څوك به تري خالي وي او کنه؟ دا نهٔ شي ویَل کېدای خو په چا کي کم او په چا کي زیات ضرور وي- دا کمے او زیاتے د انسان په کوښښ پوري اړه لري او د ښهٔ او بد تمیز په کیږي-

لکه وړاندي چي یې ذکر وشو، بشریت د انساني وجود و طبیعي سطح ته ویل کیږي چي په خلګو کي له ازله موجود دے- هرکس د بشر په حېث وجود لري، په بنیادي توګه خطاکار دے او حېواني خاصیتونه ټول ورپکښي جمع دي- ځان خوښه دے او خونرېزي یې په سرښت کي ده- تاریخ د دې خبري ګواه دے چي په بشر کي وحشیانه خاصیتونه تردې حده دي چي یو دبل وقتل ته د لېونو په شان چمتو ښکاري- داسي ښکاري چي دښمني او خونرېزي د بشر په سرښت کي ده- مګر دا هم حقیقت دے چي په خپل کوښښ د انسانیت تر معراجه د رسېدو قوت لري- دا مخفي قوت یې په ایمان، عمل، حق پرستۍ او صبر پوري اړه لري- هم دغه اوصاف یې له خسارې څخه بچ ساتي او د انسانیت جوهر پکښي پېدا کوي، ګنې انسان خو په خساره کي دے - ځکه انسانیت د انساني وجود هغه معنوي سطح ده چي خصوصیات یې له ازله موجود نهٔ وي بلکي په ماحول او پېوسته هلوځلوپوري اړه لري- لکه مخکي چي یې ذکر وشو، د دغه انسانیت هیڅ یوحد معین نهٔ دے بلکي یو ارتقایي عمل دے چي د کمال سطح یې حد نهٔ لري- داسي برېښي چي د تصوف نظریه د دغه لا متناهي سلسلې څهٔ حد متعین ګڼۍ خو حقیقت دا دے چي معقول سوچ د خالق پخوا "رجوع" ده نهٔ چي تر خالقه د رسېدو تصّور-

د انسان معنوي سطح هماغه ده چي دے تر نورو ټولو مخلوقاتو بهتر او افضل په ګڼل کيږي- دغه معنوي انسان چي په اصل کي د انسان په تول پوره دے، د څو بېلابېلو خصلتونو په وجه ښکاري- په دغو خصلتونو کي اول ځان پېژندنه، دويم آزاده اراده، دريم د انتخاب قوت او څلورم د تخليق صلاحيت دے چي د انسان د ټولو عمَلي او روحاني تجربو اصل مأخز ګڼل کيږي- له بشره تر انسان پوري د انسانيت سفر له لاندي نه تر بره په دغو خصلتونو پوري اړه لري- د انسان عظمت او قدر په همدغه وجه دے- فلسفه، مذهب، فن، ادب، سائنس اونور ټول علوم د همدغو خاصو انساني خويونو په موجودګي کي مخ په وړاندي روان دي- دا خصلتونه په هر فرد کښي يو رنګه نهٔ وي بلکي د دغو تناسب هغه څيز دے چي يو انسان له بله بېل په ښکاري- په چا کښې يو خوی زيات وي او په بل کي بل ځکه خو په انسانانو کي د انسانيت سطح يوه نهٔ ده- د انسان د دغو واړو فطرتي خاصيتونو لړ تفصيل په نمبر۱۶ کي په دې هيله څرګند شوے دے چي څهٔ نهٔ څهٔ وضاحت يې وشي- د ټولني خلګ د ځان پېژندني، آزادي ارادې، غوَره انتخاب او تخليقي قوت په لحاظ په اوسني دور کي پرمختګ کوي او يو له بله سره په مقابله کي دي- بېل بېل کارونه تر سره کوي چي يوې خواته دوی په پېژندل کيږي او بلي خواته دکائنات په ډېرو رازونو ځان خبروي- د دغو بېلابېلو صلاحيتونو په برکت ښکلے ادب تخليق کيږي، نوي نوي سائنسي ايجادونه کيـږي چي د انسان د پاره روځ په روځ





څرګندون نمبر۱٦ د انسانیت څلور خاصیتونه

خوشحالي اوډېري آسانتیاوي پیدا کوي- ځان پېژندنه له بشریته د انسانیت پخوا اولنۍ قدم دے او د معرفتِ الٰهي وړومبے شرط هم ګڼل کیږي- ځکه هر کس لره دنفس یا **ذات** تر جبر د وتو یوازینۍ لار هم ځان پېژندنه ده چي په ظاهري وجود کښې دننه د پټ معنوي وجود دَرك وركوي-

بشر زیاتره د خپل ذات یا نفس په خول کي بندي وي چي په حقیقت کي د دهٔ د خودی قفس دے- له خپله ځانه مجبور وي ځکه ډېر څهٔ ترې پاته وي- په لوړه کي د خپلي لوړي د مجبوری اظهار نهٔ شي کولای، که ملامت وي نو د نفس تر فشار لاندي خپله ملامتیا نهٔ شي منلای، که مجرم وي نو د جرم اعتراف نهٔ شي کولای او که ګناهګار وي نو د توبې دروازه ورته بنده غوندي ښکاري- بلي خواته د دنیا ټول نعمتونه ورسره وي خو ژوندون ورته بې معنا او خالي خالي معلومیږي- حالانکي په فطري توګه انسان له حیوانه ځکه بېل دے چي په ځان کي څهٔ دغسي پټ قوت ویني چي دے له نورو ژوندو ځیزونو ممتاز په ښکاري- د همدغه قوت پلټنه معرفتِ نفس یا ځان پېژندنه ده، چي په تزکیهِ نفس او ضبطِ نفس پوري اړه لري- چونکي انسان له ازله په خپله دغه مجبوري خبردے ځکه ورباندي لازم ده چي د خپل نفس اصلاح وکړي، ضِد پرېږدي، عِناد ختم کړي، بد رد کړي، د ښو انتخاب وکړي، دروغ نهٔ وایي د ریشتا مل شي، ولي چي همدغه دنفس تزکیه ده- که څهٔ هم بشر له خپل سرښته بېخي خبر دے او د کائینات سره د خپل تعلق په اړه فطري آګاهي لري خو د خودی تر معنوي سطحي پوري د رسېدو د پاره پېوسته هلي ځلي ورباندي لازمي دي- په دغو هلو ځلو کي پر ډېرو ځایو لوی لوی خنډونه مخته راځي ځکه د برداشت او ضبطِ نفس ضرورت وي – تر بدل و روغه ته اهمیت ورکول وي، ترجنګ و امن ته، تر سرکښي وعاجزي ته، تر

قصاص و بخښنه ته، ولي چي په روايتي مذهبي ټولنه کي دغه د ضبطِ نفس فکر افضل فعل ګڼل کيږي- د وضاحت د پاره دا لاندي څرګندون نمبر۱۷ وګورئ چي په انسان کي له حيوان څخه بيخي




څرګندون نمبر۱۷ په انسان کي دنفس داصلاح عوامل

بيل د نفس د تزکيئي او ضبطِ نفس قوت ښئي، ځکه خو انسان دحيوان غوندي په بشپړه آزادي خپل نفساني خواهش نهٔ پوره کوي بلکي د ټولنيزو او انساني قدرونو پوره پوره خيال ساتي- د دهٔ غوره کلام، عقل او دانش د کائينات له نورو ځيزونو څخه د دهٔ مقام لوړ ساتي- دے ګاېيدلای شي، فکرکولای شي، احساس کولای شي، اختلاف کولای شي او دبغاوت کولو تر حده تلای شي، ولي چي د انساني دماغ جوړښت له ازله د نورو ژوندو ځيزونو څخه بيل دے- د

ګاېډو يوښکلے مرکز پکښې وجود لري چي انسان ته د خبرو کولو فطري صلاحيت ور بخښي- بيا د انسان په پېوسته کوښښ دغه مرکز دۀ ته د قرأت، شاعرۍ، سندرو او نور ډېر څۀ قوت هم ورکوي- انسان فکر کولای شي چي لمر څۀ دے، سپوږمی څنګه پر خپله لاره ځي او راځي، څنګه ورو ورو کميږي او زياتيږي- دغسي لوی شمېر سوالونه ماشومان هم له خپلو مېندو نۀ پوښتي چي د دوی په مغزوکي له لويه سره د ډېر څۀ د موجودګۍ دليل دے- دلته غوره خبره د "ځان پېژندني" ده، ځکه چي کوم کس څومره خپل دماغ په کار راولي او غوروفکر کوي، هغومره د خپلو سوالونو ځوابونه لټولای شي- د دغي ځان پېژندني د سطحي په حساب په خلکو کښي واضح توپير ليدل کيږي او يو انسان له بله ډېر بېل ښکاري-

انسان فطري احساس لري چي د مظلوم مرسته او د ظالم مخنيوے په کوي او دا کار دے اکثره پخپله " آزاده اراده" ترسره کوي- دخپلي ذمه داری احساس ورسره وي چي د يوۀ کار د ترسره کولو د پاره دۀ ته څۀ څۀ کول پکار دي- د ټولني درد محسوسَولای شي او همدغه احساس يې د فن او ادب بنياد دے[10]- مصوّري، شاعري، افسانه او ناول ټول د دغه احساس تر سايه لاندي وده کوي لګيا وي- انسان اختلاف کولای شي او د بغاوت کولو تر حده تلای شي ولي چي فکر او احساس يې اختلاف کولو ته مجبوره کوي او د بغاوت کولو قوت پکښي راپاځوي- فلسفيان يو بنيادي مثال دا

ورکوي چي بشر له جنته د همدغه اختلاف یا بغاوت په وجه شړل شوے ؤ چي دخپلي آزادي ارادې له کبله دعقل اوشعور دفطري قوت اظهار ترې شوے ؤ- لکه چي د ځان پېژندني د سطحي په حساب په هره ټولنه کي یو انسان له بله ډېر بېل ښکاري هماغه شان د آزادي ارادي په وجه خلګ یو له بله مختلف دي- د انسان فطرت داسي دے چي همېشه یې د بدلون په لټون ساتي خو د دۀ عقل، شعور، احساس او فکر د سمي لاري او غوره بدلون په لټون کي دۀ لره پکار ورځي او د آزادي ارادې په قوت یې د فطرت له جبره بچ ساتي- همدغه تر ځان پېژندني وروسته د آزادي ارادې په معنا یوه مهمه وظیفه ده چي بشر د انسانیت تر معراجه رسولای شي-

د انسان " آزاده اراده" هم د حق او فرض تر منځ د توازن ساتلو پابندي لري- د حق د پاره آواز اوچتول، په عملي توګه جدوجهد کول او بیا تر هره حده تلل په آزاده اراده ممکن خو دي مګر د خپل فرض تر ادا کولو وروسته- که څوك فرض نۀ ادا کوي او حق غواړي نو یې هیڅ جواز هم نشته- اصل څیز همدغه جواز دے چي په ټولنه کي د حق او فرض ترمنځ توازن ساتي او ټولني ته پایښت ورکوي- له بده مرغه اوس هر سړے د حق په نامه هر څۀ غواړي خو د خپلي ذمه واري احساس ورسره نشته- تر څو چي خلګ د فرض احساس ونۀ کړي او دقام ښېګړې خپله ذمه واري ونۀ ګڼي تر هغو د غوره بدلون هیله ترې نۀ شي کېدای- په څرګندون نمبر۱۸ کي د حق او فرض ترمنځ همدغه توازن ښوول شوے دے-




ځرګندون نمبر۱۸ د حق او فرض تر منځ توازن

انسان یو داسي قوت هم لري چي د ښه او بد تمیز په کولای شي او بیا په دغو دواړو کي د یوهٔ " انتخاب" هم په خپله آزاده اِراده کوي- د انسان د بقا په هلو ځلو کي مرکزي حېثیت د همدغه انتخاب دے، تردې حده چي له انتخابه انکارهم یو انتخاب دے- دانتخاب دغه قوت یو اعلیٰ انساني خصلت دے چي په بل هیڅ یو څیز کي نه شي لیدل کېدای- د دغه انتخاب په قوت انسان د خپلي موخې اوذمه وارۍ احساس ژوندے ساتلای شي- د انسان تشویش په اصل کي د څهٔ انتخاب دنهٔ موجودګۍ احساس وي او یا بیا د انتخاب دجواز په اړه وي- لکه مخکي چي یې ذکر وشو آدم د همدغي آزادي اِرادې په وجه له جنته بنایي ځکه شړل شوے ؤ چي د عقل او

شعور د فطري قوت اظهار ترې شوے ؤ- دے چونکي د آزادي اِرادې خاوند ؤ ځکه يې د هغي مېوې انتخاب وکړ له کومي چي منع کړل شوے ؤ- که څۀ هم تر دغه لمخه بشر ته بېله څۀ کوښښه په جنت کي هر څۀ ورکول کېدل خو دغه د دۀ د فطرت سره سمون نۀ درلود- آزاده اِراده يې لرله ځکه يې سر کښې وکړه او له جنته را وشړل شو- دۀ وروسته پرځمکه هم د خپلي آزادي اِرادې په قوت او د خپل ځانګړي انتخاب په برکت د انسانيت په خوا نوے سفر پېل کړ او خپلو پېوسته هلو ځلو ته يې دوام ورکړ- دغه سفر يې لا جاري دے چي د انتخاب د نوعيت او اِرادې د پخوالي په حساب يو انسان له بله څخه بېل په ښکاري- داسي برېښي چي انسان د خپلو جسماني، نفسياتي، فطري او جبلي ضرورتونو خلاف د خپلي آزادي ارادې په قوت کله کله بغاوت کوي- دے په زياته دخپلو ټولنيزو حالاتو خلاف او تر دې حده چي د فطرت خلاف هم د فېصلو کولو اختيار لري- دا قوت په هيڅ يو بل ځيز کښې نۀ شي ليدل کېداى، ځکه د آزادي اِرادې او غوره انتخاب په دغه قوت انسان تر نورو مخلوقاتو افضل ګڼل کيږي-

"تخليقي قوت" هم د انسان يو بل داسي قوت دے چي دے له نورو مخلوقاتو څخه بېل په ښکاري- انسان دتخليقي صلاحيت په وجه په کائينات کي دحقيقي خالق دقدرت مظهر دے- لکه مخکي چي يې ذکر وشو، انسان دټولني دردمحسوسَولاى شي اوهمدغه احساس يې د فن او ادب بنياد دے- بشر چي کله دکر او کښت ترهنر وروسته د خوراك مسئله حل کړه نو يې دومره وخت وموند

چي په فني کارونو يې پېل وکړ- دۀ ورو ورو د تخليق په عمل هم لاس پوري کړ- تعميرات، مصوّري، شاعري، افسانه او ناول ټول يې د تخليق زاړۀ مثالونه دي- سائنسي ترقي او ټېکنالوژي په نوي وخت کي د انسان د تخليقي قوت ځلاندي نخشي دي- انسان چونکي په خپل فطري ماحول قناعت نه شي کولای ځکه د نوو نوو تخليقاتو په هلوځلو وي- د دۀ نفسياتي جوړښت څۀ داسي دے چي هر وخت يې په اضطراب کي ساتي او د نوښتونو په لټون کي وي- انسان تر خپل منزله پوري د رسېدولاره پخپله ټاکي او د پېوسته هلوځلو او سعي په برکت ناممکن هم کله کله ممکن کړي- دغه پېوسته کوښښ د تخليق لاري هم خلاصوي- د انسان د تخليقي صلاحيت لاندينی سطح ساينسي او ټېکنيکي ده او اوچته سطح يې فني ده- ساينسي او ټېکنيکي تخليقونه يوې خواته د انسان د خوشحالی سامان پېدا کوي خو بلي خوا ته د دۀ د بربادی پېغام هم راوړي- په اوسني دور کښې اېټم بمونه او نوري درنې وسلې د انسان د خوشحالی د پاره نۀ ښکاري بلکي پر ځمکه د قيامت سامان دے چي جمع کيږي- د انسان د تخليقي قوت اوچته سطح ځکه د دۀ فني صلاحيت دے چي دے د ټولني د ښايست اوخوشحالی په اړه د غوره بدلون کار ترې اخلي- دغه فني تخليقي صلاحيت په اصل کي هغه قوت دے چي انسان د خدای د تخليقي قدرت مظهر په بلل کيږي- دغه درې واړه قوتونه د نفس دمعرفت سرچينې دي چي دحق معرفت لره اولنے شرط دے-

یوه بله وجه چې د انسانیت په اړه د خلکو بېل بېل تشخص څرګندوي، د څو منفي قوتونو موجودګي هم ده- دغه په اصل کې جبري قوتونه دي یا بیا د جبر قسمونه ورته ویَل کېدای شي، تر کومو لاندي چې بشر د انسانیت سفر یاخو کولای نۀ شي او یا ورته لوی خنډ وي لکه؛ د فطرت جبر، عمراني جبر، د تاریخ جبر او د خپل ذات جبر- د دغو جبري قوتونو ذکر په پښتو ادب کې هم لیدل کیږي، لکه چې رحمت شاه سائل[11] په خپل نظم "د تاریخ جبر" کې دا لاندي څو سوالونه اوچت کړي دي:

څــــوك د ژونـــدانـــۀ د پســـرلـو مخــه نیولای شي
څـــوك لـــه زېـړېدو ښایست پـه زورمنع کولای شي
څـوك د وخت رفتـــار پـــه زولنـو ایســـارَولای شي
څوك دوینوسُور رنګ په بل رنګ کې بدلولای شي

اوّلني درې جبري قوتونه ( دفطرت جبر، عمراني جبر، دتاریخ جبر) خاریجي دي چې فرد یې د علم په ذریعه له منفي اړخونو څخه ځان بچ ساتلای شي خو آخرنے جبر د انسان داخلي جبر دے چې آزادي ترې په علم نۀ بلکې د ځان پېژندني یا معرفتِ نفس په ذریعه مکنه ده- د جبریت دغه فلسفه یوه ډېره زړه فلسفه ده- دهندوایزم او عیسایي کېتهولیك عقیدې بنیاد د قدرت پرهمدغه جبري فلسفه ۇ- د دغې نظرېې منونکي دا عقیده لري چې هرڅۀ د قدرت له خوا د

انسان تر تخلیق لمخه متعین شوي دي اوهمدغه یې په فطرت کي دي- د انسان ځان پېژندنه، آزاده اراده، دانتخاب خوی او د تخلیق قوت د دۀ په څۀ کار نۀ ورځي- معنا دا چي انسان په هماغه څۀ مجبور دے کوم چي د دۀ په سربښت کي دي، د دۀ خپل کوښښ د دۀ په هیڅ کارنۀ شي ورتلای-

دغه نظریه چونکي د انسان د آزادي اِرادې، انتخاب او سعي نفي کوي ځکه یې تر ډېره حده د زمانې په اوږدو کي خپل اهمیت له لاسه ورکړ خو د ماده پرستۍ نظریه ترې وزېږېده چي په مغربي هېوادونو کي یې لا تر اوسه ډېراثرات شته- ماده پرستان که څۀ هم دانساني اقدارو او حقوقو قایل دي خو انسان د نورو مادي څیزونو په شان د مادیت په دائره کښي قېد ساتي- دوی انسان محضِ یو مادي وجود ګڼي او د روحاني ترقۍ هیڅ ګنجایش هم پکښي نۀ پرېږدي- په دغه نظر انسان کله هم تر خپله طبیعي سطح لوړ نۀ شي تلای ولي چي د انسان معنوي سطح د مابعدالطبیعات د عقیدې تقاضا کوي- د وجودیت فلسفه چي د مادیت پرستۍ په ردِعمل کي را مخته شوله، انسان د ماده پرستۍ او فطرت پرستۍ له بندیزونو آزاد خو ساتي لېکن د مابعدالطبعات تصور نۀ ورکوي- لکه وړاندي چي یې ذکر وشو، د وجودیت د فلسفې منونکي انسان له نورو مادي څیزونو څخه ځکه مختلف ګڼي چي انسان د فطرت طابع نۀ دے بلکي پر فطرت تصرف لري- تر وجودیت وروسته د انسان دوستۍ فلسفه مخته راغله چي د اوسني دور غوره فلسفه ګڼل کیږي او تر ډېره حده په امریکایي ټولنه کي عمل هم ورباندي

کيږي- د دغي فلسفې په ترڅ کښې د کال ۱۹۴۸ د دسمبر په لسمه نېټه ملل متحده د انساني حقوقو يوقانون منظور کړ- دغه نېټه اوس په ټوله نړۍ کي دعالمي انساني حقوقو د ورځي په توګه لمانځل کيږي- دا قانون د ټولو خلګو او قامونو يو مشترك معياري قانون ګڼل کيږي چي ملګرو ملتونو په ګډه منظور کړے ؤ او د انساني حقوقو د ساتني ضمانت يې پکښې ورکړے دے- د دغه قانون اولنۍ دوې پېرې څۀ په دې ډول دي:

Whereas recognition of the inherent dignity and of the equal and inalienable rights of all members of the human family is the foundation of freedom, justice and peace in the world,

(چيري چي) د انسانيت د احترام او د برابرۍ پر سطح د خلګو د حقوقو اعتراف په نړۍ کښي د آزادۍ، انصاف او امن بنياد دے-

Whereas disregard and contempt for human rights have resulted in barbarous acts which have outraged the conscience of mankind, and the advent of a world in which human beings shall enjoy freedom of speech and belief and freedom from fear and want has been proclaimed as the highest aspiration of the common people,

د انسانيت د توهين او انساني حقوقو د خلاف ورزۍ په وجه چي کوم وحشيانه اقدامات شوي دي هغه د بني آدم پر ضمير او د دغې نړۍ پرڅهره داغ دي، نړۍ په کومه کي چي د خلګو سره د اظهار او عقيدې د آزادۍ او له وېري او له بله دغوښتني څخه د عامو خلګو دحتمي ساتني وعده شوې ده-

الميه داده چي په عَملي توګه خلګو ته د دغه قانون سره سم هيڅ چيري هم حق نۀ دے ورکړل شوے- لوی قوتونه او د نړۍ

سیولایزډ قامونه هم د دغه قانون پابنده نهٔ ښکاري- امریکا چي د کوم نوي ورډ آرډر (New World Order) خبره کوي یا بیا نړۍ له نوې سره ترتیب کول غواړي، هغه د فوځي او معاشي قوت په ذریعه د ټولي نړۍ کنټرول اخستل او بیا خپله مرضي وراندي توپل ښکاري- مګرحقیقت دادے چي د ټولي نړۍ خلګ نهٔ خو یو رنګه دي او نهٔ یوشان کیدای شي ولي چي انساني خاصیتونه دبشري فطرت سره سره دخلګو په ماحول، تاریخ، تهذیب، تمدن، مذهب، تعلیم، دود او تجربو پوري اړه لري- دغه عوامل د شخصیت او بیا د ټولني په جوړښت کي ډېر مهم دي- چونکي قامونه هم له دغو شخصیاتو څخه جوړ دي ځکه دا امکان نهٔ لري چي د عالمګیریت یا ګلوبلائزېشن تر سایه لاندي دي یو رنګه سوچ ولري، یورنګه دي و اوسي او د ژوند کولو معیار دي ئې هم یو شي- یوکس په یوهٔ هېواد یا په یوه سیمه کښي د ښه فکر خاوند ګڼل کېږي او خلګو لره محترم وي ولي چي دے د هغي ټولني د کلتور، مذهب او دود په دائره کښي دننه د یوهٔ ویښ انسان په توګه خپل فرض ادا کوي لګیاوي، خوپه بله سیمه کي یې هغومره اهمیت ځکه نه وي چي د هغي ټولني بېل دود، جدا مذهب او ځانګړے کلتور وي چېري چي دښهٔ او بد معیار هم بېخي جداوي-

همدغه راز یوه نظریه په یوهٔ ماحول کي خو اثر لري او خلګ ترې رڼا اخلي مګر په بله ټولنه کي یې بیاڅهٔ خاص اثر نهٔ وي- که خلګ د مارکس، بېکن او نورو مغربي پوهانو خیالات په خپل ماحول کښي په کار راوستل غواړي نو اوّل به د خپلي ټولني جاج

اخلي او بیا به د هغوی د فکر هغه ټکي په ګټه راولي کوم چي په دغه ټولنه کي د خلګو دپاره د قبولو وړ وي- که داسي ونۀ کړي نو به یې نتیجه دا وي چي دخلګو د ښېکړي پر ځای به په ټولنه کي د لوی انتشار باعث شي- مثال یې په افغانستان کښي کمونیسټ انقلاب ؤ چي د ناکامۍ سره مخامخ شو ولي چي قام ورته تیار نۀ ؤ او د مارکس نظریې د افغاني ټولني د کلتور، مذهب او دود سره سمون نۀ درلود-

د عالمګیریت تصور څۀ نوے نۀ دے بلکي په څۀ نۀ څۀ شکل له پخوا څخه وجود لري او هر چا چي کله زیات قوت موندلے دے هغه پر ټول عالم د خپل اقتدار قایمولو کوښښ کړے دے- مسلمانانو خو دخپلو ماشومانو نومونه هم ځکه عالمګیر او شاه جهان ایښوول چي دا عقیده یې لرله چي"هر ملك ملك ما است که مِلكِ خدای ما است"- پخوا وسائل دومره نۀ وو ځکه د عالمګیریت اثرات هم دومره ډېر نۀ وو لکه چي په دې نوي دور کښي ښکاري- دغه سوچ چي "هر ملك زما دے" که د مشرق ؤ او که اوس د مغرب دے د جنګ امکان زیاتوي او جنګ کله هم د نړیوالو په ګټه نۀ دے تمام شوے- تاریخ ګواهي ورکوي چي کله هم چا دغه سوچ د عملي کولو هلي ځلي کړي دي نو یې نړۍ د یوۀ نوې جنګ سره مخامخ کړې ده او په نتیجه کي یې ځان هم برباد کړے دے- سکندر اعظم، چنګېزخان، انګرېزان، هټلر او سټالن ټولو دغه سوچ درلود ځکه د تباهۍ سره مخامخ شول- د امریکا اوسني عالمګیریت هم د مشرقي اومغربي تهذیبونو ترمنځ د جنګ امکان زیات کړ- ځکه

دغه تصور د انسانیت بقالره څۀ غوره تصور نۀ ښکاري- د دې مقصد دا هم هیڅکله نۀ دے چي مشرق دي د مغرب سره خپلي اړیکي وشلوي- د مشرقي معاشرې خپل ارزښتونه دي او مغربي معاشره ځان لره جلا قدرونه لري خو په ډېرو انساني رشتو سره ګډ دي او په تاریخي توګه یې کړئ سره تړلي دي ځکه د دواړو ترمنځ تعلیمي، تېکنیکي، تجارتي، او سیاسي اړیکي باید چي دوام ولري- د بېل بېل فکر باوجود هم باید چي مشرق او مغرب د "هر ملك مِلكِ ما است" تصور ختم کړي او یو له بله سره د برابرئ پر سطح او د انسانیت پر ګډو قدرونو خپلو اړیکو ته دوام ورکړي چي په نړئ کي د پایېدونکي امن ضمانت ورکړ شي-

نتیجه دا چي د بشریت څخه تر انسانیت پوري د خلګو سفر په زرګونو پېړئ اخستي دي- بشریت ورو ورو ترقي کړې ده او ډېرو کمو خلګو د انسانیت تر حده په ډېر مشکل ځان رسولے دے- اولنوخلګو له ډېره ساده ژونده دغه سفر پېل کړے ؤ او لږ شمېر ویښو کسانو تر انسانیته بېخي اوږد سفر په ډېر اوږده مدت تر سره کړے ؤ- یو وخت داسي ؤ چي د نړئ ټولو خلګو قبایلي ژوند تېراوۀ، کوچیان وو او له یوۀ ځایه به بل ځای ته د خپلو مالونو سره تلل راتلل- کله کله به پر ورشو او اوبو په قبایلي بدیو او جنګونو هم سره بوخت شول- په دوی کي دفطرتي شعور، پوهي او آزادي ارادې سره سره ځینو کسانو له مشاهدو او تجربو نه هم ډېره زدکړه وکړه- د تهذیب ابتدا یې هماغه وخت وکړه چي کله په اِنساني معاشره کي د "حکومت" تصوّر راغے- د معاشرې سیاسي اِدارو په

قبايلي جنګونو کي آمرانه اختيارات ترلاسه کړل- سرداران اوخانان د قبيلو عسکري سربراهان شول او قبيلو د جنګي ضرورتونو په ترڅ کي د حکومت ضرورت محسوس کړ- د قبيلو ترمنځ جنګونو يوه قبيله فاتح او بله مفتوح کړه- چاچي به جنګ ګټلے ؤ هغه به حاکم شو او بائيلونکے به د مرَيي په نامه يادېدۀ- دا شان سماجي درجه بندي پېل شوه او د ځمکي تقسيم او د حقوقو غوښتنه هم د دغو سماجي درجو پر بنياد کېده- ورو ورو خلګ يو له بله سره نژدې کېدل او د امن په وختونو کي به يې په ګډه خپل رسمونه ادا کول- د غښتلو جنګياليانو زيارتونه جوړېدل او د باچاهانو درجې ورځ په ورځ غټېدې لګيا وې- ښو خلګو د وزرګانو په توګه په معاشره کي خپل مقام پيداکړ- ويښو خلګو به پېوسته غور او فکر کاوو چي ورو ورو د فلسفې بنياد شو-

بېلا بېلو مشاهدو او تجربو انسان ته نوره پوهه ورکړه او دعلم طلب يې پکښې پېداکړ- پوهانو په ټولنه کي د ځوانانو د تعليم او تربيې په کار لاس پوري کړ او د راتلونکو نسلونو دپاره يې د علم او فن درس ورکاوۀ او دَ پرمختګ لاري يې ورښوولې- دغه درس ورو ورو د باقاعده تعليم شکل اختيار کړ او د ترقۍ ترمنزله ورسېد چي اوس د جديد تعليم په نامۀ نوي نسل ته ورکول کيږي- که څۀ هم دغه جديد تعليم د ترقۍ په اړۀ اوسنے انسان تر خپلو اسلافو ډېر مخته کړ او دا صلاحيت يې هم ور کړ چي د ټولني جوړښت پر سمو کرښو وکړي خو د انسان او انسانيت په تعريف اوبنيادي ترکيبي اجزا يې ښايي چي پوهـ نۀ کړ، يعني چي انسان پخپله څۀ

دے؟ د دغه سوال داسي منطقي ځواب لا تر اوسه مختته نۀ دے راغلے چي پر عالمي سطح پوهان ورباندي متفق شي- د فلسفيانه فکر هره ډله يې پرخپل انداز وضاحت کوي-

د کمونيزم تر زوال وروسته دا وخت درې بېلا بېلي فلسفيانه فکري ډلي دي چي د انسانيت په اړه خپل خپل نظر لري- اوّله مغربي ډله ده چي د انساني تهذيب او فلسفې د آفاقي نظريې دعوه لري او د يوناني تهذيب څخه تر اوسنۍ مغربي آزاد خيالۍ پوري يوه پېوسته فکري لړۍ ګڼي- دويمه ډله د وجوديت په نامه انسان يو داسي وجود ګڼي پر کوم چي د فطرت هيڅ يو بنديځ نشته، د ښۀ او بد انتخاب پخپله خوښه کوي او د خپل تعمير ذمه يې هم پرخپله غاړه ده- دغي دواړي فکري ډلي په مغربي هېوادونو کي خپل اثر لري- درېيمه ډله چي په مشرقي هېوادونو کي يې خلګ تابع دي، مذهبي فکر لري او انسان پر ځمکه د خدای نائب ګڼي او دحق او باطل په مبارزه کي يې د يوۀ يا بل پلوے ګڼي- د دغي فلسفې په ترڅ کي "انسان دکاينات بنيادي جوهر دے چي له ازله په ډېر څه پوهـ دے- دفطري شعور او آزادي ارادې له کبله د بېلابېلو تخليقونو صلاحيت لري- د کائنات "جوهر" ځکه بلل کيږي چي ترهرڅۀ بېل يو داسي بنيادي وجود لري دکوم چي د کائنات نور څيزونه تابع دي يا يې د تابع کولو فطرتي قوت لري- د خپل فکر په معجزاتي قوت د خپل شاوخوا د څيزونو "پوهه" لري او د بېلابېلو وسيلو په ذريعه ترې د کار اخستلو صلاحيت هم پکښې شته- دغه پوهه يې تر ظاهره پوري محدوده نۀ ده بلکي په حواسو کي يې د پټو څيزونو

خزانې هم شته، چي دے یې همه وخت د پلټلو په نه ختمېدونکو هلو ځلو وي- په ژوندو څیزونو کي یوازي انسان داسي شے دے چي د خپل وجود او موجودګۍ "شعور" لري، مطالعه کولای شي او دجایزه اخستلو پوره پوره صلاحیت لري-" آزاده اراده" دانسان ترټولو لوړ خاصیت دے- دغه خاصیت یې په هیڅ یو بل ژوندي څیز کي نشي لیدل کېدای- دمثال په توګه انسان دا آزاده اراده کولای شي چي د څۀ خاص مقصد دپاره خپل ځان قربان کړي او دا هیڅ یوبل ژوندے څیز نۀ شي کولای-

د شعور، پوهې، آزادي ارادې، غوره انتخاب او تخلیقي قوت په برکت په اوسني دور کي انسان ډېرمخ په وړاندي ولاړ او د کائنات په ډېرو رازونو یې ځان خبر کړ- نوي سائنسي ټېکنالوژي د انسان د پاره ډېري آسانتیاوي پېدا کړې- دغې ترقۍ هم نړۍ پر دوو جلاجلا فکري ډلو تقسیم کړه- یوه ډله هغه ده کومه چي له دغه ترقۍ سره سمه روانه ده او په رفتار کي یې نوره چسپاندي هم غواړي اوبله ډله د ترقۍ له دغه رفتار څخه وېره لري- د دغي دویمي ډلي وېره دا ده چي له دې منډي نه به ډیري لوئي پېښي وشي او په نړۍ کي به معاشي، معاشرتي، ثقافتي، سماجي او سیاسي مسئلې پېدا کړي چي په نتیجه کي به یې دنړي امن له لویه خطره سره مخامخ شي- د دنیا ویښ انسانان اوس ضرورت محسوسوي چي د نړۍ د بقا په حقله دمشرق او مغرب ترمنځ بداعتمادي کمه کړه شي، پرانساني قدرونو زور ورکړشي او د'**جدیدیت اومغربیت**' ترمنځ فرق واضح شي- چي په نتیجه کي یې دنوو جنګونو لارنوے وشي ولي چي د دې وخت جدید جنګ دنړۍ بقالره لویه امکاني خطره ګڼل کېږي-

# اخځليك

1- امير حمزه شينواری، ’دحمزه شينواري كليات‘ يونيورسټۍ بُك ايجنسۍ
خيبر بازار پېښور، خيبر پښتونخوا ،۲۰۱۰
2- ډاکټرعلي شريعتي، ’ افكارِ شريعتي‘ ترتيب شيما مجيد، اداره منهاج الصالحين
جناح ټاؤن ټهوكر نياز بيګ ، لاهور، ۲۰۰۱
3- ول ډيورانټ ، ( The Story of philosophy: The lives and openions
of the greater philosophers) اردو ترجمه سيد عابد علي عابد ، فكشن
هاؤس مزنګ روډ لاهور، ۲۰۱۰،
4- برائن مېګي ، ( The Story of philosophy ) ډارلنګ كائنډسټلي
Darling Kindstley Book، لندن، ۲۰۰۱
5- كارلس لېمنټ، (The philosophy of Humanism) يعني د انسان
دوستۍ فلسفه ، اردو ترجمه امجد علي بهټي، فكشن،
مزنګ روډ لاهور، ۲۰۰۷
6- ټائن بي آرنلډ، ځمكه د بشر مور(Mankind and mother earth)
لندن ، ۱۹۷۶
7- ويليم مېك ګاګي ، (Five epochs of civilization) دبشري تهذيب
پنځه مهالونه، اردو ترجمه، حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵
8- حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ
دانش كتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳
9 - هاكس جكوټيا ، نوې موړ ، بشري تاريخ او سائنسي ترقي
(History of mankind and sientific development)،
اول جلد، لندن، ۱۹۶۳
10- ډيورانټ وِل، ’ نشاطِ فلسفه ‘ (The Pleasures of Philosophy) ژباړن
محمد اجمل، فيكشن هاؤس مزنګ روډ، لاهور، ۲۰۱۰
11 - رحمت شاه سايل، ’ دښايستونو د سپرلي بادونه‘ ، د تاريخ جبر، دانش خپرندويه
ټولنه ، پېښور ، ۲۰۰۹

10


# جدیدیت اومغربیت

# جدید یت او مغربیت

جدیدیت پر سائنسي بنسټ د ټولني هغه دانشورانه سماجي او معاشي بدلون دے چي اهلیت پکښې تر هرڅۀ مهم ګڼل کیږي- د نظام په بدلون کي فکري اهمیت د دې ټکي دے چي دا به په عملي توګه څومره اثر ولري- لکه مخکي چي یې ذکر وشو دانشور هغه کس دے چي په خپل سماجي او تاریخي زمان و مکان کي دننه دخپلي انساني مرتبې شعور لري او دځان پېژندني له کبله خپله قامي زمه واري هم محسوسَوي، ځکه خلګو ته د سماجي او ساینسي بدلون لار ښوونه کوي- د جدیدیت تاریخ ډېرقدیم دے- د اوسني عراق په تاریخي ښار بابل کي "همورابي" نامه حکمران (1792-1750 BC) پر یوه توره پرښه[1] "د مستحکم حکومت د ښې حکمرانۍ اصولونه" لیکلي وو چي تر اوسه لا خوندي دي- په دغو

اصولونو کي د جديديت په خوا هڅه شوې وه- بيا د وخت د تېرېدو سره سره په نورو نورو علاقو کي هم بېلا بېلو قامونو په خپل خپل انداز د نوو نوو بدلونونوکوششونه جاري ساتلي ؤ- ورو ورو ددنيا سياسي او سماجي نظامونه نوي کېدل لګيا وو تر څو چي د شيکاګو دانشورانو د کال ۱۹۵۰ په خوا و شا کي په خپلو پېوسته هلوځلو دامريکا زياتره خلګ دجديديت وموجوده نظريې ته تيار کړل دغه دانشوران فکري انقلابيان (BehavioralRevolutionaries) بلل کېدل او د دويم عالمي جنګ په وخت کي يې امريکي حکومت ته مشورې ورکولې[2]- د دوی فکر ته " دجديديت نظريه" ويل کېده چي مرام يې روايتي ټولنه په جديده سوسائيټي بدلول ؤ- دغه فکر وروسته مغرب هم خپل کړ- بيا چين او تُرکي په خپل خپل انداز فايدې ترې واخستې-

جديديت په درو بېلا بېلو نظامونو کي د غوره بدلون تقاضا کوي: لکه فکري نظام، سماجي نظام او معاشي نظام- په فکري توګه خو د اهليت پر بنياد خلګو ته موقعې ورکول دي چي دوی روايتي ټولنه پر نوو کرښو راواړوي او د خپل سماجي او معاشي نظام د ښېګړي هلي ځلي وکړي- دا شان په عملي توګه په ساينسي او صنعتي پروژوکي د زيات شمېر خلګو د روزګار ګنجايش پېدا کيږي- د جديديت موخه له لاندي څخه د ځپلو خلګو په ګډون زيات کار ايستل ده- لکه چي د څرګندون نمبر۱۹ په کرښو ښوول




ځرګندون نمبر۱۹ دجدیدیت څلور مهم عوامل


شوې ده، د دغه مقصد دپارهٔ په ټولنه کي د ليك، لوست او داظهار آزادي پکارده، د څهٔ نه څهٔ تعليم او تربيت ضرورت شته، دجنګ د مخنيوي او امنيت هلي ځلي لازمي دي- د مواصلاتو د آزادۍ سره خلګ د بنيادي تعليم ضرورت محسوسوي- کله چي په ټولنه کي د تعليم او تربيت اهميت څرګند شي نو يې وګړي پخپله خپلوي او د غوره بدلون پېل په کېداى شي- پښتانهٔ له اوّله سره د مغربي قامونو د مکارۍ او بد ديانتۍ څخه کرکه لري ځکه يې په ټينګه غندنه کوي- غني خان[3] خو تر دې حده تللے دے چي وايي:

کـه خـــازې شنې مي په قبـر وې ولاړې
کـه غلام مـړوم راځئ توکئ پـــرې لاړې
چي ټوټې ټوټې مي فوځ دانګرېز نکړي
موري! ماپسې په کوم مخ به ته ژاړې

د کارخانو د زيات پېداوار د استعمال د پاره د صارفيت په تلاش، که څهٔ هم ځينو مغربي اِدارو منفي رول لوبَولے دے خو بيا هم په جديد دور کي د صنعتونو د اهميت څخه انکار نهٔ شي کېداى- همدغه شان د ځينو مشرقي دانشورانو دا کرکه چي جديديت په اصل کي د صارفيت نوم دے او يا بيا دا وېره چي جديديت صارفيت زېږوي په اصل کي د اعتماد کمے دے[4]- ولي چي صنعتونه د صَرف

د ځیزونو د پاره جوړیږي او که یې چیري مصرف نۀ وي نو به خرڅ
ځنګه پوره کوي اوخلکو ته به روزګار څه رنګه ورکوي؟

دلته د جدیدیت په اړه د مغربي او مشرقي ټولنو تر منځ
توپیر ښکاري- دمشرقي دانشورانو په نیز مغربي بدئ د جدیدیت
آفات ګڼل کیږي- د مغرب د انسان دوستۍ فلسفه دوی د جدیدیت
یو فکري آفت ګڼي ولي چي دغه فکر موجوده دنیا هرڅۀ او کافي
بولي حالانکه دغه یوه داسي فلسفه ده چي د جدیدیت سره یې هیڅ
اړه نشته بلکي په مغرب کي یې هم ډېر مخالفین شته- هسي هم
چونکي دغه فکر د خدای د وجود او وحدانیت څخه وَانکار ته جواز
ورکوي ځکه د منلو ګنجائش پکي نشته- د مغرب سماجي آفتونه
هم خورا ډېر دي- مغربي ټولنه په خپل ساخت کي له مشرقه ډېره
بېله ده او د بېل کلتور او مذهب د کبله یې دژوند زیاتره اړخونه د
مشرقي قامونو سره سمون نۀ لري- لکه چي په څرګندون نمبر۲۰
کي واضح ده، یوې خوا ته مغربي ټولنه ده چي داوخت پر سائنس،
سرمایه او جنس ولاړه ده او همدغه یې معاشرتي قدرونه دي-
بلي خوا ته مشرقي معاشره ده چي یوه روایتي (دودیزه) اومذهبي
ټولنه ده- مغربي قامونه که څۀ هم زیاتره عیسایان دي خو له
مذهبه ډېر لري شوي دي او پر عیسائیت هم څۀ خاص یقین نۀ
لري- د فکري لحاظه عقلیت پسندي پکي ډېره ده ځکه سېکولر
خیالات لري اومخه یې په زیاته وسائنسي علومو ته ده[5]- په




خرګندون نمبر۲۰ د مشرقي او مغربي ټولنو فرق

معاشي توګه دسرمايي منډه پکي دومره زياته ده چي نور هر څۀ يي شاته پرېِ ايښي دي- اخلاقي معيار يي هم له مشرقي قامونو ډېربېل دے ولي چي په دوى کي جنسي او نوري اخلاقي بدئى څۀ

خاص عار نهٔ ګڼل کیږي- جنسي بېراه روی یې په ځوانانو کي بېخي ډېري لیدل کیږي- زهٔ په وارو وارو یورپ او امریکا ته تللے یم او ددوی د ټولني ذاتي مشاهده لرم- په انګلیستان کي خولا څهٔ نهٔ څهٔ روایتي او مذهبي خلګ لیدل کیږي مګر نور یورپ او امریکا بېخي ترې خلاص دي او پر نوو کرښو روان ښکاري- ما تُرکي، مصر، سعودي، عرب امارات، انډونېشیا، ملائیشیا، تهائیلېنډ، هانګ کانګ، چین، بنګله دېش او داسي نور مشرقي هېوادونه هم کتلي دي ځکه د مشرقي او مغربي ټولنو تر منځ د دوپیر چشم دید ګواه یم- دغه توپیر د دوو ټولنو ترمنځ دے خو جدیدیت له مغربیته بېل شے دے- دا ځان ته خپل اصولونه لري- دا یوازي مغربي قدر نهٔ دے بلکي پر سائنسي بنسټ د هري ټولني دفکري سماجي او معاشي تعمیر تقاضا کوي او د اهلیت پر بنیاد په ټولنه کي د خلګو قدر کوي- جاپان، چین او ملائیشیا مشرقي هېوادونه دي لیکن پر جدیدو کرښو ترقي کوي لګیا دي-

هره روایتي او مذهبي ټولنه خپل بېل رسمونه، رواجونه او دودونه لري- هغه ځای پرځای دومره مزي وي چي بدلون پکې په ظاهره ډېر مشکل وي، خو بیا هم د تاریخ تر جبر لاندي وغوره بدلون ته غاړه کښېږدي- د پښتني ټولني حال اوس دا دے چي هرڅهٔ له منځه تلي دي- ټولنه د نوو نوو فکري مسئلو سره مخامخ ده- د دېرشو کالو څخه جاري ستونزو او نه ختمېدونکو عالمي

جنګونو خلک ستړي کړي دي ځکه تر دغو ناورینونو وروسته وغوره بدلون ته سترګي په لار دي- دلته سوال دا دے چي کوم بدلون؟ که د بدلون موخه د جدیدیت پر اصولونو د ټولني ترقي ده نو سوال دادے چي کومه او څومره ترقي؟ د دغو سوالونو ځواب هم مشکل نۀ دے ولي چي په دې دور کي خو د قامونو ترقي زموږ و مخي ته ده- ملائیشیا مسلمان ملك دے او خلک یې پر دین په ټینګه ولاړدي- د ترقي راز یې صدرمهاتیرمحمد[6]په خپل کتاب ' د اېشیا مقدمه' کي په تفصیل لیکلے دے، ځکه په آساني ګټه ترې اخسته کېدای شي- د چین مثال هم زموږ مخي ته دے، چیري چي له مغربیته بېل د ترقۍ یو نوے ماډل لیدل کیږي- چینیانو په خپلو شرائطو پر جدیدو کرښو ترقي کړېده، ځکه نو جدیدیت او ترقي له مغربیته په پرته هم امکان لري-

هره جدیده معاشره اوس پرنوو معاشي بنیادونو ولاړه ده- د امریکا، یورپ، جاپان او چین خلک پر زرعي پېداوار ډېر باور نۀ کوي بلکي د ټېکنالوژۍ اوسرمایه کارۍ پر اساس خپل وسایل زیاتوي لګیادي- دغه بدلون د مغرب خلکو په خپل سماج کي تر شپاړسمه پېړۍ وروسته په دانشورانه توګه راووست- د پښتنو پر سیمه خو زیاتره غرونه رېګونه او دښتونه دي او بارانونه هم پکښې بېخي کم کیږي، ځکه یې زرعي پېداوار ډېر کم دے- دلته خلک د

پېداوار ونورو، نوو نوو زريعو ته اړتيا لري- ځپلي خلګ د معاش په تلاش په نورو هېوادونو کي ځله پاشلي دي- چا خپله ژبه او کلتور له لاسه ورکړل او چا عمرونه دبل په مزدوريو کي تباه کړل خو څۀ يې ترې جوړ نۀ کړل- موږ ته هم په نوي پېر کي د تعليم، تجارت، سرمايه کارۍ او ټېکنالوژۍ پر اساس خپل وسايل زياتول پکاردي ولي چي زرعي پېداوار کافي نه دے او جنګي معيشت هميشه د خپلو بچيانو په وينو سور وي-

ديورپ او امريکا خلګو دټېکنالوژۍ د پرمختګ په نتيجه کښي دنولسمي پېړۍ صنعتي انقلاب راووست چي دوی لره د ځلاند سبا زېرے[7] شو او په سياسي معاشي او معاشرتي توګه پر نړۍ باندي را خوارۀ شول- يوازي ديورپ او امريکا معاشره نۀ بلکي اوس د روس، چين، جاپان او نورو ډېرو قوتونو خلګ هم د سرمايه کارۍ او ټېکنالوژۍ پر بنياد خپل معيشت سموي لګيادي- دوی دسوشليزم او کمونيزم لاره پرېښو وه او اوس پرنوو معاشي بنيادونو کارکوي لګيا دي-

دلته دا خبره بېرته سپينول غواړم چي جديديت يو بېل شے دے او په صحي معنا د معاشرې نوے تشکيل په کېدای شي- دا له مغربيت بېخي جدا دے کوم چي د مغرب د خلګو د ټولنيزو قدرونو عکاسي کوي- ظاهره خبره ده چي مغربي قدرونه خپلول جديديت نۀ دے او په روايتي پښتني ټولنه کي د دغسي قدرونو

دخپلولو هلي ځلي هيڅ ګټه نهٔ شي راوړاى بلکي د نور انتشار وېره لاهم ورسره شته- جديديت يوه نازکه مسئله ده چي اړه يې په نوښتونو پوري ده نهٔ چي په مغربي قدرونو پوري ځکه دا د يوې ساينسي مسئلې په توګه تربحث لاندي راوستل لازمي ګڼم- لکه وړاندي چي يې ذکر وشو ځيني دانشوران د جديديت، مغربيت، صارفيت، نقالۍ او تهذيبي بېګانګۍ بحث دومره سره ګډ وډ کړي چي منطقي نتيجه يې د بد اعتمادۍ په شکل کي مخته راشي، حالانکي دا بېلا بېلي مسئلې دي-

له تېرو دوو پېړيو راهسې مغرب د جديديت په خوا سفرکوي لګيا دے- جديديت د مغربي هېوادونو په خلګو کښي اعتماد راووست او د تحفظ احساس يې پکښې پېدا کړ- دمغرب خلګ په اساني د مغربي تهذيب او جديديت ترمنځ فرق کولاى شي- دوى په جديديت کښي خپل سبا ليداى شي ځکه نو خپل زرعي بېګا ته نه ګوري- دوى لره هم جديديت دغومره نوى شے دے لکه چي يې موږ ګڼو او د دوى يو شمېر زاړه خلګ هم ځاى پرځاى ورسره اختلاف لري- خو دوى په دې آګاه دي چي د ترقۍ دپاره تمام قدرتي او انساني وسايل پکار راوستل دي- ځکه يې مذهبي او روايتي ګروپونه هم په سېکولر جمهوري مرکزي لړۍ و پېودل- همدغه دوى دجديد رياست تقاضا ګڼي چي پکښې د قام تنظيم پر سېکولر اوجمهوري بنيادونو وي- د دوى يقين دے چي که ډولنه د

خپلو ادارو تنظيم پر عقلي اوساينسي اصولونو وکړي نو يې پايښت يقيني دے او ترقۍ يې قوي مکان لرلاى شي-

کله چي د جديديت پراساس مغربي ملکونو ترقي وکړه نو يې ورو ورو له يورپ څخه بهر په نورو هېوادونو کي هم لاس وهنه پيل کړه او نوآبادياتي نظام يې قايم کړ- دغه لاس وهنه او مداخلتونه د مشرق او مغرب تر منځ د نفرتونو وجه شوه او په مشرقي هېوادونو کې جديديت ته هم د مغربيت په نظر وکتل شو- د مغرب جديديت چي هر څۀ ؤ، په مشرقي هېوادونو کې خلګو ته بېخي يوسطحي غوندي شے ښکاره شو- دمغربيت د تخريبي او اجنبي قدرونو سره سره خلګو جديديت هم په دغه معناواخست، ولي چي ګټه يې يوازي بالايي طبقو ته تله- ځکه مشرقي معاشره ورو ورو پر لاندينۍ او بالايي طبقو تقسيم شوه- لاندينۍ طبقے ته خپل هېواد ځکه اجنبي غوندي شو چي د پرَدو تر واك لاندي ؤ، د محنت زياتره ګټه يې نورو اخسته او پخپله تر بهرني قانون لاندې د جبر ژوند تېرولو ته اړ وو- دټولني بالايي طبقه که څۀ هم مراعات يافته وه خو خفــه ځکه وه چي د دوی تشخص ته حقيقي خطره وه-


يوې خواته په مغرب کي خلګو ته آزادي وه چي په خپله مرضي جديديت قبول کړي او له دغه غوره بدلون څخه ګټې واخلي- دمغربي جديديت په ترکيب کښې خودمختاري او ايجاد پسندي دوه مهم عناصر وو چي ددوی د ترقي موجب ګڼل کېدل- خو د دوی تر

واك لاندي، په مشرقي هېوادونو كي خلګو ته چرته هم په نظر نۀ ورتلو- بلي خواته د مغرب په نوآبادياتي نظام کې خلګ مجبوره وو چي د پرَدو ترجبر لاندي ژرترژره جديديت ومني- دغه بدلون په خوښه نۀ ؤ بلكي يو توپل شوے څيز ؤ چي د اجنبيت احساس يې نورهم زيات کړ او په ټولنه كښي يې اضطراب وكارۀ- ښايي چي په دغه وجه د مشرق خلګو جديديت هم د مغربيت په معنا واخست او ورته شا يې کړه- چونكي ايجادونه هم د كمو وسايلو دكبله په مشرق کې كم وشوځكه دمشرقي هېوادونو خلګ ونقالي ته اړ شول ولي چي مغرب دومره مخ په وړاندي ولاړ چي مقابله يې ممكنه نه شوه پاته- په هر حال د ځېلو قامونو د پر مختګ راز د ټولني په تجديد كي دے او دا لازمي نه ده چي په پښتني ټولنه کې د جديديت نتيجه هماغه وي كومه چي دا وخت په مغرب كي ده-

د جديديت پر اساس پرنوو نوو كرښو تر ترقۍ وروسته اوس مغرب ومشرقي قامونو ته په سپك نظرګوري- د مغرب خلګ نسلاً هم ځانونه تر مشرقي قامونو اصل ګڼي او نور قامونه ورته وحشيان ښكاري- څوك وحشيان دي ؟ او څوك مهذب؟ دا بحث خو له پېړيو راروان دے او تر پېړيو به جاري وي- هرقام د تهذيب په اړه ځانګړے فكر لري **او** پرخپله طريقه يې تر بحث لاندي راوړي- حقيقي تهذيب په تجدد پوري اړه ضرور لري خو دا ځان لره يوه غټه پنګه ده چي تر نَوېوالی يې نور اړخونه ډېر مهم ګڼل كيږي- د مغرب خلګو ته

مشرقي قامونه نااهله اوپسمانده ښکاري ځکه نو په مشرق کښې د دوی خلاف نفرت فطري شے دے- دوی هر کله د خپلو مادي ګټو دپاره د وړو وړو قامونو استحصال کړے دۀ ځکه د نورو قامونو اعتماد ورباندي نشته- د مثال په توګه انګرېزانو په هندوستان کې دمغلو واك ور ختم کړ او ورو ورو يې پر بنګال هم قبضه وکړه- په بنګال کي هم دوی مقامي صنعت ختم کړ او دخپلي مرضۍ دڅيزونو پېداوار يې ځکه زيات کړچي يورپي منډۍ لره خام مال تر لاسه کړي- دوی هغه ټېکنالوجي مخته يوړه کومه چي د دوی په ګټه وه- بلي خواته روس هماغه پاليسي خپله کړې وه کومه چي د برطانيه وه- بلقان اومنځنۍ آسيا يې په جبر د شوروي اتحاد برخي کړې- د دغسي پاليسيو منطقي ردِعمل په ځينو هېوادونو کي دجديديت پر ضد د اورپُوکۍ، بنياد پرستۍ او بدامنۍ په شکل کي مخته راتلای شوه-

لکه چي په څرګندون نمبر۲۱ کي ښوول شوے دے، مغربيت پر څلورو پښو ولاړ دے او هغه دي آزاد خيالي، سرمايه داري، عيسائيت او نوآبادياتي نظام- د مغرب خلګ آزادخياله دي او پخپله مرضي يې جديديت قبول کړے دے- دوی دغه آزاد خيالي قامي پرمختګ لره لازمي ګڼي او په ټولنه کي يې دغوره بدلون اولنۍ خښته بولي- دمغرب هرکس خود مختاردے ځکه پر نوو نوو




خرګندون نمبر۲۱ د مغربيت څلور بُنيادي اجزا

کرښو نوي نوي ايجادونه کوي- سرمايه داري د يوۀ منظم فکري مکتب تشکيل نۀ کوي- سرمايه دار د مادي ګټو دپاره تر هرڅۀ تېرېږي- د مغرب سرمايه دارانه نظام د مشرقي قامونو د استحصال وجه ده او همدغه د مشرق او مغرب ترمنځ لوی پېچومے دے- د مذهب سره د مغربي قامونو دښمني بالواسطه ځکه ده چي دوی مذهب د ساينسي فکرخلاف ګڼي- که څۀ هم دنورو مذهبونو

په مقابله کي دعیسائیت مرستیالان دي خو دوی دعیسائیت هم پاپنده نۀ دي- د سرمایې په منډه کي مغربي قامونو نوآبادیاتي نظام ته دوام ورکړے دے- آیي ایم ایف او عالمي بېنك اول مشرقي قامونو ته قرض ورکړي بیا ورباندي دومره سود طلب کړي چي د وړو وړو هېوادونو وسائل ټول ترې واخلي- په کورَنو چارو کي یې لاس وهنه لاهم کوي[6]- دوی په مشرقي هېوادونو کي په نوي رنګ هماغه نوآبادیاتي نظام ساتلے دے کوم چي د عالمي جنګونو سبب ؤ-

دا وخت دنیا څلورو مسئلو ته مخامخ ده- اول معاش، دویم قامي شناخت، دریيم مذهبي شناخت او څلورم تهذیبي شناخت[8]- مغرب معاشي ضرورتونو ته پر مذهب او قومیت فوقیت ورکوي- د ژواندانۀ د فلسفې بنیادي اصول معاشیات ګڼي- دوی د پېداوار پرستش کوي او انساني ضرورتونه د مادي صارفیت او طاقت په تهترین حدونو کښې قید ساتل غواړي- د انسان په وجود کښې د غېرمادي روحاني جهتونو نفي کوي- د مادیت په خوا د دوی د اخلاقیاتو، فلسفې او نفسیاتو تر دې حده هڅه ده چي هر څۀ ومشین ته ودرېدو- مشین د معاشي طاقت او صارفیت دواړو یوازینۍ ګارنټي و ګڼله شوه- په صنعتي سرمایه دارانه سماج کښې ضرورتونه روځ په روځ زیاتیږي او خلک د ښایست، معیار او مقدار په چکر کښي ورو ورو د سرمایه دار د پېداواري لېونتوب خوراك

شي- همدغه وجه ده چي ځيني پوهان دا وېره لري چي په ظاهره ځرکېدونکے سرمايه دارانه نظام په اصل کښي د انسانيت د فکري او سماجي نظام دښمن دے او انسانان ورو ورو د صارفيت په کېنسر اخته کوي لګيا دے- نۀ پوره کېدونکي انساني ضرورتونو انسان ته نور څۀ خو ورنه کړل بلکي ذهني سکون يې هم ترې واخست- سماجي بدۍ يې پکښې وکرلې او د بېګانګۍ تر آخري حده يې ورساوه- په ګڼو ګڼو ښارونو کښي له خپل خواوشا نه بې خبر هر کس په منډه خو دے لېکن د تنهايي ښکار دے او اطمينان يې نشته- د سهولياتو په شکل رنګارنګ فتنو ژوندون ورته غذاب کړ او د بېلابېلو کشالو سره يې مخامخ کړ- فرصت ورسره نشته او د سرمايې د مشين د يوې پرزې په حېث له سهاره تر ماښامه په تراټ دے او کله کله خو يې شپه هم له دغه عذابه خلاصه نۀ وي- محبتونه ترې وتښتېدل، خود غرضي شوه او دبېګانګۍ دور دوره ده- روايتي اخلاقي قدرونه او انساني عظمت چرته پاته نۀ شوو بس د سرمايې لېونۍ منډه ده چي روانه ده- پښتانۀ خپل قامي شناخت، مذهبي شناخت او تهذيبي شناخت ته تر سرمايې زيات اهميت ورکوي-

ځيني مشرقي هېوادونه هم د جديديت په اړه د مغرب سره په ګام روان شول او د نوښتونو مخالفت يې ونۀ کړ- جاپان، چين او ترکي داسي مثالونه دي چي تر ډېره حده يې له جديديته ګټه

واخسته او په عالمي جنګونو کي تر شکست وروسته يې هم خپل قامونه له غلامۍ بچ وساتل- جديديت د دغو هېوادونو په خلګو کښي تعليم عام کړ، اعتماد يې پکښې راووست او د ترقۍ پر لاره يې روان کړل- د تحفظ احساس يې هم پکښې را پېداکړ چي د صنعتي او تجارتي پېداور د زياتولو اولنۍ شرط ګڼل کيږي- په چيني جديديت کي اخلاقي بدۍ نشته- چينيانو د جديديت سره سره خپل اخلاقي ارزښتونه هم اوچت ساتلي دي، ځکه دا ويره صحي نۀ ده چي جديديت مذهبي او اخلاقي قدرونو لره خطره ده- جديدت د هري ټولني ضرورت دے او تجديد د اجتهاد په توګه د روايتي مذهبي پښتني ټولني نظرياتي عنصر دے چي له بده مرغه خلګو تر شاکړے دے او همدغه وجه ده چي مشرقي قامونه روځ په روځ تر نورو قامونو شاته پاته کيږي- اوس لازمي ده چي خلګ د ځلاند سبا په هيله اِجتهاد وکړي- د چينيانو په شان په خپلو شرطونو، پر نووکرښو د قام تعمير وکړي، جديديت ته د مغربيت په نظر ونۀ ګوري بلکي په خپلو شرطونو يې قبول کړي- د جديديت سره سره خپل ټولنيز قدرونه او مذهبي روايتونه هم اوچت وساتي- او د '**خداى**' پر وحدانيت او پر ټوله '**خدايي**' د دۀ د قُدرت تصوّر د ژوند معنوي سطحه وګڼي-

# اخځليك

1- ول ډيورانټ ، ( The Story of philosophy: The lives and openions of the greater philosophers) اردو ترجمه سيد عابد علي عابد ،
فكشن هاؤس مزنګ روڈ لاهور، ۲۰۱۰،
2- ډيورانټ وِل، ' نشاطِ فلسفه ' (The Pleasures of Philosophy) ژباړن محمد اجمل، فيکشن هاؤس مزنګ روډ، لاهور، ۲۰۱۰ -
3- غني خان، 'خدايي خدمتګار تحريك او پښتو نظم،' صاحب شاه صابر ، جرس نظم نمبر ، کراچي، ۲۰۰۱
4 - ډاکټرعلي شريعتي، ' افکارِ شريعتي' ترتيب شيما مجيد، اداره منهاج الصالحين جناح ټاؤن ټهوکر نياز بېګ ، لاهور، ۲۰۰۱
5 - کارلس لېمنټ، (The philosophy of Humanism) يعني د انسان دوستۍ فلسفه ، اردو ترجمه امجد علي بهټي، فکشن، مزنګ روډ لاهور، ۲۰۰۷
6 - مهاتير محمد، ' ايشيا کا مقدمه ' اردو ترجمه نعيم قادر، جمهوري پبليکېشنز، ۹ الشجر بلډنګ نيلا ګنبد لاهور، ۲۰۰۴ -
7 - ويليم مېك ګاګي ، (Five epochs of civilization) دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵
8 - سېموئيل پي هنټينګټن ، دتهذيبونو ټکراؤاودعالمي نظام نوے جوړښت (The clash of civilizations and the new world order) اوکسفورډ، ۱۹۹۷

***

# 11

# د خدای خدائي

# د خدای خدائي

"خدائي" داسي يولفظ دے چي هر کس ترې د" کُل" معنا اخلي- جـهان، کائنات، زمان و مکان داسي ډېر لفظونه دي چي معناوي ئې کُل ته خو نژدې دي مګر د" کُل" په مطلب پوره نۀ دي- خدای هغه واحد او مطلق "رَب" دے چي د هرڅۀ خالق او مالك دے- بې نيازه دے ځکه هر څوك د دۀ محتاج دے خو دے دچا محتاج نۀ دے- له جسمه معرا دے، کامل او ابدي دے- د دُنيا هيڅ يو څيز د دۀ همسر نۀ دے- د قرآنِ حکيم[1] په سورة الاخلاص او آيت الکرسي کي دۀ خپل ذات پخپله ښولے دے- رحمان[2] بابا يې په دې انداز تعريف کړے دے:

له نيستۍ يي د هستۍ صورت پيداکړ
هسي رنګ پـــروردګار دے رب زمـا

هـر تعمير چي د دُنيـا او د عُقبـا دے
د همـــه واړو معمـــار دے رب زمـــا

مابعدالطبعيات يا مېټافزکس د فلسفې هغه ښاخ دے کوم چي د "حقيقت" او "حق" پلټنه کوي- مېټافزکس دوه قسمونه لري[3]- يو قسم يې آنټولوجي (ontology) ده چي د کاينات د جوړښت په حقله د ډېرو اړو سوالونو جايزه اخلي او بل قسم "حقيقي مېټافزکس" يې د دې سوال ځواب لټوي چي "حق" څۀ دے؟ ٥ د دغه سوال جواب په فلسفه کي هغومره لوی پېچومے دے لکه پخپله د انسان د "انسانيت" سوال-

د خدای د وجود سوال د انسان د تخليق سره سم د دۀ په مغزو کي ځای موندلے دے، ولي چي دے پر ځمکه د خدای نايب دے- د خدای په اړه يې بېلا بېل سوالونه په لاشعور کي دي چي اظهار يې کله وکړي او کله نۀ- تاريخ ګواه دے چي په هره کفري ټولنه کي هم دخدای د وجود سوال ترنورو ټولو سوالونو دروند اوګران منل شوے دے- له آدمه تر دې دمه همدغه سوال دے چي ګردش کوي لګيا دے- ځکه د خدای او خدايي د سوال په جواب کي د اولسمي پېړۍ نامتو فلسفي سپينوزا ويلي ۀ چي[4]:

"All is one, and the one is Divine "

يعني "د هرڅه بنسټ يو دے او هغه يو خدای دے"

تراسلام مخکي هم په عرب معاشره کي نۀ يوازي د خداى تصور ؤ بلکي" الله" تر هرڅۀ ستر او مقدس نوم ؤ، ځکه خو تر رسول الله مبارکؐ لمخه هم ددۀ د والد محترم نوم عبدالله اينبوول شوے ؤ- دا ددې حقيقت دليل دے چي هغه وخت هم عربو د الله بندګي کوله اوپه دغه يې فخرهم کاوۀ- همدغه راز په آريانه کي تر عيسیٰ عليه السلام لمخه هم د"خدا " تصوّر ؤ-

لکه چي يې مخکي هم ذکر وشو، تِيولوجي (Thiology) خدائي علم ته ويَل کيږي په کوم کي چي د بنده تعلق د خداى سره او د خداى تعلق د بندګانو سره څرګنديږي- په دې اړه د مغرب دخلګو فکر له موږه تر ډېره حده بېل دے، ولي چي د هغوى دين او عقايد له موږه جُدا دي- د هِند او چين خلګ هم بېل فکر لري ولي چي د دوى مذهبونه هم بېل بېل دي- د دغو خلګو سره په دغه اړه بحث پراخه سينه، ژوره مطالعه او قوي استدلال غواړي- د خداى د وجود په اړه د دغو هېوادونو د غالب اکثريت سوچ هماغه دے کوم چي دمسلمانانو دے البته د خداى دخدايي د بېلا بېلو برخو په باره کي د دوى فکر له موږه مختلف ښکاري- دغه خلګ د دليل او عقليت قدر کوي ځکه يې د دعوت له لاري  په غوره بدلون راضي کول زيات امکان لري، نۀ چي په زور يا په تخريب- زور او تخريب که مغربي اقوام کوي او که مشرقي د غندني وړدي-

د اتلسمي پېړۍ تر نامتو جرمن فلاسفر امانوکانټ (Kant) لمخه[5]د کائنات د جوړښت په اړه درې بېلا بيلي نظريې وې- يوه دا

چي کائينات له يوهٔ عنصره جوړ دے يعني مونيزم (Monism)- دغه عنصر څهٔ دے؟ په دې اړه بېلا بېلي نظريې وې- اوّله دا چي دغه عنصر صرف "مربوط احساس" دے چي وحدت الوجود ګڼل کيږي او مذهب د کائينات په اړه د همدغه فلسفيانه نظر تائيد کوي- دويم دا چي دغه عنصر "ماده" ده او د انګرېز فلاسفر تامس هوب غوندي د نوي دنيا ډېر ماده پرستان د دغه فکر خاوندان دي ځکه نو انسان يو مشين غوندي څيز ورته ښکاري- د دوی دليل دا دے چي په دنيا کي چي د کومو څيزونو موږ مشاهده کوو او کوم څيزونه چي روزانه پکار راوړو دا ټول د مادې بېلا بېل شکلونه دي- د مثال په توګه غرونه، دښتونه، لمر سپوږمۍ، ستوري، وربځ، هوا او اوبهٔ واړه د مادې نه جوړ دي او د مادې د ذرو بېلا بېل ترتيبونه د دغو څيزونو د بېلا بېلو شکلونو موجب دي- دغه مثالونه د انسان د خاريجي دنيا په اړه معلومات ورکوي خو د انسان د داخلي دنيا په اړه د ډېرو سوالونو ځوابونه نهٔ لري- کله چي انسان د خپل شعور او احساس په باره کي د فکر په ټال شي نو ګوري چي د مابعدالطبعيات تصور پکښې څپې وهي- د شعور، احساس، عشق، جنون او روح په اړه مادي وضاحتونه انسان مطمئن نشي ساتے ځکه نو دُنيا لره د يوهٔ خالق وجود تسليم کولو ته تيار شي او غاړه ورته کښېږدي- دکائنات د ساخت په اړه دويم نظردا دے چي دا له دوو عناصرو جوړدے يعني ډوليزم (Dualism)- ډچ فلاسفر بېروچ سپينوزا دا نظر لارهٔ چي ماده او تصوراتي وحدت الوجود دواړه په

حقیقت کي د کائنات په اړه د "حق" پېژندني مهم عناصر دي- فرانسیسي فلاسفر ریني ډسکارټس د دغي نظریې په وضاحت کي ډېرکار وکړ هغه "ماده اواحساس" (Mind and Matter) دواړه د وجود لازمي حصې ګڼي- د ډولیزم تصور په بل انداز د حق او باطل، ښۀ او بد، جزا او سزا په اړه هم تر فلسفیانه بحث لاندي راځي- درېیمه نظریه داوه چي کائینات له ډېرو عناصرو جوړ دے یعني پلورالیزم (Pluralism)- کانټ[6]دغي درې واړي زړې نظریې رد کړې او د مشاهدې او تجربې په رڼا کي یې د استدلال په قوت د کائینات د واړو څیزونو پر وضاحت زور ورکړ- دغه رېشنلیزم (Rationalism) د دۀ دفلسفې اصل جوهر ؤ چي پکښې د وخت (Time) او فضا (Space) اهمیت ډېر زیات ؤ- همدغه استدلال وروسته د کائینات د سائنسي تجزیې موجب شو- نتیجه دا چي د نوي پېر فلسفیان پر دوو داسي لارو روان ښکاري چي یوه له بلي پر مخالف سیمت ځي- اوله فلسفه له هغي مشیني خاریجي دنیا څخه شروع کیږي کومه چي د مافوق الفطرت خدائي خلاف احتجاج کوي او د مشاهداتو په زور تر حقیقته د رسېدو په هلو ځلو ده- په دغو فلسفیانو کښې نیوټن، ډېکاټ، ګېلیو، هابز، ډډرو، سپینسر، واټسن، رسل، هولباخ او لامېټري شامل دي- د فلسفیانو دویمه ډله له شعوره د خپل سفر پېل کوي، له داخلي یقین څخه د احساس او تصور په سردرو کي روان اوسي او د روحانیت، حریت، عېنیت او قومیت اخلاقي مقاصد تر سره کوي- په دغه ډله کي بشپ بارکلې، نطشې، لابنز، کانټ، هېګل، شوپنهار، ولیم جېمز او

برګسان شامل دي- په دغه دويمه ډله کي د کانټ مقام تر نورو فلاسفرانو ځکه اوچت ښکاري چي هغهٔ د پلوراليزم (Pluralism) تصور ورکړ او د مشاهدې او تجربې په رڼا کي ئې د استدلال په قوت د کائينات د واړو څيزونو پر وضاحت زور هم ورکړ-

د خدای د خدائي فلسفيانه بحث دومره اوږد دے چي په زرګونو کتابونه ورباندي ليکل شوي دي خو د دغي لامتناهي سلسلې غوټې لا تر اوسه نهٔ دي خلاصي شوې- زما موخه هم د دغو غوټو خلاصول نهٔ ده بلکي د ځـان، قام، دين او انسانيت تر بحث وروسته په دغه اړه هم د پښتني ټولني پوزيشن واضح کول دے- موږ پښتانهٔ يو، ايمان مو د سرېتوب په شرطونو کي شامل دے ځکه يو مشيني او بېخدايه کائنات نهٔ شو قبولَولای- دمغرب لوی دانشوران هم اکثره د خدای وجود مني لکه جرمن فلاسفر امانويل کانټ (Immanuel Kant) چي دخداي دوجود په هقله وايي:

"It is thoroughly necessary to be convinced of God's existence, it is not quite so necessary that one should demonstrate it"[7]

معنا دا چي "دا لازمي ده چي د خدای وجود ومنل شي خو دا هيڅکله هم لازمي نهٔ ده چي چاته ورثابت هم کړشي"

د خدای او خدائي په اړه د سرېتوب په فلسفه کي هيڅ ابهام

نشته- پښتني ټولنه چونکي یوه مذهبي او دودیزه ټولنه ده ځکه یې پر خدای عقیده بلکل صفا ده- پښتانهٔ یو خدای مني چي له هر څهٔ بې نیازدے- د سړیتوب په فلسفه هر هغه کس راګډ دے چي د اعتدال پر اصولونو یقین لري، د نورو خلګو خبره په غور اوري، په صبر یې برداشتوي او بیا یې په دلیل جواب ورکوي- د ورور وژني غندنه کوي، پر ورور ولي ولاړ وي، د حق مرسته کوي او دباطل خلاف آواز خپله ذمه واري ګڼي- پښتونوالی او سړیتوب تر ډېره حده د یوهٔ حقیقت دوه نومونه دي- پښتانهٔ مسلمانان دي، پر یوهٔ خدای ټینګ یقین لري او د کائنات د تخلیق عقیده یې هماغه ده کومه چي د ټولو مسلمانانو ده- یعني خدای یو دے او هیڅ شریك نه لري- موږ پر ملائکو، آسماني کتابونو او رسولانو ایمان لرو- چونکي زموږ په نظر روح لافاني څیز دے ځکه مو پر آخرت پوخ یقین دے- اسلام خپلو منونکو ته پرکائنات (خدائي) د غور او فکر بلنه ورکوي- د ځمکي او اسمانونو پخوا یې فکر راګرځوي او دا حکم ورکوي چي د خدای په خدائي کښې د موجودو څیزونو په غور مشاهده او مطالعه کوئ- د خدای خدائي ګوره چي پښتانهٔ له همدغي مشاهدې او مطالعې نه تر نورو قامونو ډېر شاته پاته شول- د افغاني تاریخ آریایي پېر، سکایي پېر، کوشاني پېر، یپتالي پېر او اسلامي پېر دلته تربحث لاندي نهٔ دي- دلته خو د جدید دور د ټېکنالوژي خبره ده چي په پوره افغاني تاریخ کي کله هم اهمیت

نۀ دے ورکړل شوے- نۀ موږ د فلکياتو د علم حاصلولو کوشش کړے دے نۀ د فزکس، نۀ دکېميا او نۀ دحياتياتو، نو به دخدای دخدايي په باريکيانو څۀ سر خلاص کړو- د خدای معرفت يوازي د ترکِ دنيا سره تعلق نۀ لري بلکي د بلند ترين اخلاقي آئيډيل سره په وفاداري پوري اړه لري، ورسره ورسره يو داسي تخليقي تخيل پکارده چي د خالص روحاني جذبې او تجربې اظهار په وشي - عالمي تاريخ ګواه دے چي له شپږمي مخزېزدي پېړۍ څخه افغانستاں د بهرَنيو مداخلت کونکو مقابله کوي لګيادے او ښايي چي دعلمي لحاظه يې د شاته پاتيکېدو وجه همدغه بهرني مداخلتونه وي خو سوال دادے چي د بهرنيو قوتونو په موږ څۀ اړه ده؟ ولي مداخلتونه کوي؟ موږ له دغه شان مداخلتونو څخه ولي قام نه شو ژغورلای؟ ځواب يې واضح دے چي زموږ وعلم وحکمت ته شاده او وجنګ ته مو مخه- بدلون اوّل د نظر په زاويه کي راوستل پکارده- جمال الدين افغاني (۱۸۳۹-۱۸۹۷) هغه افغان ؤ چا چي اوّل ځل دا محسوسه کړه چي په نوي وخت کي د مغرب مقابله په جنګ نۀ بلکي د خپلي ټولني په اصلاح ممکنه ده[7]- د افغانانو په شمول مشرقي قامونو ته پخپلو شرطونو د جديديت سائنسي ثقافت خپلول پکار دے- په نوي جهان کي د نورو قامونو د سيالۍ ترحده هلي ځلي لازمي دي، ولي چي خدای وايي[8]:

لېسَ لِلانسان اِلا ماسَعیٰ

يعني انسان لره بس هماغه څۀ دي دکومو چي دے کوښښ کوي- د خدای په لويه خدائي کي لمر، سپوږمۍ، ځمکه او بې شمېره ستوري ښکاري- هر ستورے تر ځمکه ډېر غټ دے او نۀ معلوم چي څۀ څۀ به پکښې وي- د خدای حکم دے چي موږ ورباندي فکر وکو ولي چي په دغو کي موږ لره ډېري نښانياني دي، مګر زموږ فکر د تربور تر وژنه وړاندي نه ځي- دا حقيقت د لمر په شان روښان دے چي د دغي مسئلې حل انقلاب نۀ دے بلکي تعليم دے- د خپل نسل پر نوو کرښو تربيت قام ته د نورو قامونو په ګام د تګ همت او اهليت ورکوي-

زموږ مسکن ځمکه ده چي پکښې د انسانانو سره سره ډېر نور ژوندي ژيزونه اوسي- دغو ژيزونو ته موږ "مخلوق" وايو چي خالق يې خدای پخپله دے- انسان پکښې د اشرف المخلوقات په نامه ځکه يادېږي چي آزاده اراده لري، د انتخاب کولو صلاحيت ورسره شته، پخپله هم تخليق کولای شي، او دځان پېژندني په خاصيت له نورو مخلوقاتو بېل دے- خو د نړۍ ټول انسانان يو رنګه نۀ دي- بېل قامونه پکښې شته، بېل بېل مذهبونه لري، بېل تهذيبونه يې دي او د علاقې په حساب هر قام ځانګړے کلتور لري- همدغه د خدای خدائي ده چي بېل بېل رنګونه يې دي- د عقايدوپه لحاظ هم د مشرق او مغرب تر منځ توپير ليدل کيږي- دمغرب د زياتره خلګو په نظر انساني ضرورتونه او په دې لړ کي ددوی تجربې

تر فطرت، قسمت او خدايي ورکړه مهم ځنډل کيږي، خو زموږ په مشرقي هېوادونو کي د نظرزاويه بلکل بېله ده- دلته دخدای د تصوّر بغېرهيڅ يو څيز مکمل نهٔ دے- دلته د خدای او خدايي تصوّر ډېر بالا دے او د سائنسي دلايلو په دائره کي نهٔ راځي- د دې خبري مطلب دا هيڅکله نهٔ دے چي موږ دي تر دې حده الهام پرسته شو چي د عقل په استعمال کي خنډ پېدا شي- خدای موږ له سائنسي تعليمه نهٔ راګرځوي او نهٔ د دهٔ په خدايي کي د ترقۍ ممانعت شته بلکي د غور وفکر حکم راکوي- لکه چي په څرګندون۲۲ کي ښکاره دي، زموږ د علم بنيادي ذريعې پخپله د خدای کلام ، د رسول الله مبارك حديثونه، د فطرت مشاهده او د نوروکتابونو مطالعه دي- دخدای کلام خو هرمسلمان له کچنيوالي مطالعه کوي- قرآني علم او د رسول الله مبارك حديثونه په عملي توګه هم زموږ د ژوند حصه دي، خو د فطرت مشاهدې او د نورو کتابونو مطالعې ته د قام په حېث زموږ شا ده او همدغه مو اصله مسئله ده-

د خدای خدايي خو د کائينات تر حدونو هم بالا ده ځکه يې بحث نهٔ اوږدوم- زهٔ د دهٔ په لويه خدايي کي ديوې وړې سيارې يعني ځمکي اوسېدونکے يم ځکه يوازي ترځمکي پوري خپل بحث را لنډوم، بيا پر ځمکه هم چونکي انسان يم نو د انسان په اړه څه نهٔ




انځرګندون نمبر۲۲ په روايتي ټولنه کي د علم ذريعې

څۀ ليکم- انسان چونکي پر ځمکه د خدای نائب دے او د دۀ په خدايي کي تر ټولو مخلوقاتو افضل هم دے ځکه يې دلته هم په بېلا بېلو ټولنو کي تاريخ او تهذيب تر بحث لاندي راځي- د ځان، قام، مذهب او انسانيت تربحث وروسته پرعالمي سطحه د ځينو

نورو مسئلو جاج هم اخستل ضروري ګڼم- د انساني تاريخ لوی جنګونه زياتره د تهذيبونو تر منځ د توپير په وجه شوي دي- دتهذيبي برترۍ احساس پخپله د جنګ يو لوی سبب ګڼل کيږي حالانکي معاشي ګټې يې يوه بله وجه هم ده- لکه مخکي چي يې ذکر وشو، تهذيب د قام د اجتماعي ضمير اظهار دے چي د لرغونو آثارو په توګه وجود لري، د قام عمراني او روحاني جوهر دے چي ريښې يې په تاريخ کي تر نه ختمېدونکې حده خورې ورې دي، او خلګو لره د اسلافو هغه عطيه ده چي امېدونه اوروي او امکانات زېږوي- پر عالمي سطح په دې اړه هم د نظر دوې بېلې زاويې دي- مغرب د تهذيب يو آفاقي نظر لري او دا د نړۍ د ټولو قامونو ګډ ميراث ځکه بولي چي دوی په اصل کي خپل تهذيب آفاقي ګڼي- په دغه نظر تهذيب د لرغونو آثارو هغه پنګه ده چي بېلا بېلو نسلونو او ټولنو له لاندي نه تر برۀ د تاريخ په اوږدو کي تر ارتقايي عمل لاندي جمع کړے دے- په دغه نظر د سومري، مصري، چيني، هندي، يوناني، رومي او افغاني تهذيب تقسيم څۀ بنياد نه شي درلودلای- د نظر بله زاويه داده چي د آفاقي تهذيب سره سره قامي تهذيب هم شته چي د خپلو بېلو رنګونه او خاصيّتونو له کبله يو قام له بله څخه بېل په ښکاري- همدغه منصفانه سوچ دے چي دا وخت په نړۍ کي د قَبولو وړ ګرزېدلے دے ولي چي د معاشرې د ژوند او مرګ اړه په همدغه تهذيب پوري ده- ځکه نو تهذيب يو

عالمي یا بین المللي مظهر دے - کلتور یا ثقافت یو علاقائي مظهر دے ځکه چي دا د یوۀ قام له پېړیو راروانه یوه ښکلې سلسله ده چي د ښو قدرونو، آثارو، لوبو، ټوکو، سازونو، شعرونو، نکلونو، غاړو، اتڼونو، وراوو، ودونو او اخترونو په شان بېلا بېلي کړۍ لرې- د بېل کلتور او بېل تهذیب مطلب دا نه دے چي خلګ د غوره بدلون لاري وتړي او په دې خپل تسل وکړي چي "ورځه ملګرې ستا جدا او زما جدا لاره ده"- د معاشرې جدیدیت پزیري ضروري ده او دغه پرسائنسي کرښو په سماجي او دانشورانه بدلون پوري اړه لري- د خدای په خدایي کي هم چونکي زمانه تر نۀ بدلېدونکي قانون لاندي نۀ ده بلکي تغیر پزیره ده، ځکه نو داحقیقت دے چي موږ خپله ټولنه په پېوسته کوششونو بدلولای شو- د امن، تعلیم، تجارت اوجمهوریت دمسلسل هلو ځلو په ذریعه له همدغي ټولني د متواتر بهترۍ هیله کېدای شي-

تاریخي، تهذیبي، عمراني او فلسفیانه مطالعه آخر د انسان پام دانسانیت و بېلا بېلو مسئلو ته را اړَوي- موږ له پېړیو راهسي د خدای په خدایي کي د انساني نسل د غوره مذهبي روایتونو او اوچت اخلاقي تعلیماتو قدر کوو را روان یو- مګر د مغربي قامونو تاریخ د سپین او تور تاریخ دے، د مالك او د مرَیي تاریخ دے ،د امیر او د غریب تاریخ دے- د پښتانۀ په تاریخ کي د دغسي توپیر نۀ څۀ مثال شته او نۀ ګنجایش- د ځینو مغربي پوهانو دا خیال چي

تهذیب یو خاص مظهر دے چي یوازي د اصلي نسلونو په برخه دے، له حقیقته لري ښکاري[9]- ولي چي په ساینسي توګه د انسانانو دماغونه سره ورته دي ځکه د اصل او کم اصل ځای پکښي نۀ پاتیږي- فرائیډ او هیګل دواړۀ په هغو اوروپایي پوهانوکي شامل دي چي د تهذیب په اړه همدغسي نظر لري- که دغه نظر ومنو نو هم د اصل او کم اصل معیار ښایي چي د دغو نسلونو ښۀ ارزښتونه وي نۀ چي نسلي لوړتیا ولي چي د تهذیبي آثارو په جوړښت کي خو د هنرمندانو سره سره د مزدورانو اومحنت کښوغلامانو خوَله هم ګډه ده- پښتانۀ یو آریایي نسل دے چي ددغو پوهانو په نظر هم د لوړو تهذیبي ارزښتونو مالکان دي خو دوی د قام په حېث د هیڅ قسم نسلي امتیاز قایل نۀ دي- خان او بذګر یې دواړۀ پر یوۀ ځای په ګډه خوراك کوي، یو غوندي پوښاك یې وي او په ناسته ولاړه کي یې هم څۀ خاص فرق نۀ ښکاري- دبرابرۍ او مساواتو دغسي مثال په نورو قامونو کي ډېرکم لیدل کیږي- له بده مرغه په تېره نیمه پېړۍ کي د دباندینو مداخلتونو له کبله په ټولنه کي د اورپُوکۍ زهر وپاشل شول چي منطقي نتیجه یې د سیاسي، معاشي او سماجي پستۍ په شکل مخته راغله- بهرنیو اورپُوکو او د هغوی بادارانو د ټولني لوړ قدرونه ژوبل کړل او ډېر خلګ یې په خپل رنګ ولړل- د پرېشانۍ سوال همدا دے چي پښتني ټولنه د دغو ناوړو اثراتو څخه څنګه منځل کېدای شي؟ د غور او فکر ټکے اوس

همدغه دے چي دخلګو هغه اعتماد بېرته بحال کړ شي چي په تېره نيمه پېړۍ کي د رنګا رنګ مداخلتونو تر اثر لاندي تباه شو- که پر عالمي سطحه مغربي قامونو په ټېکنالوژي او پېوسته محنت تر دې حده ترقي وکړه چي اوس له اسمانه پر موږ بريدونه کوي او موږ يې د ځواب صلاحيت نه لرو نو بيا به يې مقاومت څنګه ممکن وي- ظاهره خبره ده چي تر مذهبي او روحاني اختلافاتو به بالا فکر کوو او متحد او منظم قام به جوړوو- رواداري، بشري حقوق، جمهوري عمل او سائنسي سوچ ته به په ټولنه کي مناسب ځای ورکوو-

د هر مشرقي تهذيب خپل خپل قبايلي او اخلاقي اړخونه وي ځکه په ظاهره د لوی بدلون ځای پکښې کم وي- که څوك افغانے، هندے يا يو افريکايي په يوه يا بله وجه مغربي تهذيب اختيار هم کړي نو ورسره ښايي نۀ ولي چي هغه په رنګ، نسل، مذهب او نور ډېرڅه له مغربيانو بېل دے- په حقيقت کي هغۀ د معاشرتي، سماجي او روحاني مسئلو سره مخامخ وي- تر ډېره حده مصنوعي غوندي ښکاري ولي چي په ظاهره يو څۀ وي او په باطن کي يې بېل تهذيبي اقدار وي- بدلون په اصل کي د فکر په زاويه کي پکار دے چي دجديد سائنس اوټېکنالوجي ځای پکښې پيدا شي- چونکي تهذيب د اجتماعي ضمير اظهاردے ځکه دا د يوې معاشرې نسلي، سماجي او روحاني ظهور هم بلل کېدای شي چي په بله معنا د آفاقي تهذيب د نظريې نفي کوي او دقامي تهذيب و فکر ته تقويت ورکوي-

نتیجه دا چي خدای هغه واحد او مطلق "رَب" دے چي د هرڅۀ خالق او مالك دے- ځمکه د دۀ د لویي خدایي یوه زره غوندي وړه حصه ده په کومه کي چي انسانان اوسي- دغه انسانان په مشرق او مغرب کي دجدا جدا عقیدو منونکي دي- د خدای په قانون هر کس د خپل عمل پر بنیاد ښۀ یا بد ګڼل کیږي- د نسل، ژبي، کلتور او وطن په لحاظ پر بېلا بېلو قامونو تقسیم دي- د انسانانو تر منځ د فکر اوعمل په لحاظ توپیر دخدای دمنشا عین مطابق دے او دا نه ختمېدونکے څیز دے ، ځکه له موږه د برداشت او رواداری تقاضا کوي- خدای پر خپله ځمکه د امن ساتلو او د فساد د لارنیوي حکم ورکوي- ښۀ عمل که د هري عقیدې منونکي کوي ګټه تري اخستل پکارده او له بده کاره یې ځان ژغورنه ضروري ده- همدغه سمه لارده او همدغه سړیتوب دے- له هېواده پړکېدلي پښتانۀ چي هر چیري دي باید د خپل قام، عقیدې، ژبي، کلتور او تهذیب لمن نیولې وساتي ورسره ورسره د غوره بدلون هلو ځلو ته دوام هم ورکړي- دخپلي ژبي او ثقافت ساتنه عېن فرض دے او په نړۍ کي د خپل علاقائي تشخص مظهر هم ، چي ساتنه یې په هره توګه ضروري ده- خوبلي خواته که د نړۍ په ګام د تګ په موخه د تعلیم، تربیې او ټېکنالوژۍ ضرورتونه له مغربه پوره شي نو دا څۀ تهذیبي بدلون نۀ دے بلکي غوره اړیکي دي چي د انسانیت په رشته د قامونو تر منځ لیدل کیږي- موږ هر چیري چي یو باید چي د روح د بقا او د لوی خدای له تصورڅخه غافل نۀ شو ولي چي همدغه

تصور انساني ژوند ته معنا ورکوي او خلګ د انسانیت تر معنوي سطحي پورې رسوي- مونږ باید چي دسهېل جعفر[10] ددې شعر په مصداق هر کله د 'حق' او 'ریشتیا' پلویان وَ اوسو:

د دار پر سر هم که کېدے شي د ریشتیا حفاظت
باداره ! وس راکـــړې چي وکـــړو د رښـــا حفاظت

د ځیني مغربي دانشورانو دا دلیل پخپله غېر اخلاقي او غېر منطقي دے چي ابدي نجات او ابدي عذاب دواړه فرېب دي[11]- ولي چي د" ابد" فکر خو د انساني معاشرې د تشکیل او سماجي انصاف اصل بنسټ دے - د خپلو قامي، معاشرتي او دیني قدرونو د ساتني سره سره د امن، تعلیم، تربیت او ټیکنالوجي حصول په حقیقت کي **'سمه لار'** ده-

# اخځلیك


1- القرآن سورة نمبر ۱۲، الاخلاص پاره نمبر ۳۰

2- عبدالرحمان بابا 'د رحمان بابا کلیات' ، دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور ، سریزه حنیف خلیل ۲۰۰۵،

3 - اینکارټا انسائیکلوپیډیا ، ' مابعدالطبیعات ' (Metaphysics) مایکروسافټ کارپورېشن امریکا ، ۲۰۰۷

4- برائن مېګي ، ( The Story of philosophy ) ډارلنګ کائنډسټلې Darling Kindstley Book، لندن، ۲۰۰۱

5- آنې بروس، د مېټافزکس برخي (Metaphysics: The Elements) د مینیسوټا یونیورسټۍ پرېس، ۱۹۸۵ ،

6- کاف مېن ،والټر اې ګوتې، ' کانټ او هېګل' (Kant, and Hegel)
مېك ګريو هيل (McGraw-Hill) ۱۹۸۰ -

7- پالسن فرېډريك، ' کانټ : دهغهٔ ژوند او فلسفه '
(Immanuel Kant, His Life and Doctrine)
انګر ، امريکا ۱۹٦۳ ،-

8- القرآن

9- ويليم مېك ګاګي ، (Five epochs of civilization) دبشري تهذيب
پنځه مهالونه، اردو ترجمه، حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵ -

10- سهېل جعفر ، ' د ياد په جزيه کي' سکام ايکډمي، سېټلائټ ټاؤن
کوټه، ۲۰۰۴ -

11- کارلس لېمنټ، (The philosophy of Humanism) يعني د انسان
دوستی فلسفه ، اردو ترجمه امجد علي بهټي، فکشن،
مزنګ روډ لاهور، ۲۰۰۷

❊❊❊

# 12

# سمــــــه لار

# سمــــــــه لار

ماشومان د درختو په ښاخونو پوري پُوړي واچوي ټالونه پرې وهي ځکه چي دا يې زړه غواړي، خوند ورکوي او يو داسي مُسرت پکي محسوسوي چي اظهار يې همدغه شان ممکن وي- دغسي چي دفکرټال څومره اوږديږي هغومره پکي خوند زياتيږي- دا يوازي د فلسفيانو معامله نهٔ ده بلکي هر ويښ سړے تر ډېره حده له دغه لِذته واقف دے- بلند فکر وَ ژوند ته معنا ورکوي، خوند پکي پېدا کوي او انساني نظر ته لا محدوده بصارت وربخښي- دفکر دټال د هرلړ ځانګړي کَړۍ دي او دا کَړۍ د پرهر پرهر هېواد د غرونو، ځنګلونو، رېګونو، دښتونو او ښارونو په سينو کي ښخي دي- په هرلړ پوري يې څو څو لېوني خيالونه ځانګي او دغه هم غوټي غوټي يو په بله شکېل دي- په دې حال کي به سمه لار څهٔ وي، نهٔ پوهېږم- البته په پېوسته هلوځلو نهٔ ستړے کېدونکے سړے د

سړیتوب په سفر روان دوان اوسي ځکه زۀ هم بس روان یم- پر سمه لار هم نوي نوي سوالونه مخي ته راځي- لکه دا چي اوس به څۀ کیږي؟ د وران او نړېدلي هېواد بېرته تعمیر به کله کیږي؟ او همدغه شان نور سوالونه- زه فکر کوم چي دمغربي هېوادونو د "بون" وعده هم ښایي چي د ښائستو وعده وه- هغه وعده چي د افغانستان دبېرته جوړولو په حقله ملګرو ملتونو د جرمني په ښار 'بون' کي کړې وه، د امریکا د بد عهدۍ له وجهي وفا نۀ شوه[1]-

اوس به څۀ کیږي؟ دا سوال معقول نۀ دے ولي چي په دې کي بیا د نورو قوتونو پخوا هڅه او د څۀ هیلي ګنجایش وینم- دغه هیله اوس باید چي ونۀ شي- بهرَنیو قوتونو په دومره لویه موده هم چي څۀ ونۀ کړل نو به اوس څۀ وکړي- د دوی خپلي خپلي ایجنډې دي او په خپلو خپلو ګټو پسې راغلي دي- د دې هېواد جوړښت به دلته اوسېدونکي خلګ پخپله کوي، ځکه دغه سوال باید چي اوس بدل کړو- اوس څۀ کول پکاردي؟ دغه اصل سوال دے چي بحث وربانديِ کېدای شي- په پنځم څپرکي کښې د دغه سوال د ځواب په اړه د څو عواملو ذکر شوے ؤ خو دلته د هغو سره سره څۀ نورتفصیل ته هم اړتیا لرو- اوّله خبره خو دا ده چي د قام د پستۍ دغه عوامل باید چي په شعوري توګه لري کړو: نفاق په اتفاق، بهرني مداخلتونه په سنجیدګۍ اوپلاننګ، اورپُوکي د امن په هلو ځلو- تاریخ ګواهي ورکوي چي پښتانۀ په اتفاق هر څۀ کولای شي خو نفاق یې لویه کمزوري ده چي هرکله یې د قام ملا ورماته کړې

ده- ځکه نو په هره توګه د دوی ترمنځ د نفاق لارنیوے پکاردے- او دغه ګران کار قوي امکان ځکه لري چي په تاریخي توګه احمد شاه بابا په خپل فکر او عمل دا ثابت کړے ؤ-

کله چي احمدشاه بابا[2] په کال ۱۷۴۷ کي د"جدید افغانستان" بنسټ کښېښوو، هغه وخت هم قبایلي ټولنه وه، قام پر وړو وړو ټبرواکیو ځله تقسیم وو، بدی یې ترمنځ وې او همدغسي د نفاق حالات وو لکه چي دا وخت دي- دهٔ اوّل پښتانهٔ مشران او عالمان په اعتماد کي واخستل- هر یوهٔ ته یې د هغه د قوت په ګچه حق او احترام ورکړ- دوی یې مطمئن ، متفق او د ځان ملګري کړل نو یې بیاد افغاني سیمي په طبیعي حدونو کي سره یو ځای کړل او د نړۍ پر مخ یې یو ستر قام ترې جوړ کړ- دهٔ جنګ هرکله تر دغو طبیعي حدونو دباندي ساتهٔ- هندوستان، ایران او ماورأنهر یې له دغو سیمو لري وساتل- په هندوستان کي یې مرېټیان، جاټ، راجپوت او سِیکان په سزا ورسول خو جنګ یې کله خپله سیمه ته دننه راپرې نهٔ ښوؤ- که څهٔ هم انګرېزان هند ته د تجارتي موخو په ترڅ کي راداخل شوي وو خوپه افغان سلطنت کي یې لاس وهنه ځکه نهٔ شوه کولای چي قام هغه وخت متحد ؤ او پر خپل مشریې اعتمادهم ؤ- تر څو چي دے ژوندے ؤ چا دا سوچ هم نهٔ شو کولای چي افغان ملت ته په بدنظر وګوري-

ددۀ دزوی تېمورشاه[3] هماغه پالیسي وه کومه چي داحمدشاه بابا وه ځکه هغه هم افغان سلطنت له بدو سترګو په امان ساتلے ؤ- تر دغه وروسته انګرېزانو (چي په هند کي يې حکومت ؤ) د هغه د اولاد ترمنځ د نفاق اچولو هلي ځلي پېل کړې- په دې غرض يې يو باقاعده انټېليجنس نظام جوړکړ چي د افغانو ترمنځ خاشې ماتي کړي او نفاق يې ترمنځ پېدا کړي- د دوی دا کوښښ ؤ چي په افغانستان کي داسي هيڅ يو قوت وجود ونۀ لري چي افغانان ورباندي متحد شي- د انګلستان او افغانستان تر منځ درې جنګونه وشول- په جنګ خو پښتانۀ ورباندي غښتلي وو خو د منافقت او چل و ول په پالیسۍ يې د افغانانو ډېر تاوان وکړ- دغه پالیسي تر اوسه لاهم دوام لري ځکه افغانان له خپله نفاقه د پېوسته جنګ په لمبو سوځي لګیادي- ورو ورو له خپله نفاقه انګرېزانو دوی زبر کړل او په کال ۱۸۹۱ کي يې، په تاريخ کي اوّل ځل په يوه کرَښه پر دوو برخو يعني لر او بر ځله وَ وېشل-

برطانيه په همدغه پالیسۍ دوی وېشلي وساتل او د روس خلاف يې خپله لويه لوبه ته دوام ورکړ- دغه سیمه يې دعالمي قوتونو د غاښو ترمنځ وساتله- بر طانيه او روس دواړو هغه وخت په دې سیمه کي واك تر لاسه کول غوښت او يو د بل دلارنيوي په هلو ځلو وو خو د جنګ مېدان يې پښتني سیمه وټاکله- د غو

دواړو لویو عالمي قوتونو افغانستان د هغه لوی جنګ مېدان کړ چي په تاریخ کي د "ګرېټ ګېم" یا لویي لوبي په نامهٔ مسوا دے[3]-
انګلستان دا وېره لرله چي روس چیري د بحرِعرب ګرمو اوبو ته راونۀ رَسي او د منشیاتو پر تجارت د دوی اجاره داري ختمه نشي، ځکه یې په افغانستان کي اور بل ساتلے ؤ-

د مشرقي قامونو سره د انګرېزانو دغي پالیسۍ نړۍ له غټو شخړه سره مخامخ کړه- خلګ ورو ورو د دوی خلاف را وپاڅېدل او د دوی پر ضد په جنګونو کي شامل شول- یوې خواته د انګلیستان تر قبضه لاندي سیمو کي ورو ورو بغاوتونه پېل شول او بلي خواته نړۍ د عالمي جنګونو سره هم مخامخ شوه- اول او دویم عالمي جنګونه په نړی کي د لویو لویو جاني او مالي تاوانونو باعث شوو- خلګو چونکي دانګرېزانو له پالیسۍ څخه نفرت کاوۀ ځکه یې دآزادی هلي ځلي تیزي کړې او په جنګ کي یې د دوی د دښمنانو حمایت یې وکړ- خو افغانانو د دوی د دښمن مرسته ځکه ونۀ کړه چي هغوی دا د خپلو روایتونو خلاف ګڼله- په اوّل او دویم جنګِ عظیم کي ځکه غېر جانبدار و اوسېدل چي عالمي جنګونه یې د نړۍ بقا لره خطره ګڼله-

په افغانستان کي دجنګ اوږد تاریخ تردغو عالمي جنګونو وروسته اړخ بدل کړ او یوۀ بل لورته را وا وښت- انګلیستان له

منځه و ووت خو پر ځای یې نوے عالمي قوت امریکا راغله- د امریکا او روس ترمنځ سوړ جنګ بیا د پښتنو پر سیمه تود شو- روس د افغاني کمونیستانو د مرستي په بهانه پر افغانستان قبضه وکړه او د هېواد واك یې د خلق او پرچم ګوندونو کمونیستانو ته په لاس ورکړ- کمونیزم د افغانانو د مزاج خلاف ؤ او د افغاني ټولنیز نظام سره یې هیڅ سمون هم نۀ درلود ځکه د افغانستان خلګو قبول نۀ کړ- افغانان بیا جنګ ته وتړل[1] شول او د شلو لکو شهیدانو په قُربانیو یې روسیان له خپلي خاوري وَشړل- سوړجنګ تمام شو او په نتیجه کي یې په کال ۱۹۹۲ کي شوروي اتحاد یا سوئت یونیئن له منځه ولاړ- روسي فیډرېشن هم د مغرب لمن ونیوله او تر شا ورپسې روان شو- د کمونیزم او سوشلیزم نظریې له منځه ولاړې-

د روس تر ماتي وروسته امریکا دنړۍ یوازینے لوی قوت پاته شو- د نوروعالمي قوتونو په شان امریکاهم پر افغانستان حمله وکړه- په ظاهره تر نائن الېون وروسته امریکا اسامه بن لادن او د هغه مرستیالانو طالبانو ته سزا ورکول غوښت چاچي د دوی په نېز دکال ۲۰۰۱ د ستمبر د میاشتي په یوولسمه نېټه د امریکا پر غبرګولي مینارونو حمله کړې وه- خو اصل مرام یې ښایي چي د کاسپین سمندرګي د غاړي تېل یا بیا د چین او ایران تر منځ د جنګي مېدان تلاش ؤ[1]- تردغي واقعې وروسته د افغانانو پاکه

خاوره بیا د عالمګیریت تر نوي طوفان لاندي راغله او د نوي جنګ مېدان شوه- ځیني پوهان دا د مشرقي او مغربي تهذیبونو ترمنځ ټکراؤ ګڼي چي د یویشتمي پېړۍ سره پېل شو- ځیني یې د برطانوي دور د کالونایزېشن نوے شکل بولي او د عالمګیریت (ګلوبلائزېشن) په نامهٔ د وړو قامونو پر وسایلو د قبضي وېره ترې څرګندَوي- ځیني یې د ګاونډیانو لګېدلے اور ګڼي چي بل ساتلو لره تېل هم هغوی پر اچوي- څوك یې د عالمي نظام نوے تشکیل ګڼي[4] او د وړو وړو قامونو د شناخت هیله ترې کوي او دا شناخت له نوې سره پر ثقافتي کربنو مبني ګڼي- پښتنو په تاریخ کي د همدغه شناخت په لټون په زرګونو مبارزې کړي دي او په خپله وینه یې هر کله خپلواکي ساتلې ده، ځکه خو خوشحال بابا[5] ډېرمخکي دا ویلي ؤ چي:

چا زما مړوند ټینګ نهٔ کړ په دا کار کښې
ما د هر سـړي نه خلاص په زور مړوند کړ

پښتانهٔ له خپله شناخته او له خپلواکۍ هیڅکله هم سترګي نهٔ پټَوي او په هرقیمت یې ساتنه کوي- ځکه نو که د امریکا د دې جنګ موخه هرڅهٔ وي باید چي پښتني سیمهٔ نوره د جنګ مېدان

پاته نۀ شي- که خلک دغه جنګ د پښتنو شناخت، کلتور، مذهب او معاش لره حقیقي خطره ګڼي نو دي جنګ بند کړي- ناټو او امریکا ته دي په دې سیمه کي د پاته کېدو موقعه په لاس نۀ ورکوي بلکي د وتو لار دي ورکړي- د احمدشاه بابا د فلسفې په ترڅ کي دي جنګ له خپلو طبیعي حدونو بهر وباسي-

په نوي وخت کي جنګ د مسئلو حل نۀ دے بلکي سبب یې دے ځکه جنګ آخري مجبوري خو ګڼل کېدای شي مګر تر ډېره یې دوام د قامونو بېخ کاږي- په دې دور کي پر نوو کرښو د ترقۍ هلي ځلي لازمي دي- د قام خواخوږي که په یوۀ خوادي او که په بله د امن او تعلیم له افادیته ښۀ خبردي- دوی پوهیږي چي تعلیم او زدَکړه د ترقۍ زینې دي- د اوسني وخت تر ټولو لویه وسله قلم دے- قلم د اوسني دور د هري شخړي مقابلې ته قام تیارولای شي او د نړۍ په ګام د تلو قوت پکښې راپېدا کوي- پښتانه د نړې له نورو قامونو څخه ځکه شاته پاته شول چي امن او تعلیم ته یې هغه اهمیت ورنۀ کړ کوم چي پکار ؤ- جنګونو یې معیشت ورېرباد کړ ځکه یې ترقي هم ونۀ کړه- ولي چي ترقۍ لره د نړۍ په ګام تګ ضروري دے- دا وخت د پردو د تېري له کبله پښتانۀ پخپلوکي هم سره بدګمانه دي ځکه یې د یو شمېر وګړو په برخه اور پُوکي یا

نظریاتي اِنتهاپسندي ده- د دغي اورپُوکۍ یوازینے سبب مذهبي منافرت نه دے لکه چي د مغربي قامونو پروپیګنډه ده بلکي ډېري نوري وجهي یې هم دي[6]- ځیني مغربي هېوادونه په افغانستان کي د منشیاتو د تجارت سره دلچسپي لري، ځیني د چین او ایران تر منځ د اډو جوړلو په هلو ځلو دي او ځیني د منځنۍ آسیا د تېلو تجارتي لاري لټوي- ګاونډي هېوادونه هم په افغانستان کي خپلي خپلي موخې لري- دوی ځکه لاس وهنه کوي چي خپلي اېجنډے تر سره کړي- د پردو دغه تېرے په منطقي توګه د اور پُوکۍ لوی سبب ګڼل کېدای شي-

د افغانستان تاریخ ګواه دے چي افغانان د روایتي او مذهبي معاشرې خلګ خودي مګر اورپُوکی نهٔ دي- اورپُوکي خو د بهرَنیو د تېري په نتیجه کي پکښې ګډه شوله- پښتانهٔ چا په زور نهٔ دي اېل کړي خو په دلیل او درېیم ملامته مني- دمسقبل افغانستان به افغانان پخپله جوړوي، د دوی په مرضي او د دوی پر خپلو کرښو- د افغانستان امن او خوشحالي له دوی سره تړلې ده او د دې قوي امکان شته چي افغانستان بېرته جوړشي ولي چي لوی شمېر افغانان ویښ دي او د هېواد خواخوږي دي- مغرب چي څومره خپله مرضي پر دوی توپي هغومره به د مقاومت سره مخامخ شي ولي چي

افغانان بهرني امداد کوونکو ته ښهٔ راغلے وايي خو مداخلت يې نهٔ مني- د مغربي ليکوال نيك بي ميلز[7] په قول " افغان ته کولنګ ورکړه خو دا مهٔ ورته وايه چي څهٔ به په کيندې- خښتي ورکړه خو دا ورته مهٔ ښايه چي څهٔ بهٔ ترې جوړوې"- پښتانهٔ د مېلمنو قدر کوي خو د بهرنو د تېري جواب هم لري-

د اورپُوکي مخنيوے د افغانستان په جوړښت پوري اړه لري او د جوړښت اړه يې په ټينګه مرسته پوري ده- مغربي قوّتونو ته پکار دي چي د روايتي او مذهبي افغاني ټولني احترام وکړي او دوی ته دا موقعه ورکړي چي پر خپلو کرښو د خپل هېواد د پر مختګ هلي ځلي وکړي- ظاهره ده چي دا کار يوازي د دوی په خپل قوت نهٔ شي تر سره کېدای ځکه د نورو قامونو د ټينګي مرستي ورته ضرورت دے- که چيري نړيوال قوتونه هم پر افغان حکومت اعتماد ونهٔ کړي نو خلګ بيا څنګه ورباندي اعتماد کولای شي؟ او پر حکومت د اعتماد نهٔ کولو معنا د ټېروريزم خلاف په جنګ کي د شکست قبلولو مترادف ده- د وران او نړېدلي هېواد بېرته تعمير د امريکا او مغربي هېوادونو وعده وه خو پوره نهٔ شوه- دوی هم د روسانو په شان افغانستان وران کړ جوړ يې نهٔ کړ ځکه يې د بد عهدۍ په تورنيول يو منطقي عمل ښکاري- د

نړۍ جنګ پرستان چي کله هم د لويي مقابلې اِراده وکړي نو يې افغانستان په ياد شي ولي چي د پښتنو وطن، ددوی اوږې او اوچتي

حوصلې هر لوی جنګ لره ضروري ګڼي- د دنګو غرونو اوسېدونکي دغه کلك خلګ چي کله به د هند حکمرانان وو او کله د ایران اوس د خپلو بدبختیو له کبله د هر عالمي جنګ اور بل ساتي لګیا دي- ځۀ يې ځمکه لېونۍ ده چي جنګیالیان زېږَوي او ځۀ اسمان هم ترې خفه ښکاري چي د وینو بارانونه وروباندي اورَوي- خلګ له پېوسته جنګونو اوس تنګ دي ځکه د درویش[8] غوندي دعا کوي :

چي بیا نۀ تُوره پورته شي نۀ سر په وینو رنګ شي
بــاداره ! دغــه جنګ دي د وطن آخـري جنګ شي
که زړونــه ســــره یــو کــړو او لاسونــه ســره ورکـړو
دا کاڼي بــه لعلــونــه شي، دا بُوټي بــه لــونګ شي

لکه چي یې وړاندي ذکر وشو، د روس او انګلستان تر منځ د جنګ مېدان همدغه د پښتنو سیمه وه چي د "لویي لوبي" په نامه تر ډېري مودې پېوسته جنګ وروباندي توپل شوے ؤ- له دواړو خواوو پښتانۀ پکښې وژل کېدل او ګټه یې د بل وه- د کمونیزم او سرمایه دارۍ آخري جنګ په همدغه ځمکه د امریکا او روس تر منځ پای ته ورسېد خو ګټه یې کېپیټلیسټانو ته ولاړه او تاوان یې

ټول د دې سيمي خلګو واخست- د عرب او ايران تر منځ پراکسي جنګ هم په اصل کي پر دغه ځمکه دوام ودرلود چي ګټه يې دبل شوه اوزيان يې د پښتنو سادګانو په برخه ورغے- د امريکا او القاعده ترمنځ روان جنګ په همدغه سيمه کي روان دے چي ګټه يې دبل ده او مري پکښې پښتانه خواران- د هند او اسلام اباد ترمنځ دکشمير شخړه لا دوام لري خو مېدان يې اوس بدل شو او په افغانستان کښي يو له بله سره ښکر په ښکر دي- خلګ خپل خپل جنګونه پر نورو سيمو کوي خو د پښتنو بدنصيبي ګورئی چي د بل جنګونو ته هم پر خپله ځمکه بلنه ورکوي او خپل بچي پکښې وژني- دوی په دې زعم کي دي چي لويو لويو عالمي طاقتونو ته ماته ورکړي خو په دې به يې څوك پوهـ کړي چي دغه عالمي طاقتونه او جنګياليان پر خپله ځمکه ولي جنګ ته دوام نهٔ ورکوي؟ يا بيا افغانان دوی ته د دوی پر ځمکه شکست ولي نهٔ ورکوي؟

په اوسني دور کي هيڅ يو ويښ قام پرخپله ځمکه جنګ نهٔ غواړي ولي چي جنګ بربادي راوړي دخېر هيله ترې نهٔ شي کېدای- له جنګه د خېر غوښتنه د لېونو خوب دے چي ښکاره تعبير يې بربادي او دربدري ده- جنګ جنګ او جنګ، آخر تر کله؟ که د دې سيمي خلګ خېر غواړي نو دي حقيقت ته غاړه کښېږدي او له خپله کوره دي جنګ پرستان وشړي اوجنګ دي له خپلي سيمي لري کړي

ولي چي خبر لره به قام پخپله را پاڅيږي او خپل حالات به بدلوي- هيڅوك د دوی حال نۀ شي بدلولای، نۀ روس نۀ امريکا نۀ عرب نۀ هندوستان او نۀ څۀ بل قوّت- خلک به پخپله يوبل ته لاس سره ورکوي او يو دبل مدد به کوي- مشر او کشر، ځوان او زوړ، امير او غريب، خان او بزګر، ملا اوامي به ټول امن لره هلي ځلي کوي - حقيقي امن دغېر مساوي خلکو ترمنځ قايمېدلای او پايښت لرلای شي، نۀ چي پر هره سطح د برابرۍ په دعوو- د برابرۍ منډه پخپله جنګ ته دوام ورکوي- کله چي په ټولنه کي د خلکو تر منځ فطري توپير ومنل شي نو امن پخپله قايميږي- لکه چي په څرګندون نمبر۲۳ کي يې وضاحت شوے دے، د امنيت ابتدا به د نفاق د ريښو کښلو څخه کيږي چي خلک روغي ته تيار شي او دغه د احمد شاه بابا پر کرښو امکان لري- لکه چي وړاندي يې بيان وشو، دۀ اوّل پښتانۀ مشران او عالمان سره راغونډ کړل- د دوی تر منځ يې د روغي جوړي د پاره هلي ځلي پيل کړې- ټول يې په اعتماد کي واخستل- کوشش يې وکړ چي هر يوۀ ته د دۀ د قوت په ګچه حق اواحترام ورکړل شي- ورو ورو يې دوی ته اطميئان ورکړ او په روغه جوړه يې راضي کړل- دا شان يې ټول د ځان ملګري کړل نو يې په هېواد کي امن قايم وساتۀ- د دۀ هر کله دا کوشش ؤ چي جنګ د




خرګندون نمبر۲۳ امن په انصاف، روغه اوعدم تشدد پوري اړه لري


هېواد تر طبيعي حدونو بَهر وساتي- احمد شاه بابا د قبيلو ترمنځ د انصاف په اړه له اوّله سره ډېرحساس ؤ- د دۀ په وخت کي د هري قبيلې مشر په حقيقت کي د يوۀ درانۀ حکومتي غړي حېثيت لارۀ او د خپل قوّت په حساب يې په حکومتي وسايلو کي حق وو- اوس هم مسئله دغه ده چي دخلګو سره انصاف وشي او که داسي نۀ وي نو به يې پرَدي په ببلا ببلو دسيسو د هېواد خلاف استعمالوي- دا فکر چي هر سړے پرخپل سر دهېواد صدر جوړېدای شي او يا بيا دا چي هرکس پرخپل سر د دښمن مقابله کوای شي، په اصل کي د جنګ سامان پيداکول دي- په قبايلي ټولنه کي هم کۀ د قبيلو

مشران اوعلما په ټاکنو کي سره ودرېږي نو به هريو سمه نمايندګي ومومي- دغه دجمهوريت حُسن دے چي که خان د خلګو خوښ نۀ دے نو دي يې په ووټ له نمايندګۍ څخۀ محروم کړي- همدغه جمهوريت په هېواد کي د روغي جوړي پکار راوست کېدای شي- تر روغي جوړي وروسته د عدم تشدد پر اصول امن تر ډېره وخته قايم ساتل کېدای شي- پر نوو کرښو د نړۍ سره سم عدالتي او جمهوري نظام د پښتنو په ګټه دے- اوس به دقام خواخوږي دجنګ پرستو لاري نيسي- بچيانو ته به تعليم ورکوي او د صنعت وتجارت له لاري به د ټولني د معاشي ښېګړي هلي ځلي کوي- د اوسني دور وسله توپ او توپك نۀ ده بلکي تعليم، ټېکنالوژي او معاشي ښېګړې ده- قامونه هماغه پايي کوم چي د زمانې په ګام روان وي او د وخت د بدلون سره سم خپله وسله بدلوي- څوك چي جنګونه د بل په وسله ګټي، کله کله د جنګ په منځ کښي بې وسله هم پاته شي- ځکه خپله وسله په خپل هنر جوړول د قام دپايښت ضمانت ورکوي او دغه هنر د تعليم او ټېکنالوژي په برکت راځي-

پښتون قام ته دخپل پايښت په خاطر دتعليم اونوو ساينسي طريقو د استعمال ضرورت دے چي د زمانې په ګام د تګ بشپړ صلاحيت ومومي- د معاشرتي او اخلاقي قدرونو د اصلاح کارته مخه کړي او د پښتني جذبې سره سره د استدلال غوره اصولونه هم خپل کړي- په مستقبل کي بېلابېل امکانات موجود دي، دا په موږ پوري اړه لري چي کومه لار خپله وو- حتمي موخه مو بايد

چي د نوي نسل جوړښت يا تعمير وي- دغه جوړښت به پر کومو کړښو کيږي؟ د دې سوال د ځواب به يوه لنډه غوندي جايزه واخلو-

دکس شخصيت ددۀ په موروثي مېلاناتو پوري اړه لري9 چي په سائنسي توګه د نروس سيسټم يا عصبي نظام سره وابسته وي- لکه چي په څرګندون نمبر۲۴ کي ښکاري، دا په ظاهره ددۀ پر جبلتونو، احساساتو، عادتونو او حافظې مشتمل ښکاري- د مثال په توګه د يوه دروند سړي "درندتيا" د دۀ په کورني وراثت او د ژوندانۀ په بېلابېلو تجربو پوري اړه لري- چونکي دعمر او تجربې سره دغه شخصيت ورو ورو بدليږي ځکه نو د دې خبري دليل دے




د شخصيت بېلا بېلي سطحي

څرګندون نمبر۲۴ د انسانيت څلور خصلتونه


چي پر سائنسي نظم دښهٔ شخصیت تعمیرممکن دے- د انسان د شخصیت تعمیر پر پنځو بېلا بېلو سطحو کېداى شي- ړومبے کور (مور، پلار)، دویم مکتب، درېیم ټولنه (ماحول)، څلورم قام (تهذیب اوکلتور)، او پنځم عالمي حالات- کور د ماشوم ړومبے ښوونځے دے چیري چي له پلار او مور څخه د زدکړي پېل کیږي- ژبه ترې زدکیږي، دمیني احساس ترې اخست کیږي، دخوراك، څښاك او پوښاك اداب ترې زدکیږي او تر ډېره حده روحاني تربیت هم د دوى له غیږي شروع کیږي- ماشوم چي کله په څهٔ پوه شي نو له پلاره بېلا بېل سوالونه کوي او د دغو سوالونو کوم ځوابونه چي دے له پلاره اوري هماغه یې عقیده او د راتلونکي ژوند هینداره وي ولي چي دغه د دهٔ د شخصیت په جوړښت کي ډېر لوى ځاى لري- د کور تربیت تر ډېره حده د انسان په راتلونکي ژوند کي د دهٔ په شخصیت کي د بېلابېلو اقدارو په توګه یو خاص مقام لري او دے په پېژندل کیږي-

د انسان د جوړښت په اړه دویمه سطحه د مکتب ده ولي چي له کوره ماشوم کله ومکتب ته تګ راتګ پېل کړي نو یې د نورو ماشومانو سره د استاذانو تر تربیې لاندي ناسته او ولاړه کیږي او هغه څهٔ ترې زده کوي کوم چي دهٔ په خپل کور کي نهٔ وي زدکړي- معنا دا چي د ماشوم علم ورو ورو په مکتب کي زیاتیږي او په شخصیت کي یې غوره بدلون راځي- د صفائي، روادرى، صبر او

همدغه شان نورو ډېرو څیزونو زدکړي کوي لګیا وي چي د دهٔ د شخصیت په جوړښت کي مهم ځای لري- حقیقت خو دادے چي دا وخت څومره ضرورت موږ وَ تعلیم لرو ښایي چي بل قام به یې نهٔ لري- په جنګ ځپلي هېواد کي ماشومان له بُنیادي تعلیم څخه هم محروم دي نو به یې د شخصیت جوړښت څنګه امکان ولري-

درېیم څیز چي د فرد دشخصیت په تعمیر کي مهم ګڼل کیږي هغه ټولنه یا ماحول دے چي ورو ورو د ماشوم پر عادتونو اثر کوي او د دهٔ دشخصیت جوړښت په کیږي- د معاشرې د دود، جهانداری او سړیتوب په اصولونو یې سر خلاصیږي او د ښهٔ او بد معیار هم ورته معلوم شي- که په ټولنه کي بدی وي، نفرتونه وي، بغض وي، عناد وي، تربورګلوئ وي، سرکښي وي، قتل وغارت وي، اغوا ګاني کېدې، غلاوي وې، او نشې وي نو به په دغه ماحول کي همدغه څهٔ زدکیږي- او که مینه وي، مرسته وي، اخلاص وي، ورور ولي وي، امن وي، ښکلا وي، خوشحالي وي، علم وي، دلیل وي او اعتدال وي نو بیا د ټولني وضع بېله وي-

لکه چي په څرګندون نمبر۲۵ کي ښوول شوے دهٔ د کَس د تعمیرڅلورمه سطحه د هېواد یا وطن ده- که په هېواد کي د قانون حکمراني وه، امن ؤ، انصاف ؤ، نظم او ضبط ؤ، د معاش مواقع وې، آزادي وه، جمهوریت ؤ نو به یې د وګړو د ښهٔ تعمیر په لار کي





خرګندون نمبر۲۵ د شخصيت د تعمير بېلا بيلي سطحي

هيڅ يوخنډ هم نه وي- او که ټبرواکۍ وې، شر ؤ، فساد ؤ، لاقانونيت ؤ، اورپُوکۍ وې، خودسرۍ وې، سرکښۍ وې کرپشن ؤ او وطن فروشي وه نو به يې د وګړي پرشخصيت اثرات همدغه شان منفي وي-

د انسان د جوړښت په اړه پنځمه سطحه د جهان ده چي ’عالمي سطحه‘ هم بلل کيږي- پر عالمي سطحه يو ګرځيدلے سړے په حال پوره خبر وي ځکه د نورو په چل ول پوهـ وي، څوك يې نه

شي خطا کولای- دعالمي لټرېچر مطالعه د شخصيت په جوړښت کي ډېر لوی رول لوبوي- د عالمي تجارت په اصولون خبر سړے د هېواد معيشت جوړولای شي - همدغه شان پر عالمي سطحه خراب حالات د آګاه خلګو دپاره د فکر ټال وي- پېوسته بهرني مداخلتونه د وګړو پر نفسياتو ښۀ اثرات نه پرېږدي- ځکه خو دا وخت موږ پر هره سطحه د اضطراب ښکار يو- په کورکي دسياست پر نامۀ ورور د ورور سره په جنګ دے- پوهنځي په بمونو الوزوو- ټولنه مو د جنګسالارانو د وجهي برباد ده چي کلي په کلي يې بدی کرلي دي- وطن مو له پېړيو راهيسي د نۀ ختمېدونکي جنګ مېدان دے- پرعالمي سطحه موږ د پېوسته بهرنيو مداخلتونو ښکار يو- د افغانستان د بدو ورځو اصل سبب هم ښايي چي دغه پېوسته عالمي مداخلتونه دي ځکه يې دپښتني ټولني هر وګړے تر اثرلاندي ښکاري-

په دغو کړ کېچنو حالاتو کي سمه لار دا ده چي اوّل په دې سيمه کي د امن دپاره په ټينګه هلي ځلي وشي، ورسره ورسره تعليم عام کړشي چي خلک د زمانې په ګام روان شي- د تعليم سره د خلګو معاش پخپله ورو ورو سمېږي- په اوسني دور کي د آزادۍ ساتنه هم په امن تعليم او معاش پوري اړه لري- همدغه به په راتلونکي وخت کي د خپلواکۍ د ساتني ضمانت وي- لکه چي په څرګندون نمبر ۲۴ کي ښکاري، امن تعليم معاش او آزادي ټول يو په بله اړه لري-




ځرګندون نمبر۲٦ دسبا توښه

پښتانهٔ بايد د عالمي تجارت لاري خلاصي کړي ولي چي تجارت لره د دې سيمي جغرافيايي موزونيت زموږ دمعاشي ګټو يوازينۍ منطقي لار ده- هسي هم اوس ډوکلۍ شوې، بارانونه نهٔ کيږي، مالدارۍ او زراعت پر ځوږه روان دي، صنعت موږ نهٔ لرو، او حکومت مو خلګو ته د روزګار ورکولو طاقت هم نهٔ لري نو بيا د

تجارت بغېر د معاش بله لار نۀ پاتيږي- په دغه تجارت کي دآيي ايم اېف او عالمي بينك قرض د ځان وژني مترادف دے ځکه بايد چي تجارت په خپلو وسايلو وي نۀ چي په پور-که بيا چيري پور بېخي ضروري شي نو يې مصرف بايد پخپلو شرطونو وي نۀ چي ددغو ادارو په مشورو، ولي چي ددوی مشورې وړو قامون لره تر زولنو کمي نۀ دي-

جمهوريت چونکي دحکومت کوولو هغه سيستم ته ويل کيږي چي د خلګو د اکثريت په مرسته، د ووټ له لاري، دخلګو دپاره د دوی په خپله خوښه جوړ شوے وي، ځکه نو په دې پېر کي تر ټولو بهترحکومتي نظام ګڼل کيږي- د حکومت کولو دغه جمهوري نظام د څۀ نۀ څۀ بدلون سره د نړۍ هر هېواد لره ځکه غوره نظام بلل کيدای شي چي بنسټ يې د خلګو پر اجتماعي رايه دے- په دې سيمه کي به د جمهوريت شکل يقيناً له مغربه بېل وي، ولي چي افغانان خپل بېل شناخت او بېل سيمه ايز حالات لري، خو په دې کي څۀ شك نشته چي همدغه يوازينے غوره حکومتي نظام دے- چونکي د افغانانو ټولنيز ضرورتونه داسي دي چي دبېل او ځانګړي جمهوري نظام تقاضا کوي ځکه به افغاني حکومتي نظام يو مختلف انداز ضرور ولري خو په عملي توګه د جمهوريت سېوا بله هيڅ چاره نشته- د نوموړي فلسفي سپينوزا په قول[10]:

"TheTrue Aim of Government is Liberty"

يعني ”د حکومت اصل موخه آزادي ده“

نتیجه دا چي ملت نن دیوۀ ځلاند سبا په څاردے- اتفاق، امنیت، تعلیم تجارت او جمهوریت د قام د مستقبل لوی ضرورتونه دي چي په هره توګه تر لاسه کول دي- پښتانۀ د یوۀ ژوندي قام په حېث له ازله د بقا په هلو ځلو دي او د تاریخ په څپوکي په همدغه شان له پخوا راروان دي- جنګونه ورباندي توپل کیږي مګر د امن، تعلیم او تجارت په اړه یې فکر له چاسره نشته- په جنګ کي فتح او شکست دواړه په تاوان تماميږي ولي چي د نړۍ پوهانو د 'بودا' دا قول صحي منلے دے چي"هره فتح نفرت زیږوي ولي چي مفتوح کله په خوښ نۀ وي"- تر کومه چي په ټولنه کي د امن، تعلیم او تجارت او جمهوریت فکر غالب نۀ شي دقام حال نۀ شي بدلېدلای- همدغه فکر '**سرېتوب**' دے چي په ټولنه کي غوره بدلون راوستے شي، نفاق ختموے شي، امن قایمَوے شي، تعلیم عام کوے شي، تجارت پراخوے شي او جمهوریت په خلګو منلے شي-

# اخځليك

1- احمد رشيد، ' دامريکا بد عهدي' اردو ترجمه شفقت تنوير مرزا،
وين غارډ بُکس ، کراچي، ۲۰۰۹ -
2- ګنډا سينګ ، احمد شاه ابدالي ، تصحيح محمد بابرجاوېد، لاهور ، ۲۰۰۴ -
3- غبار غلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، کابل، ۱۹۶۷-
4 - سېموئيل پي هنټينګټن ، دتهذيبونو ټکراؤاودعالمي نظام نوے جوړښت
(The clash of civilizations and the new world order)
اوکسفورډ، ۱۹۹۷
5 - خوشحال خان خټك، ' دخوشحال خان خټك کليات ' سمون د عبدالقيوم
زاهد مشوانې، دانش خپرندويه ټولنه ، ملي مارکېټ، کابل ۲۰۰۵
6 - امين سېکل، Modern Afghansistan: a history of struggle
يعني ' نوے افغانستان'، آيي بي ټارس لندن او نيويارك، ۲۰۰۴
7- نيك بي ميلنز،' کرزے' Karzai:The failing American intervention
جان ويلې انډ سنز، هوبوکن نيوجرسي ، امريکا، ۲۰۰۷
8- دروېش دراني، 'دابُوټي به لونګ شي' صحاف نشرياتي موسسه ،
کاسي روډ کوټه ، ۲۰۰۹
9- ډيورانټ وِل، ' نشاطِ فلسفه ' (The Pleasures of Philosophy) ژباړن
محمد اجمل، فيکشن هاؤس مزنګ روډ، لاهور، ۲۰۱۰ -
10- برائن مېګي ، ( The Story of philosophy ) ډارلنګ کائنډسټلې
Darling Kindstley Book، لندن، ۲۰۰۱

# 13

# سړيتوب

# سړیتوب

سړیتوب له لاندي نه تر بره د انسانیت په خوا د بشر هغه پیهم سفر دے چي ورو ورو وَ ژوند ته معنا ورکوي- درندتیا، نظم، خوند او ښایست پکې پیدا کوي- دا د حق او ریشتیا د مسلسل جستجو او دحسن د پیوسته تخلیق نوم دے ، چي د استدلال موخه یې د ژوندانهٔ پر حقیقي اهمیت رڼا اچول او تر مقصده رسېدل دي- دا د حیرت، تجسس، آرزو او طلب په شکل ټوله عمر دژوند ثبوت ورکوي لګیا وي-

د سړیتوب له رویه، هیڅ یو عمل پخپله ښهٔ یا بد نشي ګڼل کېدای- د ښهٔ او بد فیصله یې په ټولنه کي د اثراتو سره تعلق لري نهٔ چي د مادي ګټو سره- د مثال په توګه کوکنار کرل او خرڅول ښهٔ فعل دے که بد؟ ددې سوال ځواب په ټولنه کي د کوکنار په اثراتو پوري اړه لري- چونکي خلګ د خپلي تجربې په رڼا کي دا فیصله کولای شي چي دغه بوټے پر ټولنه بد اثرات اچوي ځکه یې نو بد ګڼي- د پښتني ټولني هر وګړے په دې پوهـ دے چي دا غلط کار دے خو ځیني خلګ یې بیا هم کري او خرڅوي یې، ولي چي

دوی خپله مادي ګټه پکي ويني، ځکه نو دغسي خلګ د سړيتوب په تول پوره نۀ دي- د پښتني ټولني د ښۀ او بد که څۀ هم خپل اصولونه دي خو د وخت او حالاتو د بدلېدو سره سره دغوره بدلون ځای پکي شته- پښتانۀ په جنګ غښتلي دي خو دا هم حقيقت دے چي جنګ د بربادۍ لار ده ځکه د سړيتوب تقاضا ده چي د امن سنجيده هلي ځلي وشي- سړيتوب پر اهليت او ذهانت زور ورکوي نه چي پر زور او سرکښي- سړيتوب د ټولنيزو ارزښتونو پالنه کوي خو ورسره ورسره د نوي ښاري ژوند د ضرورتونو او مجبوريانو ادراك هم مهم ګڼي-

په تېر وخت کي دسړيتوب معيار د هغي زمانې په حساب بېل او دهغه وخت د حالاتو مطابق ؤ- د نن دسړيتوب خپل جُدا شکل دے چي د دې زمانې د حالاتو مطابق ښکاره بدلون پکي ليدل کېږي- سبا به څۀ وي دا به د هغه وخت دحالاتو سره سمون لري- د اوس زمانې سړيتوب په ټولنه کي د تعليم، امن او ترقۍ دپاره په هېواد کي جمهوري نظام ضروري ګڼي چي دخلګو د ژوندانۀ معيار په اوچت شي[1]- د استدلال په قوت د نوي سماجي اوسائنسي فکر د نفاذ غوښتنه کوي چي د سياسي او معاشي ترقۍ لار په خلاصه شي- د سړيتوب د فلسفې پېروکاران چونکي پرځان پېژندنه، قام ژغورنه، دين دوستي، انسانيت او خدايي پوخ يقين لري ځکه په خلګوکي دموجودو ټولنيزو اومذهبي قدرونو پابند دي- دَدې دور د فلسفې اصل کار دادے چي د خپلي ټولني د سماجي اوسياسي شَخړو په اړه د خلګو د فکر زاويه سمه کړي او د حل دپاره يې ټينګي هلي ځلي وکړي- په همدغه موخه د سړيتوب فکر واضح

دے او په ټولنه کي د غوره بدلون عمَلي هلي ځلي يې دوام لري-

په انساني معاشره کي د بدلون په اړه د پوهانو بېلي بېلي فکري ډلي دي[2]- يوهٔ ډله هر بدلون د اتفاقي پېښي نتيجه ګڼي- د مثال په توګه په افغانستان کي د شوروي اتحاد مداخلت يوه پېښه وه چي په نتيجه کي يې دغه هېواد د عالمي قوتونو تر منځ د جنګ مېدان شو او د لويي بربادۍ سره مخامخ شو- بله ډله دا وايي چي معاشره يو فطري شے دهٔ چي د فطرت د قانون سره سمه و بدلون ته اړه ده- په دغه بدلون کي د خلګو د ارادو او عقيدو څه خاص دخل نشته بلکي دا يو جبر دے چي خلګ ورته تړلي دي- درېيمه ډله[3] فکر کوي چي د معاشرې په بدلون کي اصل رول د افرادو د ارادو او عقيدو دے او د بدلون په اړه يو خاص کس د مخکښ په توګه د خلګو رهنمايي کوي او همدغه د بدلون پېلامګر وي- دا نظر د ټولني په جوړښت کي د مخکښو اهميت څرګندوي- څلورمه ډله نظرلري چي د ټولني په بدلون کي اصل رول د مخکښ نه بلکي د خلګو دے[4]- جمهوريت د همدغه فکر پېداوار دے چي د خلګو د پاره د خلګو په خوښه د دوی د ټاکلو مشرانو څخه د يوهٔ مخکښ تر واك لاندي د حکومت جوړولو نظام بلل کيږي- خدای په خپل قرآن کي هر ځای له خلګو(الناس) سره مخاطب دے او دمخکښو په توګه د خپلو پېغمرانو د لارښووني د پابندۍ حکم ورکوي- ځکه دغه څلورم سوچ د ټولني د بقا په اړه د غوره بدلون زېرے ورکولای شي او د انسانيت په ګټه ښکاري خو حقيقت دادے چي د دغو ټولو بېلا بېلو فکرونو د ټولني په بدلون کي څه نهٔ څهٔ رول شته-

لکه چي په تفصيل بحث ورباندي وشو، د نړۍ ټوله نظامونه د خلګو دپاره جوړ شوي دي او جوړيږي به، ځکه په سياسي، تاريخي او عمراني توګه "خلګ" تر ټولو مهم دي او د ټولني بنسټ ورباندي ايښوو شوے دے- د ټولني په جوړښت کي اصل مقام د خلګو دے نۀ چي يوازي د اشرافو، پوهانو، عالمانو او خانانو- "عوام" هم په دغه معنا هغه خلګ دي په کومو کي چي طبقاتي شعور نۀ وي او له نورو انساني ډلو څخه په څۀ وجه بېل شناخت نۀ لري خو په دولت، ژبه، نسل، تاريخ، ادارو، رواياتو، کلتور، يا عقايدو سره ګډ وي- ځيني پوهان[3] "انسان" د څو غوره اخلاقي صفتونو له کبله د عاموخلګو څخه بېل ګڼي او دا دليل ورکوي چي په خلګو کي حيواني خاصيتونه هم وي او انسان د تعليم ، پوهني او تجربې په رڼا دغه حيواني خاصيتونه تر ډېره حده له ځانه لري کړي وي ځکه د انسانيت تر معراجه رسېدلے وي-

د سړيتوب پر اساس په ټولنه کي د بدلون اصل عنصر "خلګ" دي، له کومو سره چي څۀ خاص امتياز، هېئت، رنګ، طبقه يا عهده تړلې نه وي- بدلون يوازي د پوهانو، اشرافو، عالمانو او خانانو په خواهش نه شي راتلای بلکي د خلګو په بشپړ ګډون پوري اړه لري- دبدلون اِبتدا په اصل کي د خلګو په ذهنونو کي کيږي- اوسنۍ شخړې ګڼ شمېر پښتانۀ را ويښ کړل- دنيا يې وليده او ذهنونه يې خلاص شول - د تعليم په ګټو پوهـ شول ځکه يې خپل ماشومان سکولونو ته لېږل پېل کړل- په افغانستان کي دا وخت خواۆشا اتيالکه ماشومان تعليمي ادارو ته ځي- دغه تعليم په اصل کي د غوره بدلون ضامن ښکاري ولي چي همدغه ماشومان به په

راتلونکي وخت کي د وطن نوے تعمير کوي- تعليم ځوانان د نوي دنيا و خواته متوجه کوي او غوره بدلون ته يې تياروي- په سکولونو کي دکلو او ښارماشومان يوځای په ګډه ليك اولوست سره کوي، لوبي کوي او يو له بله زدکړي کوي- ماشومان چي کله د ځوانۍ د باد څپې وهي نو دوی د خواوشا ماحول اثرات هم اخلي- که په ماحول کي د تعليم په برکت بدلونويني نو دغه هم د دوی په ذهنونو کي غوره بدلون راولي- که په خواوشا کي امن وي او خلګ يو له بله سره د ميني او احترام په ماحول کي اوسي نو د غوره بدلون امکان پکښې لازم وي او که چيري جنګ وي، نشې وي، غلا او ډاکې وي نو بيا به څۀ بدلون راشي- د ټولني په بدلون کي د قام د اجتماعي حالاتو ډېر لوی لاس وي[4] چي نه يوازي ځوانان ترې اثر اخلي بلکي د سيمي ټول خلګ ترې متأثره کيږي- ځکه د غوره بدلون مرام هله پوره کېدای شي چي په سيمه کي د امن او تعليم دپاره شعوري هلي ځلي وشي-

لکه چي په شپږم څپرکي کښې بحث ورباندي وشو، پېوسته بهرنيو مداخلتونو[5] پښتانۀ په وارو وارو جنګونو ته اړ کړي دي او دامن لاري يې ورته تړلي دي- دباندينو قوتونو دوی کله هم امن او تعليم ته نۀ دي پرې ايښي او نۀ کله تر ډېره له جنګه اوزګار پاته شوي دي- ددوی لوی شمېر وګړیکوچيان وو او د امن په وختونو کي به يې هم د موسم د بدلون سره سم له يوۀ ځايه تر بله کوچ کاوۀ خو د پښتونخوا تر طبعي سرحدونو کم کم وتل- دا حقيقت دے چي لويي ستونزي کله کله دلويو لويو بدلونونو لاري هم خلاصوي- د شلمي پېړۍ په آخري څلورمه کي د روس تر مداخلې وروسته

پښتانهٔ په لوی شمېر له ځایه بېځایه شول او په تاریخ کي اول ځل داسي وشو چي دوی په ښارونو کي هم په لوی شمېر استوګن شول- معیاري پوهنځي چونکي په ښارونو کي دي ځکه د دوی د تعلیم معیار هم ورسره اوچت شو- تجارت چي د کومو خلګو کار نهٔ ؤ هغوی هم ورته اړ شول ځکه یې تجارت هم وده وکړه- تر دې له مخه د دوی په خپلو ښارونو کي هم زیاتره د نورو نسلونو خلګ آباد وو- د پېوسته جنګونو له کبله دلته هلته پړکېدلي خلګ په لوی شمېر د نړۍ ونورو هېوادونو ته هم مهاجر شول- دُنیا یې ولیده- د امن، نظم، تعلیم، هنر محنت او نفاست په اهمیت پوهـ شول- اعتماد پکښې پېدا شو او وسماجي بدلون ته یې مخه شوه-

پښتانهٔ چي دکوم سبا په څار دي هغهٔ په تاریخي توګه ځلاند ښکاري، ولي چي قامونو هماغه وخت د ترقۍ مزلونه پرې کړي دي کله چي دوی ځله پړکېدلي دي- د مثال په توګه هر اولنے تهذیب هماغه وخت جوړ شوے ؤکله چي یې وګړي د څه پېښي له کبله ځله پړکېدلي وو- ابراهیم علیه السلام له عراقه(اُر) هجرت وکړ ځکه تر ننه د درو واړو ابراهیمي مذهبونو پېلامګر ګڼل کیږي- کوچي آریایان چي کله د یورپ، هندوستان، ایران او نورو منطقو په خوا ځله وپړکېدل نو یې ترقي وکړه او د نړۍ مُهذبه قامونه تري جوړ شول- په اسلامي پېر کي دوه واره د رسول الله مبارکﷺ په حکم له مکې څخه هجرت وشو- یو ځل حبشې ته اوبل ځل مدینې ته چي نتیجه یې په نړۍ کي د یوهٔ غوره بدلون په شکل د اسلام د سپېځلي دین په بڼه ولیدل شوه- پخپله د اوسني سپر پاور امریکا د ترقۍ دور له یورپه څخه د خلګو په هغه خوا د

پړکېدو له کبله پېل شو او نن د ځمکي له هغې خوا پر دې سیمه د حکومت کولوهلي ځلي کوي- چونکي په تاریخي توګه له یوې خوا وبلي ته د خلګو د حرکت په برکت تهذیب او تمدن وده کړېده او د ترقۍ لاري خلاصي شوي دي ځکه زۀ د یوه روڼ سبا په هیله یم او دا یقین لرم چي د پښتنو اوسني هجرتونه او پړکېدل د ځلاند سبا زېږے کېدای شي- که څۀ هم د تاریخي کوچونو او هجرتونو بېل بېل وجوهات دي خو حتمي نتیجه یې د یوۀ مثبت قامي خوځښت په بڼه لیدل شوې ده-

یو بل تاریخي حقیقت دا هم دے چي تر هر ناورین وروسته قام له نوې سره منظم کیږي او د نوي حوصلې سره پر نوې لاره د منزل پخوا په یوۀ نوي سفر پېل کوي- د مثال په توګه په یورپ کي پر لویه پېمانه د یهودیانو تر وژني وروسته دوی فنا نۀ شول بلکي نور هم منظم شول او له نوې سره یې د ځمکي پر سر د اسرائیلي دولت بنسټ کښېښوو[6]- پر جاپان د امریکا له خوا داېټمي بمونو تر غورځیدو وروسته جاپان ورك نۀ شو بلکي د یوۀ ستر صنعتي هېواد په توګه په جدید دور کي یوازي ونۀ پائېد بلکي نن د ترقۍ پر لوړ مقام ولاړ دے - ځکه پښتانۀ د لمرخاتۀ په ځار دي چي سبا یې په روښان شي- د پښتنو د تاریخ د دغه اوږد ناورین چي د شلمي پېړۍ وروستۍ څلورمه یې تېره کړه او د یویشتمي صدۍ اولني څلورمه یې په مخه ده، نتیجه به هم یقیناً د دوی په پنځه زره کلن تاریخ کي یومثبت قامي خوځښت وي چي د یوۀ غوره بدلون زېږے به راوړي- ولي چي غوره انقلابونه همېشه د ناترسو ناورینونه په نتیجه کي راځي - د دغي لويي الميې په نتیجه کي په

افغانستان کي اوّل ځل د خلګو په ټاکنو حکومت جوړ شو او د جمهوري نظام پېل وشو-

پښتني ټولنه که څه هم د آریایانو له وخته تر ډېره حده جمهوري وه خو دا دجدید جمهوریت په معنا اخستل معقوله نهٔ ښکاري- د جدید جمهوریت شکل ظاهره خبر ده چي ډېر ببېل دے ولي چي دا زمانه ببېله ده- زموږ په ټولنه کي د جمهوریت د پرمختګ ګنجایښت ځکه زیات ښکاري چي د پښتنو ټولنیز نظام یعني پښتونوالی او د دوی متحرك فکر یعني 'سړیتوب' تر ډېره حده جمهوري دي- په پښتنو کي د هر کهول خپل مشر وي، د کلو خپل خپل مشران وي او د ټبرونو مشران د څو کلو پر سر وي چي د لویو لویو فېصلو کولو اِختیارلري- دغه مشران په اصل کي د خلګو نمائندګان وي- په اولسي جرګو کي د سیمي ټول مشران په ګډه او په صلا فېصلې کوي- همدغه شان دا سلسله تر لویې جرګې رسي چي پر لوړه سطحه د قام د ښېګړي او بقا فېصلې پکښې کیږي- دغه جمهوري روایت چونکي په پښتني ټولنه کي په عملي توګه له پېړیو راروان دے ځکه یې په هېواد کي د کامیابۍ امکان هم ډېر زیات دے-

د هري ټولني خپل یو جوړښت (Structure) وي چي په بنسټ کي یې څهٔ خاص اصولونه، دودونه او تصورات موجود وي او د یوهٔ ژوندي څیز غوندي د خپل فطرت سره سمه وده کوي[7]- ټولني کله هم په آساني خپل دغه بنیادي اجزا نه بدلوي خو د خلګو په شان ورو ورو دغوره بدلون ګنجائش پکښي وي، ولي چي ټولني له خلګو جوړي دي او له خلګو سره د آزادي اِرادې قوت هم وي-

پښتني ټولنه یوه لرغونې دودیزه او مذهبي ټولنه ده- پښتنو له پنځو زرو کلونو څخه په خپل دودیز انداز د خپلو ټبرونو ترمنځ یو داسي نظام ساتلے دے چي د بقا په هلو ځلو کي یې دوی یو مټ ساتلي دي- د اسلام تر قبلولو وروسته دوی د نوي دین تر زرینو اصولونولاندي په خپل زاړۀ دودیز نظام کي غوره بدلون راووست او په اسلامي نړۍ کي یې قام لره یو ستر مقام وَلټاوۀ- ځکه پښتني ټولنه تر اوسه یوۀ دودیزه او مذهبي ټولنه ده- خو تر عالمي جنګونو وروسته دنیا ډېره بدله شوه- خلګو د جنګونو لویي تباهۍ ولیدې او د امن او ترقۍلاري یې ولټولې- تعلیم، سائنس او صنعت د قامونو نوي ضرورتونه شول- ژوندو او ویښو قامونو دغو ضرورتونو ته اهمیت ورکړ او پر مختګ یې وکړ- پښتنو چونکي دغو ضرورتونو ته شاکړه او پر خپله سیمه یې نورو عالمي جنګونو ته دوام ورکړ ځکه د نړۍ په ګام نۀ ولاړو او شاته پاته شول- د پرمختګ په سفر کي بس همدغه ټکے د سمبدو دے-

چونکي پښتانۀ په هیڅ توګه د نړۍ تر نوروقامونو کمتره نۀ دي ځکه یې څوك د معاشي او معاشرتي پرمختګ لاري هم نۀ شي تړلای- د دوی ذهني او جسماني صلاحیتونه تر هیچا کم نه دي او نۀ تر ډېره په څۀ بې بنیاده فلسفه شکېل پاته کېدای شي - د پښتانۀ خوش بختي داده چي دوی پر عوامي سطح په سخت محنت عادي دي او دا د قامونو د پر مختګ اصل هنر ګڼل کیږي- پښتني قدرونه او کلتور د هر قسم ترقي سره سمون لري- زموږ په ټولنه کي د کارکوونکو او محنتي خلګو عزت او احترام شته ځکه لوی خلګ هم محنت ځان لره عارنه ګڼي بلکي فخر په کوي- دا

وجه ده چي پښتانهٔ په سختو وختونو کي هم د بهرنۍ مرستي هڅه نهٔ کوي-

د کلي والو سيمو او ښارونو ترمنځ د تګ راتګ لاري روځ په روځ را لنډيږي ولي چي يوې خواته ورو ورو تر اړو سيمو پوري سړکونه غزيږي لګيا دي او بلي خواته دا نيك مرغي چي لوی شمېر پښتانه په معاشي توګه د ټرانسپورټ سره وتړل شول- د کلُو او ښارونو ترمنځ اړيکي د خلګو د ضرورتونو په ترڅ کي کيږي نهٔ چي ترڅهٔ جبر لاندي- بدلون بس همدغه شان راځي لګيا دے او دا ښکاره خبره ده چي د سبا پښتون به نهٔ يوازي د اعتماد وړ او محنتي وي بلکي امن غوښتونکے، تعليم يافته، هنرمند، مُنظم، او نفيس به هم وي- دمعاشي ضرورتونو پوره کول دهرقام حق دے خو نهٔ چي دخپل کلتوري او تهذيبي شناخت او د خپلي ژبي په سودا-

سړيتوب څهٔ نوے قانون نهٔ دے بلکي د ژوندانهٔ هغه فلسفه ده چي د پېړيو د مشاهدو او تجرباتي آزمائشونو په نتيجه کي ترتيب شوے دے او د ژوندانه ونوو چېلنجونو ته يې مخه ده- سړيتوب د فکرټال دے چي ځنګيږي، يو همه وخت مُتحرك سوچ دے چي د زمانې د بدلون سره سم ورو ورو بدليږي- پښتانهٔ ځکه وايي چي ' په حرکت کي برکت شته' همدغه حرکت دے چي تر عيسیٰ عليه السلام لا هم مخکي هرکولس[2] (Heraclitus) په دې ټکو بيان کړے ؤ:

"Every thing is flux"

" هر شے متحرك دے"

چونکي سړیتوب د انسانیت په خوا د بشر پیوسته سفر، او دحق او ریشتیا مسلسل طلب دے ځکه یې بحث په لنډه توګه پر دغو څو مهیمو نتیجو مرکوزه کیږي:

۱ - 'سړیتوب' په فکري او عَملي توګه دفرد ځان پېژندنه، وینبتیا، ذهانت، دلیل، عزت او ازادئ مهم ګڼي، ورسره ورسره د قام ژغورني او دین دوستئ پر اساس د خلګو د ښېګړي هلوځلو ته دوام ورکوي-

۲ - دا همه وخت ددې حقیقت اظهارکوي لګیا وي چي ژوندون یو داسي نعمت دے چي ترنورو ټولو نعمتونو خوږ، ښائسته، صفا او اعلیٰ دے-

۳ - دا په ټولنه کي د خوښیو، ښکلاوو، مسکاوو، خوشحالیو، سیالیو، ننګونو، محبتونو او دغه شان نورو جذبو تصدیق کوي خو ورسره ورسره د غم، درد، اوښکو او اسوېلیو احساس هم ژوندے ساتي-

۴ - دا د ځوانو جذبو د ستاینې سره سره دپاخه آرټ او لټرېچر د زړه له قومي قدر او احترام کوي-

۵ - 'سړیتوب' چونکي د معقول ضبطِ نفس حمایت کوي ځکه د جنسي بېراه روئ اجازت نۀ ورکوي-

۶ - دا د مذهبي او ټونیزو قدرونو احترام کوي، نۀ دچا عزتِ نفس مجروح کوي اونۀ یې د جذباتو خلاف د اِشتعال حمایت کوي-

۷ - دا پر هره سطحه د انساني حقوقو داحترام سره سره د خلګو د اِنفرادي او ټولنیزي آزادئ غوښتنه کوي -

۸ - که څه هم د 'سړیتوب' پېروکاران پر آزاده اوجمهوري معاشره

یقین لري خو د فرد یا ټولې آزادي هلته ختمه ګڼي چیري چي د بل د شملې حد وي- د نورو قامونو سره د ورور ولۍ پر اساس د هغوی د حق ساتنه هم عېن 'سرېتوب' دے

۹ - دا تر سرحدونو دې خوا آخوا د تګ راتګ هره لار او د ابلاغو ټولي ذریعې هرکله خلاصي ساتل غواړي، چي د خلګو د آزادانه نقل و حرکت ضمانت ورکړشي-

۱۰ - سرېتوب پر دولتي سطحه د سیاسي، معاشرتي او مذهبي آزدۍ حمایت کوي خو د خلګو د ټېکسونو دپېسو دغلط استعمال اجازت نۀ ورکوي- چونکي دولتي وسائل د قام امانتونه دي او حفاظت یې قامي ذمه واري ده، ځکه یې په نځۀ خرڅول د سرېتوب په نېز قامي خیانت ګڼل کیږي-

۱۱ - د سرېتوب په ګچه دعالمي کمپنیانو سره تجارت کول ګناه نۀ ده خو په لوظونو کې د پوهي او ویښتیا اصولونه تر نظرلاندي ساتل لازمي دي-

۱۲- چونکي په دې دور کي د خلګو ړومبے ضرورت معاش دے ځکه په فاقه کشي څوك ښۀ سړے نه شي جوړېدای- تر سرېتوب لمخه خلګو ته د ژوندي اوسېدو ضروت دے او دغه ضرورت دمعاش په معقوله ذریعو پوري اړه لري چي د هر سړي حق دے-

۱۳- په سیاست او معاش کي اوچت معیار ساتل د خلګو مُهم اخلاقي ضرورت دے ځکه که څوك له سیاست څخه ناجایزه ګټه اخلي او یا په کارو بار کي دیانتدار نه وي نو دغه سړے د سرېتوب په ګچه پوره نه دے-

۱۴- سرېتوب دټولني دپرمختګ دپاره د حجرې او جمات ترمنځ

دډېنګ ترون غوښتنه کوي، ولي چي دلته همدغي دوې اداري داسي دي چي په ګډه د واړو پښتني ټولنيزو شخړو د اوارَولو بشپړ صلاحيت لري-

۱۵- د سرېتوب تر فلسفې لاندي د ملي وروروليٰ تقاضا دا ده چي د عقيدې، نسل او جنس پر بنسټ په خلګو کي تفريق ونه شي بلکي اصل اهميت و اهليت، قابليت اوهنر ته حاصل وي چي د ملت د پائښت او پرمختګ ضمانت په ورکړ شي-

۱۶- چونکي د قامونو د ترقئ او د خلګو د ښېګړي کيلئ تعليم او ټېکنالوژي دي، ځکه يې د ترلاسه کولو هلي ځلي قامي فريضه ده-

۱۷- امن د پښتنو تر ټولو مهم ضرورت دے ولي چي په ټولنه کي دغوره بدلون لار د توپك په زور انقلاب نۀ دے بلکي غېرمتشدد قامي تحريك دے-

۱۸- د حکومتي نظام په توګه په هېواد کي د جمهوريت غوښتنه او ساتنه د سرېتوب اهم اصول دے-

۱۹- 'سرېتوب' پر عالمي سطح د دنيا د سلامتئ او بقا د ټولو هلو ځلو حمايت کوي-

۲۰ - 'سرېتوب' پرکائينات د خدای حاکميت تسليموي چي واحد او مطلق "رَب" دے او د هرڅۀ خالق او مالك دے-

کوم بدلون چي له وخته سره سم راتلونکے دے ، له پښتنو څخه د څه پلاننګ غوښتنه هم کوي- هر دانشور چي په خپل سماجي او تاريخي زمان و مکان کښي دخپلي انساني مرتبې شعور لري او دځان پېژندني له کبله خپله قامي زمه واري هم محسوسه وي، بايد چي خلګو ته دسماجي اوساينسي بدلون لار ښوونه وکړي-

# اخځليك

1- ډيورانټ وِل ، ’ نشاطِ فلسفه ‘ (The Pleasures of Philosophy) ژباړن محمد اجمل، فيکشن هاؤس مزنګ روډ، لاهور، ۲۰۱۰

2- برائن مېګي ، ( The Story of philosophy ) ډارلنګ کائنډسټلي Darling Kindstley Book، لندن، ۲۰۰۱

3- ډاکټرعلي شريعتي، ’ افکارِ شريعتي‘ ترتيب شيما مجيد، اداره منهاج الصالحين جناح ټاؤن ټهوکر نياز بېګ ، لاهور، ۲۰۰۱

4 - سېموئيل پي هنټينګټن ، دتهذيبونو ټکراؤاودعالمي نظام نوے جوړښت (The clash of civilizations and the new world order) اوکسفورډ، ۱۹۹۷

5 - امين سېکل، Modern Afghansistan: a history of struggle يعني ’ نوے افغانستان‘، آيي بي ټارس لندن او نيويارك، ۲۰۰۳

6- ډيورانټ وِل ، د تاريخ ښاغلي(Heroes of History) ژباړن ياسر جواد، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶ -

7 - مانفرېډ اې ، (History and Civilization of the World) تاريخ و تهذيبِ عالم، ژباړن اميرالدين تقي حېدر، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶

❊ ❊ ❊